# کتاب
# دَ عامو دعاؤ
او
## دَ ساکریمنتونو تعمیل
او
## دَ کلیسیي دَ نورو رسمونو او
## دَ دستورونو

چه په کښی هم دَ زبور کتاب او مسئلي دَدین شاملي دِي

موافق دَ طریقي دَ کلیسیي دَ انکلستان

---

له طرفه دَ کرسچن نالج سوسائتي نه

لندن

## دَ دي کتاب دَ مضمونونو فهرست


١ دَ کليسيي دَ عبادت په باب کښ
٢ دَ زبور دَ کتاب دَ لوستلو ترتيب
٣ دَ باقي کلام الله دَ لوستلو ترتيب
٤ دَ اتوارونو دَ خاص وِردونو نقشه
٥ دَ ميعادي ورځو دَ خاصو وِردونو نقشه
٦ خاص مزمورونه دَ بعضو خاصو ورځو دَپارَ
٧ جنتري دَ وِردونو دَ نقشي سره
٨ نقشي او قاعدي دَ اخترونو او دَ روژو
٩ دَ سحر او دَ نماښام دَ نمانځه ترتيب
١٠ دَ سحر دَ نمانځه ترتيب
١١ دَ نماښام دَ نمانځه ترتيب
١٢ دَ مُقدس اتاناسيس عقيده
١٣ لتبني
١٤ دُعا او شکراني } دَ بعضي وقتونو دَپارَ
١٥ دعا او مکتوبونه او انجيلونه دَ تمام کال دَپارَ
١٦ دَ عشاي ربانِي دَ ورکولو ترتيب
١٧ دَ هلکانو دَ علانيي بپتسمي ترتيب
١٨ په کور کښ دَ هلکانو دَ بپتسمي ترتيب
١٩ دَ بالغانو دَ بپتسمي ترتيب
٢٠ سوال او جواب
٢١ په دين باندِ دَ ستقيم کيدلو ترتيب
٢٢ دَ نکاح ترتيب
٢٣ دَ رنځورانو دَ پوښتني ترتيب.
٢٤ دَ رنځورانو عشاي ربانِي
٢٥ دَ مړو دَ جنازي ترتيب
٢٦ دَ ښځو دَ شکراني ترتيب
٢٧ دَ وعيد بيان
٢٨ دَ زبور کتاب
٢٩ دَ دين مسائل
٣٠ فهرست دَ ممانعت دَ نکاح


## دَ کليسيي دَ عبادت په باب کښ

١- ظاهره ده چه دَ څه اصر داسي صاف بيان نه شي کيدلي سره دَ دي چه دَ هغي په تعميل او په ځاي راوړو کښ هيڅ شک نه وِي پيدا شوي- نو هرکله که چري دَ دي کتاب دَ هدايتونو پد پوه يا په طريقه دَ تعميل کښ څه اختلاف يا شکونه پيدا شي نو دَ هغي دَ حَلّ او دَ رفعَ کولو دَپارَ حکم دَي چه هر سړي چه دَ څه خبري په نسبت په شک کښ وِي يا څه اختلاف ووِيني نو دَ خپلي علاقي اُسقف ځځه دِ لاړ شي او اُسقُف صاحب موصوف دِ دَ خپل دانست په موافق دَ داسي امرونو فيصله وکړي مګر دا شرط دَي چه دَ هغه حُکم دَ دي کتاب دَ څه هدايت برخلاف نه وِي- او که چري اُسقُف صاحب په خپله په شک کښ وِي نو هغه له جائز دِي چه له صدر اُسقف نه دَ فيصلي دريافت وکړي

٢- هرڅه چه په کليسيي کښ لوستلي شي يا په سرود غږولي شي منا دِي چه په پښتو ژبه کښ وِي دَپارَ دَ دي چه جماعت پرِ باندِ پوه شي مګر اجازت دَي چه څوک دَ سحر يا دَ نماښام نمونځ تنها ګذاري نو په هغه ژبه دِ ګُذاري چه پرِ ښه پوهيږي

٣- لازم دِي چه ټول قسيسان او ډيکنان په دي شرط سره چه ناجوړه يا چه نور څه ضرورِي امر مانع نه وِي نو دَ صباح او دَ نماښام نمونځ دِ هره ورځ يا په خلوت کښ يا په ظاهره ګُذارِي

٤- او هر يو امام چه دَ کُمي ګرجي خدمت کوِي په دي شرط شره چه کورِي او چه بله معقوله وجه نه وِي نو لازم دِي چه هغه نمونځ هره ورځ په خپله ګرجه کښ ګُذاري- او مناسب دِي چه وزنبي له عبادت نه دِ تر مناسبَ وقتَ پوري ګهنټه وغږِي تا چه خلق دَ خداي دَ کلام دَ اوريدو دَپارَ او په دُعا کښ دَ شريک کيدو دَپارَ راشِي

# دَ زبور دَ کتاب دَ لوستلو ترتیب

په هره میاشت کښ دِ تمام کتاب دَ زبور ولوستلي شي لکه چه دَ سحر او دَ نماښام په نمانځه کښ دَ هغه لوستل مقرر دي مګر دَ فبروري په میاشت کښ دِ فقط تر ۲۸ یا تر ۲۹ ورځي پوري ولوستلي شي

او څکه چه جنوري او مارچ او مئ او جولائي او اګست او اکتوبر او دسمبر دَ ۳۱ ۳۱ ورځو دي نو حکم دَي چه په دي میاشتو کښ هر هغه مزموروونه چه په ۳۰ تاریخ ولوستي شول. دغه سي دِ په ۳۱ تاریخ هم ولوستلي شي په دا شان چه په راتلونکي میاشت کښ په ورنبي تاریخ دَ اول مزمور نه شروع کړي شي

او څکه چه ۱۱۹ مزمور په ۲۲ حصو باندِ تقسیم شوي دَي او دَ یو ځلي دَ لوستو دَپارَ ډیربړي نو حکم دَي چه په دي حصو کښ دِ له څلورو یا له پنځو نه زیاتي په یو وقت کښ و نه لوستلي شي

او دَ هر یو مزمور او دَ ۱۱۹ مزمور دَ هري حصي په آخر کښ دِ دا دَ ثنا الفاظ ولوستلي شي

ثنا دَ پلار او دَ ځوي او دَ روح القدس دِ وِي
لکه چه په ابتدا کښ وه اوس هم دَه او تر ابده پوري به وِي-آمین

## دَ باقي کلام الله دَ لوستلو ترتیب

۱-زړه عهدنامه دَ سحر او دَ نماښام دَ نمانځه دَ ورنبي وردونو دَپارَ مقرره دَه داسي چه لویه حِصه دَ هغه په هر کال کښ یو وار ولوستلي شي لکه چه په جنترِي کښ مقرره شوي دَه

۲-نوي عهدنامه دَ سحر او دَ نماښام دَ نمانځه دَ دویم ورد دَپارَ مقرره دَه او په هر کال کښ سوا له حِصو دَ خطونو او له انجیلونو نه دِ په ترتیب سره دوه ځله ولوستلي شي یعنی یو ځل دَ سحر او یو ځل دَ نماښام په نمانځه کښ مګر دَ مکاشفات له کتاب نه فقط څه وردونه دَ کال دَ آخرو ورځو دَپارَ او ځیني دَ اخترونو دَپارَ مقرر دِي

۳-او دَ هغه دَ تحقیقات دَپارَ چه دَ هري ورځي دَپارَ کوم کوم ورد لوستلي شي نو په جنترِي کښ چه وړاندِ لیکلي شوي دي دَ میاشتي تاریخ وګوره او دَ هغي په کرښه کښ هر هغه باب چه دَ سحر او دَ نماښام په نمانځه کښ دَ ورد دَپارَ مقرر دَي بیا به ئې مومي مګر هغه اخترونه چه په غیر مقررِي تاریخ باندِ راځي او په جنترِي کښ لیکلي شوِي نه دِي او هغه اخترونه چه په مقررِي تاریخ باندِ راځي دَ هغو په کرښه کښ چه په جنترِي کښ دَ ورد ځاي خالي دَي نو دَ دي ټولو خاص وردونه به دَ مقررِي وردونو په نقشي کښ بیاموِمي

۴-که په کوم اتوار دَ نماښام نمونځ دوه ځله هم په یوي کلیسیي کښ کولي شي نو په دویم ځل دَ دویم ورد دَپارَ جائز دِي چه امام دَ خپلي راي په مطابق یا دَ څلورو وارو انجیلونو نه څه باب ولولي-یا څه ورد چه دَ څلورو انجیلونو نه وردونه په نقشه کښ مقرر وِي-مګر دَ کومو اتوارونو دَپارَ چه دوه دوه دویم وردونه مقرر وِي له هغي نه به دَ یو لوستل ضرور شي

۵-هرکله چه حاکم دَ شرعي اجازت وکړِي نو دَ هغي وردونو په عوض چه په جنترِي کښ مقرر دِي دَ نورو وردونو لوستل به جائز شي

۶-ظاهره دِ وِي چه دَ کومي ورځي دَپارَ خاص مزموروونه یا وردونه مقرر دِي نو هغه مزموروونه یا وردونه چه دَ هغي ورځي دَپارَ په جنترِئ کښ مقرر دِي (که چرِي له هغو نه جدا وِي) پرېښول ئې بائده دِي

۷-دا دِ هم ظاهره وِي چه که حاکم دَ شرعي اجازت وکړي نو دَ مقررِي مزمورونو په عوض نور مزموروونه هم لوستي شي

۸-که ځیني له دي میعادِي ورځو نه په اتوار باندِ راشي او هغه اتوار دَ مسیح دَ راتلو اول اتوار یا دَ فسحي اختر یا دَ ورود اختر (یعني دَ روح القدس دَ نازلیدو اختر) یا دَ تثلیث اختر نه وِي نو دَ امام اختیار دَي چه دَ هغه اتوار وردونه یا دَ میعادِي ورځو وردونه ولولي

۹-بیا دِ ظاهره وِي چه دعا او خط او انجیل دَ کوم اتوار دَپارَ مقرر وِي دَ ټولي هفتي په هري ورځي دِ ولوستي شي په دي شرط سره چه په دي کتاب کښ بل څه حکم نه وِي

# خاص وردونه دَ تمام کال

## چه دَ اتوارونو او دَ نورو میعادِي ورځو چه دَ سحر او دَ نمابنام په نمانځه کښې لوستې شي

### دَ اتوارونو خاص وردونه

| | سحر | نمابنام |
|---|---|---|
| دَ مسیح دَ راتلو اتوارونه | | |
| اول | اشعیا ۱ باب | اشعیا ۲ باب یا ۴ باب له ۲ آیت نه |
| دویم | 〃 ۵ باب | 〃 ۱۱ باب تر ۱۱ یا ۲۴ باب |
| دریم | 〃 ۲۵ باب | 〃 ۲۶ باب یا ۲۸ باب له ۵ تر ۱۹ |
| څلورم | 〃 ۳۰ باب تر ۲۷ | 〃 ۳۲ باب یا ۳۳ باب له ۲ تر ۲۳ |
| دَ مسیح دَ پیدا کیدو له اخترَ ورستِي اتوارونه | | |
| اول | 〃 ۳۵ باب | 〃 ۳۸ باب یا ۴۰ باب |
| دویم | 〃 ۴۲ باب | 〃 ۴۳ باب یا ۴۴ باب |
| دَ اپیفني یعني دَ ظهور له اخترَ ورستِي اتوارونه | | |
| اول | 〃 ۵۱ باب | 〃 ۵۲ باب له ۱۳ نه و ۵۳ باب یا ۵۴ باب |
| دویم | 〃 ۵۵ باب | 〃 ۵۷ باب یا ۶۱ باب |
| دریم | 〃 ۶۲ باب | 〃 ۶۵ باب یا ۶۶ باب |
| څلورم | ایوب ۲۷ باب | ایوب ۲۸ باب یا ۲۹ باب |
| پنځم | امثال ۱ باب | امثال ۳ باب یا ۸ باب |
| شپږم | 〃 ۹ باب | 〃 ۱۱ باب یا ۱۵ باب |
| دَ روژي نه وړاندِ دریم اتوار | پیدایښت ۱ او ۲ باب تر ۴ | پیدایښت ۲ باب ۴ آ نه یا دَ ایوب ۳۸ باب |
| دویم ورد | مکاشفات ۲۱ باب تر ۹ | مکاشفات ۲۱ با له ۹ نه ۲۲ باب ۲ پوري |
| دَ روژي نه وړاندِ دویم اتوار | پیدایښت ۳ باب | پیدایښت ۶ باب یا ۸ باب |
| دَ روژي نه وړاندِ اول اتوار | 〃 ۹ باب تر ۲۰ آیت | 〃 ۱۲ باب یا ۱۳ باب |
| دَ روژي اتوارونه | | |
| اول | 〃 ۱۹ باب ۱۲ نه تر ۳۰ | 〃 ۲۲ باب تر ۲۰ آیت یا ۲۳ باب |

### دَ اتوارونو خاص وردونه

| | سحر | نمابنام |
|---|---|---|
| دویم | پیدایښت ۲۷ با ۴۱ آیت پوري | 〃 پیدایښت ۲۸ با یا ۳۲ باب |
| دریم | 〃 ۳۷ باب | 〃 ۳۹ باب یا ۴۰ باب |
| څلورم | 〃 ۴۲ باب | 〃 ۴۳ باب یا ۴۵ باب |
| پنځم | خروج ۳ باب | خروج ۵ باب یا ۶ باب ۱۴ آیت پوري |
| شپږم اول ورد | 〃 ۹ باب | 〃 ۱۰ باب یا ۱۱ باب |
| دویم ورد | متي ۲۶ باب | لوقا ۱۹ باب ۲۸ نه یا ۲۰ با ۹ نه تر ۲۱ |
| دَ فسحې دَ اختر اتوار | | |
| اول ورد | خروج ۱۲ باب تر ۲۹ | خروج ۱۲ باب ۲۹ نه یا ۱۴ باب |
| دویم ورد | مکاشفات ۱ باب له ۱۰ تر ۱۹ | یوحنا ۲۰ باب ۱۱ نه تر ۱۹ یا مکاشفات ۵ باب |
| دَ فسحې دَ اخترنه ورستِي اتوارونه | | |
| اول اول ورد | شمار ۱۶ باب تر ۳۶ | شمار ۱۶ باب له ۳۶ نه یا ۱۷ باب تر ۱۲ |
| دویم ورد | ۱ قرنتیانو ۱۵ باب تر ۲۹ | یوحنا ۲۰ باب له ۲۴ نه تر ۳۰ یا ۲۱ باب تر ۱۴ |
| دویم | شمار ۲۰ باب تر ۱۴ | شمار ۲۰ باب ۱۴ نه دَ ۲۱ باب تر ۱۰ یا دَ ۲۱ با له ۱۰ نه |
| دریم | 〃 ۲۲ باب | 〃 ۲۳ باب یا ۲۴ باب |
| څلورم | استثنا ۴ باب تر ۲۳ | استثنا ۴ باب له ۲۳ نه دَ ۴۰ پوري یا ۵ باب |
| پنځم | 〃 ۶ باب | 〃 ۹ باب یا ۱۰ باب |
| دَ صعود له اخترنه ورستِي اتوار | 〃 ۳۰ باب | استثنا ۳۴ باب یا دَ یشوع ۱ باب |
| دَ روح القدس دَ نازلیدو دَ اختر اتوار | استثنا ۱۶ باب تر ۱۸ آیت پوري | یسعیاه ۱۱ با یا حزقی ایل ۳۶ با له ۲۵ نه |
| دویم ورد | رومیانو ۸ باب له ۲ تر ۱۸ | گلاتیانو ۵ باب له ۱۶ نه یا اعمال ۱۸ باب له ۲۴ نه ۱۹ باب ۲۱ آیت پوري |
| دَ تثلیث دَ اختر اتوار | یسعیاه ۶ باب تر ۱۱ | پیدایش ۱ با او ۲ باب تر ۴ پوري |
| دویم ورد | مکاشفات ۱ باب تر ۹ | افسیون ۴ باب تر ۱۷ یا متي ۳ باب |
| دَ تثلیث له اخترنه ورستِي اتوارونه | | |
| اول | یهوشع ۳ باب له ۷ نه دَ ۴ باب تر ۱۵ | یهوشع ۵ باب له ۱۳ نه دَ ۶ باب تر ۲۱ یا ۲۴ باب |
| دویم | قاضیانو ۴ باب | قاضیانو ۵ باب یا ۶ باب له ۱۱ آیت نه |

## دَ اتوارونو خاص وردونه

| | سحر | نماښام |
|---|---|---|
| دریم | ۱ سموئیل ۲ باب تر ۲۷ | ۱ سموئیل ۳ باب یا ۴ باب تر ۱۹ آیت |
| څلورم | " ۱۲ باب | " ۱۳ باب یا روث ۱ باب |
| پنځم | " ۱۵ باب تر ۲۲ آیت | " ۱۶ باب یا ۱۷ باب |
| شپږم | ۲ سموئیل ۱ باب | ۲ سموئیل ۱۲ با تر ۲۴ یا ۱۸ باب |
| اووم | ۱ تواریخ ۲۱ باب | ۱ تواریخ ۲۲ باب یا ۲۸ باب تر ۲۱ |
| اتم | " ۲۹ باب له ۹ نه تر ۲۹ | ۲ تواریخ ۱ باب یا ۱ سلاطین ۳ باب |
| نهم | ۱ سلاطین ۱۰ باب تر ۲۵ | ۱ سلاطین ۱۱ باب تر ۱۵ پوري یا ۱۱ باب له ۲۶ نه |
| لسم | " ۱۲ باب | " ۱۳ باب یا ۱۷ باب |
| یولسم | " ۱۸ باب | " ۱۹ باب یا ۲۱ باب |
| دولسم | ۱ سلاطین ۲۲ باب تر ۴۱ | ۲ سلاطین ۲ باب تر ۱۶ یا ۴ باب له ۸ نه تر ۳۸ |
| دیارلسم | ۲ سلاطین ۵ باب | " ۶ باب تر ۲۴ آیت یا ۷ باب |
| څوارلسم | " ۹ باب | " ۱۰ باب تر ۳۲ آیت یا ۱۳ باب |
| پنځلسم | " ۱۸ باب | " ۱۹ باب یا ۲۳ باب تر ۳۱ آیت |
| شپاړلسم | ۲ تواریخ ۳۶ باب | نحمیاه ۱ و ۲ باب تر ۹ آیت یا ۸ باب |
| اوولسم | یرمیاه ۵ باب | یرمیاه ۲۲ باب یا ۳۵ باب |
| اتلسم | یرمیاه ۳۶ باب | حزقي ایل ۲ باب یا ۱۳ باب تر ۱۴ آیت پوري |
| نولسم | حزقي ایل ۱۴ باب | " ۱۸ باب یا ۲۴ باب له ۱۵ آیت نه |
| شلم | " ۳۴ باب | " ۳۷ باب یا دَ داني ایل ۱ باب |
| یوویشتم | داني ایل ۳ باب | داني ایل ۴ باب یا ۵ باب |
| دوه ویشتم | " ۶ باب | " ۷ باب له ۹ آیت نه یا ۱۲ باب |
| دري ویشتم | هوسیع ۱۴ باب | یو ایل ۲ باب ۲۱ آیت نه یا ۳ باب له ۹ آیت نه |
| څلورویشتم | عاموس ۳ باب | عاموس ۵ باب یا ۹ باب |
| پنځه ویشتم | میکه ۴ و ۵ باب تر ۸ آیت | میکه ۶ باب یا ۷ باب |
| شپږویشتم | حبقوق ۲ باب | حبقوق ۳ باب یا صفنیاه ۳ باب |
| اوویشتم | واعظ ۱۱ و ۱۲ باب | حجي ۲ با تر ۱۰ یا ملاکي ۳ و ۴ باب |

ظاهره دِ وي هغه وردونه چه په پورته نقشي کښ دَ تثلیث له اختره ورسته دَ اوویشتم اتوار دَپاره مقرر دِي هغه دِ همیشه په هغه اتوار ولوستلي شي چه دَ راتلو دَ اتوار نه وړمبي وِي

## دَ میعادِي ورځو خاص وِردونه

| | سحر | نماښام |
|---|---|---|
| دَ مقدس اندریاس ورځ | | |
| اول ورد | یسعیاه ۵۴ باب | یسعیاه ۶۵ باب تر ۱۷ آیت پوري |
| دویم ورد | یوحنا ۱ باب له ۳۵ نه تر ۴۳ | یوحنا ۱۲ باب له ۲۰ نه ۴۲ پوري |
| دَ مقدس توما ورځ | | |
| اول ورد | ایوب ۴۲ باب تر ۷ آیت پوري | یسعیاه ۳۵ باب |
| دویم ورد | یوحنا ۲۰ باب له ۱۹ نه تر ۲۴ | یوحنا ۱۴ باب تر ۸ آیت پوري |
| دَ مسیح دَ پیداکیدو اختر | | |
| اول ورد | یسعیاه ۹ باب تر ۸ آیت | یسعیاه ۷ باب له ۱۰ نه تر ۱۷ آیت پوري |
| دویم ورد | لوقا ۲ باب تر ۱۵ آیت | طیطس ۳ باب له ۴ نه تر ۹ آیت پوري |
| دَ مقدس استیفان شهید ورځ | | |
| اول ورد | پیدایښت ۴ باب تر ۱۱ آیت | ۲ تواریخ ۲۴ باب له ۱۵ نه تر ۲۲ آیت پوري |
| دویم ورد | اعمال ۶ باب | اعمال ۸ باب تر ۹ آیت پوري |
| دَ مقدس یوحنا مُبشِر ورځ | | |
| اول ورد | خروج ۳۳ باب له ۹ آیت نه | یسعیاه ۶ باب |
| دویم ورد | یوحنا ۱۳ باب له ۲۳ نه تر ۳۶ | مکاشفات ۱ باب |
| دَ معصومانو ورځ | یرمیاه ۳۱ باب تر ۱۷ آیت پوري | بروخ ۴ باب له ۲۱ نه تر ۳۱ |
| دَ یسوع مسیح دَ ختني ورځ | | |
| اول ورد | پیدایښت ۱۷ باب له ۹ آیت نه | استثنا ۱۰ باب له ۱۲ آیت نه |
| دویم ورد | رومیانو ۲ باب له ۱۷ آیت نه | فلپیانو ۲ باب له ۸ نه تر ۱۸ آیت پوري |
| اپیفني یعني دَ ظهور اختر | | |
| اول ورد | یسعیاه ۶۰ باب | یسعیاه ۴۹ باب له ۱۳ نه تر ۲۴ آیت پوري |
| دویم ورد | لوقا ۳ باب له ۱۵ نه تر ۲۳ آیت پوري | یوحنا ۲ باب تر ۱۲ آیت پوري |

## دَ میعادِي ورځو خاص وِردونه

| دَ مُقدّس پولس دَ رجوع کیدو ورځ | سحر | نماښام |
|---|---|---|
| اول ورد | یسعیاه ۴۹ باب تر ۱۳ آیت پوري | یرمیاه ۱ باب تر ۱۱ آیت پوري |
| دویم ورد | ګلاتیون ۱ باب له ۱۱ آیت نه | اعمال ۲۶ باب تر ۲۱ آیت پوري |
| دَ مبارکي پیغلي مریمي دَ طهارت ورځ | | |
| اول ورد | خروج ۱۳ باب تر ۱۷ آیت پوري | حجي ۲ باب تر ۱۰ آیت پوري |
| دَ مقدّس متیاس ورځ | | |
| اول ورد | اسموئیل ۲ باب له ۲۷ نه تر ۳۴ پوري | یسعیاه ۲۲ باب له ۱۵ آیت نه |
| دَ مبارکي پیغلي بي‌بي مریمي دَ خوشخبرۍ دَ مندلو ورځ | | |
| اول ورد | پیدایښت ۳ باب تر ۱۶ آیت پوري | یسعیاه ۵۲ باب له ۷ نه تر ۱۳ آیت پوري |
| دَ روژي اوّل ورځ | | |
| اوّل ورد | یسعیاه ۵۸ باب تر ۱۳ آیت پوري | یونه ۳ باب |
| دویم ورد | مرقس ۲ باب له ۱۳ نه تر ۲۳ پوري | عبرانیانو ۱۲ باب له ۳ نه تر ۱۸ آیت پوري |
| دَ فسحي له اختر ورونبۍ دوشنبه | | |
| اول ورد | نوحه ۱ باب تر ۱۵ آیت پوري | نوحه ۲ باب له ۱۳ آیت نه |
| دویم ورد | یوحنا ۱۴ باب تر ۱۵ آیت پوري | یوحنا ۱۴ باب له ۱۵ آیت نه |
| دَ فسحي له اختر ورونبۍ سه‌شنبه | | |
| اول ورد | نوحه ۳ باب تر ۲۴ آیت پوري | نوحه ۳ باب له ۲۵ آیت نه |
| دویم ورد | یوحنا ۱۵ باب تر ۱۴ آیت پوري | یوحنا ۱۵ باب له ۱۴ آیت نه |
| ... ... چارشنبه | | |
| اوّل ورد | نوحه ۴ باب تر ۲۱ آیت پوري | داني‌ایل ۹ باب له ۲۰ آیت نه |
| دویم ورد | یوحنا ۱۶ باب تر ۱۶ آیت پوري | یوحنا ۱۶ باب له ۱۶ آیت نه |
| ... ... ... پنجشنبه | | |
| اوّل ورد | هوسیع ۱۳ باب تر ۱۵ آیت پوري | هوسیع ۱۴ باب |
| دویم ورد | یوحنا ۱۷ باب | یوحنا ۱۳ باب تر ۳۶ آیت پوري |

## دَ میعادِي ورځو خاص وردونه

| مبارک جمعه یعني دَ مسیح دَ مصلوب کیدو ورځ | سحر | نماښام |
|---|---|---|
| اول ورد | پیدایښت ۲۲ باب تر ۲۰ آیت پوري | یسعیا ۵۲ باب له ۱۳ نه تر ۵۳ پوري |
| دویم ورد | یوحنا ۱۸ باب | ۱ پطرس ۲ باب |
| دَ فسحي دَ اختر عرفه | | |
| اول ورد | ذکریا ۹ باب | هوسیع ۵ باب له ۸ نه دَ ۶ باب تر ۴ پوري |
| دویم ورد | لوقا ۲۳ باب له ۵۰ نه | دَ رومیانو ۶ باب تر ۱۴ پوري |
| دَ فسحي دَ اختر دَ هفتي دوشنبه | | |
| اول ورد | خروج ۱۵ باب تر ۲۲ آیت پوري | غزل الغزلات ۲ باب له ۱۰ آیت نه |
| دویم ورد | لوقا ۲۴ باب تر ۱۳ آیت پوري | متي ۲۸ باب تر ۱۰ آیت پوري |
| دَ فسحي دَ اختر دَ هفتي سي‌شنبه | | |
| اوّل ورد | ۲ سلاطین ۱۳ باب له ۱۴ تر ۲۲ | خزقیل ۳۷ باب تر ۱۵ آیت پوري |
| دویم ورد | یوحنا ۲۱ باب تر ۱۵ آیت پوري | یوحنا ۲۱ باب له ۱۵ آیت نه |
| دَ مقدّس مرقس ورځ | | |
| اول ورد | یسعیاه ۶۲ باب له ۶ آیت نه | خزقیل ۱ باب تر ۱۵ آیت پوري |
| دَ مقدس فیلپس او دَ مُقدّس یعقوب ورځ | | |
| اول ورد | یسعیاه ۶۱ باب | ذکریاه ۴ باب |
| دویم ورد | یوحنا ۱ باب له ۴۳ آیت نه | |
| دَ صعود اختر | | |
| اول ورد | دانیال ۷ باب له ۹ آیت نه تر ۱۵ | ۲ سلاطین ۲ باب تر ۱۶ آیت پوري |
| دویم ورد | لوقا ۲۴ باب له ۴۴ آیت نه | عبرانیانو ۴ باب |
| پس دَ روح القدس دَ نازلیدو دَ اختر دَ هفتي دوشنبه | | |
| اول ورد | پیدایښت ۱۱ باب تر ۱۰ آیت پوري | دَ شمار ۱۱ باب له ۱۶ نه تر ۳۱ آیت پوري |

## دَ میعادي ورځو خاص وردونه

| | سحر | نماښام |
|---|---|---|
| دویم ورد | ۱ قرنتیانو ۲ باب تر ۱۴ پوري | ۱ قرنتیانو ۲ باب له ۲۷ نه او ۱۳ باب |
| دَ روح القدس دَ نازلیدو دَ اختر | | |
| دَ هفتي سی شنبه | | |
| اول ورد | یوایل ۲ باب له ۲۱ آیت نه | میکه ۴ باب تر ۸ آیت پوري |
| دویم ورد | ۱ تسلو ۵ باب له ۱۲ نه تر ۲۴ آیت | ۱ یوحنا ۴ باب تر ۱۴ آیت پوري |
| دَ مقدس برناباس ورځ | | |
| اول ورد | استثنا ۳۳ باب تر ۱۲ آیت پوري | نحوم ۱ باب |
| دویم ورد | اعمال ۴ باب له ۳۱ آیت نه | اعمال ۱۴ باب له ۸ آیت نه |
| دَ مقدس یوحنا بپتسما ورکوونکي ورځ | | |
| اول ورد | ملاکي ۲ باب تر ۷ آیت پوري | ملاکي ۴ باب |
| دویم ورد | متي ۳ باب | متي ۱۴ باب تر ۱۳ آیت پوري |
| دَ مقدس پطرس ورځ | | |
| اول ورد | حزقیل ۳ باب له ۴ نه تر ۱۵ آیت پوري | ذکریاه ۳ باب |
| دویم ورد | یوحنا ۲۱ باب له ۱۵ نه تر ۲۳ آیت پوري | اعمال ۴ باب له ۸ نه تر ۲۳ آیت پوري |
| دَ مقدس یعقوب ورځ | | |
| اول ورد | ۲ سلاطین ۱ باب تر ۱۶ آیت پوري | یرمیاه ۲۶ باب له ۸ نه تر ۱۶ آیت پوري |
| دویم ورد | لوقا ۹ باب له ۵۱ نه تر ۵۷ آیت پوري | 〃 〃 〃 〃 |
| دَ مقدس برتولما ورځ | | |
| اول ورد | پیدایښت ۲۸ باب له ۱۰ نه تر ۱۸ آیت پوري | استثنا ۱۸ باب له ۱۵ آیت نه |
| دَ مقدس متي ورځ | | |
| اول ورد | ۱ سلاطین ۱۹ باب له ۱۵ آیت نه | ۱ تواریخ ۲۹ باب تر ۲۰ آیت پوري |
| دَ مقدس میکائیل ورځ | | |
| اول ورد | پیدایښت ۳۲ باب | دانیال ۱۰ باب له ۴ آیت نه |
| دویم ورد | اعمال ۱۲ باب له ۵ نه تر ۱۸ آیت | مکاشفات ۱۴ باب له ۱۴ آیت نه |

## دَ میعادي ورځو خاص وردونه

| دَ مقدس لوقا ورځ | سحر | نماښام |
|---|---|---|
| اول ورد | یسعیاه ۵۵ باب | جامعه ۳۸ باب تر ۱۵ آیت پوري |
| دَ مقدس شمعون او دَ مقدس یهودا ورځ | | |
| اول ورد | یسعیاه ۲۸ باب له ۹ نه تر ۱۷ آیت | یرمیاه ۳ باب له ۱۲ نه تر ۱۹ آیت پوري |
| دَ ټولو مقدسانو ورځ | | |
| اول ورد | حکمت ۳ باب تر ۲ آیت پوري | حکمت ۵ باب تر ۱۷ آیت پوري |
| دویم ورد | عبرانیانو ۱۱ باب له ۳۳ نه او دَ ۱۲ باب تر ۷ آیت پوري | مکاشفات ۱۹ باب تر ۱۷ آیت پوري |

## خاص مزمورونه دَ بعضو خاصو ورځو دپاره

| | سحر | نماښام |
|---|---|---|
| څښتن دَ خداوند یسوع مسیح دَ پیدا کیدو اختر | مزمور ......... ۱۹ | مزمور ......... ۸۹ |
| 〃 ......... 〃 〃 〃 | 〃 ......... ۴۵ | 〃 ......... ۱۱۰ |
| 〃 ......... 〃 〃 〃 | 〃 ......... ۸۵ | 〃 ......... ۱۳۲ |
| دَ روژي ورنبۍ ورځ | مزمور ......... ۶ | مزمور ......... ۱۰۲ |
| 〃 ......... 〃 〃 〃 | 〃 ......... ۳۲ | 〃 ......... ۱۳۰ |
| 〃 ......... 〃 〃 〃 | 〃 ......... ۳۸ | 〃 ......... ۱۴۳ |
| مبارکه جمعه یعني دَ مسیح دَ مصلوب کیدو ورځ | مزمور ......... ۲۲ | مزمور ......... ۶۹ |
| 〃 ......... 〃 〃 〃 | 〃 ......... ۴۰ | 〃 ......... ۸۸ |
| 〃 ......... 〃 〃 〃 | 〃 ......... ۵۴ | ..... ..... ..... |
| دَ فسحې اختر ... ... ... | مزمور ......... ۲ | مزمور ......... ۱۱۳ |
| 〃 ......... 〃 〃 〃 | 〃 ......... ۵۷ | 〃 ......... ۱۱۴ |
| 〃 ......... 〃 〃 〃 | 〃 ......... ۱۱۱ | 〃 ......... ۱۱۸ |
| دَ صعود اختر ... ... ... | مزمور ......... ۸ | مزمور ......... ۲۴ |
| 〃 ... ... ... ... | 〃 ......... ۱۵ | 〃 ......... ۴۷ |
| 〃 ... ... ... ... | 〃 ......... ۲۱ | 〃 ......... ۱۰۸ |
| دَ روح القدس دَ نازلیدو اختر | مزمور ......... ۴۸ | مزمور ......... ۱۰۴ |
| | 〃 ......... ۶۸ | 〃 ......... ۱۴۵ |

## جنتري د وردونو د نقشي سره - د جنوري ۳۱ ورځي

| تاریخ | د سحر نمونځ — اول ورد | د سحر نمونځ — دویم ورد | د نماښام نمونځ — اول ورد | د نماښام نمونځ — دویم ورد |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | د یسوع مسیح ختنه | ... ... ... | ... ... ... | ... ... ... |
| ۲ | پیدایښت ۱ باب ۲۰ پوري | متي ۱ باب ۱۸ آیت نه | پیدایښت ۱ با ۲۰ نه ۲ با ۴ پوري | اعمال ۱ باب |
| ۳ | 〃 ۲ باب ۴ آیت نه | 〃 ۲ باب | 〃 ۳ باب ۲۰ آیت پوري | 〃 ۲ باب ۲۲ آیت پوري |
| ۴ | 〃 ۳ با ۲۰ نه ۴ با ۲۶ آ پوري | 〃 ۳ باب | 〃 ۴ باب ۱۶ آیت نه | 〃 ۲ باب ۲۲ آیت نه |
| ۵ | 〃 ۵ باب ۲۸ آیت پوري | 〃 ۴ باب ۳۳ آیت پوري | 〃 ۵ باب ۸ نه ۶ با ۹ آ پوري | 〃 ۳ باب |
| ۶ | د ظهور اختر | ... ... ... | ... ... ... | ... ... ... |
| ۷ | پیدایښت ۶ با ۹ آیت نه | 〃 ۴ با ۳۳ نه ۵ با ۱۳ پوري | پیدایښت ۷ باب | اعمال ۴ با ۳۲ آیت پوري |
| ۸ | 〃 ۸ باب | 〃 ۵ با ۱۳ نه ۳۳ آیت پوري | 〃 ۹ باب ۲۰ آیت پوري | 〃 ۴ با ۳۲ نه ۵ با ۱۷ پوري |
| ۹ | 〃 ۱۱ باب ۱۰ آیت پوري | 〃 ۵ باب ۳۳ آیت نه | 〃 ۱۲ باب | 〃 ۵ باب له ۱۷ نه |
| ۱۰ | 〃 ۱۳ باب | 〃 ۶ باب ۱۹ آیت پوري | 〃 ۱۴ باب | 〃 ۶ باب |
| ۱۱ | 〃 ۱۵ باب | 〃 ۶ با ۱۹ نه ۷ با ۷ آ پوري | 〃 ۱۶ باب | 〃 ۷ باب ۳۵ آیت پوري |
| ۱۲ | 〃 ۱۷ باب ۲۳ آیت پوري | 〃 ۷ باب ۷ آیت نه | 〃 ۱۸ باب ۱۷ آیت پوري | 〃 ۷ با ۳۵ نه ۸ با ۵ پوري |
| ۱۳ | 〃 ۱۸ باب ۱۷ آیت نه | 〃 ۸ باب ۱۸ آیت پوري | 〃 ۱۹ با ۱۲ نه ۲۰ پوري | 〃 ۸ باب ۵ نه ۲۶ پوري |
| ۱۴ | 〃 ۲۰ باب | 〃 ۸ باب ۱۸ آیت نه | 〃 ۲۱ باب ۲۲ آیت پوري | 〃 ۸ باب ۲۶ آیت نه |
| ۱۵ | 〃 ۲۱ باب ۲۳ آیت نه ۲۲ باب ۲۰ آیت پوري | 〃 ۹ باب ۱۸ آیت پوري | 〃 ۲۳ باب | 〃 ۹ باب ۲۳ آیت پوري |
| ۱۶ | 〃 ۲۴ باب ۲۹ آیت پوري | 〃 ۹ باب ۱۸ آیت نه | 〃 ۲۴ باب ۲۹ نه ۵۲ آ پوري | 〃 ۹ باب ۲۳ آیت نه |
| ۱۷ | 〃 ۲۴ باب ۵۲ آیت نه | 〃 ۱۰ باب ۲۴ آیت پوري | 〃 ۲۵ باب ۲ نه ۱۹ آ پوري | 〃 ۱۰ باب ۲۴ آیت پوري |
| ۱۸ | 〃 ۲۵ باب ۱۹ آیت نه | 〃 ۱۰ باب ۲۴ آیت نه | 〃 ۲۶ باب ۱۸ آیت پوري | 〃 ۱۰ باب ۲۴ آیت نه |
| ۱۹ | 〃 ۲۶ باب ۱۸ آیت نه | 〃 ۱۱ باب | 〃 ۲۷ باب ۲۰ آیت پوري | 〃 ۱۱ باب |
| ۲۰ | 〃 ۲۷ باب ۲۰ آیت نه | 〃 ۱۲ باب ۲۲ آیت پوري | 〃 ۲۸ باب | 〃 ۱۲ باب |
| ۲۱ | 〃 ۲۹ باب ۲۱ آیت پوري | 〃 ۱۲ باب ۲۲ آیت نه | 〃 ۳۱ باب ۲۵ آیت پوري | 〃 ۱۳ باب ۲۶ آیت پوري |
| ۲۲ | 〃 ۳۱ باب ۳۶ آیت نه | 〃 ۱۳ باب ۲۴ آیت پوري | 〃 ۳۲ باب ۲۲ آیت پوري | 〃 ۱۳ باب ۲۶ آیت نه |
| ۲۳ | 〃 ۳۲ باب ۲۲ آیت نه | 〃 ۱۳ با ۲۴ نه ۳۵ پوري | 〃 ۳۳ باب | 〃 ۱۴ باب |
| ۲۴ | 〃 ۳۵ باب ۲۱ آیت پوري | 〃 ۱۳ باب ۳۵ نه ۱۴ باب ۱۳ آیت پوري | 〃 ۳۷ باب ۱۲ آیت پوري | 〃 ۱۵ باب ۲۰ آیت پوري |
| ۲۵ | د مقدس پولس رجوع کیدل | ... ... ... | ... ... ... | ... ... ... |
| ۲۶ | پیدایښت ۳۷ با ۱۲ آیت نه | متي ۱۴ باب ۱۳ آیت نه | پیدایښت ۳۹ باب | اعمال ۱۵ باب ۲۰ آیت نه ۱۶ باب ۱۲ آ پوري |
| ۲۷ | 〃 ۴۰ باب | 〃 ۱۵ باب ۲۱ آیت پوري | 〃 ۴۱ باب ۱۷ آیت پوري | 〃 ۱۶ باب ۱۲ آیت نه |
| ۲۸ | 〃 ۴۱ با ۱۷ نه ۵۳ آ پوري | 〃 ۱۵ باب ۲۱ آیت نه | 〃 ۴۱ باب ۵۳ آیت نه ۴۲ باب ۲۵ آیت پوري | 〃 ۱۷ باب ۱۶ آیت پوري |
| ۲۹ | 〃 ۴۲ باب ۲۵ آیت نه | 〃 ۱۶ باب ۲۴ آیت پوري | 〃 ۴۳ باب ۲۵ آیت پوري | 〃 ۱۷ باب ۱۶ آیت نه |
| ۳۰ | 〃 ۴۳ باب ۲۵ آیت نه ۴۴ باب ۱۳ آیت پوري | 〃 ۱۶ باب ۲۴ آیت نه ۱۷ باب ۱۴ آیت پوري | 〃 ۴۴ باب ۱۴ آیت نه | 〃 ۱۸ باب ۲۴ آیت پوري |
| ۳۱ | 〃 ۴۵ باب ۲۵ آیت پوري | 〃 ۱۷ باب ۱۴ آیت نه | 〃 ۴۵ باب ۲۵ آیت نه ۴۶ باب ۸ آیت پوري | 〃 ۱۹ باب ۲۴ آیت نه ۱۵ باب ۲۱ آیت پوري |

## جنتري د وردونو د نقشي سره - د فبروري ۲۸ ورځي او په څلورم کال ۲۹ ورځي

| تاریخ | د سحر نمونځ — اول ورد | د سحر نمونځ — دویم ورد | د نماښام نمونځ — اول ورد | د نماښام نمونځ — دویم ورد |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | پیدایښت ۴۶ باب ۲۶ آ نه ۴۷ باب ۱۳ آیت پوري | متي ۱۸ باب ۲۱ آیت پوري | پیدایښت ۴۷ باب ۱۳ آیت نه | اعمال ۱۹ باب ۲۱ آیت نه ۲۰ باب ۱۶ آیت پوري |
| ۲ | د مبارکي بیغلي مریمي طهارت | 〃 ۱۸ باب ۲۱ نه ۱۹ با ۱۳ آیت | ... ... ... | |
| ۳ | پیدایښت ۴۸ باب | 〃 ۱۹ باب ۳ نه ۲۷ آیت پوري | پیدایښت ۴۹ باب | 〃 ۲۰ باب ۱۷ آیت نه |
| ۴ | 〃 ۵۰ باب | 〃 ۱۹ باب ۲۷ نه ۲۰ باب ۱۷ آ پوري | خروج ۱ باب | 〃 ۲۱ باب ۱۷ آیت پوري |
| ۵ | خروج ۲ باب | 〃 ۲۰ باب ۱۷ آیت نه | 〃 ۳ باب | 〃 ۲۱ باب ۱۷ نه ۳۷ پوري |
| ۶ | 〃 ۴ باب ۳۲ آیت پوري | 〃 ۲۱ باب ۲۳ آیت پوري | 〃 ۴ باب ۲۷ نه ۵ با ۱۵ پوري | 〃 ۲۱ با ۳۷ نه ۲۲ با ۲۳ پوري |
| ۷ | 〃 ۵ با ۱۵ نه ۶ با ۱۴ آیت پوري | 〃 ۲۱ با ۲۳ آیت نه | 〃 ۶ باب ۲۸ آیت نه ۷ باب ۱۴ آیت پوري | 〃 ۲۲ با ۲۳ نه ۲۳ باب ۱۲ آیت پوري |
| ۸ | 〃 ۷ باب ۱۴ آیت نه | 〃 ۲۲ باب ۱۵ آیت پوري | 〃 ۸ باب ۲۰ آیت پوري | 〃 ۲۳ باب ۱۲ آیت نه |
| ۹ | 〃 ۸ با ۲۰ نه ۹ با ۱۳ پوري | 〃 ۲۲ باب ۱۵ نه ۴۱ پوري | 〃 ۹ باب ۱۳ آیت نه | 〃 ۲۴ باب |
| ۱۰ | 〃 ۱۰ باب ۲۱ آیت پوري | 〃 ۲۲ باب ۴۱ آیت نه ۲۳ باب ۱۳ آیت پوري | 〃 ۱۰ باب ۲۱ آیت نه ۱۱ باب | 〃 ۲۵ باب |
| ۱۱ | 〃 ۱۲ باب ۲۱ آیت پوري | 〃 ۲۳ باب ۱۳ آیت نه | 〃 ۱۲ باب ۲۱ نه ۳۴ پوري | 〃 ۲۶ باب |
| ۱۲ | 〃 ۱۲ باب ۳۴ آیت نه ۱۳ باب ۱۷ آیت پوري | 〃 ۲۴ باب ۲۹ آیت پوري | 〃 ۱۳ باب ۱۷ نه ۱۴ باب ۱۰ آیت پوري | 〃 ۲۷ باب ۱۸ آیت پوري |
| ۱۳ | 〃 ۱۴ باب ۱۰ آیت نه | 〃 ۲۴ باب ۲۹ آیت نه | 〃 ۱۵ باب ۲۲ آیت پوري | 〃 ۲۷ باب ۱۸ آیت نه |
| ۱۴ | 〃 ۱۵ باب ۲۲ آیت نه ۱۶ باب ۱۱ آیت پوري | 〃 ۲۵ باب ۳۱ آیت پوري | 〃 ۱۶ باب ۱۱ آیت نه | 〃 ۲۸ باب ۱۷ آیت پوري |
| ۱۵ | 〃 ۱۷ باب | 〃 ۲۵ باب ۳۱ آیت نه | 〃 ۱۸ باب | 〃 ۲۸ باب ۱۷ آیت نه |
| ۱۶ | 〃 ۱۹ باب | 〃 ۲۶ باب ۳۱ آیت پوري | 〃 ۲۰ باب ۲۲ آیت پوري | رومیانو ۱ باب |
| ۱۷ | 〃 ۲۱ باب ۱۸ آیت پوري | 〃 ۲۶ باب ۳۱ نه ۷۵ پوري | 〃 ۲۲ باب ۲۱ آیت نه ۲۳ باب ۱۰ آیت پوري | 〃 ۲ باب ۱۷ آیت پوري |
| ۱۸ | 〃 ۲۳ باب ۱۴ آیت نه | 〃 ۲۶ باب ۷۵ آیت نه | 〃 ۲۴ باب | 〃 ۲ باب ۱۷ آیت نه |
| ۱۹ | 〃 ۲۵ باب ۳۲ آیت پوري | 〃 ۲۷ باب ۲۷ آیت پوري | 〃 ۲۸ باب ۱۳ آیت پوري | 〃 ۳ باب |
| ۲۰ | 〃 ۲۸ باب ۲۹ نه ۴۲ آ پوري | 〃 ۲۷ باب ۲۷ نه ۵۷ پوري | 〃 ۲۹ باب ۳۵ نه ۳۰ باب ۱۱ آیت پوري | 〃 ۴ باب |
| ۲۱ | 〃 ۳۱ باب | 〃 ۲۷ باب ۵۷ آیت نه | 〃 ۳۲ باب ۱۵ آیت پوري | 〃 ۵ باب |
| ۲۲ | 〃 ۳۲ باب ۱۵ آیت نه | 〃 ۲۸ باب | 〃 ۳۳ باب ۱۲ آیت پوري | 〃 ۶ باب |
| ۲۳ | 〃 ۳۳ با ۱۲ نه ۳۴ باب ۱۰ آ | مرقس ۱ باب ۲۱ آ پوري | 〃 ۳۴ باب ۱۰ نه ۲۷ پوري | 〃 ۷ باب |
| ۲۴ | مقدس متیاس رسول | 〃 ۱ باب ۲۱ آیت نه | ... ... ... | 〃 ۸ باب تر ۱۸ پوري |
| ۲۵ | خروج ۳۴ باب ۲۷ آیت نه | 〃 ۲ باب ۲۳ آیت پوري | 〃 ۳۵ باب ۲۹ نه ۳۶ با ۸ | 〃 ۸ باب له ۱۸ نه |
| ۲۶ | 〃 ۳۹ باب ۳۰ آیت نه | 〃 ۲ با ۲۳ نه ۳ با ۱۳ پوري | 〃 ۴۰ باب ۱۷ آیت پوري | 〃 ۹ باب تر ۱۹ پوري |
| ۲۷ | 〃 ۴۰ باب ۱۷ آیت نه | 〃 ۳ باب ۱۳ آیت نه | احبار ۹ باب ۲۲ آیت نه ۱۰ باب ۱۲ آیت پوري | |
| ۲۸ | احبار ۱۴ باب ۳۳ آیت پوري | 〃 ۴ باب ۳۵ آیت پوري | 〃 ۱۶ باب ۳۴ آیت پوري | 〃 ۹ باب ۱۹ آیت نه ۱۰ باب |
| ۲۹ | 〃 ۱۹ باب ۱۹ آیت پوري | متي ۷ باب | 〃 ۱۹ باب ۲۰ نه ۲۰ باب ۹ | 〃 ۱۱ باب |

## جنتري دَ وِردونو دَ نقشي سره - دَ مارچ ۳۱ ورځي

| تاریخ | دَ سحر لمونځ | | دَ ماښام لمونځ | |
|---|---|---|---|---|
| | اول ورد | دویم ورد | اول ورد | دویم ورد |
| ۱ | احبار ۲۵ باب ۱۸ آیت پوري | مرقس ۴ باب ۳۵ نه ۵ باب ۲۰ آیت پوري | احبار ۲۵ باب ۱۸ نه ۴۴ | رومیانو ۱۱ باب ۲۵ آیت پوري |
| ۲ | 〃 ۲۶ باب ۱۲ آیت پوري | 〃 ۵ باب ۲۱ آیت نه | 〃 ۲۶ باب ۱۲ آیت نه | 〃 ۱۱ باب ۲۵ آیت نه |
| ۳ | شمار ۹ باب | 〃 ۶ باب ۱۴ آیت پوري | شمار ۹ باب ۱۵ نه ۱۰ باب ۱۱ آیت پوري | 〃 ۱۲ باب |
| ۴ | 〃 ۱۰ باب ۱۱ آیت نه | 〃 ۶ باب ۱۴ نه ۳۰ آ پوري | 〃 ۱۱ باب ۲۴ آیت پوري | 〃 ۱۳ باب |
| ۵ | 〃 ۱۱ باب ۲۴ آیت نه | 〃 ۶ باب ۳۰ آیت نه | 〃 ۱۲ باب | 〃 ۱۴ او ۱۵ با ۸ آیت پوري |
| ۶ | 〃 ۱۳ باب ۱۷ آیت نه | 〃 ۷ باب ۲۴ آیت پوري | 〃 ۱۴ باب ۲۶ آیت پوري | 〃 ۱۵ باب ۸ آیت نه |
| ۷ | 〃 ۱۴ باب ۲۶ آیت نه | 〃 ۷ باب ۲۴ نه ۸ با ۱۰ پوري | 〃 ۱۶ باب ۳۳ آیت پوري | 〃 ۱۶ باب |
| ۸ | 〃 ۱۶ باب ۳۳ آیت نه | 〃 ۸ با ۱۰ نه ۹ با ۲ آ پوري | 〃 ۱۷ باب | قرنتیانو ۱ باب ۲۶ پوري |
| ۹ | 〃 ۲۰ باب ۱۴ آیت پوري | 〃 ۹ با ۲ نه ۳۰ آیت پوري | 〃 ۲۰ باب ۱۴ آیت نه | 〃 ۱ باب ۲۶ نه او ۲ باب |
| ۱۰ | 〃 ۲۱ باب ۱۰ آیت پوري | 〃 ۹ باب ۳۰ آیت نه | 〃 ۲۱ باب ۱۰ نه ۳۲ پوري | 〃 ۳ باب |
| ۱۱ | 〃 ۲۲ باب ۲۲ آیت پوري | 〃 ۱۰ باب ۳۳ آیت پوري | 〃 ۲۲ باب ۲۲ آیت نه | 〃 ۴ باب ۱۸ آیت پوري |
| ۱۲ | 〃 ۲۳ باب | 〃 ۱۰ باب ۳۳ آیت نه | 〃 ۲۴ باب | 〃 ۴ باب ۱۸ نه او ۵ باب |
| ۱۳ | 〃 ۲۵ باب | 〃 ۱۱ باب ۲۷ آیت پوري | 〃 ۲۷ باب ۱۲ آیت نه | 〃 ۶ باب |
| ۱۴ | استثنا ۱ باب ۱۹ آیت پوري | 〃 ۱۱ باب ۲۷ نه ۱۲ باب ۱۳ آیت پوري | استثنا ۱ باب ۱۹ آیت نه | 〃 ۷ باب ۲۰ آیت پوري |
| ۱۵ | 〃 ۲ باب ۲۹ آیت پوري | 〃 ۱۲ باب ۱۳ نه ۳۵ | 〃 ۲ باب ۲۹ نه ۳ باب ۱۸ | 〃 ۷ باب ۲۵ آیت نه |
| ۱۶ | 〃 ۳ باب ۱۸ آیت نه | 〃 ۱۲ باب ۵۳ نه ۱۳ با ۱۱ | 〃 ۴ باب ۲۵ آیت پوري | 〃 ۸ باب |
| ۱۷ | 〃 ۴ باب ۲۵ نه ۱۴ آ پوري | 〃 ۱۳ باب ۱۲ آیت نه | 〃 ۵ باب ۲۲ آیت پوري | 〃 ۹ باب |
| ۱۸ | 〃 ۵ باب ۲۲ آیت نه | 〃 ۱۴ باب ۲۷ آیت پوري | 〃 ۹ باب | 〃 ۱۰ او ۱۱ باب ۱ آیت پوري |
| ۱۹ | 〃 ۷ باب ۱۲ آیت پوري | 〃 ۱۴ باب ۲۷ نه ۶۵ آ پوري | 〃 ۷ باب ۱۲ آیت نه | 〃 ۱۱ باب ۲ نه ۱۷ آ پوري |
| ۲۰ | 〃 ۸ باب | 〃 ۱۴ باب ۳۵ آیت نه | 〃 ۱۰ باب ۸ آیت نه | 〃 ۱۱ باب ۱۷ آیت نه |
| ۲۱ | 〃 ۹ باب ۱۸ آیت پوري | 〃 ۱۵ باب ۲۴ آیت پوري | 〃 ۱۱ باب ۱۸ آیت نه | 〃 ۱۲ باب ۲۸ آیت پوري |
| ۲۲ | 〃 ۱۵ باب ۱۶ آیت پوري | 〃 ۱۵ باب ۲۴ نه او ۱۶ با | 〃 ۱۷ باب ۸ آیت نه | 〃 ۱۲ با ۲۸ نه او ۱۳ باب |
| ۲۳ | 〃 ۱۸ باب ۹ آیت نه | لوقا ۱ باب ۲۰ آیت پوري | 〃 ۲۴ باب ۵ آیت نه | 〃 ۱۴ باب ۲۰ آیت پوري |
| ۲۴ | 〃 ۲۶ باب | 〃 ۱ باب ۲۰ نه ۴۶ آیت پوري | 〃 ۲۷ باب | 〃 ۱۴ باب ۲۰ آیت نه |
| ۲۵ | دَ مبارکي بیغلي مریمي | خوشخبري موندل | ... | 〃 ۱۵ باب ۳۵ آیت پوري |
| ۲۶ | استثنا ۲۸ با ۱۵ آیت پوري | 〃 ۱ باب ۴۶ آیت نه ۲ باب ۲۱ آیت پوري | 〃 ۲۸ باب ۱۵ نه ۴۷ پوري | 〃 ۱۵ باب ۳۵ آیت نه |
| ۲۷ | 〃 ۲۸ باب ۴۷ آیت نه | 〃 ۲ باب ۲۱ آیت نه | 〃 ۲۹ باب ۹ آیت نه | 〃 ۱۶ باب |
| ۲۸ | 〃 ۳۰ باب | 〃 ۳ باب ۲۳ آیت پوري | 〃 ۳۱ باب ۱۴ آیت پوري | ۲ قرنتیانو ۱ باب ۲۳ پوري |
| ۲۹ | 〃 ۳۱ با ۱۴ نه ۳۰ پوري | 〃 ۴ باب ۱۶ آیت پوري | 〃 ۳۱ باب ۳۰ نه ۳۲ باب ۴۴ آیت پوري | 〃 ۱ باب ۲۳ نه ۲ با ۱۴ پوري |
| ۳۰ | 〃 ۳۲ باب ۴۴ آیت نه | 〃 ۴ باب ۱۶ آیت نه | 〃 ۳۳ باب | 〃 ۲ باب ۱۴ نه او ۳ باب |
| ۳۱ | 〃 ۳۴ باب | 〃 ۵ باب ۱۷ آیت پوري | یهوشع ۱ باب | 〃 ۴ باب |

## جنتري دَ وِردونو دَ نقشي سره - دَ اپریل ۳۰ ورځي

| تاریخ | دَ سحر لمونځ | | دَ ماښام لمونځ | |
|---|---|---|---|---|
| | اول ورد | دویم ورد | اول ورد | دویم ورد |
| ۱ | یهوشع ۲ باب | لوقا ۵ باب ۱۷ آیت نه | یهوشع ۳ باب | ۲ قرنتیانو ۵ باب |
| ۲ | 〃 ۴ باب | 〃 ۶ باب ۲۰ آیت پوري | 〃 ۵ باب | 〃 ۶ او ۷ با ۱ آیت پوري |
| ۳ | 〃 ۶ باب | 〃 ۶ باب ۲۰ آیت نه | 〃 ۷ باب | 〃 ۷ باب ۲ آیت نه |
| ۴ | 〃 ۹ باب ۳ آیت نه | 〃 ۷ باب ۲۴ آیت پوري | 〃 ۱۰ باب ۱۲ آیت پوري | 〃 ۸ باب |
| ۵ | 〃 ۱۲ باب ۳۴ نه ۲۲ باب ۱۱ آیت پوري | 〃 ۷ باب ۲۴ آیت نه | 〃 ۲۲ باب ۱۱ آیت نه | 〃 ۹ باب |
| ۶ | 〃 ۲۳ باب | 〃 ۸ باب ۲۶ آیت پوري | 〃 ۲۴ باب | 〃 ۱۰ باب |
| ۷ | قاضیانو ۲ باب | 〃 ۸ باب ۲۶ آیت نه | قاضیانو ۴ باب | 〃 ۱۱ باب ۳۰ آیت پوري |
| ۸ | 〃 ۵ باب | 〃 ۹ باب ۲۸ آیت پوري | 〃 ۶ باب ۲۴ آیت پوري | 〃 ۱۱ باب ۳۰ آیت نه ۱۲ باب ۱۴ آیت پوري |
| ۹ | 〃 ۶ باب ۲۴ آیت نه | 〃 ۹ باب ۲۸ نه ۱۵ آ پوري | 〃 ۷ باب | 〃 ۱۲ باب ۱۴ نه او ۱۳ باب |
| ۱۰ | 〃 ۸ باب ۲۳ نه ۹ باب ۲۵ آیت پوري | 〃 ۹ باب ۱۵ نه ۱۰ باب ۱۷ آیت پوري | 〃 ۱۰ باب | گلاتیانو ۱ باب |
| ۱۱ | 〃 ۱۱ باب ۲۹ آیت پوري | 〃 ۱۰ باب ۱۷ آیت نه | 〃 ۱۱ باب ۲۹ آیت نه | 〃 ۲ باب |
| ۱۲ | 〃 ۱۳ باب | 〃 ۱۱ باب ۲۹ آیت پوري | 〃 ۱۴ باب | 〃 ۳ باب |
| ۱۳ | 〃 ۱۵ باب | 〃 ۱۱ باب ۲۹ آیت نه | 〃 ۱۶ باب | 〃 ۴ باب ۲۱ آیت پوري |
| ۱۴ | روت ۱ باب | 〃 ۱۲ باب ۳۵ آیت پوري | روت ۲ باب | 〃 ۴ با ۲۱ نه ۵ با ۱۳ پوري |
| ۱۵ | 〃 ۳ باب | 〃 ۱۲ باب ۳۵ آیت نه | 〃 ۴ باب | 〃 ۵ باب ۱۳ آیت نه |
| ۱۶ | ۱ سموئیل ۱ باب | 〃 ۱۳ باب ۱۸ آیت پوري | ۱ سموئیل ۲ با ۲۱ پوري | 〃 ۶ باب |
| ۱۷ | 〃 ۲ باب ۲۱ آیت نه | 〃 ۱۳ باب ۱۸ آیت نه | 〃 ۳ باب | افسیانو ۱ باب |
| ۱۸ | 〃 ۴ باب | 〃 ۱۴ باب ۲۵ آیت پوري | 〃 ۵ باب | 〃 ۲ باب |
| ۱۹ | 〃 ۶ باب | 〃 ۱۴ با ۲۵ نه ۱۵ با ۱۱ آ پوري | 〃 ۷ باب | 〃 ۳ باب |
| ۲۰ | 〃 ۸ باب | 〃 ۱۵ باب ۱۱ آیت نه | 〃 ۹ باب | 〃 ۴ باب ۲۵ آیت پوري |
| ۲۱ | 〃 ۱۰ باب | 〃 ۱۶ باب | 〃 ۱۱ باب | 〃 ۴ با ۲۵ نه ۵ با ۲۲ آ پوري |
| ۲۲ | 〃 ۱۲ باب | 〃 ۱۷ باب ۲۰ آیت پوري | 〃 ۱۳ باب | 〃 ۵ باب ۲۲ نه ۶ با ۱۰ پوري |
| ۲۳ | 〃 ۱۴ باب ۲۴ آیت پوري | 〃 ۱۷ باب ۲۰ آیت نه | 〃 ۱۴ باب ۲۴ نه ۴۷ پوري | 〃 ۶ باب ۱۰ آیت نه |
| ۲۴ | 〃 ۱۵ باب | 〃 ۱۸ باب ۳۱ آیت پوري | 〃 ۱۶ باب | فلپیانو ۱ باب |
| ۲۵ | مقدس مرقس مبشر | 〃 ۱۸ با ۳۱ نه ۱۹ با ۱۱ آیت پوري | ... ... | 〃 ۲ باب |
| ۲۶ | ۱ سموئیل ۱۷ با ۱۳ آ پوري | 〃 ۱۹ با ۱۱ نه ۲۸ آیت پوري | ۱ سموئیل ۱۷ با ۱۳ نه ۵۵ آ پوري | 〃 ۳ باب |
| ۲۷ | 〃 ۱۷ با ۵۵ نه ۱۸ با ۱۶ آ پوري | 〃 ۱۹ باب ۲۸ آیت نه | 〃 ۱۹ باب | 〃 ۴ باب |
| ۲۸ | 〃 ۲۰ باب ۱۸ آیت پوري | 〃 ۲۰ باب ۲۷ آیت پوري | 〃 ۲۰ باب ۱۸ آیت نه | فلپیانو ۱ باب ۲۱ پوري |
| ۲۹ | 〃 ۲۱ باب | 〃 ۲۰ با ۲۷ نه ۲۱ باب ۵ | 〃 ۲۲ باب | 〃 ۱ باب ۲۱ نه ۲ با ۸ پوري |
| ۳۰ | 〃 ۲۳ باب | 〃 ۲۱ باب ۵ آیت نه | 〃 ۲۴ او ۲۵ با ۱ آ پوري | 〃 ۲ باب ۸ آیت نه |

## جنتري د وردونو د نقشې سره - د مئ ۳۱ ورځې

| تاریخ | د سحر نمونځ | | د نماښام نمونځ | |
|---|---|---|---|---|
| | اول ورد | دویم ورد | اول ورد | دویم ورد |
| ۱ | مقدس فیلپس او مقدس یعقوب | | ... ... ... | قلسیانو ۳ باب ۱۸ آ پوري |
| ۲ | ۱ سموئیل ۲۶ باب | لوقا ۲۲ باب ۳۱ با پوري | ۱ سموئیل ۲۸ با ۳ آیت نه | ″ ۳ با ۱۸ نه ۴ با ۷ آ پوري |
| ۳ | ″ ۳۱ باب | ″ ۲۲ با ۳۱ نه ۴۵ پوري | ۲ سموئیل ۱ باب | ″ ۴ باب ۷ آیت نه |
| ۴ | ۲ سموئیل ۳ با ۱۷ آیت نه | ″ ۲۲ باب ۴۵ آیت نه | ″ ۴ باب | ۱ تسلونیقیانو ۱ باب |
| ۵ | ″ ۶ باب | ″ ۲۳ باب ۲۶ آیت پوري | ″ ۷ باب ۱۸ آیت پوري | ″ ۲ باب |
| ۶ | ″ ۷ باب ۱۸ آیت نه | ″ ۲۳ با ۲۶ نه ۵۰ پوري | ″ ۹ باب | ″ ۳ باب |
| ۷ | ″ ۱۱ باب | ″ ۲۳ با ۵۰ نه ۲۴ با ۱۳ آ پوري | ″ ۱۲ باب ۲۴ آیت پوري | ″ ۴ باب |
| ۸ | ″ ۱۳ با ۳۸ نه ۱۴ با ۲۶ آ پوري | ″ ۲۴ باب ۱۳ آیت نه | ″ ۱۵ باب ۱۶ آیت پوري | ″ ۵ باب |
| ۹ | ″ ۱۵ باب ۱۶ آیت نه | یوحنا ۱ باب ۲۹ آیت پوري | ″ ۱۶ باب ۱۵ آیت پوري | ۲ تسلونیقیانو ۱ باب |
| ۱۰ | ″ ۱۶ با ۱۵ نه ۱۷ با ۲۴ پوري | ″ ۱ باب ۲۹ آیت نه | ″ ۱۷ با ۲۴ نه ۱۸ با ۱۸ آ پوري | ″ ۲ باب |
| ۱۱ | ″ ۱۸ باب ۱۸ آیت نه | ″ ۲ باب | ″ ۱۹ باب ۲۴ آیت پوري | ″ ۳ باب |
| ۱۲ | ″ ۱۹ باب ۲۴ آیت نه | ″ ۳ باب ۲۲ آیت پوري | ″ ۲۱ باب ۱۵ آیت پوري | ۱ طمطاؤس ۱ با ۱۸ آیت پوري |
| ۱۳ | ″ ۲۳ باب ۲۴ آیت پوري | ″ ۳ باب ۲۲ آیت نه | ″ ۲۴ باب | ″ ۱ باب ۱۸ آ نه او ۲ باب |
| ۱۴ | ۱ سلاطین ۱ باب ۲۸ آ پوري | ″ ۴ باب ۳۱ آیت پوري | ۱ سلاطین ۱ با ۲۸ نه ۴۹ آ پوري | ″ ۳ باب |
| ۱۵ | ۱ توا - ۲۹ باب ۱۰ آیت نه | ″ ۴ باب ۳۱ آیت نه | ″ ۳ باب | ″ ۴ باب |
| ۱۶ | ۱ سلاطین ۴ با ۲۰ آیت نه | ″ ۵ باب ۲۴ آیت پوري | ″ ۵ باب | ″ ۵ باب |
| ۱۷ | ″ ۶ باب ۱۵ آیت پوري | ″ ۵ باب ۲۴ آیت نه | ″ ۸ باب ۲۲ آیت پوري | ″ ۶ باب |
| ۱۸ | ″ ۸ با ۲۲ نه ۴۴ آ پوري | ″ ۶ باب ۲۲ آیت پوري | ″ ۸ باب ۴۵ نه ۹ با ۱۰ پوري | ۲ طمطاؤس ۱ باب |
| ۱۹ | ″ ۱۰ باب | ″ ۶ باب ۲۲ نه ۴۱ آ پوري | ″ ۱۱ باب ۲۶ آیت پوري | ″ ۲ باب |
| ۲۰ | ″ ۱۱ باب ۲۶ آیت نه | ″ ۶ باب ۴۱ آیت نه | ″ ۱۲ باب ۲۵ آیت پوري | ″ ۳ باب |
| ۲۱ | ″ ۱۲ با ۲۵ نه ۱۳ با ۱۱ آ پوري | ″ ۷ باب ۲۵ آیت پوري | ″ ۱۳ باب ۱۱ آیت نه | ″ ۴ باب |
| ۲۲ | ″ ۱۴ باب ۲۱ آیت پوري | ″ ۷ باب ۲۵ آیت نه | ″ ۱۵ با ۲۵ نه ۱۶ با ۸ آ پوري | طیطس ۱ باب |
| ۲۳ | ″ ۱۶ باب ۸ آیت نه | ″ ۸ باب ۳۱ آیت پوري | ″ ۱۷ باب | ″ ۲ باب |
| ۲۴ | ″ ۱۸ باب ۱۷ آیت پوري | ″ ۸ باب ۳۱ آیت نه | ″ ۱۸ باب ۱۷ آیت نه | ″ ۳ باب |
| ۲۵ | ″ ۱۹ باب | ″ ۹ باب ۳۹ آیت پوري | ″ ۲۱ باب | فلیمون |
| ۲۶ | ″ ۲۲ باب ۴۱ آیت پوري | ″ ۹ باب ۳۹ نه ۱۰ با ۲۲ آ پوري | ۲ سلاطین ۱ باب | عبرانیانو ۱ باب |
| ۲۷ | ۲ سلاطین ۲ باب | ″ ۱۰ باب ۲۲ آیت نه | ″ ۴ باب ۸ آیت نه | ″ ۲ او ۳ باب ۷ آ پوري |
| ۲۸ | ″ ۵ باب | ″ ۱۱ باب ۱۷ آیت پوري | ″ ۶ باب ۲۴ آیت پوري | ″ ۳ با ۷ نه ۴ با ۱۴ آ پوري |
| ۲۹ | ″ ۶ باب ۲۴ آیت نه | ″ ۱۱ با ۱۷ نه ۴۷ پوري | ″ ۷ باب | ″ ۴ باب ۱۴ نه او ۵ باب |
| ۳۰ | ″ ۸ باب ۱۶ آیت پوري | ″ ۱۱ با ۴۷ نه ۱۲ با ۲۰ پوري | ″ ۹ باب | ″ ۶ باب |
| ۳۱ | ″ ۱۰ باب ۱۸ آیت پوري | ″ ۱۲ باب ۲۰ آیت نه | ″ ۱۰ باب ۱۸ آیت نه | ″ ۷ باب |

## جنتري د وردونو د نقشې سره - د جون ۳۰ ورځې

| تاریخ | د سحر نمونځ | | د نماښام نمونځ | |
|---|---|---|---|---|
| | اول ورد | دویم ورد | اول ورد | دویم ورد |
| ۱ | ۲ سلاطین ۱۳ باب | یوحنا ۱۳ باب ۲۱ پوري | ۲ سلاطین ۱۷ با ۲۴ پوري | عبرانیانو ۸ باب |
| ۲ | ″ ۱۷ باب ۲۴ آیت نه | ″ ۱۳ باب ۲۱ آیت نه | ۲ تواریخ ۱۲ باب | ″ ۹ باب |
| ۳ | ۲ تواریخ ۱۳ باب | ″ ۱۴ باب | ″ ۱۴ باب | ″ ۱۰ باب ۱۹ آیت پوري |
| ۴ | ″ ۱۵ باب | ″ ۱۵ باب | ″ ۱۶ او ۱۷ با ۱۴ آیت پوري | ″ ۱۰ باب ۱۹ آیت نه |
| ۵ | ″ ۱۹ باب | ″ ۱۶ باب ۱۶ آیت پوري | ″ ۲۰ باب ۳۱ آیت پوري | ″ ۱۱ باب ۱۷ آیت پوري |
| ۶ | ″ ۲۰ باب ۳۱ نه او ۲۱ باب | ″ ۱۶ باب ۱۶ آیت نه | ″ ۲۲ باب | ″ ۱۱ باب ۱۷ آیت نه |
| ۷ | ″ ۲۳ باب | ″ ۱۷ باب | ″ ۲۴ باب | ″ ۱۲ باب |
| ۸ | ″ ۲۵ باب | ″ ۱۸ باب ۲۸ آیت پوري | ″ ۲۶ باب او ۲۷ باب | ″ ۱۳ باب |
| ۹ | ″ ۲۸ باب | ″ ۱۸ باب ۲۸ آیت نه | ۲ سلاطین ۱۸ با ۹ آ پوري | یعقوب ۱ باب |
| ۱۰ | ″ ۲۹ با ۳ نه ۲۱ آیت پوري | ″ ۱۹ باب ۲۵ آیت پوري | ۲ تواریخ ۳۰ او ۳۱ با ۱ آ پوري | ″ ۲ باب |
| ۱۱ | مقدس برناباس رسول | ... ... ... | ... ... ... | ... ... ... |
| ۱۲ | ۲ سلاطین ۱۸ با ۱۳ آ نه | یوحنا ۱۹ با ۲۵ آیت نه | ۲ سلاطین ۱۹ با ۲۰ آیت پوري | یعقوب ۳ باب |
| ۱۳ | ″ ۱۹ باب ۲۰ آیت نه | ″ ۲۰ باب ۱۹ آیت پوري | ″ ۲۰ باب | ″ ۴ باب |
| ۱۴ | یشعیاه ۳۸ با ۹ نه ۲۱ | ″ ۲۰ باب ۱۹ آیت نه | ۲ تواریخ ۳۳ باب | ″ ۵ باب |
| ۱۵ | ۲ سلاطین ۲۲ باب | ″ ۲۱ باب | ۲ سلاطین ۲۳ با ۲۱ آ پوري | ۱ پطرس ۱ باب ۲۲ آ پوري |
| ۱۶ | ″ ۲۳ با ۲۱ نه ۲۴ با ۸ آ پوري | اعمال ۱ باب | ″ ۲۴ باب ۸ نه ۲۵ با ۸ پوري | ″ ۱ با ۲۲ نه ۲ با ۱۱ پوري |
| ۱۷ | ″ ۲۵ باب ۸ آیت نه | ″ ۲ باب ۲۲ آیت پوري | عزرا ۱ او ۳ باب | ″ ۲ با ۱۱ نه ۳ با ۸ پوري |
| ۱۸ | عزرا ۴ باب | ″ ۲ باب ۲۲ آیت نه | ″ ۵ باب | ″ ۳ با ۸ نه ۴ با ۷ پوري |
| ۱۹ | ″ ۷ باب | ″ ۳ باب | ″ ۸ باب ۱۵ آیت نه | ″ ۴ باب ۷ آیت نه |
| ۲۰ | ″ ۹ باب | ″ ۴ باب ۲۳ آیت پوري | ″ ۱۰ باب ۲۰ آیت پوري | ″ ۵ باب |
| ۲۱ | نحمیاه ۱ باب | ″ ۴ با ۳۲ نه ۵ با ۱۷ پوري | نحمیاه ۲ باب | ۲ پطرس ۱ باب |
| ۲۲ | ″ ۴ باب | ″ ۵ باب ۱۷ آیت نه | ″ ۵ باب | ″ ۲ باب |
| ۲۳ | ″ ۶ با او ۷ با ۵ آ پوري | ″ ۶ باب | ″ ۷ باب ۷۳ نه او ۸ باب | ″ ۳ باب |
| ۲۴ | مقدس یوحنا بپتسما ورکونکی | ... ... ... | ... ... ... | ... ... ... |
| ۲۵ | نحمیاه ۱۳ با ۱۵ آیت پوري | اعمال ۷ باب ۳۵ آ پوري | نحمیاه ۱۳ با ۱۵ آیت نه | ۱ یوحنا ۱ باب |
| ۲۶ | آستر ۱ باب | ″ ۷ با ۳۵ نه ۸ با ۵ پوري | آستر ۲ با ۱۵ نه ۳ باب | ″ ۲ باب ۱۵ آیت پوري |
| ۲۷ | ″ ۴ باب | ″ ۸ با ۵ نه ۲۶ پوري | ″ ۵ باب | ″ ۲ باب ۱۵ آیت نه |
| ۲۸ | ″ ۶ باب | ″ ۸ باب ۲۶ آیت نه | ″ ۷ باب | ″ ۳ باب ۱۳ آیت پوري |
| ۲۹ | مقدس پطرس رسول | ... ... ... | ... ... ... | ... ... ... |
| ۳۰ | ایوب ۱ باب | اعمال ۹ باب ۳۲ پوري | ایوب ۲ باب | یوحنا ۳ با ۱۳ نه ۴ با ۷ آ پوري |

## جنتري دَ وِردونو دَ نقشي سره - دَ جولائي ۳۱ ورځي

| | دَ سحر نمونځ | | دَ نمابنام نمونځ | |
|---|---|---|---|---|
| | اول ورد | دویم ورد | اول ورد | دویم ورد |
| ۱ | ایوب ۳ | اعمال ۹ باب ۲۳ آیت نه | ایوب ۴ باب | ۱یوحنا ۴ باب ۷ آیت نه |
| ۲ | 〃 ۵ باب | 〃 ۱۰ باب ۴۲ آیت پوري | 〃 ۶ باب | 〃 ۵ باب |
| ۳ | 〃 ۷ باب | 〃 ۱۰ باب ۴۲ آیت نه | 〃 ۹ باب | ۲ یوحنا |
| ۴ | 〃 ۱۰ باب | 〃 ۱۱ باب | 〃 ۱۱ باب | ۳ یوحنا |
| ۵ | 〃 ۱۲ باب | 〃 ۱۲ باب | 〃 ۱۳ باب | یهوداه |
| ۶ | 〃 ۱۴ باب | 〃 ۱۳ باب ۲۶ آیت پوري | 〃 ۱۶ باب | متي ۱ باب له ۱۸ نه |
| ۷ | 〃 ۱۷ باب | 〃 ۱۳ باب ۲۶ آیت نه | 〃 ۱۹ باب | 〃 ۲ باب |
| ۸ | 〃 ۲۱ باب | 〃 ۱۴ باب | 〃 ۲۲ باب ۱۲ نه ۲۹ آپوري | 〃 ۳ باب |
| ۹ | 〃 ۲۳ باب | 〃 ۱۵ باب ۲۰ آیت پوري | 〃 ۲۴ باب | 〃 ۴ باب ۲۳ آیت پوري |
| ۱۰ | 〃 ۲۵ او ۲۶ باب | 〃 ۱۵ با ۲۰ نه او ۱۶ با ۱۶ آپوري | 〃 ۲۷ باب | 〃 ۴ با ۲۳ نه ۵ با ۱۳ پوري |
| ۱۱ | 〃 ۲۸ باب | 〃 ۱۶ باب ۱۶ آیت نه | 〃 ۲۹ او ۳۰ با ۱ آیت پوري | 〃 ۵ با ۱۳ نه ۳۳ پوري |
| ۱۲ | 〃 ۳۰ باب ۱۲ نه ۲۷ آپوري | 〃 ۱۷ باب ۱۶ آیت پوري | 〃 ۳۱ باب ۱۳ آیت نه | 〃 ۵ باب ۳۳ آیت نه |
| ۱۳ | 〃 ۳۲ باب | 〃 ۱۷ باب ۱۶ آیت نه | 〃 ۳۸ باب ۴۱ آیت پوري | 〃 ۶ باب ۱۹ آیت پوري |
| ۱۴ | 〃 ۳۸ با ۴۱ نه او ۳۹ باب | 〃 ۱۸ باب ۴۲ آیت پوري | 〃 ۴۰ باب | 〃 ۶ با ۱۹ نه ۷ با ۷ پوري |
| ۱۵ | 〃 ۴۱ باب | 〃 ۱۸ با ۴۲ نه ۱۹ با ۲۱ آپوري | 〃 ۴۲ باب | 〃 ۷ باب ۷ آیت نه |
| ۱۶ | امثال ۱ باب ۲۰ آیت پوري | 〃 ۱۹ باب ۲۱ آیت نه | امثال ۱ باب ۲۰ آیت نه | 〃 ۸ باب ۱۸ آیت پوري |
| ۱۷ | 〃 ۲ باب | 〃 ۲۰ باب ۱۷ آیت پوري | 〃 ۳ باب ۲۷ آیت پوري | 〃 ۸ باب ۱۸ آیت نه |
| ۱۸ | 〃 ۳ با ۲۷ نه ۴ با ۲۰ پوري | 〃 ۲۰ باب ۱۷ آیت نه | 〃 ۴ باب ۲۰ نه ۵ با ۱۵ پوري | 〃 ۹ باب ۱۸ آیت پوري |
| ۱۹ | 〃 ۵ باب ۱۵ آیت نه | 〃 ۲۱ باب ۱۷ آیت پوري | 〃 ۶ باب ۲۰ آیت پوري | 〃 ۱۹ باب ۱۸ آیت نه |
| ۲۰ | 〃 ۷ باب | 〃 ۲۱ با ۱۷ نه ۲۷ آ پوري | 〃 ۸ باب | 〃 ۱۰ باب ۴۲ آیت پوري |
| ۲۱ | 〃 ۹ باب | 〃 ۲۱ با ۲۷ نه ۲۲ با ۲۳ آپوري | 〃 ۱۰ باب ۱۶ آیت نه | 〃 ۱۰ باب ۴۲ آیت نه |
| ۲۲ | 〃 ۱۱ باب ۱۵ آیت پوري | 〃 ۲۲ با ۲۳ نه ۲۳ با ۱۲ آپوري | 〃 ۱۱ باب ۱۵ آیت نه | 〃 ۱۱ باب |
| ۲۳ | 〃 ۱۲ باب ۱۰ آیت نه | 〃 ۲۳ باب ۱۲ آیت نه | 〃 ۱۳ باب | 〃 ۱۲ باب ۲۲ آیت پوري |
| ۲۴ | 〃 ۱۴ با ۹ نه ۲۸ آیت پوري | 〃 ۲۴ باب | 〃 ۱۴ با ۲۸ نه ۱۵ با ۱۸ پوري | 〃 ۱۲ باب ۲۲ آیت نه |
| ۲۵ | مقدس یعقوب رسول | ... ... | ... ... ... | 〃 ۱۳ باب ۲۴ آیت پوري |
| ۲۶ | امثال ۱۵ باب ۱۸ نه | اعمال ۲۵ باب | امثال ۱۶ باب ۲۰ آپوري | 〃 ۱۳ با ۲۴ نه ۵۳ آپوري |
| ۲۷ | 〃 ۱۶ با ۳۱ نه ۱۷ با ۱۸ آپوري | 〃 ۲۶ باب | 〃 ۱۸ باب ۱۰ آیت نه | 〃 ۱۳ با ۵۳ نه ۱۴ با ۳۰ آیت |
| ۲۸ | 〃 ۱۹ باب ۱۳ آیت نه | 〃 ۲۷ باب | 〃 ۲۰ باب ۲۳ آیت پوري | 〃 ۱۴ باب ۳۱ آیت نه |
| ۲۹ | 〃 ۲۱ باب ۱۷ آیت پوري | 〃 ۲۸ باب ۱۷ آیت پوري | 〃 ۲۲ باب ۱۷ آیت پوري | 〃 ۱۵ باب ۲۰ آیت پوري |
| ۳۰ | 〃 ۲۳ باب ۲ آیت نه | 〃 ۲۸ باب ۱۷ آیت نه | 〃 ۲۴ باب ۱۲ آیت نه | 〃 ۱۵ باب ۱۲ آیت نه |
| ۳۱ | 〃 ۲۵ باب | رومیانو ۱ باب | 〃 ۲۶ باب ۱۲ آیت پوري | 〃 ۱۶ باب ۲۳ آیت پوري |

## جنتري دَ وِردونو دَ نقشي سره - دَ اگست ۳۱ ورځي

| تاریخ | دَ سحر نمونځ | | دَ نمابنام نمونځ | |
|---|---|---|---|---|
| | اول ورد | دویم ورد | اول ورد | دویم ورد |
| ۱ | امثال ۲۷ باب ۲۳ آپوري | رومیانو ۲ باب ۱۷ آپوري | امثال ۲۸ باب ۱۵ آیت پوري | متي ۱۶ با ۱۳ آ نه ۱۷ با ۱۳ آپوري |
| ۲ | 〃 ۳۰ باب ۱۸ آیت پوري | 〃 ۲ باب ۱۷ آیت نه | 〃 ۳۱ باب ۱۰ آیت نه | 〃 ۱۷ باب ۱۴ آیت نه |
| ۳ | واعظ ۱ باب | 〃 ۳ باب | واعظ ۲ باب ۱۲ آیت پوري | 〃 ۱۸ باب ۲۱ آیت پوري |
| ۴ | 〃 ۳ باب | 〃 ۴ باب | 〃 ۴ باب | 〃 ۱۸ با ۲۱ نه ۱۹ با ۳ پوري |
| ۵ | 〃 ۵ باب | 〃 ۵ باب | 〃 ۶ باب | 〃 ۱۹ با ۳ نه ۲۷ آیت پوري |
| ۶ | 〃 ۷ باب | 〃 ۶ باب | 〃 ۸ باب | 〃 ۱۹ با ۲۷ نه ۲۰ با ۱۷ آپوري |
| ۷ | 〃 ۹ باب | 〃 ۷ باب | 〃 ۱۱ باب | 〃 ۲۰ باب ۱۷ آیت نه |
| ۸ | 〃 ۱۲ باب | 〃 ۸ باب ۱۸ آیت پوري | یرمیاه ۱ باب | 〃 ۲۱ باب ۲۳ آیت پوري |
| ۹ | یرمیاه ۲ باب ۱۴ آپوري | 〃 ۸ باب ۱۸ آیت نه | 〃 ۵ باب ۱۹ آیت پوري | 〃 ۲۱ باب ۲۳ آیت نه |
| ۱۰ | 〃 ۵ باب ۱۹ آیت نه | 〃 ۹ باب ۱۹ آیت پوري | 〃 ۶ باب ۲۲ آیت پوري | 〃 ۲۲ باب ۱۵ آیت پوري |
| ۱۱ | 〃 ۷ باب ۱۷ آیت پوري | 〃 ۹ باب ۱۹ آیت نه | 〃 ۸ باب ۴ آیت نه | 〃 ۲۲ باب ۱۵ نه ۴۱ آپوري |
| ۱۲ | 〃 ۹ باب ۱۷ آیت پوري | 〃 ۱۰ باب | 〃 ۱۳ باب ۸ نه ۲۴ پوري | 〃 ۲۲ با ۴۱ نه ۲۳ با ۱۳ آپوري |
| ۱۳ | 〃 ۱۵ باب | 〃 ۱۱ باب ۲۵ آیت پوري | 〃 ۱۷ باب ۱۹ آیت پوري | 〃 ۲۳ باب ۱۳ آیت نه |
| ۱۴ | 〃 ۱۸ باب ۱۸ آیت پوري | 〃 ۱۱ باب ۲۵ آیت نه | 〃 ۱۹ باب | 〃 ۲۴ باب ۲۹ آیت پوري |
| ۱۵ | 〃 ۲۰ باب | 〃 ۱۲ باب | 〃 ۲۲ باب ۱۳ پوري | 〃 ۲۴ باب ۲۹ آیت نه |
| ۱۶ | 〃 ۲۲ باب ۱۳ آیت نه | 〃 ۱۳ باب | 〃 ۲۳ باب ۱۹ آیت پوري | 〃 ۲۵ باب ۳۱ آیت پوري |
| ۱۷ | 〃 ۲۴ باب | 〃 ۱۴ او ۱۵ باب ۸ آپوري | 〃 ۲۵ باب ۱۵ پوري | 〃 ۲۵ باب ۳۱ آیت نه |
| ۱۸ | 〃 ۲۶ باب | 〃 ۱۵ باب ۸ آیت نه | 〃 ۲۸ باب | 〃 ۲۶ باب ۳۱ آیت پوري |
| ۱۹ | 〃 ۲۹ با ۴ نه ۲۰ آپوري | 〃 ۱۶ باب | 〃 ۳۰ باب | 〃 ۲۶ با ۳۱ نه ۷۵ آپوري |
| ۲۰ | 〃 ۳۰ باب ۱۵ آیت پوري | اقو ۱ باب ۲۶ آپوري | 〃 ۳۱ با ۱۵ نه ۳۸ پوري | 〃 ۲۶ باب ۷۵ آیت نه |
| ۲۱ | 〃 ۳۳ باب ۱۴ آیت پوري | 〃 ۱ باب ۲۶ آ نه او ۲ باب | 〃 ۳۳ باب ۱۴ آیت نه | 〃 ۲۷ باب ۲۷ آیت پوري |
| ۲۲ | 〃 ۳۵ باب | 〃 ۳ باب | 〃 ۳۴ باب ۱۴ آیت پوري | 〃 ۲۷ با ۲۷ نه ۵۷ آپوري |
| ۲۳ | 〃 ۳۶ باب ۱۴ آیت نه | 〃 ۴ با ۱۸ آیت پوري | 〃 ۳۸ با ۱۴ آیت پوري | 〃 ۲۷ با ۵۷ آیت نه |
| ۲۴ | مقدس برتولما رسول | 〃 ۴ با ۱۸ نه او ۵ باب | ... ... ... | 〃 ۲۸ باب |
| ۲۵ | یرمیاه ۳۸ با ۱۴ آیت نه | 〃 ۶ باب | یرمیاه ۳۹ باب | مرقس ۱ با ۲۱ آیت پوري |
| ۲۶ | 〃 ۵۰ باب ۲۱ آیت پوري | 〃 ۷ باب تر ۲۵ پوري | 〃 ۵۱ باب ۴۵ آیت نه | 〃 ۱ باب ۲۱ آیت نه |
| ۲۷ | خرقیل ۱ باب ۱۵ پوري | 〃 ۷ باب ۲۵ آیت نه | خرقیل ۱ باب ۱۵ آیت نه | 〃 ۲ باب ۲۳ آیت پوري |
| ۲۸ | 〃 ۲ باب | 〃 ۸ باب | 〃 ۳ باب ۱۵ آیت پوري | 〃 ۲ با ۲۳ نه ۳ با ۱۳ پوري |
| ۲۹ | 〃 ۳ باب ۱۵ آیت نه | 〃 ۹ باب | 〃 ۸ باب | 〃 ۳ باب ۱۳ آیت نه |
| ۳۰ | 〃 ۹ باب | 〃 ۱۰ او ۱۱ باب ۱ آپوري | 〃 ۱۱ باب ۱۴ آیت نه | 〃 ۴ باب ۳۵ آیت پوري |
| ۳۱ | 〃 ۱۲ باب ۱۷ آیت نه | 〃 ۱۱ با ۲ نه ۱۷ آپوري | 〃 ۱۳ باب ۱۷ آیت پوري | 〃 ۴ با ۳۵ نه ۵ با ۲۱ پوري |

## جنتري د وردونو د نقشي سره - د ستمبر ۳۰ ورځي

| تاریخ | د سحر نمونځ — اول ورد | د سحر نمونځ — دویم ورد | د نماښام نمونځ — اول ورد | د نماښام نمونځ — دویم ورد |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | حزقیل ۱۳ باب ۱۷ آیت نه | ۱ قرنتیانو ۱۱ باب ۱۷ آیت نه | حزقیل ۱۴ با ۱۲ آ پوري | مرقس ۵ باب ۲۷ آیت نه |
| ۲ | 〃 ۱۴ باب ۱۲ آیت نه | 〃 ۱۱ باب ۲۸ آیت پوري | 〃 ۱۶ باب ۳۴ آیت نه | 〃 ۶ باب ۱۴ آیت پوري |
| ۳ | 〃 ۱۸ باب ۱۹ آیت پوري | 〃 ۱۲ باب ۲۸ نه او ۱۳ باب | 〃 ۱۸ باب ۱۹ آیت نه | 〃 ۶ باب ۱۴ نه ۳۰ آیت پوري |
| ۴ | 〃 ۲۰ باب ۱۸ آیت پوري | 〃 ۱۴ باب ۲۰ آیت پوري | 〃 ۲۰ باب ۱۸ نه ۳۳ آ پوري | 〃 ۶ باب ۳۰ آیت نه |
| ۵ | 〃 ۲۰ باب ۳۳ نه ۴۴ پوري | 〃 ۱۴ باب ۲۰ آیت نه | 〃 ۲۲ باب ۲۳ آیت نه | 〃 ۷ باب ۲۴ آیت پوري |
| ۶ | 〃 ۲۴ باب ۱۵ آیت نه | 〃 ۱۵ باب ۳۵ آیت پوري | 〃 ۲۶ باب | 〃 ۷ باب ۲۴ نه او ۸ باب ۱۰ آ پوري |
| ۷ | 〃 ۲۷ باب ۲۶ آیت پوري | 〃 ۱۵ باب ۳۵ آیت نه | 〃 ۲۷ باب ۲۶ آیت نه | 〃 ۸ باب ۱۰ نه او ۹ باب ۲ پوري |
| ۸ | 〃 ۲۸ باب ۲۰ آیت پوري | 〃 ۱۶ باب | 〃 ۳۱ باب | 〃 ۹ باب ۲ نه ۳۰ آیت پوري |
| ۹ | 〃 ۳۲ باب ۱۷ آیت پوري | ۲ قرنتي ۱ باب ۲۳ آ پوري | 〃 ۳۳ باب ۲۱ آیت پوري | 〃 ۹ باب ۳۰ آیت نه |
| ۱۰ | 〃 ۳۳ باب ۲۱ آیت نه | 〃 ۱ باب ۲۳ نه او ۲ باب ۱۴ آ پوري | 〃 ۳۴ باب ۱۷ آیت پوري | 〃 ۱۰ باب ۳۲ آیت پوري |
| ۱۱ | 〃 ۳۴ باب ۱۷ آیت نه | 〃 ۲ باب ۱۴ نه او ۳ باب | 〃 ۳۶ باب ۱۶ نه ۳۳ آ پوري | 〃 ۱۰ باب ۳۲ آیت نه |
| ۱۲ | 〃 ۳۷ باب ۱۵ آیت پوري | 〃 ۴ باب | 〃 ۳۷ باب ۱۵ آیت نه | 〃 ۱۱ باب ۲۷ آیت پوري |
| ۱۳ | 〃 ۴۷ باب ۱۳ آیت پوري | 〃 ۵ باب | دانیال ۱ باب | 〃 ۱۱ باب ۲۷ نه او ۱۲ باب ۱۳ آ پوري |
| ۱۴ | دانیال ۲ باب ۲۴ آ پوري | 〃 ۶ و ۷ باب ۱ آیت پوري | 〃 ۲ باب ۲۴ آیت نه | 〃 ۱۲ باب ۱۳ نه ۳۵ آ پوري |
| ۱۵ | 〃 ۳ باب | 〃 ۷ باب ۲ نه | 〃 ۴ باب ۱۹ آیت پوري | 〃 ۱۲ باب ۳۵ نه و ۱۳ باب ۱۴ آ پوري |
| ۱۶ | 〃 ۴ باب ۱۹ آیت نه | 〃 ۸ باب | 〃 ۵ باب ۱۷ آیت پوري | 〃 ۱۳ باب ۱۴ آیت نه |
| ۱۷ | 〃 ۵ باب ۱۷ آیت نه | 〃 ۹ باب | 〃 ۶ باب | 〃 ۱۴ باب ۲۷ آیت پوري |
| ۱۸ | 〃 ۷ باب ۱۵ آیت پوري | 〃 ۱۰ باب | 〃 ۷ باب ۱۵ آیت نه | 〃 ۱۴ باب ۲۷ نه ۵۳ آ پوري |
| ۱۹ | 〃 ۹ باب ۲۰ آیت پوري | 〃 ۱۱ باب ۲۰ آیت پوري | 〃 ۹ باب ۲۰ آیت نه | 〃 ۱۴ باب ۵۳ آیت نه |
| ۲۰ | 〃 ۱۰ باب ۲۰ آیت پوري | 〃 ۱۱ باب ۲۰ نه او ۱۲ باب ۱۴ آ پوري | 〃 ۱۲ باب | 〃 ۱۵ باب ۲۴ آیت پوري |
| ۲۱ | مقدس متي رسول | 〃 ۱۲ باب ۱۴ نه او ۱۳ باب | ... ... | 〃 ۱۵ باب ۲۴ نه و ۱۶ باب |
| ۲۲ | هوشیع ۲ باب ۱۴ آیت نه | گلاتیانو ۱ باب | هوشیع ۴ باب ۱۳ آ پوري | لوقا ۱ باب ۲۶ آیت پوري |
| ۲۳ | 〃 ۵ باب ۸ نه و ۶ باب ۷ آ پوري | 〃 ۲ باب | 〃 ۷ باب ۸ آیت نه | 〃 ۱ باب ۲۶ نه ۵۷ آ پوري |
| ۲۴ | 〃 ۸ باب | 〃 ۳ باب | 〃 ۹ باب | 〃 ۱ باب ۵۷ آیت نه |
| ۲۵ | 〃 ۱۰ باب | 〃 ۴ باب ۲۱ آیت پوري | 〃 ۱۱ او ۱۲ باب ۷ آیت پوري | 〃 ۲ باب ۲۱ آیت پوري |
| ۲۶ | 〃 ۱۳ باب ۱۵ آیت پوري | 〃 ۴ باب ۲۱ نه او ۵ باب ۱۳ آ پوري | 〃 ۱۴ باب | 〃 ۲ باب ۲۱ آیت نه |
| ۲۷ | یوئیل ۱ باب | 〃 ۵ باب ۱۳ آیت نه | یوئیل ۲ باب ۱۵ آ پوري | 〃 ۳ باب ۲۳ آیت پوري |
| ۲۸ | 〃 ۲ باب ۱۵ نه ۲۸ آ پوري | 〃 ۶ باب | 〃 ۲ باب ۲۸ نه او ۳ باب ۹ پوري | 〃 ۴ باب ۱۶ آیت پوري |
| ۲۹ | مقدس میکائیل | ... ... | ... ... | ... ... |
| ۳۰ | یوئیل ۳ باب ۹ آیت نه | افسیانو ۱ باب | عاموس ۱ او ۲ باب ۴ آ پوري | لوقا ۴ باب ۱۶ آیت نه |

## جنتري د وردونو د نقشي سره - د اکتوبر ۳۱ ورځي

| تاریخ | د سحر نمونځ — اول ورد | د سحر نمونځ — دویم ورد | د نماښام نمونځ — اول ورد | د نماښام نمونځ — دویم ورد |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | عاموس ۲ باب ۴ نه او ۳ باب ۹ آ پو | افسیانو ۲ باب | عاموس ۴ باب ۴ آیت نه | لوقا ۵ باب ۱۷ آیت پوري |
| ۲ | 〃 ۵ باب ۱۸ آیت پوري | 〃 ۳ باب | 〃 ۵ باب ۱۸ نه او ۶ باب ۹ پوري | 〃 ۵ باب ۱۷ آیت نه |
| ۳ | 〃 ۷ باب | 〃 ۴ باب ۲۵ آیت پوري | 〃 ۸ باب | 〃 ۶ باب ۲۰ آیت پوري |
| ۴ | 〃 ۹ باب | 〃 ۴ باب ۲۵ نه و ۵ باب ۲۲ | عبدیاه | 〃 ۶ باب ۲۰ آیت نه |
| ۵ | یونه ۱ باب | 〃 ۵ باب ۲۲ نه او ۶ باب ۱۰ پوري | یونه ۲ باب | 〃 ۷ باب ۲۴ آیت پوري |
| ۶ | 〃 ۳ باب | 〃 ۶ باب ۱۰ آیت نه | 〃 ۴ باب | 〃 ۷ باب ۲۴ آیت نه |
| ۷ | میکه ۱ باب ۱۰ آیت پوري | فلپیانو ۱ باب | میکه ۲ باب | 〃 ۸ باب ۲۶ آیت پوري |
| ۸ | 〃 ۳ باب | 〃 ۲ باب | 〃 ۴ باب | 〃 ۸ باب ۲۶ آیت نه |
| ۹ | 〃 ۵ باب | 〃 ۳ باب | 〃 ۶ باب | 〃 ۹ باب ۲۸ آیت پوري |
| ۱۰ | 〃 ۷ باب | 〃 ۴ باب | نحوم ۱ باب | 〃 ۹ باب ۲۸ نه ۵۱ آ پوري |
| ۱۱ | نحوم ۲ باب | قلسیانو ۱ باب ۲۱ آ پوري | 〃 ۳ باب | 〃 ۹ باب ۵۱ نه او ۱۰ باب ۱۷ پوري |
| ۱۲ | حبقوق ۱ باب | 〃 ۱ باب ۲۱ نه او ۲ باب ۸ آ پوري | حبقوق ۲ باب | 〃 ۱۰ باب ۱۷ آیت نه |
| ۱۳ | 〃 ۳ باب | 〃 ۲ باب ۸ آیت نه | صفنیاه ۱ باب ۱۴ آ پوري | 〃 ۱۱ باب ۲۹ آیت پوري |
| ۱۴ | صفنیا ۱ باب ۱۴ نه او ۲ باب ۴ آ پو | 〃 ۳ باب ۱۸ آیت پوري | 〃 ۲ باب ۴ آیت نه | 〃 ۱۱ باب ۲۹ آیت نه |
| ۱۵ | 〃 ۳ باب | 〃 ۳ باب ۱۸ نه او ۴ باب | حجي ۱ باب | 〃 ۱۲ باب ۳۵ آیت پوري |
| ۱۶ | حجي ۲ باب ۱۰ آیت پوري | ۱ تسلونیقیانو ۱ باب | 〃 ۲ باب ۱۰ آیت نه | 〃 ۱۲ باب ۳۵ آیت نه |
| ۱۷ | ذکریاه ۱ باب ۱۸ آ پوري | 〃 ۲ باب | ذکریاه ۱ باب ۱۸ نه او ۲ باب | 〃 ۱۳ باب ۱۸ آیت پوري |
| ۱۸ | مقدس لوقا مُبَشِّر | 〃 ۳ باب | ... ... | 〃 ۱۳ باب ۱۸ آیت نه |
| ۱۹ | ذکریاه ۳ باب | 〃 ۴ باب | ذکریاه ۴ باب | 〃 ۱۴ باب ۲۵ آیت پوري |
| ۲۰ | 〃 ۵ باب | 〃 ۵ باب | 〃 ۶ باب | 〃 ۱۴ باب ۲۵ نه او ۱۵ باب ۱۱ آ پوري |
| ۲۱ | 〃 ۷ باب | ۲ تسلونیقیانو ۱ باب | 〃 ۸ باب ۱۴ آیت پوري | 〃 ۱۵ باب ۱۱ آیت نه |
| ۲۲ | 〃 ۸ باب ۱۴ آیت نه | 〃 ۲ باب | 〃 ۹ باب ۹ آیت نه | 〃 ۱۶ باب |
| ۲۳ | 〃 ۱۰ باب | 〃 ۳ باب | 〃 ۱۱ باب | 〃 ۱۷ باب ۲۰ آیت پوري |
| ۲۴ | 〃 ۱۲ باب | ۱ طمطاؤس ۱ باب ۱۸ پوري | 〃 ۱۳ باب | 〃 ۱۷ باب ۲۰ آیت نه |
| ۲۵ | 〃 ۱۴ باب | 〃 ۱ باب ۱۸ نه او ۲ باب | ملاکي ۱ باب | 〃 ۱۸ باب ۳۱ آیت پوري |
| ۲۶ | ملاکي ۲ باب | 〃 ۳ باب | 〃 ۳ باب ۱۳ آیت پوري | 〃 ۱۸ باب ۳۱ نه ۱۹ باب ۱۱ پوري |
| ۲۷ | 〃 ۳ باب ۱۳ نه و ۴ باب | 〃 ۴ باب | حکمت ۱ باب | 〃 ۱۹ باب ۱۱ نه ۲۸ پوري |
| ۲۸ | مقدس شمعون و مقدس یهوداه | 〃 ۵ باب | ... ... | 〃 ۱۹ باب ۲۸ آیت نه |
| ۲۹ | حکمت ۲ باب | 〃 ۶ باب | حکمت ۴ باب ۷ آیت نه | 〃 ۲۰ باب ۲۷ آیت پوري |
| ۳۰ | 〃 ۶ باب ۲۲ آیت پوري | ۲ طمطاؤس ۱ باب | 〃 ۶ باب ۲۲ نه او ۷ باب ۱۵ آ پوري | 〃 ۲۰ باب ۲۷ نه او ۲۱ باب ۵ آ پوري |
| ۳۱ | 〃 ۷ باب ۱۵ آیت نه | 〃 ۲ باب | 〃 ۸ باب ۱۹ آیت پوري | 〃 ۲۱ باب ۵ آیت نه |

## جنتري دَ وِردونو دَ نقشي سره - دَ نومبر ۳۰ ورځي

| | دَ سحر لمونځ | | دَ ماښام لمونځ | |
|---|---|---|---|---|
| | اول ورد | دویم ورد | اول ورد | دویم ورد |
| ۱ | تول مقدسان | ... ... ... | ... ... ... | ... ... ... |
| ۲ | حکمت ۹ باب | ۲ طیمطاؤس ۳ باب | حکمت ۱۱ با ۱۵ آیت پوري | لوقا ۲۲ باب ۳۱ آیت پوري |
| ۳ | 〃 ۱۱ با ۱۵ نه او ۱۲ با ۱۳ آ پوري | 〃 ۴ باب | 〃 ۱۷ باب | 〃 ۲۲ با ۲۱ نه ۵۴ آ پوري |
| ۴ | سیراخ ۱ باب ۲۴ آ پوري | طیطس ۱ باب | سیراخ ۲ باب | 〃 ۲۲ باب ۵۴ آیت نه |
| ۵ | 〃 ۳ باب ۱۷ نه ۲۸ آ پوري | 〃 ۲ باب | 〃 ۴ باب ۱۰ آیت نه | 〃 ۲۳ باب ۲۰ آیت پوري |
| ۶ | 〃 ۵ باب | 〃 ۳ باب | 〃 ۷ باب ۲۷ آیت نه | 〃 ۲۳ با ۲۶ نه ۵۰ پوري |
| ۷ | 〃 ۱۰ باب ۱۸ آیت نه | فلیمون | 〃 ۱۴ باب ۲۰ آیت پوري | 〃 ۲۳ با ۵۰ نه او ۲۴ با ۱۳ آ پو |
| ۸ | 〃 ۱۵ باب ۹ آیت نه | عبرانیانو ۱ باب | 〃 ۱۶ باب ۱۷ آیت نه | 〃 ۲۴ باب ۱۳ آیت نه |
| ۹ | 〃 ۱۸ باب ۱۵ آیت پوري | 〃 ۲ او ۳ با ۷ آیت پوري | 〃 ۱۸ باب ۱۵ آیت نه | یوحنا ۱ با ۲۹ آت پوري |
| ۱۰ | 〃 ۱۹ باب ۱۳ آیت نه | 〃 ۳ با ۷ نه او ۴ با ۱۴ آ پوري | 〃 ۲۲ با ۲ نه ۲۴ آیت پوري | 〃 ۱ باب ۲۹ آیت نه |
| ۱۱ | 〃 ۲۴ باب ۲۴ آیت پوري | 〃 ۴ با ۱۴ نه او ۵ باب | 〃 ۲۴ باب ۲۴ آیت نه | 〃 ۲ باب |
| ۱۲ | 〃 ۳۳ باب ۷ نه ۲۲ آ پوري | 〃 ۶ باب | 〃 ۳۴ باب ۱۵ آیت نه | 〃 ۳ باب ۲۲ آیت پوري |
| ۱۳ | 〃 ۳۵ باب | 〃 ۷ باب | 〃 ۳۷ با ۸ نه ۱۹ آیت پوري | 〃 ۳ باب ۲۲ آیت نه |
| ۱۴ | 〃 ۳۹ باب ۱۳ آیت پوري | 〃 ۸ باب | 〃 ۳۹ باب ۱۳ آیت نه | 〃 ۴ باب ۳۱ آیت پوري |
| ۱۵ | 〃 ۴۱ باب ۱۴ آیت پوري | 〃 ۹ باب | 〃 ۴۲ باب ۱۵ آیت نه | 〃 ۴ باب ۳۱ آیت نه |
| ۱۶ | 〃 ۴۴ باب ۱۶ آیت پوري | 〃 ۱۰ باب ۱۹ آیت پوري | 〃 ۵۰ باب ۵۲ آیت پوري | 〃 ۵ باب ۲۴ آیت پوري |
| ۱۷ | 〃 ۵۱ باب ۱۰ آیت نه | 〃 ۱۰ باب ۱۹ آیت نه | باروخ ۴ باب ۲۱ آ پوري | 〃 ۵ باب ۲۴ آیت نه |
| ۱۸ | باروخ ۴ با ۳۶ نه او ۵ باب | 〃 ۱۱ باب ۱۷ آیت پوري | یشعیاه ۱ باب ۲۱ آ پوري | 〃 ۶ باب ۲۲ آیت پوري |
| ۱۹ | یشعیاه ۱ باب ۲۱ آیت نه | 〃 ۱۱ باب ۱۷ آیت نه | 〃 ۲ باب | 〃 ۶ باب ۲۲ نه ۴۱ آ پوري |
| ۲۰ | 〃 ۳ باب ۱۶ آیت پوري | 〃 ۱۲ باب | 〃 ۴ باب ۲ آیت نه | 〃 ۶ باب ۴۱ آیت نه |
| ۲۱ | 〃 ۵ باب ۱۸ آیت پوري | 〃 ۱۳ باب | 〃 ۵ باب ۱۸ آیت نه | 〃 ۷ باب ۲۵ آیت پوري |
| ۲۲ | 〃 ۶ باب | یعقوب ۱ باب | 〃 ۷ باب ۱۷ آیت پوري | 〃 ۷ باب ۲۵ آیت نه |
| ۲۳ | 〃 ۸ باب ۵ نه ۱۸ آیت پوري | 〃 ۲ باب | 〃 ۸ باب ۱۸ نه او ۹ با ۸ آ پوري | 〃 ۸ باب ۳۱ آیت پوري |
| ۲۴ | 〃 ۹ باب ۸ نه او ۱۰ با ۵ آ پوري | 〃 ۳ باب | 〃 ۱۰ باب ۵ نه ۲۰ آیت پوري | 〃 ۸ باب ۳۱ آیت نه |
| ۲۵ | 〃 ۱۰ باب ۲۰ آیت نه | 〃 ۴ باب | 〃 ۱۱ باب ۱۰ آیت پوري | 〃 ۹ باب ۳۹ آیت پوري |
| ۲۶ | 〃 ۱۱ باب ۱۰ آیت نه | 〃 ۵ باب | 〃 ۱۲ باب | 〃 ۹ با ۳۹ نه او ۱۰ با ۲۲ آ پوري |
| ۲۷ | 〃 ۱۳ باب | ۱ پطرس ۱ باب ۲۲ آیت پوري | 〃 ۱۴ باب ۲۴ آیت پوري | 〃 ۱۰ باب ۲۲ آیت نه |
| ۲۸ | 〃 ۱۷ باب | 〃 ۱ با ۲۲ نه او ۲ با ۱۱ آیت پوري | 〃 ۱۸ باب | 〃 ۱۱ باب ۱۷ آیت پوري |
| ۲۹ | 〃 ۱۹ باب ۱۶ آیت پوري | 〃 ۲ با ۱۱ نه او ۳ با ۸ آ پوري | 〃 ۱۹ باب ۲۴ آیت نه | 〃 ۱۱ باب ۱۷ نه ۴۷ آ پوري |
| ۳۰ | مقدس اندریاس رسول | ... ... ... | ... ... ... | ... ... ... |

## جنتري دَ وردونو دَ نقشي سره - دَ دسمبر ۳۱ ورځي

| تاریخ | دَ سحر لمونځ | | دَ ماښام لمونځ | |
|---|---|---|---|---|
| | اول ورد | دویم ورد | اول ورد | دویم ورد |
| ۱ | یشعیاه ۲۱ با ۱۳ آ پوري | ۱ پطرس ۳ با ۸ نه او ۴ با ۷ آ پوري | یشعیاه ۲۲ با ۱۵ آیت پوري | یوحنا ۱۱ با ۴۷ نه او ۱۲ با ۲۰ آ پوري |
| ۲ | 〃 ۲۲ باب ۱۵ آیت نه | 〃 ۴ باب ۷ آیت نه | 〃 ۲۳ باب | 〃 ۱۲ باب ۲۰ آیت نه |
| ۳ | 〃 ۲۴ باب | 〃 ۵ باب | 〃 ۲۵ باب | 〃 ۱۳ باب ۲۱ آیت پوري |
| ۴ | 〃 ۲۶ باب ۲۰ آیت پوري | ۲ پطرس ۱ باب | 〃 ۲۶ باب ۲۰ نه او ۲۷ باب | 〃 ۱۳ باب ۲۱ آیت نه |
| ۵ | 〃 ۲۸ باب ۱۴ آیت پوري | 〃 ۲ باب | 〃 ۲۸ باب ۱۴ آیت نه | 〃 ۱۴ باب |
| ۶ | 〃 ۲۹ باب ۹ آیت پوري | 〃 ۳ باب | 〃 ۲۹ باب ۹ آیت نه | 〃 ۱۵ باب |
| ۷ | 〃 ۳۰ باب ۱۸ آیت پوري | ۱ یوحنا ۱ باب | 〃 ۳۰ باب ۱۸ آیت نه | 〃 ۱۶ باب ۱۶ آیت پوري |
| ۸ | 〃 ۳۱ باب | 〃 ۲ باب ۱۵ آیت پوري | 〃 ۳۲ باب | 〃 ۱۶ باب ۱۶ آیت نه |
| ۹ | 〃 ۳۳ باب | 〃 ۲ باب ۱۵ آیت نه | 〃 ۳۴ باب | 〃 ۱۷ باب |
| ۱۰ | 〃 ۳۵ باب | 〃 ۳ باب ۱۶ آیت پوري | 〃 ۴۰ باب ۱۲ آیت پوري | 〃 ۱۸ باب ۲۸ آیت پوري |
| ۱۱ | 〃 ۴۰ باب ۱۲ آیت نه | 〃 ۳ با ۱۶ نه و ۴ با ۷ آیت پوري | 〃 ۴۱ باب ۱۷ آیت پوري | 〃 ۱۸ باب ۲۸ آیت نه |
| ۱۲ | 〃 ۴۱ باب ۱۷ آیت نه | 〃 ۴ باب ۷ آیت نه | 〃 ۴۲ باب ۱۸ آیت پوري | 〃 ۱۹ باب ۲۵ آیت پوري |
| ۱۳ | 〃 ۴۲ با ۱۸ نه او ۴۳ با ۸ آ پوري | 〃 ۵ باب | 〃 ۴۳ باب ۸ آیت نه | 〃 ۱۹ باب ۲۵ آیت نه |
| ۱۴ | 〃 ۴۴ باب ۲۰ آیت پوري | ۲ یوحنا | 〃 ۴۴ با ۲۰ نه او ۴۵ با ۸ آ پوري | 〃 ۲۰ باب ۱۹ آیت پوري |
| ۱۵ | 〃 ۴۵ باب ۸ آیت نه | ۳ یوحنا | 〃 ۴۶ باب | 〃 ۲۰ باب ۱۹ آیت نه |
| ۱۶ | 〃 ۴۷ باب | یهوداه | 〃 ۴۸ باب | 〃 ۲۱ باب |
| ۱۷ | 〃 ۴۹ باب ۱۳ آیت پوري | مکاشفات ۱ باب | 〃 ۴۹ باب ۱۳ آیت نه | مکاشفات ۲ باب ۱۸ آ پوري |
| ۱۸ | 〃 ۵۰ باب | 〃 ۲ با ۱۸ نه او ۳ با ۷ پوري | 〃 ۵۱ باب ۹ آیت پوري | 〃 ۳ باب ۷ آیت نه |
| ۱۹ | 〃 ۵۱ باب ۹ آیت نه | 〃 ۴ باب | 〃 ۵۲ باب ۱۳ آیت پوري | 〃 ۵ باب |
| ۲۰ | 〃 ۵۲ با ۱۳ نه او ۵۳ باب | 〃 ۶ باب | 〃 ۵۴ باب | 〃 ۷ باب |
| ۲۱ | مقدس تهوما رسول | ... ... ... | ... ... ... | ... ... ... |
| ۲۲ | یشعیاه ۵۵ باب | مکاشفات ۸ باب | یشعیاه ۵۶ باب | مکاشفات ۱۰ باب |
| ۲۳ | 〃 ۵۷ باب | 〃 ۱۱ باب | 〃 ۵۸ باب | 〃 ۱۲ باب |
| ۲۴ | 〃 ۵۹ باب | 〃 ۱۴ باب | 〃 ۶۰ باب | 〃 ۱۵ باب |
| ۲۵ | دَیسوع مسیح دَ پیدا کیدو اختر | ... ... ... | ... ... ... | ... ... ... |
| ۲۶ | مقدس استیفان شهید | ... ... ... | ... ... ... | ... ... ... |
| ۲۷ | مقدس یوحنا مُبَشِر | ... ... ... | ... ... ... | ... ... ... |
| ۲۸ | شهیدان | مکاشفات ۱۶ باب | ... ... ... | مکاشفات ۱۸ باب |
| ۲۹ | یشعیاه ۶۱ باب | 〃 ۱۹ باب ۹ آیت پوري | یشعیاه ۶۲ باب | 〃 ۱۹ باب ۱۱ آیت نه |
| ۳۰ | 〃 ۶۳ باب | 〃 ۲۰ باب | 〃 ۶۴ او ۶۵ با ۸ آیت پوري | 〃 ۲۱ باب ۱۵ آیت پوري |
| ۳۱ | 〃 ۶۵ باب ۸ آیت نه | 〃 ۲۱ با ۱۵ نه او ۲۲ با ۶ آ پوري | 〃 ۶۶ باب | 〃 ۲۲ باب ۶ آیت نه |

# نقشې او قاعدې

## د اخترونو او د روژو د ورځو د تمام کال دپاره

قاعدې د دې خبرې د معلوم کولو چه د کمو اخترونو او د خاصو ورځو تاريخ مقرر نه دی هغه کله شروع کيږي

د فسحې اختر (چه په هغې باندې ټولې خاصې ورځې چه د هغو تاريخ مقرر نه دی موقوفې دي) هميشه هغه اتوار دی چه پس له څوارلسمې د سپوږمۍ د مارچ په يوويشتمه ورځ يا ورستو د هغې واقع کيږي او که چرې دا د څوارلسمې سپوږمۍ په اتوار باندې وي نو د هغې نه ورستې اتوار به د فسحې اختر وي

د مسيح د راتلو اتوار هميشه به هم هغه اتوار وي چه د مقدس اندرياس اختر ته نژدې يا له هغه نه ورنبې يا له هغه نه ورستې راځي

د روژې نه ورنبې دريم اتوار د فسحې له اختر نهٔ هفتې ورنبې واقع کيږي
〃 〃 دويم 〃 〃 〃 〃 اته 〃 〃 〃
〃 〃 اول 〃 〃 〃 〃 اوه 〃 〃 〃
د روژې اول اتوار د فسحې له اختر شپږ هفتې ورنبې
〃 دويم 〃 〃 〃 〃 〃 پنځه 〃 〃 ورستې
د صعود اختر 〃 〃 〃 〃 څلويښت ورځې
د روح القدس د نازليدو اختر 〃 〃 〃 اوه هفتې ورستې
د تثليث اختر د 〃 〃 〃 اته 〃 〃

## نقشه د ټولو اخترونو چه د انګلستان په کليسې کښې منلې شي د ټول کال دپاره

په کال کښې هر اتوار

اختر:
- خمونږ د خداوند يسوع مسيح د ختنې
- د ظهور
- د مقدس پولس د رجوع کيدلو
- د مبارکې پيغلې مريمې د طهارت
- د مقدس متهياس رسول

اختر:
- د مبارکې پيغلې مريمې د خوشخبرۍ مندلو
- د مقدس مرقس مبشر
- د مقدس فليپس او د مقدس يعقوب رسولانو
- خمونږ د خداوند يسوع مسيح د صعود
- د مقدس برنباس
- د يوحنا بپتسمه ورکونکي د پيدا کيدلو

اختر:
- د مقدس پطرس رسول
- د مقدس يعقوب رسول
- د مقدس برتلما رسول
- د مقدس متي رسول
- د مقدس ميکائيل او د ټولو مقدسو فرښتو
- د مقدس لوقا مبشر
- د مقدس شمعون او د مقدس يهودا رسولانو
- د ټولو مقدسانو
- د مقدس اندرياس رسول
- د مقدس تهوما رسول
- خمونږ د خداوند يسوع مسيح د پيدا کيدلو
- د مقدس ستفن ورنبي شهيد
- د مقدس يوحنا مبشر
- د پاکو شهيدانو

دوشنبه او سه شنبه د فسحې له اختر نه پس
دوشنبه او سه شنبه د روح القدس د نازليدو له اختر نه پس

## نقشه د عرفو او د روژو او د خاصې پرهيزکارۍ ورځې د ټول کال دپاره

عرفه:
- خمونږ د خداوند يسوع مسيح د پيدا کيدو
- د مبارکې پيغلې مريمې د طهارت
- د مبارکې پيغلې مريمې د خوشخبرۍ مندلو
- د فسحې د اختر
- د صعود د اختر
- د روح القدس د نازليدو د اختر
- د مقدس متهياس
- د مقدس يوحنا بپتسمه ورکونکي

عرفه:
- د مقدس پطرس
- د مقدس يعقوب
- د مقدس برتلما
- د مقدس متي
- د مقدس شمعون او
- د مقدس يهودا
- د مقدس اندرياس
- د مقدس تهوما
- د ټولو مقدسانو

که چرې له هغو اخترونو چه بيان شول څني د پير په ورځ واقع شي نو د هغې عرفه يعني روژه د اتوار په ورځ نه وي بلکه د خالي په ورځ دِ ومنلې شي

## د روژو يا د پرهيزکارۍ ورځې

١- د روژو څلويښت ورځې

٢- د تقرر ورځې د څلورو موسمونو يعني چارشنبه - جمعه - او خالي - چه له روژو د ورنبي اتوار او د روح القدس د نازليدو له اختر او د ستمبر له څوارلسم تاريخ او د دسمبر له ديارلسم تاريخ پس راځي

٣- د دعا غوښتلو درې ورځې يعني دوشنبه او سه شنبه او چارشنبه چه د صعود له اختر ورنبي راځي

٤- د کال هره جمعه په دې شرط سره چه د پيدا کيدو اختر په جمعې واقع نه وي

# دَ سحر او دَ نماښام دَ نمانځه

ترتیب

## چه په تمام کال کښں لوستي ښِي او په عمل راوړي ښِي

دَ سحر او دَ نماښام نمونځ به په معمولي ځاي دَ کلیسیي یا دَ بلي عبادتخاني یا په چانسل کښں ادا کړي ښِي که حاکم دَ شرع بل څه حکم ور نه کړِي - او چانسل دِ داسي پاتي ښِي لکه چه په پخوا ورځو کښں وه

ظاهره دِ وِي چه زیبائش دَ کلیسیي او آرایش دَ امامانو به هر وقت دَ هغوي دَ عبادت هم دغه شان دِ استعمال کړي ښِي لکه چه په کلیسیيِ دَ انګلستان کښں دَستور وه په حکم دَ سرکار دَ دوېم کال دَ شپږم اِدورډ بادشاه

# دَ کال دَ هري ورځي دپارَ دَ سحر دَ نمانځه ترتیب

دَ سحر دَ نمانځه په شروع کښں امام دِ دَ مقدسو کتابونو له دي آیتونو نه چه دَ لاندِ لیکلي شوي دِي یو یا زیات په اوچت آواز سره ولولي او پس له دي نه هغه نصیحت چه وړاندِ دَدي آیتونو نه دَيِّ خلقو ته دِ واوروي+

۱-هرکله چه بد سړي له خپلي بديِ نه چه ده کړي ده وجاروزِي او څه چه واجب او ربښتیا دِي وکړِي نو خپل ځان به ژوندي وساتي+ حزقیل۱۸-۲۷

۲-زه په خپلو بدو قرار کوم او ځما خطا تل ځما په مخ کښں ده + مزمور۵۱-۳

۳-ځما له خطاؤ نه مخ پټ کړه او ټول ګناهونه مِ محوه کړه + مزمور۵۱-۹

۴-قرباني دَ الله مات زړه دَي اي الله ته به مات او خسته زړه ناڅیزه و نه ګڼړي + مزمور۵۱-۱۷

۵-نه خپلي جامي بلکه خپل زړه څیري کړه او په طرف دَ یهوه الله خپل وګرزه ځکه چه دي کریم او رحیم دَي په غصه کښں حلیم او ډیر مهربان دَي او په سزا ورکولو پښیمانیږي + یوئیل ۲-۱۳

۶-ځمونږ دَ خداوند الله رحمتونه او بخښني شته دَي که هرڅو موږ له ده نه سرکښي کړي ده او موږ دَ یهوه الله خپل آواز اوریدلي نه دَي چه دَ هغه په توریت باندِ چه هغه دَخپلو خدمتګارانو نبیانو په معرفت ځمونږ دَ وړاندِ ظاهر کړ لاړ شُو+ دانیال۹-۹ و ۱۰

۷-اي یهوه ما له تنبیه راکړه لیکن په اندازه سره نه په غضب هسي نه وِي چه ما نیست کړي+ یرمیا۱۰-۲۴ و مزمور ۶-۱

۸-توبه وباسئ ځکه چه دَآسمان بادشاهت نژدي دَي + متي ۳-۲

۹-زه به پاڅم او خپل پلار ځخه به لاړ شم او ور ته به ووایم چه اي پلارَ ما دَ آسمان او ستا ګناه کړي ده او دَ دي لایق نه یم چه بیا ستا زوي وبللي شم + لوقا ۱۵-۱۸ و ۱۹

۱۰-اي یهوه دَخپل بنده حساب په عدل سره مه اخله ځکه چه یو سړي به ستا په حضور راستباز و نه دریدي ښِي + زبور ۱۴۳-۲

۱۱- که مونږ ووايُو چه مونږ بي ګُناه
يُو نو خپل ځان غلوُو او په مونږ کښ
رښتني نشته که مونږ په خپلو ګُناهونو
قايل شُو نو دَي په بخښلو دَ ګُناه څمونږ
او په پاک کولو دَ هر قسم ناراستي څمونږ
رښتني او عادل دَي + ا يوحنّا ۱- ۸ و ۹

اي عزيزو وروڼرو کلام الله په څيني
مقامونو کښ مونږ له ترغيب راکوِي
چه په خپلو هر قسم ګُناهونو او
تقصيرونو باندِ قايل شُو او وُي منُو-
او په باب دَ هغو په حضُور دَ قادرِ
مطلق الله چه څمونږ آسماني پلار دَي
بهاني نه جوړوُو او نه پرِ باندِ پرده
واچوُو بلکه په غريب او په عاجز او په
توبه کوونکي او په تابعدار زړه سره
دَ هغو اقرار وکړُو تا چه دَ هغه په
بيحده فضل او رحمت سره مونږ
وبخښلي شُو او اګرچه په مونږ فرض
دِي چه هر وقت په عاجزيِ سره دَ الله
دَ وړاندِ په خپلو ګُناهونو قايل شُو بلکه
خاص په هغه وقت داسي کول فرض
دِي چه کوم وقت مونږ جمع او يوځاي
شُو چه هغه ډير ډير نعمتونو چه مونږ
دَده له لاسَ موندلي دِي دَ هغو دَپارَ
شکر وکړُو- دَده ډيرِ لايقه ثنا ووايُو-
دَده ډير پاک کلام واورُو- او هغه
څيزونه چه دَجسم او دَ روح دَپارَ
پکار او ضرور دِي له ده نه ئي وغواړُو-
دَدي دَپارَ زه تاسو ټولو ته چه دلته
کښ حاضر يئِ په منّت سرِه عرض کوم
چه په پاک زړه او په غريب آواز سره
دَ آسماني فضل دَ تخت دَ وړاندِ ما
پسي ووايئِ

ټول جماعت دِ زنګونونه ولګوي او دعام اقرار
دَ ګُناهونو دِ په امام پسي و وايِي

اي قادرِ مطلقَ او ډيرَ رحيمَ پلارَ
مونږ خطا شوِي يُو او په مثل دَ
ورکو ګډو ستا له لارو نه بي لاري
شوِي يُو مونږ ډير دَ خپلو زړونو په
فکرونو او په خواهشونو پسي شوي
يُو مونږ ستا دَ پاکو حکمونو په خلاف
تلي يُو هغه څه چه کول ئي په مونږ
لازم وُو مونږ و نه کړل او هغه څه
چه کول ئي په مونږَ جائز نه وُو
هغه مو وکړل او په مونږ کښ هيڅ
خوبي نشته ليکن ته اي خداوندَ
په مونږ بيکسو لاچارو ګُنهګارو باندِ
رحم وکړه اي الله هغوي چه په
خپلو ګُناهونو باندِ قايل دِي بچ ئي
کړه هغوي چه توبه کوِي نو په ځاي



ئي کړه په موافق دَ هغو وعدو چه تا
په وسيلي څمونږ دَ خداوند يسوع مسيح
دَ بني آدم سره کړِي دِيْ او اي ډيرَ
رحيمَ پلارَ دَ هغه په خاطر دا مهرباني
وکړه چه پس له دي مونږ په خداترسيئِ
په نيکوکاريئِ او په پرهيزګاريئِ سره
ژوندون تير کړُو تاچه ستادَ پاک
نُوم لوِيي ښکاره شِي + آمين

دَ ګُناهونو دَ عفوي کليمه چه صرف قسيس دِ
ئي په ولاړي ووايِي او جماعت دِ زنګونونه
لګولي اوسِي

قادرِ مطلق الله څمونږ دَ خداوند
يسوع مسيح پلار چه دَ هيڅ ګُنهګار
مرګ نه غواړي بلکه دا غواړي چه
هغه له خپلي بديئِ نه راوګرزِي او
ژوندي شِي او چه ئي خپلو خادمانو
ته اختيار او حکم ورکړي دَي چه
هغوي دَ هغه دَ اُمّت توبه کوونکو ته دَ
هغوي دَ ګُناهونو دَ عفوي او دَ بخښني
اشتهار واورِوي او ظاهر ئي کړِي چه
هغه هغوي ټولو ته چه په رښتيا سره
توبه کوِي او دَ هغه په پاک انجيل باندِ
بيريا ايمان راوړِي بخښي او دَ هغوي
ګُناهونه عفوه کوِي نو راځئِ چه مونږ
دَ هغه منّت وکړُو چه دَي دَ رښتني
توبي توفيق او خپل روحُ القُدس مونږ
ته راکوِي تا چه هر هغه کار چه مونږ
ئي په دي وقت کښ کوُو دَده خوښ شِي
او په وړاندِ څمونږ باقِي عمر په صفائيِ او
په پاکيِ سره تير شِي تا چه په آخر کښ
مونږ دَده ابدِي خوشحالتيا ته ورسُو
څمونږ دَ خداوند يسوع مسيح په
وسيلي سره + آمين

په دي ځاي او په آخر دَ هري دُعادِ
جماعت آمين وايِي

بيا دِ امام زنګونونه ولګوِي دَ خداوند دُعا
دِ په اوچت آواز سره ولولِي او جماعت دِ هم
زنګونونه ولګوِي په دي ځاي او په هر مقام دَ
عبادت کښ هر چرته چه دا دُعا راځي په هغه
پسي دِ ئي وايِي

ايَ څمونږَ پلارَ چه په آسمانونو
کښ يي ستا دَ نُوم پاکي دِ وِي- بادشاهت
ستا دِ راشِي- رضا ستا لکه چه په آسمان
پوره کيږِي په زمکه دِ هم شِي- څمونږ
دَ نن ورځي ډوډيئِ نن مونږ له راکړه- او
تقصيرونه څمونږ عفوه کړه چه مونږ
هم هر تقصيروار خپل بخښُو- او مونږ
په آزماينبت کښ مه راوله بلکه له
هغه شرير نه مو وساته- ځکه
چه بادشاهت او قدرت او جلال

تل ترتله هم ستا دَي ۞ آمين

پس له هغه نه دِ دا هم ووايِي

اي خداوندَ ته څمونږَ شوندي پرانزه

جواب-اوڅمونږَ ژبي به ستا ثنا بيان کړي

قسيس-اي الله څمونږ په خلاصِي کښ تلوار وکړه

جواب-اي خداوندَ زرڅمونږَ مدد وکړه

دلته دِ ټول ودريږي او قسيس دِ ووايِي

ثنا دَ پلار او دَ زوي ؛ اودَ روح القدس دِ وِي

جواب-لکه چه په ابتدا کښ وَه اوس هم دَه : اوترابدَ پوري به وِي ۞ آمين

قسيس-دَ خداوند ثنا کوئِ

جواب-دَخداوند دَ نوم ثنا دِ وکړي شِي

پس له هغي نه دِ دا مزمور چه لاندِ ليکلي شوي دي و دِ لوستلي شِي يا په سرود سره دِ ووبلي شِي مګر دَ فسحي په اختر چه دَهغي دَپارَ بل سرود مقرر دَي او دَ هري مياشتي په ۱۹ تاريخ دِدا مزمور په دي مقام کښ ونه لوستي شِي مګر دَ هغي ورځي دَ مزمورونو سره

## ۹۵- مزمور

راځئِ چه دَ يهوه سرود وغږوُو : مونږ دَ خپل نجات ګټ ته ناري ووهو

مونږ به په شکرګذاريِ کولو سره ده حضُور ته ورشُو : په مدحه سره به ده ته دَ خوشحَاليِ ناري ووهو

ځکه چه يهوه لوي الله دَي : او په ټولو خدايانو باندِ لوي بادشاه دَي

چه دَ زمکي لويئِ ژوري دَ ده په لاس کښ دِي : او سَوکي دَ غرونو هم دَده دِي

درياب دَده دَي اوده پيدا که : او لاسونو ئُ خُشکِي پيدا کړيِ ده

راځئِ چه مونږ سجده وکړو اوټيټ شُو : په حِضُور دَ يهوه څمونږ دَخالق زنګونونه ولګوو

ځکه چه دَي څمونږ الله دَي : او مونږ دَده دَ څراګاه اُمّت يُو او دَده دَ لاس ګډي يُو : کاشکي که تاسي نن ورځ دَ هغه آواز واوريِ

نو تاسو خپل زړونه داسي مه سختويِ لکه چه په مرِيبا کښ : لکه دَ مضَا په ورځ په بيابان کښ

هرکله چه زه ستاسو پلرونو وآزمايلم : تجربه څما ئي وکړه : اوکار څما ئي وليد

ترڅلويښتو کالو زه له هغه پيړئِ نه ناراض شولم : اووم ويل چه دا هغه قوم دَي چه په خپل زړه کښ ګمراه دَي : اوهغوي څما لار ونه پيژندله



نو ما په خپل قهر سره سوګند وخوړ چه هغه به څما په راحت کښ داخل نشي

ثنا دَ پلار او دَ زوي : او دَ روح القدس دِ وِي

لکه چه په ابتدا کښ وه اوس هم ده : اوترابدَ پورَي به وِي ۞ آمين

بيا سلسله وار مزمورونه دِ په موافق دَ حکم و لوستلي شِي او دَ ټول کال په هر مزمور پسي او دا زکي دَ دريو مقدسو څوانانو په سرود او دَ حضرت ذکرياه اودَ مبارکي مريمي اودَ حضرتِ شمعون په سرودونو پسي دِ دا کلمه ويلي شِي

ثنا دَ پلار او دَ زوي : اودَ روح القدس دِ وِي

لکه چه په ابتدا کښ وه اوس هم ده : اوترابدَ پوري به وِي ۞ آمين

پس له دي نه دِ په فصيح او په اوچت آواز سره دَ زړي عهدنامي نه ورنبي ورد لکه چه پورته په نقشي کښ مقرر شوي دَي ولوستي شِي که دَ هغي ورځي دَپارَ څه خاص ورد مقرر نه وِي

او لوستونکي دِ په داسي طور او په طرف ولاړ وِي چه تمام حاضرين ئي په ښه شان واوري

او پس له دي نه دَ ټول کال دَ هري ورځي دَپارَ دا دَ لاندِ سرود چه نوم ئي حمدالله دَي و دِ لوستلي شِي يا دِ وستايلي شِي

ګوره چه دَ هر يو ورد نه دِ وړاندِ خادِمِ دين داسي وايي چه اوس دَ فلاني کتاب دَ فلاني باب نه شروع کيږي يا دَ فلاني باب دَ فلاني آيت نه شروع کيږي او په هر ورد پسي دِ داسي وايِي چه دلته اول يا دويم ورد تمام شُه

## الحمد الله

۱-اي الله مونږ ستا حمد کوُو : مونږ منُو چه ته ربّ العالمين يي

۲-تا ازلي پلار له ټول جهـان : عبادت کوِي

۳-ټولي فرښتي آسمانونه اوتمام قوتونه : تا ته ناري وهي

۴-تا ته کروبيم او سرافيم : هرساعت ناري وهِي

۵-قدّوس قدّوس قدّوس : الله رب دَ فوځونو

۶-آسمان او زمکه ستا دَ جلال دَ لوئِي نه : ډک دِي

۷-دَ رسولانو عاليشان جماعت : ستا حمد کوِي

۸-دَ پيغمبرانو ښائسته مجلس : ستا حمد کوِي

۹-دَ شهيدانو سفيدپوش لښکر :

ستا حمد کوي

۱۰- پاکه کلیسیا په تمام جهان کښې: ستا اقرار کوي

۱۱- په تا پلار: نهایت عظیم الشان

۱۲- ستا په زوي واحد: حقیقي او ذو الجلال

۱۳- او هم په روحُ القدس: فارقلیط

۱۴- اي مسیح: ته د لويې بادشاه يې

۱۵- ته د پلار: ازلي زوي يې

۱۶- هر کله چه تا د انسان د نجات د پارَ انسانیت اختیار کړ: تا د پيغلي له رحم نه نفرت و نه کړ

۱۷- هر کله چه ته د مرګ په لښه باندې غالب شوي: نو تا د آسمان بادشاهت ټولو مؤمنانو ته پرانست

۱۸- ته د پلار په لويې کښې: د الله په ښي لاس ناست يې

۱۹- خمونږ ایمان دي چه ته به راشې خمونږ د عدالت کولو د پارَ

۲۰- د دې د پارَ مونږ ستا منت کوو چه ته د خپلو بندګانو کومک وکړه: چه تا په خپلو قیمتي وينو پيرودلي دي

۲۱- هغوي په ابدي جلال کښې: له خپلو مقدّسانو سره شمار کړه

۲۲- اي خداونده خپل اُمت له نجات ورکړه

۲۳- د هغوي رعایت وکړه: او هغوي تر ابده سرفراز کړه

۲۴- ورځ په ورځ: مونږ ستا لويې وایو

۲۵- او ستا د نوم حمد: تل تر تله کوو

۲۶- اي خداونده مهرباني وکړه: نن مونږ له ګناه نه په امان کړه

۲۷- اي خداونده په مونږ رحم وکړه: په مونږ رحم وکړه

۲۸- اي خداونده خپل رحمت په مونږ نازل کړه: چه خمونږ امید هم په تا باندې دي

۲۹- اي خداونده خما اُمید په تا دي: زه به هیچرې رسوا نه شم

یادا د دریو مقدسو ځوانانو (یعنې د سدرک د میسک او د عبدنجو)

سرود

۱- اي د خداوند ټولو صنعتونو خداوند مبارک وګڼرئ: او تر ابده پورې د هغه حمد او تعظیم کوئ

۲- اي د خداوند فرښتو خداوند مبارک وګڼرئ: او تر ابده پورې د هغه حمد او تعظیم کوئ



۳- اي آسمانونو خداوند مبارک وګڼرئ: تر ابده پورې د هغه حمد او تعظیم کوئ

۴- اي اوبو چه په فضا باندې يې خداوند مبارک وګڼرئ: تر ابده پورې د هغه حمد او تعظیم کوئ

۵- اي د خداوند ټولو قوتونو خداوند مبارک وګڼرئ: تر ابده پورې د هغه حمد او تعظیم کوئ

۶- اي نمر او سپوږمۍ خداوند مبارک وګڼرئ: تر ابده پورې د هغه حمد او تعظیم کوئ

۷- اي د آسمانونو ستورو خداوند مبارک وګڼرئ: تر ابده پورې د هغه حمد او تعظیم کوئ

۸- اي بارانونو او شبنمه خداوند مبارک وګڼرئ: تر ابده پورې د هغه حمد او تعظیم کوئ

۹- اي د الله بادونو خداوند مبارک وګڼرئ: تر ابده پورې د هغه حمد او تعظیم کوئ

۱۰- اي اور او تاوه خداوند مبارک وګڼرئ: تر ابده پورې د هغه حمد او تعظیم کوئ

۱۱- اي ژمیه او اوړیه خداوند مبارک وګڼرئ: تر ابده پورې د هغه حمد او تعظیم کوئ

۱۲- اي پرخو او چنو خداوند مبارک وګڼرئ: تر ابده پورې د هغه حمد او تعظیم کوئ

۱۳- اي ځنځې او يخنۍ خداوند مبارک وګڼرئ: تر ابده پورې د هغه حمد او تعظیم کوئ

۱۴- اي واورې او کنګله خداوند مبارک وګڼرئ: تر ابده پورې د هغه حمد او تعظیم کوئ

۱۵- اي شپو او ورځو خداوند مبارک وګڼرئ: تر ابده پورې د هغه حمد او تعظیم کوئ

۱۶- اي رڼا او تیارې خداوند مبارک وګڼرئ: تر ابده پورې د هغه حمد او تعظیم کوئ

۱۷- اي برېښناؤ او وريځو خداوند مبارک وګڼرئ: تر ابده پورې د هغه حمد او تعظیم کوئ

۱۸- زمکه دې خداوند مبارک وګڼري: تر ابده پورې دې د هغه حمد او تعظیم کوي

۱۹- اي غرونو او غونډو خداوند مبارک وګڼرئ: تر ابده پورې د هغه حمد او تعظیم کوئ

۲۰- اي د زمکې ټولو سبزو خداوند

مبارک وکنړيِ : ترابدَ پوري دَ هغه حمد او تعظيم کويُ

۲۱-اي چينو خداوند مبارک وکنړيِ: ترابدَ پوري دَ هغه حمد او تعظيم کويُ

۲۲-اي ڤالي دريابونو او سيندونو خداوند مبارک وکنړيُ : ترابدَ پوري دَ هغه حمد او تعظيم کويُ

۲۳-اي نهنګانو او هرڅه چه په اوبو کښ ګرزيِ خداوند مبارک وکنړيِ: ترابدَ پوري دَ هغه حمد او تعظيم کويُ

۲۴-اي ټولو الوتونکيو دَ هوا خداوند مبارک وکنړيُ: ترابدَ پوري دَ هغه حمد او تعظيم کويُ

۲۵-اي ټولو ځناورو او څارويو خداوند مبارک وکنړيُ : ترابدَ پوري دَ هغه حمد او تعظيم کويُ

۲۶-اي بني‌آدمو خداوند مبارک وکنړيُ : ترابدَ پوري دَ هغه حمد او تعظيم کويُ

۲۷-اسرائيل دِ خداوند مبارک وکنړي : ترابدَ پوري دِ دَ هغه حمد او تعظيم کړي

۲۸-اي دَ خداوند کوهينانو خداوند مبارک وکنړيُ : ترابدَ پوري دَ هغه حمد او تعظيم کويِ

۲۹-اي دَ خداوند بندګانو خداوند مبارک وکنړيُ : ترابدَ پوري دَ هغه حمد او تعظيم کويُ

۳۰-اي دَ صادقانو روحونو او ځانونو خداوند مبارک وکنړيُ : ترابدَ پوري دَ هغه حمد او تعظيم کويُ

۳۱-اي مقدسو او په زړه کښ عاجزانو خداوند مبارک وکنړيِ: ترابدَ پوري دَ هغه حمد او تعظيم کويُ

۳۲-اي حنانيا او عزريا او ميثائيله خداوند مبارک وکنړيُ : ترابدَ پوري دَ هغه حمد او تعظيم کويُ

ثنا دَ پلار او دَ زوي ؛ او دَ روح القدس دِ وِي

لکه چه په ابتدا کښ وه اوس هم ده : او ترابدَ پوري به وِي + آمين

بيا په دي شان دويم ورد دَ نوي عهدنامې نه دِ ولوستي شي پس له هغه دا سرود چه لاندِ ليکلي شوي دَي مګر نه په هغه ورځ چه دا سرود دَ هغي ورځي په ورد کښ وِي يا دَ مقدس يوحنا بپتسما ورکوونکي دَ ورځي په انجيل کښ وِي

**دَ مقدس لوقا دَ انجيل ۱ باب ۶۸ آيت**

حمد دَ خداوند الله دَ اسرائيل: چه ده په کرم سره نظر وکړ او دَ خپل قوم دَ پارَ ئي فديه ورکړه

او ځمونږ دَ پارَ ئي دَ نجات ښکر پورته کړ: دَ خپل بنده داوُد په خاندان کښ

لکه چه ده وِ دَ خپلو پاکو نبيانو په ژبي : چه دَ دنيا له شروع نه راغلي دِي

نجات ځمونږ له دُښمنانو نه : او له لاسَ دَ هغو ټولو نه چه ځمونږ سره کينه لرِي

تا چه ځمونږ په پلرونو نيکونو رَحم وکړي: او خپل پاک عهد په ياد راوړِي

تا چه هغه قسم پوره کړِي چه هغه ځمونږ له پلار ابراهام سره وخوړ : چه هغه به مونږ له دا راکړِي

چه دَ خپلو دښمنانو له لاس نه خلاص شُو: بې وېري دَده خدمت کوُو

په پاکۍِ او په رښتيۍِ سره دَده دَ وړاندِ ځمونږ په ټول عمر کښ

ته به اي هلکه دَ الله تعالیٰ نبي بللي شي : ځکه چه ته به دَ خداوند دَ وړاندِ دَ هغه لاري سموي

ته به دَده خلقو ته دَ نجات خبر ورکولو دَپارَ دَ هغو دَ ګناهونو په معافيِ کښ



ځمونږ دَ الله دَ رحم دلي له سببَ : چه په کښ دَ صبا روښنائي له پاسه مونږ ته راورسيده

تا چه هغوي چه په تياره او دَ مرګ په سورِي کښ ناست دَي روښانه کړيُ او پښي ځمونږ دَ سلامتيا په لاري سمي کاندِ

ثنا دَ پلار او دَ زوي : او دَ روح القدس دِ وِي

لکه چه په ابتدا کښ وه اوس هم ده : او ترابدَ پوري به وِي + آمين

يا دا مزمور

**۱۰۰ مزمور**

اي ټولي زمکي : يهوه ته دَ خوښيِ ناري وکړيِ

دَ يهوه په خوشحاليِ سره عبادت وکړيِ : دَده په حضور له سندرو سره راشيِ

تاسو پوهيږيُ چه يهوه هغه الله دَي چه مونږ ئي پيدا کړُو: او مونږ دَ هغه يُو مونږ دَ هغه اُمت يُو او دَده دَ ورشو ګډي يُو

دَ هغه په دروازو کښ په شکرګذاريِ سره داخل شيِ او په مدحه سره دَ هغه په غولي کښ؛ دَده شکر وکړيُ او

دَده نوم ته مبارک ووايِ

ځکه چه يهوه نيک دَي دَده مهرباني

ترابده ده : او وفاداريُ ئي پښت په پښت ده

ثنا دَ پلار او دَ زوي : او دَ روحُ القُدس دِ وِي

لکه چه په ابتدا کښ وه اوس هم دَه : او ترابدَ پوري به وِي ÷ آمين

بيا امام او جماعت دِ په ولاړي دَ رسولانو عقيده په سرود سره ووايِي يا دِ ولولِي مګر نه په هغو ورځو کښ چه لوستل دَ عقيدي دَ مُقدس اثاناسِيُس مقرّر وِي

زه ايمان لرم په الله قادرِ مطلق پلار باندِ چه دَ آسمان او دَ زمکي خالق دَي

او په يسوع مسيح چه دَ هغه ابنِ وحيد او څمونږ خداوند دَي چه دَ روحُ القُدس په قدرت سره په کيدَه شه - له بيغلي مريمي نه پيدا شه - دَ پنطُوس پيلاطس په حکومت کښ ئي درد وزغمه - مصلوب شه - مړ شه - اوخښ شه - عالمِ برزخ ته کوز شه - په دريمه ورځ له مړو نه ژوندي پاځيدَه - آسمان ته وختو - او دَ الله قادرِ مطلق پلار ښي لاس ته ناست دَي - له هغه

ځاي نه به کـ ژوندو او دَ مړو دَ عدالت کولو دَپارَ راشِي

زه ايمان لرم په روحُ القُدس باندِ - په پاکي کاتلکي کلسيي باند - دَ پاکانو په رفاقت - دَ ګُناهونو په بخښني - دَ بدن په قيامت - او په ابدِي ژوندون باندِ ÷ آمين

پس له دي نه دِ بتول په ادب سره زنګونونه ولګوِي او دا دعاګانِي چه لاندِ ليکلي شوِي دِي و دِ لوستلي شي ليکن امام دِ اول په اوچت آواز سره دا ووايِي

خداوند دِ له تاسو سره وِي

**جواب** - او ستا دَ روح سره

امام - مونږ دِ دُعا وغواړُو

اي خداوندَ رحم وکړه

اي مسيحَ رحم وکړه

اي خداوندَ رحم وکړه

بيا امام او نور خادمانِ دين او جماعت دِ په اوچت آواز سره دَ خداوند دُعا ولولِي

اي څمونږ پلارَ چه په آسمانونو کښ يي - ستا دَ نوم پاکِي دِ وِي - بادشاهت ستا دِ راشِي - رضا ستا لکه چه په آسمان پوره کيږِي په زمکه دِ هم شِي - څمونږ دَ نن ورځي دودي نن مونږ له راکړه - او تقصيرونه څمونږ



عفوه کړه چه مونږ هم هر تقصيروار خپل بخښُو - او مونږ په آزميښت کښ مه راوله - بلکه له هغه شرير نه مو وساته ÷ آمين

بيا دِ قسيس ودريږِي او ودِ وايِي

اي خداوندَ خپل رحمت په مونږ باندِ ظاهر کړه

**جواب** - او خپل نجات مونږ ته راکړه

**قسيس** - اي خداوندَ ملکه صحيح سلامته ولره

**جواب** - او هرکله چه مونږ تا ته ناري وهُو په رحمت سره څمونږ واوره

**قسيس** - خپلو خادمانو ته دَ صداقت جامه واغوندوه

**جواب** - او ستا مقدّسان دِ خوشحالِي وکړِي

**قسيس** - اي خداوندَ خپل اُمت سلامت ولره

**جواب** - او خپل ميراث ته برکت ورکړه

**قسيس** - اي خداوندَ څمونږ په زمانه کښ صلح وبخښه

**جواب** - ځکه چه سوا له تا نه اي الله څمونږ دَپارَ جنګ کونکي نشته

**قسيس** - اي الله په مونږ کښ صاف زړه پيدا کړه

**جواب** - او خپل روحُ القُدس له مونږ نه مه لري کوه

بيا دري دُعاګاني دِ ولوستلي شي - اوّل دَ هغي ورځي خاصه دُعا يعني هغه چه په عشاي رَبّاني کښ شامله دَه - دويمه دُعا دَ صلحي دُعا - دريمه دَ فضل دُعا - او دا ورستيُ دوه دُعاګاني دِ هيچري بدلي نه شِي بلکه دَ تمام کال دَ هري ورځي دَ سحر په نمانځه کښ دِ ولوستي شِي - او بتول دِ زنګونونه لګولي اوسِي

## دويمه دُعا دَ صلحي دَپارَ

اي الله دَ صلحي باني او دَ اتّفاق مُحِبّ ستا پيژاندل عين ژوندون دَي او ستا غلامِي بادشاهي دَه خپل عاجزان بندګان دَ هر قسم حملو له دُښمنانو نه په امن کښ ولره تا چه مونږ ستا په حمايت باندِ پوره اُميد ولرُو او دَ هيڅ دُښمن له طاقتَ و نه ويريږُو څمونږ دَ خداوند يسوع مسيح په قدرت سره - آمين ÷

## دريمه دُعا دَ فضل دَپارَ

اي خداونده قدوسَ قادرِ مطلق پلارَ ازلِي الله تا دَدي ورځي ترسحره پوري مونږ سلامت را رَسَولِي يُو په خپل لوي قدرت سره نوله ورځ څمونږ حفاظت وکړه او دا را وبخښه چه نن ورځ مونږ دَ سمي لارِي نه دَ څه ګُناه په طرف مخ وله ګرځوُو او په هيڅ خطره

کښې پرې نه وزُو بلکه له خپل هدایتَ او له حکومتَ څمونږ دَ هر یو کار داسې بندوبست وکړه تا چه هرڅه چه ستا په حضُور کښې راست وِي هم هغه هیشه کوونکِي اوسُو څمونږ دَ خداوند یسوع مسیح په وسیلې سره - آمین ٭

اوس دَ سرود کولو وقت دَیْ چرته چه دَ سرود کولو دستور وِي - پس له دي دا پنځه دُعاګانې چه لاندِ دِيْ و دِ لوستلي شي مګر نه په هغه وقت چه لتانیې لوستلي شي - په هغه حال کښې صرف دوه ورستې دُعاګانې چه هم هلته کښې درج دِيْ و دِ لوستلي شي

## دُعا دَ جناب ملکې معظمې قیصرِ هند دَپارَ

اي خداوندَ څمونږ آسماني پلارَ بزرګَ او قادرَ دَ بادشاهانو بادشاهَ دَ خداوندانو خداوندَ دَ سلطانانو یکانه حاکمَ ته له خپلَ تختَ نتول وسیدونکِي دَ زمکې وینې مونږ د زړه له اخلاصَ تا ته زارِي کوُو چه ته څمونږ په نهایت کریمُ الطبع خاتونې ملکې معظمې رئیسې وکټوریې قیصرِ هند باندِ دَ مهربانِيْ نظرولره او دَ خپل روحُ القدس له فضلَ ئې داسې معموره کړه چه دا همیشه ستا دَ مرضيْ په طرف متوجه وِي او ستا په لاري ځي - هغې ته آسماني نعمتونه په کثرت سره ورعنایت کړه په تندرستيْ او په اقبالمندیْ سره ئې عمر زیات کړه هغې له داسې قوت ورکړه چه په خپلو ټولو دُښمنانو باندِ فتحمنده شي او غالبه راشي او په آخر دَ دي ژوندانه ابدِي سعادت او خوشحالیْ ته ورسي - څمونږ دَ خداوند یسوع مسیح په وسیلې سره - آمین ٭

## دُعا دَ بادشاهي خاندان دَپارَ

اي قادرِ مطلقَ الله دَ ټولو خیرو چینې مونږ په عاجزیْ سره ستا ته زارِي کوُو چه البرټ ایډورډ دَ ویلس شهزاده او دَ ویلس شهزادګيْ او تمام بادشاهي خاندان ته برکت وبخښه خپل روح القدس دوي ته عنایت کړه او په خپل آسماني فضل سره ئې دولتمند کړه په هره خوشحاليْ سره ئې اقبالمند کړه او خپلې ابدِي بادشاهيْ ته ئې ورسوه - څمونږ دَ خداوند یسوع مسیح په وسیلې سره - آمین ٭



## دُعا دَ خادمانو دَ دین او دَ جماعتونو دَپارَ

اي قادر مطلقَ او ابدِي الله چه یواځې لوي لوي عجائب کارونه کوي څمونږ په اسقفانو او دَ دین په خادمانو او په ټولو ګلو چه دَ هغو په سپرد دِي دَ خپل صحتبخش روح فضل نازل کړه چه دوي په رښتیا سره تا خوشحاله کړي دَ خپل برکت پرخه په دوي باندِ همیشه ورو اي خداوندَ څمونږ دَ شفیع او دَ درمیانې یسوع مسیح دَ عزت دَپارَ دا را وبخښه - آمین ٭

## دُعا دَ مقدّس خروسستم

اي قادرِ مطلقَ الله تا په مونږ باندِ فضل کړي دَي چه مونږ په دي ساعت یو زړه شوي یو له تا نه موخپلې عامې دُعاګانې غوښتلې دِي او تا وعده کړي دَه هرکله چه دوه یا درې تنه څما په نامه جمع شي نو زه به دَ هغوي عرضونه قبول کړم اوس اي خداوندَ دَ خپلو بندګانو خواستونه او سوالونه څرنګه چه دَ هغوي دَپارَ بهتر وِي پوره کړه په دي جهان کښې دَ خپل حق کلام پوهه او په هغه جهان کښې ابدِي ژوندون مونږ ته را وبخښه - آمین ٭

## ۲ قرنتي ۱۳ باب ۱۴

څمونږ دَ خداوند یسوع مسیح فضل او دَ الله محبت او دَ روحُ القدس رفاقت دِ همیشه له مونږ ټولو سره وِي - آمین ٭

ترتیب دَ سحر دَ نمانځه دَ تمام
کمال دَپارَ دلته تمام شه

# ترتیب دَ نمابنام دَ نمانځه دَ کال دَ هري ورځي دپارَ

دَ نمابنام دَ نمانځه په شروع کښ امام دِ دَ کلام الله له دي آیتونو نه چه لاندِ لیکلي شوِي
دِي یو یا زیات په اوچت آواز سره ولولِي او پس له دي هغه
نصیحت چه وړاندِ دَ دي آیتونو لیکلي دَي وادِ وَرِوي

۱- هر کله چه بد سړي له خپلي بدئ نه چه ده کړي ده وجاروزي اوځه چه واجب او رښتیا دِي وکړي نوخپل ځان به ژوندي وساتِي ✢ حزقئیل ۱۸ — ۲۷

۲- زه په خپلو بدو اقرار کوم او ځما خطا تل ځما په مخ کښ ده ✢ مزمور ۵۱ — ۳

۳- ځما له خطاؤ نه مخ پټ کړه او ټول ګناهونه مِ محوه کړه ✢ مزمور ۵۱ — ۹

۴- قرباني دَ الله مات زړه دَي اي الله ته به مات او خسته زړه ناځیزه و نه ګنړي ✢ مزمور ۵۱ — ۱۷

۵- نه خپلي جامي بلکه خپل زړه څیري کړه او په طرف دَ یهوه الله خپل وګرزه ځکه چه دَي کریم او رحیم دَي په غصه کښ حلیم او ډیر مهربانَ دَي او په سزا ورکولو پښیمانیږي ✢ یوئیل ۲ - ۱۳

۶- خمونږ دَ خداوند الله رحمتونه او بخښني شته دي که هرڅو مونږ له ده نه سرکښي کړي دَه او مونږ دَ یهوه الله خپل آواز آوریدلي نه دَي چه دَ هغه په توریت باندِ چه هغه دَ خپلو خدمتګارانو نبیانو په معرفت خمونږ دَ وړاندِ ظاهر کړ لاړ شو ✢ دانئیل ۹ — ۹ و ۱۰

۷- اي خداونده ځما تنبیه وکړه لیکن په اندازه سره نه په غضب دا هسي نه وِي چه ما نیست کړي ✢ یرمیا ۱۰ - ۲۴ و مزمور ۶ - ۱

۸- توبه وباسئِ ځکه چه دَ آسمان بادشاهت نزدي دَي ✢ متي ۳ - ۲

۹- زه به پاڅم او خپل پلار ځنه به لاړ شم او ورته به ووایم چه اي پلارَ ما دَ آسمان او ستا ګناه کړي دَه او زَدي لایق نه یم چه بیا ستا زوي وبللي شم ✢ لوقا ۱۵ - ۱۸ و ۱۹

۱۰- اي یهوه دَ خپل بنده حساب په عدل سره مه اخله ځکه چه یو سړي به ستا په حضور راستباز و نه دریدي شِي ✢ زبور ۱۴۳ - ۲

۱۱- که مونږ ووایُو چه مونږ بي ګناه یُو نو خپل ځان غلوُو او په مونږ کښ رښتني نشته که مونږ په خپلو ګناهونو قایل شُو نو دي په بخښلو دَ ګناه خمونږ او په پاک کولو دَ هر قسم ناراستي خمونږ رښتني او عادل دَي ✢ ۱- یوحنا ۱ - ۸ و ۹



اي عزیزو ورونړو کلام الله په ځیني مقامونو کښ مونږ له ترغیب راکوِي چه په خپلو هر قسم ګناهونو او تقصیرونو باندِ قایل شُو او و ئي منُو او په باب دَ هغو په حضور دَ قادرِ مطلق الله چه خمونږ آسماني پلار دَي بهاني نه جوړوُو او نه پرِ باندِ پرده واچوُو بلکه په غریب او په عاجز او په توبه کوونکي او په تابعدار زړه سره دَ هغو اقرار وکړُو تاچه دَ هغه په بي‌حده فضل او رحمت سره بخښلي شُو او اګرچه په مونږ فرض دِي چه هر وقت په عاجزئِ سره دَ الله دَ وړاندِ په خپلو ګناهونو قائل شُو بلکه خاص په هغه وقت داسي کول فرض دِي چه کوم وقت مونږ جمع او یوځاي شُو چه هغه ډیر ډیر نعمتونو چه مونږ دَده له لاسَ موندلي دِي دَ هغو دَپارَ شکر وکړُو دَده ډیره لایقه ثنا ووایُو دَده ډیر پاک کلام واورُو او هغه څیزونه چه دَ جسم او دَ روح دَپارَ بکار او ضرور دِي له ده نه ئي وغواړُو دَدي دَپارَ زه تاسو ټولو ته چه دلته کښ حاضر یئِ په منت سره عرض کوم چه په پاک زړه او په غریب آواز سره دَ آسماني فضل دَ تخت دَ وړاندِ ما پسي ووایئِ

ټول جماعت دِ زنګونونه ولګوِي او دا عام اقرار دَ ګناهونو دِ په امام پسي ووایِي

اي قادرِ مطلقَ او ډیرَ رحیمَ پلارَ مونږ خطا شوِي یُو او په مثل دَ ورکو ګډو ستا له لارو نه بي‌لاري شوِي یُو مونږ ډیر دَ خپلو زړونو په فکرونو او په خواهشونو پسي شوي یُو مونږ ستا دَ پاکو حکمونو په خلاف تلي یُو هغه څه چه کول ئي په مونږ لازم وُو مونږ و نه کړل او هغه څه چه کول ئي په مونږ جائز نه وُو هغه مو وکړل او په مونږ کښ هیڅ خوبي نشته - لیکن ته اي خداوندَ په مونږ بیکسو لاچارو

کنهګارو باندِ رحم وکړه اي الله هغوي
چه په خپلو ګناهونو باندِ قايل دِي
بچ ئي کړه هغوي چه توبه کوي نو په
ځاي ئي کړه په موافق دَ هغو وعدو
چه تا په وسيلي ځمونږ دَ خداوند
يسوع مسيح دَ بني‌آدم سره کړي دِي
او اي ډيرَ رحيمَ پلارَ دَ هغه په خاطر
را مهرباني وکړه چه پس له دي مونږ
په خداترسيِ په نيکوکاريِ او په پرهيزکاريِ
سره ژوندون تير کړو تا چه ستا دَ
پاک نوُم لويُ ښکاره شِي ـ آمين +

دَ ګناهونو دَ عفوي کلمه چه صرف
قسيس دِ ئي په ولاړي ووائِي
او جماعت دِ زنګونونه
لګولي اوسي

قادرِ مطلق الله ځمونږ دَ خداوند
يسوع مسيح پلار چه دَ هيځ ګنهګار
مرګ نه غواړي بلکه دا غواړي چه هغه
له خپلي بديُ نه را وګرزي او ژوندي
شِي او چه ئي خپلو خادمانو ته اختيار
او حکم ورکړي دَي چه هغوي دَ هغه
دَ امت توبه کوونکو ته دَ هغوي دَ ګناهونو
دَ عفوي او دَ بخښني اشتهار واوروِي
او ظاهر ئي کړي چه هغه هغوي ټولو ته
چه په رښتيا سره توبه کوي او دَ هغه
په پاک انجيل باندِ بي‌ريا ايمان راوړي
بخښي او دَ هغوي ګناهونه عفوه کوي
نو راځئِ چه مونږ دَ هغه منت وکړو
چه دي دَ رښتني توبي توفيق او خپل
روحُ القدس مونږ ته راکړِي تا چه
هر هغه کار چه مونږ ئي په دي وقت
کښ کوُو دَده خوښ شِي او په وراندِ ځمونږ
باقي عمر په صفائيِ او په پاکيِ سره
تير شِي تا چه په آخر کښ مونږ دَده ابديِ
خوشحالتيا ته ورسُو ـ ځمونږ دَ خداوند
يسوع مسيح په وسيلي سره ـ آمين +

بيا دِ امام زنګونونه ولګوي او دَ خداوند دُعا دِ
ولولي او جماعت دِ هم زنګونونه ولګوِي
ورپسي دِ ئي وائِي

اي ځمونږَ پلارَ چه په آسمانونو
کښ يې ـ ستا دَ نوُم پاکي دِ وِي ـ بادشاهت
ستا دِ راشِي ـ رضا ستا لکه چه په
آسمان پوره کيږي په زمکه دِ هم
شِي ـ ځمونږ دَ نن ورځي ډوډيُ نن
مونږ له راکړه ـ او تقصيرونه ځمونږ
عفوه کړه چه مونږ هم هر تقصيروار
خپل بخښُو ـ او مونږ په آزمايښت
کښ مه راوله بلکه له هغه شرير نه مو
وساته ـ چه بادشاهت او قدرت او جلال
تل تر تله هم ستا دَي ـ آمين +



پس له هغه نه دِ دا هم ووائِي
اي خداوندَ ته ځمونږَ شونډي پرانزه
جواب ـ او ځمونږ ژبي به ستا ثنا بيان کړي
قسيس ـ اي الله ځمونږ په خلاصي
کښ تلوار وکړه
جواب ـ اي خداوندَ زر ځمونږَ مدد وکړه
دلته دِ ټول ودريږي او قسيس دِ ووائِي
ثنا دَ پلار او دَ زوي او دَ روحُ القدس
دِ وِي
جواب ـ لکه چه په ابتدا کښ وه او س
هم دَه او تر ابدَ پوري به وِي ـ آمين +
قسيس ـ دَ خداوند ثنا کويُ
جواب ـ دَ خداوند دَ نوُم ثنا دِ
وکړي شِي

پس له دي دِ مقرري مزمورونه په موافق
دَ ترتيب دلوستي شِي بيا دِ وسنايلي شِي پس
له دي دِ دَ زړي عهدنامي نه يو ورد څه چه
مقرر وِي او بيا دَ مبارکي بيغلي مريمي سرود
چه لاندِ ليکلي شوي دَي

## دَ لوقا اوّل باب ۴۶ آيت

ځما ځان دَ خداوند تعظيم کوِي :
او ځما روح ځما دَ نجات راکونکي الله
نه خوشحال شه .
ځکه چه ده دَ خپلي وينځي په
عاجزيِ : نظر وکړ
کوره له دي وقتَ : به ټولي پيړيُ
راته مبارکَ وائِي
ځکه چه ده چه قادر دَي په ما ئي
لوي احسان وکړ : او دَده نوُم پاک
دَي
او دَده رحم په هغو چه له ده
ئه ويريږي : پيړي په پيړيُ دَي
ده دَ خپل بازو سره زور ښکاره
کړ : او هغوي چه په خپل زړه کښ
مغرور وُو تار پتار کړي ئي دِي
جباران ئي له تختونو را پريستلي دِيْ
او غريبان ئي سرفراز کړي دِي
ده وږي په ښه خيزونو سره
ماړه کړي دِي : او دولتمندان ئي تش
لاسونه ليږلي دِي
او ده خپل بنده اسرائيل سنبال کړ:
چه ئي رحمتونه ياد کړي
ابراهام او دَ هغه په اولاد ترابدَ
پوري : لکه هغه ځمونږ پلرونو نيکو ته
ويلي وُو
ثنا دَ پلار او دَ زوي : او دَ
روحُ القدس دِ وِي
لکه چه په ابتدا کښ وه او س
هم دَه : او تر ابدَ پوريَ به وِي ـ
آمين +

يا دا مزمور مګر نه په ۱۹ تاريخ دَ مياشتي ځکه
چه دَ هغي ورځي دَ مقرّري مزمورونه
سره دا لوستي کيږي

## ۹۸-مزمور

يهوه ته نوي غزل وغږوئ: ځکه
چه ده عجائب کارونه کړي دي
دَده ښي لاس او دَده پاک بازو: ده
ته نجات وباخښنه
يهوه خپل نجات ظاهر که: خپل
صداقت ئې دَ قومونو دَ وړاندِ مشهور
که
خپله مهرباني او وفاداري ئې دَ
اسرائيل کور ته ورياده کړه: دَ زمکي ټولو
حدونو ځمونږ دَ الله نجات وليد
اي ټولي زمکي دَ يهوه دَپارَ دَ خوښئ
ناره وکړه: آواز وکړه په خوشحالئ سرود
وکړه هو په مدحه سرود وکړه
دَ يهوه دَپارَ په ستار سره مدحه وکړئ:
په ستار سره او په خوش آوازئ سره
په ټوريو او دَ قرنا په آواز سره:
دَ يهوه بادشاه په حضور کښ خوښي
وکړئ
درياب او دَ هغه ډکوالي دِ وغرمبيږي:
دُنيا او هرڅه چه په هغي کښ اوسي
سيندونه دِ لاسونه ووهي او غرونه
دِ سره خوش آوازي وکړي دَ يهوه په حضور:
ځکه چه دَي دَ زمکي دَ عدالت دَپارَ
راځي
دَي به په صداقت سره دَ جهان
عدالت وکړي: او په راستئ سره به
دَ قومونو
ثنا دَ پلار او دَ زوي: او دَ روح القدس
دِ وِي
لکه چه په ابتدا کښ وه اوس هم
ده: او تر ابده پوري به وِي- آمين ❊
نو بيا دَ نوي عهدنامي نه يو ورد لکه چه
مقرر دَي ودِ لوستلي شِي او پس له هغي
نه دَ حضرتِ شمعون سرود لکه چه لاندِ دَي

## دَ مقدس لوقا انجيل ۲ باب ۲۹ آيت

اي خداونده اوس ته خپل بنده
له دَ خپل قول په موافق: په سلامتيا
سره رخصت ورکوي
ځکه چه ځما سترګو: ستا نجات وليد
چه تا دَ ټولو قومونو دَ وړاندِ: تيار
کړي دَي
دَ غير قومونو دَ رڼا دَپارَ نور: او
ستا دَ قوم اسرائيل دَپارَ جلال ❊
ثنا دَ پلار او دَ زوي: او دَ
روح القدس دِ وِي



لکه چه په ابتدا کښ وه اوس هم
ده: او تر ابده پوري به وِي- آمين ❊
يا دا مزمور مګر نه په ۱۲ تاريخ دَ مياشتي

## ۶۷-مزمور

الله دِ په مونږ فضل وکړي او
مونږ ته دِ برکت راکړي: او خپل مخ
دِ په مونږ روښانه کړي
چه لار ستا په زمکه باندِ معلومه
شِي: نجات ستا په ټول غير
قومونو باندِ
اي الله امتونه دِ ستا شکر وکړي:
ټول اُمتونه دِ ستا شکر وکړي
قومونه دِ خوشحاله شِي او خوښي
دِ وکړي: ځکه چه ته به په راستئ
سره دَ اُمتونو عدالت وکړې او په زمکه
کښ به قومونو ته هدايت وکړې
اي الله اُمتونه دِ ستا شکر
وکړي: ټول اُمتونه دِ ستا شکر
وکړي
زمکي خپل حاصل پيدا کړي دَئ
الله هو ځمونږ الله به مونږ له برکت
راکړي
الله به مونږ له برکت راکړي:
او ټول سرحدونه دَ زمکي به وويريږي
ثنا دَ پلار او دَ زوي: او دَ
روح القدس دِ وِي
لکه چه په ابتدا کښ وه اوس هم
ده: او تر ابده پوري به وِي- آمين ❊
بيا امام او جماعت دِ په ولاړي دَ رسولانو
عقيده په سَرود سره ووائي
يا دِ ئې ووائي
زه ايمان لرم په الله قادرِ مطلق
پلار باندِ چه دَ آسمان او دَ زمکي
خالق دَي
او په يسوع مسيح چه دَ هغه
ابنِ وحيد او ځمونږ خداوند دَي
چه دَ روحُ القُدس په قدرت سره
په ګيډه شه- له پېغلي مريمي نه
پيدا شه- دَ پنطوس پيلاطس په
حکومت کښ ئې درد وزغمه- مصلوب
شه- مړ شه- او ښخ شه- عالمِ
برزخ ته کوز شه- په دريمه ورځ له
مړو نه ژوندي پاڅيده- آسمان
ته وخوت- او دَ الله قادرِ مطلق پلار
ښي لاس ته ناست دَي- له هغه
ځاي نه به دَ ژوندو او دَ مړو دَ
عدالت کولو دَپارَ راشي
زه ايمان لرم په روحُ القُدس
باندِ- په پاکي کاتلکي کليسيي باندِ- دَ
پاکانو په رفاقت- دَ ګناهونو په بخښنه-

دَ بدن په قیامت - او په ابدي ژوندون
باندِ - آمین

پس له دي دِ توَل په ادب سره زنګونونه
ولګوِي او دا دُعاګاني چه لاندِ لیکلي شوِي
دِي و دِ لولِي لیکن امام دِ اول په اوچت
آواز سره دا وژابي

خداوند دِ له تاسو سره وِي
**جواب** - او ستا له روح سره
**قسیس** - مونږ دِ دُعا وغواړو
اي خداوندَ رحم وکړه
اي مسیحَ رحم وکړه
اي خداوندَ رحم وکړه

بیا امام او خادمان او جماعت دِ په
اوچت آواز سره دَ خداوند
دعا ولولِي

اي ځمونږَ پلارَ چه په آسمانونو کښِ یي ستا دَ نوم پاکي دِ وِي - بادشاهت ستا دِ راشِي - رضا ستا لکه چه په آسمان پوره کیږي په زمکه دِ هم شِي - ځمونږ دَ نن ورځي دوډۍ نن مونږ له راکړه - او تقصیرونه ځمونږ عفوه کړه - چه مونږ هم هر تقصیروار خپل بخښو - او مونږ په آزمایښت کښ مه راوله بلکه له هغه شریر نه مو وساته - آمین +

بیا دِ قسیس ودریږي او و دِ وايي

اي خداوندَ خپل رحمت په مونږ باندِ ظاهر کړه
**جواب** - او خپل نجات مونږ ته راکړه
**قسیس** - اي خداونده ملکه صحیح سلامته لره •
**جواب** - او هرکله چه مونږ تا ته ناري وهُو په رحمت سره ځمونږ واوره
**قسیس** - خپلو خادمانو ته دَ صداقت جامه واغوندوه
**جواب** - او ستا مقدسان دِ خوشحالي وکړي
**قسیس** - اي خداوندَ خپل امت سلامت ولره
**جواب** - او خپل میراث ته برکت ورکړه
**قسیس** - اي خداوندَ ځمونږ په زمانه کښ صلح و بخښه
**جواب** - ځکه چه سوا له تا نه اي الله ځمونږ دَپارَ جنګ کونکي نشته
**قسیس** - اي الله په مونږ کښ صاف زړه پیدا کړه
**جواب** او خپل روح القدس له مونږ



نه مه لري کړه

بیا دِ دري دعاګانِي ولوستلي شِي اوّل دَ هغي ورځي دَپارَ دویمه دَ تسلِيِ دپارَ دُعا دریمه دَ ټولو خطرو نه دَ امن دَپارَ لکه چه دَ لاندِ لیکلي شوِي دِي او دا ورستیٔ دوه دُعاګانِي دِ بي‌تبدیلَ دَ نمابنام په نمانځه کښ هره ورځ لوستلي شِي

## دَ نمابنام دَ نمانځه دویمه دُعا

اي الله پاک خواهشونه او ښه مشورتونه او نیک عملونه هم ستا له طرفه کیږي خپلو بندګانو ته هغه تسلي ورکړه چه دنیا یي نشِي ورکولي تا چه مونږ هم ستا دَ حکمونو دَ تابع کیدلو دَپارَ خپل خان له تا قربان کړو - او دَ دَښمنانو خپلو له خوفَ پناه بیامومو او ستا په مدد سره خپل وقتونه په امن او امان سره تیر کړو دا دِ ځمونږ دَ خلاصوونکي یسوع مسیح دَ ثواب په سبب وِي - آمین +

## دریمه دُعا له خطرو نه دَ امن و امان دَپارَ

اي خداونده مونږ تا ته زارِي کوُ ځمونږه تیاره روښانه کړه - او په خپل لوِي رحمت سره مونږ دَدي تمامي شپي له خوفَ او له خطرو نه وساته دا دَ خپل ابنِ وحید ځمونږ دَ خلاصوونکي یسوع مسیح دَ محبّت په طفیل سره - آمین +

چرته چه دَ سرود دستور وِي نو اوس دَ سرود وقت دَی

## دُعا دَجنابِ ملکي معظمي قیصرِهند دَپارَ

اي خداونده ځمونږ آسماني پلاره بزرګ او قادرَ دَ بادشاهانو بادشاهَ دَ خداوندانو خداوندَ دَ سلطانانو یکانه حاکمَ ته له خپلَ تختَ ټول اوسیدونکي دَ زمکي وینې مونږ دَ زړه له اخلاص تا ته زارِي کوُ چه ته ځمونږ په نهایت کریم‌الطبع خاتونی ملکي معظمي رئیسي وکټوریي قیصرِهند باندِ دَ مهربانیٔ نظر ولره - او دَ خپل روحُ القُدسَ له فضلَ یي داسي معموره کړه چه دا همیشه ستا دَ مرضیٔ په طرف متوجه وِي او ستا په لاري ځِي هغي ته آسماني نعمتونه په کثرت سره ورعنایت کړه په تندرستیٔ او په اقبالمندیٔ سره یي عمر زیات کړه هغي له داسي قوت ورکړه چه په خپلو ټولو دښمنانو باندِ فتحمنده شِي او غالبه راشِي او په آخر دَدي ژوندانه

دِ ابدِي سعادت او خوشحالئِ ته ورسي
څمونږ دَ خداوند يسوع مسيح په وسيلي
سره - آمين +

## دُعا دَ بادشاهي خاندان دَپارَ

اي قادرِ مطلقَ الله دَ ټولو خوبيو
چيني مونږ په عاجزئِ سره تا ته زارِي
کوُو چه البرت ايډورډ دَ ويلس
شهزاده او دَ ويلس شهزادګۍ او
تمام بادشاهي خاندان دَ بادشاهي
ته برکت و بخښه - خپل روحُ القُدس
دوي ته عنايت کړه - او په خپل آسماني
فضل سره يُي دولتمند کړه - په هره
خوشحالئِ سره يُي اقبالمند کړه - او خپلي
ابدِي بادشاهئِ ته يُي ورسوه - څمونږ دَ
خداوند يسوع مسيح په وسيلي سره - آمين +

## دُعا دَ خادمانو دَدين او دَجماعتونو دَپارَ

اي قادرِ مطلقَ او ابدِي الله چه يواځي
لوي لوي عجائب کارونه کوي څمونږ په
اُسقُفانو او دَدين په خادمانو او په ټولو
کلو چه دَ هغو په سپرد دِي دَ خپل
صحت بخش روح فضل نازل کړه -
چه دوي په رښتيا سره تا خوشحاله
کړي - دَ خپل برکت پرخه په دوي باندِ
هيشه ووره - اي خداوندَ څمونږ دَ
شفيع او دَ درميانِي يسوع مسيح دَ
عزّت دَپارَ دا را وبخښه - آمين +

## دُعا دَ مقدّس خروسستم

اي قادرِ مطلق الله تا په مونږ باندِ
فضل کړي دَي چه مونږ په دي ساعت
يو زړه شوِي له تا نه مو خپلي عامي
دُعاګاني غوښتلي دِي او تا وعده کړي
دَه هر کله چه دوه يا درِي ستا په
نامه جمع شِي نو زه به دَ هغوي عرضونه
قبول کړم اوس اي خداوندَ دَ خپلو
بندګانو خواستونه او سوالونه څرنګه
چه دَ هغوي دَپارَ بهتر وِي پوره کړه
په دي جهان کښ دَ حق کلام پوهه
او په هغه جهان کښ ابدِي ژوندون
مونږ ته را و بخښه - آمين +

### ۲ قرنتِي ۱۳ باب ۱۴

څمونږ دَ خداوند يسوع مسيح فضل
او دَ الله محبت او دَ روح القدس رفاقت
دِ هميشه له مونږ ټولو سره وِي -
آمين +

ترتيب دَ نمانبنام دَ نمانځه دَ
ټول کال دلته تمام شه



# دَ مقدّس اتاناسيُس عقيده

څمونږ دَ مسيحِي ايمان دا اقرار دي چه دَ سحر دَ نمانځه په وقت کښ په عوض دَ رسولانو دَ عقيدي په دي اختروِنو کښ يعني دَ مسيح دَ پيداکيدو په اختر - دَ ظهور په اختر - دَ مقدس متهياس په ورځ - دَ فسحي په اختر - دَ صعود په اختر - دَ روحُ القدس دَ نازليدو په اختر - دَ مقدّس يوحنّا بپتسما ورکوونکي په ورځ - دَ مقدّس يعقوب په ورځ - دَ مقدّس برتُلما په ورځ - دَ مقدّس متِي په ورځ - دَ مقدّس شمعون او دَ مقدّس يهودا په ورځ - دَ مقدّس اندرياس په ورځ او دَ تثليث په اختر امام او جماعت دِ په ولاړِي دا عقيده چه په نوُم دَ مقدّس اتاناسيُس مشهوره ده و دِ يُي لولِي يا په سرود سره دِ ووايِي

۱- هر څوک چه خلاصي غوارِي؛ نو هغه لره له ټولو ورنبي دا ضرور دِي چه دَ کاتلکي کليسيي ايمان ولرِي

۲- هر څوک چه دا ايمان پوره او بيعيب و نه لرِي : نو بيشکَ تر ابدَ پورِي به هلاک شِي

۳- او دَ کاتلکي کليسيي ايمان دا دَيُ چه مونږ په تثليث کښ دَ واحد الله او په توحيد کښ دَ تثليث عبادت وکړُو

۴- نه اقانيمِ خلط کړُو : نه جوهرِ ذات تقسيم کړُو

۵- ځکه چه اقنوميّت دَ پلار بيل دَي : او دَ زوي بيل دَي او دَ روحُ القدس بيل دَي

۶- مګر الوهيت دَ پلار او دَ زوي او دَ روحُ القُدس يو دي : جلال برابر او عظمت يُي ازلِي يکسان دَي

۷- لکه چه پلار دَي هم هغسي زوي دي : او هم هغسي روحُ القُدس دَي

۸- پلار غير مخلوق زوي غير مخلوق : او روحُ القُدس غير مخلوق

۹- پلار غير محدود زوي غير محدود : او روحُ القُدس غير محدود

۱۰- پلار ازلِي زوي ازلِي : او روح القدس ازلِي

۱۱- نو هم درِي ازلِي نه دِي : بلکه يو ازلِي دَي

۱۲- په دي شان درِي غير مخلوق نه دِي او نه درِي غير محدود : بلکه

يو غير مخلوق اويو غير محدود دَي

۱۳- داسي پلار قادرِ مطلق زوي قادرِ مطلق : او روح القدس قادرِ مطلقَ

۱۴- نو هم دري قادرِ مطلق نه دِيْ بلکه يو قادر مطلق دَي

۱۵- هم داسي پلار خداي زوي خداي : او روحُ القدس خداي

۱۶- نو هم دري خدايان نه دِي : بلکه يو خداي دَي

۱۷- هم داسي پلار خداوند دَي زوي خداوند : او روح القدس خداوند

۱۸- نو هم دري خداوندان نه دِي: بلکه يو خداوند دَي

۱۹- لکه چه مسيحِي ايمان په مونږ بانِد فرض دَي : چه هر يو اقنوم بيل الله او خداوند دَي

۲۰- هم داسي دَ کاتلکي کليسيې په دين کښ مونږ ته دا ويل منع دِي: چه دري خدايان يا دري خداوندان دِي

۲۱- پلار له هيچا نه مصنوع نه دَي : نه مخلوق نه مولود دَي

۲۲- زوي فقط له پلار دَي: نه مصنوع نه مخلوق بلکه مولود دَي

۲۳- روح القدس له پلارَ او له زويَ دَي : نه مصنوع نه مخلوق نه مولود بلکه صادر دَي

۲۴- پس يو پلار دي نه دري پلرونهْ يو زوي دَي نه دريْ زامن يو روح القدس دَي نه دري روح القُدُسَ

۲۵- او په دي تثليث کښ يو له بله ورِښَي يا ورستي نه دَي : او نه څوک لوي يا ورکوتي دَي

۲۶- بلکه دا دري واړه اقانيم سره ازلِي او سره برابر دِي

۲۷- غرض دا چه په هره يوه خبرهْ کښ چه پورته بيان شوي دَه : په تثليث کښ دَ توحيد او په توحيد کښ دَ تثليث عبادت کول فرض دِي

۲۸- پس هرڅوک چه نجات غواړِي : نو دَ تثليث په باب کښ دِ هم داسي راي ولرِي

۲۹- سوا له دي دَ ابدِي نجات دَپارَ : ضرور دِي چه څمونږ دَخداوند يسُوع مسيح په مجَسَّم کيدو هم په وفادارِيُ سره ايمان راوړِي

۳۰- څکه چه صحيح ايمان دا دَي چه مونږ ايمان راوړو او اقرار وکړوْ



چه ابنَ الله څمونږ خداوند يسوع مسيح الله او انسان دَي

۳۱- الله دَي دَ پلار له جوهرِ ذات نه چه اوّلِ له زمانو نه مولود وه : او انسان دَي دَ خپلي مور له جوهرِ ذات نه چه زمانه کښ پيدا شه

۳۲- کامل الله کامل انسان : له نفسِ ناطقه او له انسانِي جسم سره موجود

۳۳- په نسبت دَ الوهيّت له پلار سره برابر : او په نسبت دَ انسانيت له پلار نه کمتر دَي

۳۴- دَي اګرچه هم الله او هم انسان دَي : ليکن دوه نه دِي بلکه يو مسيح دَي

۳۵- واحد دَي نه په دي شان چه الوهيّت ئي په جسم کښ بدل کړ : بلکه په دي چه انسانيّت ئُي په الله کښ واخست

۳۶- صرف يو دَي په دي شان سره نه دَي چه په جوهرِ ذات کښ خلط شه : بلکه دَ اقنوم يو والي دَي

۳۷- نو لکه چه نفسِ ناطقه او جسم يو انسان دَي : هم داسي الله او انسان يو مسيح دَي

۳۸- هغه څمونږ دَ نجات دَپارَ درد وزغمه : عالمِ برزخ ته کوز شه په دريمه ورځ له مړو نه ژوندي شه

۳۹- آسمان ته وخوت دَالله قادرِ مطلق پلار ښِي لاس ته ناست دَي : له هغه ځاي نه دَ ژوندو او دَ مړو عدالت کولو دَپارَ راتلونکي دَي

۴۰- دَده په راتلو بانِد به ټول خلق په خپل خپل بدن سره بيا پاڅِي : او دَ خپلو خپلو عملونو حساب به ورکړِي

۴۱- او چا چه نيکيُ کړي دِي په ابدِي ژوندون کښ: او چا چه بديُ کړي دِي په ابدِي اور کښ به داخل شِي

۴۲- دَ کاتُلِک ايمان هم دا دَي : په دي بانِد که څوک په وفادارِيُ سره يقين ونه کړِي نو هغه به نجات بيا نه مومِي

ثنا دَ پلار او دَ زوي : او دَ روحُ القُدس دِ وِي

لکه چه په ابتدا کښ وه اوس هم دَه : او تر ابدَ پوري به وِي - آمين +

# لتني

یعني عام مناجات چه پس له سحر دَ نمانځه په اتوار او په چارشنبه او په جمعه
یا په نورو وقتونو چه اُسقوف مُقرّر کړي وي ووېلشي
یا دِ په سرود سره وغږولي شي

اي الله آسماني پلاره په مونږ
ناچارو گنهکارو باندِ رحم وکړه
اي الله آسماني پلاره په مونږ
ناچارو گنهکارو باندِ رحم وکړه
اي الله زويَ خلاصونکيَ دَ جهان
په مونږ ناچارو گنهکارو باندِ رحم وکړه
اي الله زويَ خلاصونکيَ دَ جهان
په مونږ ناچارو گنهکارو باندِ رحم وکړه
اي الله روحُ القُدُس چه له پلار
او له زوي نه وتونکي يې په مونږ ناچارو
گنهکارو باندِ رحم وکړه
اي الله روح القدس چه له پلار
او له زوي نه وتونکي يې په مونږ ناچارو
گنهکارو باندِ رحم وکړه
اي قدّوس مبارکَ او جليل تثليث
دري اقانيمَ يو الله په مونږ ناچارو گنهکارو
باندِ رحم وکړه
اي قدّوس مبارکَ او جليل تثليث
دري اقانيمَ يو الله په مونږ ناچارو
گنهکارو باندِ رحم وکړه
اي خداوندَ ځمونږ تقصيرونه
مه يادوه او نه مو دَ پلرونو نيکونو
تقصيرونه او ځمونږ دَ گناهونو بدله
مه اخله اي کريمَ خداوندَ په مونږ باندِ
رحم وکړه په خپل اُمّت چه تا په خپلو
بيش قيمتو وينو سره پيرودلي دي رحم
وکړه او ته له مونږ نه تراَبدَ پوري
مه خپه کيږه
اي کريمَ خداوندَ په مونږ رحم وکړه
له هري بدئ او له آفت نه - له
گناه نه دَ شيطان له حيلو او له
حملو نه - له خپل غضب نه او له
ابدي عذاب نه
اي کريمَ خداوندَ مونږ وساته
دَ زړه له ړوندوالي نه - له تکبرَ او
له غرور نه - له رياکارئ او له حسد
نه - له دښمنئ او له بُغض نه - او له
هر قسمَ بدگمانئ نه



اي کريمَ خداوندَ مونږ وساته
له حرامکارئ او له هري بوي هلاک
کوونکي گناه نه - او له ټولو دنيوي
جسماني او له شيطاني فريبونو نه
اي کريمَ خداوندَ مونږ وساته
له تندر او له طوفان نه - له وبا
او له قحط نه - له جنگ او له خون
نه - او له ناگهاني مرگ نه
اي کريمَ خداوندَ مونږ وساته
له هره فسادَ او له بلوي او له
باغي توب نه - له ټول باطل تعليم
او له بدعت او له بي اتفاقئ نه - دَ زړه
له سختئ او دَ خپل کلام او دَ حکمونو
دَ سپکو گڼلو نه
اي کريمَ خداوندَ مونږ وساته
دَ خپل پاک مُجسّم کيدلو دَ پټ
راز په روي - او دَ خپل پاک پيدايښت
او دَ ختني په روي - دَ خپلي بپتسمي
او دَ روژي او دَ ازمايښت په روي
اي کريمَ خداوندَ مونږ وساته
دَ خپل خفگان او دَ وينو دَ خولو
په روي - دَ خپل صليب او دَ اذيّت
په روي - دَ خپل بيش قيمت مرگ
او دَ دفن په روي - دَ خپلو شاندارو
ژوندي کيدلو او آسمان ته دَ ختلو
په روي - او دَ روح القدس دَ نازل
کيدلو په روي
اي کريمَ خداوندَ مونږ وساته
ځمونږ دَ ټولو مصيبتونو په وقت -
ځمونږ دَ ټولو خوشحالو په وقت - دَ
خفگان او دَ انصاف په ورځ
اي کريمَ خداوندَ مونږ وساته
اي خداوندَ الله مونږ گنهکاران
تا ته زاري کوُو چه ته ځمونږ واوره او
په خپلي مهربانگئ سره خپلي پاکي
عامي کليسيي ته دَ سمي لاري هدايت
او مدد وکړه
اي کريمَ خداوندَ ځمونږ واوره
په خپلي مهربانگئ سره دَ خپلي
خادمي ځمونږ سلطاني فياضيي
وکټوريي قيصر هند حفاظت وکړه او
هغي ته طاقت ورکړه چه په رښتنئ
سره ستا عبادت کوي او په نيکئ
او په پاکيزگئ سره خپل ژوندون
تير کړي
اي کريمَ خداوندَ ځمونږ واوره
په خپلي مهربانگئ سره دَ هغي
زړه دَ خپل ايمان او دَ خپل
خوف او دَ خپل محبّت په طرف
متوجه کړه او دا چه هغه هميشه

په تا باندې آسره ولري او هر وقت
ستا د عزت او د جلال طالبه اوسي
اي کريم خداوند خمونږ واوره
په خپلي مهربانئ سره د هغي حامي
او حافظ اوسه او په ټولو دښمنانو
باندې هغي ته بري ورکړه
اي کريم خداوند خمونږ واوره
په خپلي مهربانئ سره البرټ ايډورډ
د ويلس شهزاده او د ويلس شهزادګۍ
او تمام بادشاهي خاندان ته برکت
ورکړه او سلامت ئي ولره
اي کريم خداوند خمونږ واوره
په خپلي مهربانئ سره تمامو
اُسقُفانو او ډيکنانو ته د خپل حق
کلام معرفت ورکړه او په صحيح فهم
سره ئي روښانه کړه - او دا چه دوي
په خپل تعليم سره هغه په ظاهره
وښيي او په خپل چلن سره د
هغي بزرګي ظاهره کړي
اي کريم خداوند خمونږ واوره
په خپلي مهربانئ سره مشيرانو
وزيرانو او تمامو اميرانو د ملک ته
فضل او حکمت او فهم ورکړه
اي کريم خداوند خمونږ واوره
په خپلي مهربانئ سره د نائب
سلطنت او د صوبو د حاکمانو او د
لوي عدالت د حاکمانو او د سپهسالارانو
حفاظت وکړه او په خپل فيض بخښونکي
مصلحت سره هغوي ته هدايت
وکړه
اي کريم خداوند خمونږ واوره
په خپلي مهربانئ سره د ټولو
ضلعو حاکمانو له برکت ورکړه - او
محفوظ ئي ولره او فضل پرِ وکړه
چه هغه انصاف وکړي او حق
قايم ولري
اي کريم خداوند خمونږ واوره
په خپلي مهربانئ سره خپل
ټول امت ته برکت ورکړه او
و ئي ساته
اي کريم خداوند خمونږ واوره
په خپلي مهربانئ سره ټولو
قومونو ته يکانګت صلحه او اتفاق
وبخښه
اي کريم خداوند خمونږ واوره
په خپلي مهربانئ سره مونږ
ته داسي زړه راکړه چه ستا محبّت
او ويرهِ لري او په کوشش سره
ستا حکمونه په ځاي راوړي
اي کريم خداوند خمونږ واوره



په خپلي مهربانئ سره خپل ټول
اُمت ته زيات توفيق و بخښه چه
هغه ستا کلام په عاجزئ سره واوري
او په صدق د زړه سره ئي قبول
کړي او د روح القدس ميوه راوړي
اي کريم خداوند خمونږ واوره
په خپلي مهربانئ سره ټول ګمراهان
او فريب خوړونکي په حقي لاري باندې
راوله
اي کريم خداوند خمونږ واوره
په خپلي مهربانئ سره هغوي له
چه قايم دي قوّت ورکړه او ضعيف
دلو له تسلّي ورکړه او سنبال ئي
کړه او پريوتلي پورته کړه او په آخر
کښ شيطان خمونږ د ښپو
لاندې لتاړ کړه
اي کريم خداوند خمونږ واوره
په خپلي مهربانئ سره هغه
ټول چه په خطرو کښ دي بچ کړه
چه په ضرورت کښ دي مدد ئي
وکړه او چه په مصيبت کښ دي
دلاسه ورکړه
اي کريم خداوند خمونږ واوره
په خپلي مهربانئ سره د هغو
ټولو چه د وچي او د لوندي سفر
کوي د ټولو حاملو ښځو د ټولو ناجوړانو
او د ورکو بچو حفاظت وکړه او په
ټولو قيديانو بنديانو باندې رحمت
وکړه
اي کريم خداوند خمونږ واوره
په خپلي مهربانئ سره د ټولو
يتيمانو او د کنډو او د ټولو بيکسانو
او د مظلومانو مدد وکړه او خبر
ئي واخله
اي کريم خداوند خمونږ واوره
په خپلي مهربانئ سره په ټولو
بني‌آدمو باندې رحم وکړه
اي کريم خداوند خمونږ واوره
په خپلي مهربانئ سره خمونږ
دښمنان او آزاروونکي او تُهمت
لګونکي معاف کړه او زړونه ئي
راوګرزوه
اي کريم خداوند خمونږ واوره
په خپلي مهربانئ سره ښه
حاصلات د زمکي پيدا کړه او
خمونږ د فائدي د پاره ئي وساته
چه په وقت سره خمونږ بکار راشي
اي کريم خداوند خمونږ واوره
په خپلي مهربانئ سره د رښتني
توفيق مونږ له راکړه خمونږ ټول

ګناهونه غفلتونه ناداني معافي کړه
او دَ خپل روح القدس فضل په مونږ
باندِ ووروه چه خپل خوي خصلت
ستا دَ پاک کلام په موافق جوړ
کړو

ای کریمَ خداوندَ خمونږ واوره
اي ابن الله ته خمونږَ واوره
اي ابن الله ته خمونږَ واوره
اي دَ الله برّه چه دَ جهان ګناهونه
وړي
خپل آرام مونږ له راکړه
اي دَ الله برّه چه دَ جهان ګناهونه
وړي
په مونږ باندِ رحم وکړه
اي مسیحَ خمونږ واورد
اي مسیحَ خمونږ واوره
اي خداوندَ رحم وکړه
اي خداوندَ رحم وکړه
اي مسیحَ رحم وکړه
اي مسیحَ رحم وکړه
اي خداوندَ رحم وکړه
اي خداوندَ رحم وکړه

پس قسیس او جماعت دِ له ده سره دَ
خداوند دُعا ولولي

اي خمونږ پلارَ چه په آسمانونو
کښ يې ستا دَ نوُم پاکي دِ وِي -
بادشاهت ستا دِ راشي رضا ستا
لکه چه په آسمان پوره کیږي
په زمکه دِ هم شي خمونږ دَ نن
ورځي دوډئ نن مونږ له راکړه او
تقصیرونه خمونږ عفوه کړه چه
مونږ هم هر تقصیروار خپل بخښو
او مونږ په ازمایښت کښ مه راوله
بلکه له هغه شریر نه مو
وساته - آمین ✣

**قسیس** - اي خداوندَ په مطابق
دَ ګناهونو خمونږَ له مونږ سره
سلوک مه کوه
**جواب** - او په مطابق دَ بدیو
خمونږَ مونږ له بدله مه راکوه

مونږ دِ دُعا وغواړو

اي الله رحیم پلارَ چه اسویلي
دَ ماتو زړونو او آرزو دَ غمګینانو
ناخیزه نه ګڼي هرکله چه په غم
یا په مصیبت کښ ګرفتارَ شو او
ستا په حضور دُعا غواړو نو ته
په مهربانګيِ سره خمونږ مدد
وکړه او په مهربانګيِ سره خمونږَ
واوره چه هر هغه بدي چه شیطان
یا انسان په خپل مکر یا فریب سره
په مونږ باندِ راوړي دفع شي او ستا
په ښه انتظام سره لري شي چه
مونږ ستا بندګانان له هر قسمَ
ضررَ نقصان بیا نه مومو ستا په
پاکي کلیسيي کښ همیشه ستا شکر
کونکي اوسو - خمونږ دَ خداوند یسوع
مسیح په وسیلي سره - آمین ✣

اي خداوندَ پاڅه خمونږ مدد
وکړه او دَ خپل نوُم په روي باندِ
مونږَ خلاص کړه
اي الله مونږ په خپلو غوږونو
آوریدلي دِي او خمونږ پلرونو
نیکونو مونږ ته ویلي دِي چه دَ هغو
په ورځو کښ او دَ هغو نه په
وړاندِ ورځو کښ تا څرنګ عجیبه
کارونه کړي دِي
اي خداوندَ پاڅه خمونږَ
مدد وکړه او دَ خپل عزّت په روي
باندِ مونږَ خلاص کړه
ثنا دَ پلار او دَ زوي : او دَ
روحُ القُدس دِ وِي
**جواب** - لکه چه په ابتدا کښ وه
اوس هم دَه : او تر ابدَ پوري
به وِي - آمین ✣



اي مسیحَ خمونږ له دُښمنانو
نه مونږَ وساته
خمونږ په مصیبتونو باندِ
دَ مهربانګيِ نظر وکړه
په دردمنديِ سره خمونږ دَ
زړونو په غمونو باندِ نظر وکړه
په مهربانګيِ سره دَ خپل اُمّت
ګناهونه عفوه کړه
په مهربانګيِ سره خمونږَ دُعا واوره
اي دَ داؤد زویه په مونږ رحم
وکړه
اي مسیحَ اوس او تر همیشه
پوري خمونږَ واوره
اي مسیح په کرم سره خمونږ
واوره
اي خداوند مسیح په کرم سره
خمونږ واوره
**قسیس** - اي خداوندَ ستا رحمت
دِ په مونږ نازل شي
**جواب** - ځکه چه خمونږ امید هم
په تا باندِ دَي

مونږ دِ دُعا وغواړو

اي پلارَ مونږ په عاجزيِ سره
تا ته زاري کوُو چه ته خمونږ په
ناتوانيِ باندِ په کرم سره نظر وکړه

او دَ خپل نوُم دَ جلال په روي بانډِ هغه ټول آفتونه چه موږ دَ هغې ډیر لایق شوِي یوُ له موږ نه لري کړه او دا راته عنایت کړه چه موږ په خپلو ټولو دردونو کښ خپله ټوله آسره او اُمید هم ستا په رحمت بانډِ ولرو او همیشه په پاکیزګئِ او په پاکئِ سره ستا عبادت وکړو تاچه ستا عزّت او جلال ظاهر شِي څموږ دَ یګانه درمیانِي او شفیع خداوند یسوع مسیح په وسیلي سره ـ آمین ✠

## دُعا دَ مُقدّس خروسُستم

اي قادرِ مطلقَ خدایَ تا په موږ بانډِ فضل کړي دَي چه اوس موږ یو زړه شوِي له تا نه موخپلي عامي دُعا غوښتلي دِي۔ او تا وعده کړي دَه هرکله چه دوه یا دري تنه څما په نامه جمعَ شِي او په خپلو سوالونو کښ متفق وِي نوزه به دَ هغوي عرضونه قبول کړم۔ نو اوس اي خداوندَ دَخپلو بندګانو خواستونه چه په هغې کښ ئِي بهتري وِي پوره کړه په دي جهان دَ خپل کلام معرفت او په هغه جهان کښ ابدِي ژوندون موږ ته وبخښه۔آمین✠

## ۲ قرنتي ۱۳ باب

څموږ دَ خداوند یسوع مسیح فضل او دَ خداي محبّت او دَ روحُ القُدس رفاقت دِ همیشه له موږ ټولو سره وِي ـ آمین ✠

دلته لتهني تمامه شوه



# دَ بعضي وقتونو دُعا او شکراني

چه لِه لیتهني یا دَ سحر او دَ نماښام دَ نمانځه له دوو وروستینو دُعاګانو نه وړاندي لوستلي شِي

ذعا۔دَ باران دَپارَ

اي الله آسماني پلارَه تاچه دَخپل زوي یسوع مسیح په معرفت له هغو ټولو سره چه ستا دَ بادشاهئ او دَ هغې دَ صداقت طالبان دِي دَ ټولو څیزونو چه دَ هغوي دَ بدن دَپارَ ضرور دي وعدهٔ کړي ده موږ تا ته زارِي کوُوچه څموږ دَدي ضرورت په وقت کښ په داسي شان سره باران وورؤه تاچه موږ دَخپل آرام او ستا دَ عزّت دَپارَ دَ زمکي حاصلات حاصل کړُو۔څموږ دَ خداوند یسوع مسیح په وسیلي سره۔آمین

دُعا۔دَ باران دَ ودریدو دَپارَ

اي قادرِ مطلقَ خداوند خدایه تا یوځل دَ اِنسان دَګناه په سبب یِي له اوُ سره نه تمام جهان غرق کړي دَي او بیا له هغه نه دِ په خپلي لوي مهربانګئ سره وعده کړي دَه چه بیا به هیڅکله زمکهٔ داسي برباده نه کړم موږ په عاجزئِ سره تا ته زارِي کوُو که اګرچه موږ دَ خپلو بدیو په سبب دَجړو او دَ سیلاب دَ آفتونو ډیر لایق یوُ لیکن ته څموږ په ربښتني توبې باندِ لحاظ وکړه داسي موافق موسم راوله چه موږ دَ زمکي حاصل په وقت سره بیامومو او ستا له تنبیه سره خپل خوي خصلت سم کړُو او ستا په مهربانګئِ او په کرم سره ستا تعریف اولوئِي ظاهرَ کړُو۔څموږ دَ خداوند یسوع مسیح په وسیلي سره۔آمین

دُعا۔دَکرانئِ او دَ قحط دَ وقت دَپارَ

اي الله آسماني پلارَ چه ستا په مهربانګئ سره باران ورېږي زمکه شنه کیږِي حیوانات زیاتیږِي او ماهیان ډیریږِي موږ تا ته زارِي کوُو چه په رحم سره دَخپل اُمّت په مصیبتونو بانډِ نظر وکړه او دا مهربانګي وکړه چه دا قحط او تنګي چه موږ دَخپلي بدئِ په سبب ستا په لوي مهربانګئِ په حقَ سره زغمو په ارزانئِ او په پریوانئِ سره بدل شِي۔څموږ دَخداوند یسوع مسیح دَمینې په طفیل چه له تا او له رُوحُ القُدس سره ئِي ټول عزّت او جلال اوس او تر ابده پوري دَي ـ آمین

یا دا

اي الله رحیمَ پلارَ تا دَ الیشاعَ نبِي په وقت دَ سامریِّ په ملک کښ لویه گرانِي او قحط په ارزانِيْ او په پریوانِيِ سره په یوخل بدل کړ په مونږ باندِ رحم وکړه چه مونږ هم دَ خپلو گناهونو په سبب داسي سزا بیامومو په وقت مرهٔ آرام راکړي شِي- په خپل آسمانِي برکت سره دَ زمکي حاصل زیات کړه- او دا را وبخښه چه مونږ ستا په کامل بخښش او سخاوت سره برکت حاصل کړو او ستا دَ جلال او دَ محتاجانو دَ ضرورت پورهٔ کولو او دَ خپلي تسلِّي دَپارَ ئې استعمال کړو- خمونږ دَ خداوند یسوع مسیح په وسیلي سره-آمین:

دُعا-دَجنگ او دَ هنگامو په وقت کښ

اي قادرِ مطلقَ الله دَ بادشاهانو بادشاهَ او دَ ټولو موجوداتو مالکَ چه ستا دَ قدرت سرهِ هیڅوک مقابله کولي نه شِي گنهگارانو ته لایق سزا ورکول او په رښتني توبه کونکو باندِ رحم کول هم ستا خاصه دَه مونږ په عاجزيِ سره تا ته زارِي کوُو چه خمونږ دَدُښمنانو له لاسونو نه مونږَ وساته او خلاصون راکړه- دَهغوی کبر مات کړه- دَ هغوي بغض لري کړه- او دَ هغوي تدبیرونه گډوډ کړه تاچه مونږ ستا دَ حمایت په تلا کښ بند شُو له ټولو خطرو نه همیشه خلاص اوسُو او ستا جلال ظاهر کړو چه خاص هم ته دَ ټولو فتحو بخښونکي یې دا دِ ستا دَ ابنِ وحید خمونږ دَ خداوند دَ یسوع مسیح دَ ثواب په سبب وِي-آمین

دُعا- دَ وبا او دَ بلي ناجوړتیا دَ وقت دَپارَ

اي قادر مطلق الله چه تا په خپل غضب سره په بیابان کښ په خپل خاص اُمّت باندِ چه له موسیٰ او له هارون سره ئې سخته سرکشِي کوله وبا واستوله او بیا دَ داؤد بادشاْ په وقت کښ دِ اویا زره تنه دَ وُبا په آفت سرهِ مړه کړل-نو بیا دِ هم په خپلي مهربانيِ سره نظر وکړ او باقِي خلق دِ خلاص کړل- په مونږ بیکسو لاچارو گنهگارو باندِ چه په دي وقت په سخت مرض او په وبا کښ گرفتار یُو رحم وکړه-لکه چه تا په هغه وَخت کفارهٔ قبوله کړه او هلاک کونکي فرښتي ته دِ وفرمایل چه له سزا ورکولو نه وگرزه دغهسي که اوس ستا رضا وِي نو دا وُبا او سخت مرض دِ له مونږ نه دفع شِي- دا خمونږ دَ خداوند



یسوع مسیح په وسیلي سره-آمین

دَ تقرر په څلورو میعادِي ورځو کښ دَ هغو دَپارَ چه په مُقدَّسو عهدو باندِ مقرّر کیدونکي دِي دا دِ ولوستلي شِي

اي قادرِ مطلقَ الله خمونږ آسمانِي پلارَ تا چه دَ خپل عزیز زوي په گران بها وینو سره یوه عامه کلیسیا په بیعهٔ اخستي دَه په هغي باندِ دَ رحم نظر وکړه او په دي وقت دَ خپلو بندگانو اُسقفانو او دَ خپلي رمي دَ شپنو زړونو ته داسي هدایت او حکمت ورکړه تا چه دوي بي تاملّه په چا باندِ لاس کښ نه ږدِی بلکه په ایمان دارِئِ او دانائِي سره ستا دَ کلیسیا دَ پاک خدمت دَپارَ داسي لایق سړي غوره کړي او هر هغه څوک چه په مُقَدَّس کار باندِ مقرّر شِي په هغوي باندِ خپل فضل وکړه او هغوي ته آسمانِي برکت عنایت کړه تا چه دوي دَ خپل خوي خصلتَ او هم له خپلَ تعلیمَ ستا جلال ظاهر کړي او ټولو خلقو ته دَ نجات لار وښیِي- خمونږ دَ خداوند یسوع مسیح په وسیلي سره-آمین

یا دا

اي قادرِ مطلقَ الله دَ ټولو نعمتونو بخښونکیه تاچه په خپل ربانِي انتظام سره په خپلي کلیسیي کښ جُدا جُدا مرتبي مقُرّري کړي دِي مونږ په عاجزيِ سره تا ته زارِي کوُو چه ته په هغو ټولو باندِ فضل وکړه چه څوک په هغي کښ دَ څه عهدي او دَ خدمت ادا کولو دَپارَ مقرّر کیدونکي دِي په هغوَيِ باندِ خپل فضل وکړه او دَ حقیقي ایمان دَ علم نه ئې داسي معمور کړه او په بي عیبَ خوي خصلت سره ئې داسي آراسته کړه چه دوي ستا دَ لوي نوُم بزرگِي او ستا دَ مقدّسي کلیسیي دَ فایدو دَپارَ په ایمانداريِ سره ستا په حضور خدمت په ځاي راوړِي- خمونږ دَ خداوند یسوع مسیح په وسیلي سره-آمین

دُعا-چه ددي وړاندِنو دُعاو نه پس لوستلي شِي

اي الله چه همیشه رحمت او عفوه هم ستا دَ ذات خاصه ده خمونږ دَ عاجزيِ عرضونه قبول کړه او اگرچه مونږ دَ خپلو گناهونو په زنځیرونو کښ تړلي او بند شوِي یُو نو ته په خپلي مهربانگيِ سره ترس وکړه او خلاص مو کړه -خمونږ دَ درمیانِي او شفیع یسوع مسیح دَ عزت

په سبب دا را و بخښه - آمين

دُعا - دَ اعلیٰ دربار دَ پارليمنټ دَپارَ
چه دَ هغه دَ اجلاس په وقت
کښ لوستلي شي

اي نهايت کريمَ الله لکه چه تمام
عام سلطنت دَپارَ هم هسي خاص
دَ اعلیٰ دربار دَ پارليمنټ دَپارَ او
دَ هغو ټولو دَپارَ چه خمونږ دَ
سلطان قيصرِهند دَ لاندِ عهده داران
دِي مونږ په عاجزئ سره منت کوُو
او هم دَ جنابِ اعلیٰ نائب السّلطنت
دَپارَ دَ صوبو دَ حاکمانو دَپارَ دَ لوي
جرګي دَپارَ او دَ صدر عدالتونو دَ
حاکمانو دَپارَ او دَ هغو ټولو دَپارَ چه
په دي ملک کښ څه قدر اختيار
لرِي مونږ په عاجزئ سره تاته زارِي
کوُو چه ته په مهربانئ سره دَ هغو دَ
ټولو مصلحتونو دَاسي رهنما شه او
کامياب ئي کړه چه ستا جلال ظاهر
شي او ستا دَ کليسي بهتري وشي
او خمونږ دَ ملکي او دَ هغي دَ سلطنت
امن عزّت او بهتري وِي - چه ټول
څيزونه دَ هغو له کوششونو نه داسي
په بنه او په مضبوط بنيادونو باندِ
په ترتيب سره قايم وِي چه صلح
او تقويٰ دارِي په مونږ کښ پيړئ په
پيړئ برقرار اوسِي - دا او نور ضروري
څيزونه دَ هغوي او خمونږ او
ستا دَ ټولي کليسي دَپارَ مونږ
په عاجزئ سره دَ خپل نهايت
مبارک خداوند او خلاصونکي
يسوع مسيح دَ نوُم او دَ شفاعت
په وسيلي سره غواړُو - آمين

دُعا - دَ ملکي دَ پارليمنټ او دَ
نائبِ سلطنت دَپارَ

اي قادرِ مطلقَ الله او ډير
رحيمَ پلارَ مونږ تاته زارِي
کوُو چه ته خمونږ په خاتونِ بادشاهي
ملکي او قيصرِ هند **وکټوريي**
باندِ په آلبرټ اډورډ دَ ويلس
شهزاده دَ ويلس په شهزادګئ
او په ټول بادشاهِي خاندان باندِ
(او په لوي دربار دَ پارليمنټ باندِ)
دَ خپل رحمت نظر ولره - او دَ
هندوستان دَ نائبِ سلطنت او
دَ صوبو دَ حاکمانو او دَ لوي
عدالت دَ حاکمانو او دَ هغو ټولو
دَپارَ چه خمونږ دَ ملکي قيصرِهند
دَ لاندِ اختيار لرِي مونږ دُعا کوُو
چه هغه په هوښيارِئ او په



راستئ او په مهربانئ سره دَ ټولو
خيرو بندوبست وکړي چه ستا
دَ پاک نوُم عِزّت او ستا دَ کليسي
او ستا دَ ټولو خلقو ښيګړه وشي -
خمونږ دَ خداوند يسوع مسيح په
وسيلي سره - آمين

دُعا - دَ جناب اُسقوف کاټن صاحب

اي الله تا ټول قومونه چه په
مخ دَ زمکي دِي له يوي وينِي نه
پيدا کړي دِي او خپل متبرک زوي
دِ رالېږلي دَي هغو ته چه لرِي دِي
او هغو ته چه نزدي دِي دَ صلحي خبر
وکړي - په مهربانئ سره داسي وکړه
چه دَ دي ملک ټول خلق ستا تلاش
وکړي او تا بيامومي او اي آسماني
پلارَ هغه خپله وعده زر پوُره
کړه چه زه به خپل روح په تمامو
بني آدمو باندِ نازل کړم - خمونږ
دَ نجات راکونکي يسوع مسيح په
وسيلي سره - آمين

دَ هري درجي دَ سړو دَپارَ دُعا - په
هغه وقت دِ ولوستلي شي چه په
کښ لوستل دَ لمُنځ
مقرّر نه وِي

اي الله دَ ټولو بني آدمو خالق او
پروردګارَ مونږ په عاجزئ سره دَ هر
قسم او دَ هري درجي دَ سړو دَپارَ تا ته
عرض کوُو چه ته په مهربانئ سره
خپلي لاري هغوي ته وښيه خپل نجات
په ټولو قومونو باندِ ظاهر کړه ليکن خاص
دَ کاتلکي کليسي دَ بهبودئ دَپارَ مونږ
دُعا غواړُو چه هغه ستا له کريم روح
نه داسي هدايت بيامومي او داسي تابعدار
شي چه هرڅوک چه ځان مسيحي
کنړي دَ حقي لاري رهنمائي بيامومي
او په يکانګت دَ روح په بند دَ صلحي
او په خوي خصلت دَ صداقت کښ
په ايمان باندِ قايم اوسِي آخر کار هغه
ټول چه دَ روح يا دَ جسم يا دَ مال
درد يا رنځ مومِي مونږ ئي ستا په
پدرانه شفقت باندِ
سپارُو [* خصوصاً
دَ هغوي دَپارَ چه
خمونږ دُعا ورته
يکار دَه] چه ته په خپلي مهربانئ سره
هر يو ته موافق دَ ضرورت تسلي
او آرام ورکړه او په دردونو کښ هغوي
ته صبر وبخښه او دَ ټولو مصيبتونو
انجام ئي په خير کړه او دا دَ يسوع
په روي مونږ غواړُو - آمين

* دا دِ په هغه وقت کښ دويلي شي چه څوک له جماعت دَ دُعاؤ خواهش وکړي

# عامي شکرگذاريِ

اي قادرِ مطلقَ الله دَ ټولو رحمتونو پلارَ مونږ ستا نالایق بندګان ستا دَ مهربانئ او دَ محبّت دَپارَ چه تا په مونږ باندِ او په تمامو بني آدمو باندِ ظاهر کړي دی[* خاص په هغو چه په دي وقت کښ ستا دَ رحمتونو دَپارَ ستا ثنا او شکرانه ادا کول غواړي] مونږ دَ خپل پیدایښت پرورش او دَ دي ژوندون دَ ټولو نعمتونو دَپارَ ستا شکر کوُو لیکن خاص دَ هغي بي بها محبّت دَپارَ چه تا خمونږ دَ خداوند یسوع مسیح په وسیلي سره دَ ټول جهان دَ خلاصي دَپارَ ظاهر کړي دي او دَ فضل دَ وسیلو او دَ جلال دَ اُمید دَپارَ هم ستا شکر کوُو او مونږ تا ته زاري کوُو چه ته دَ خپلو ټولو احسانونو مونږ ته داسي پوره پوهه او تمیز راکړه چه مونږ ستا بي ریا شکرګذار شُو او مونږ ستا ثنا نه صرف په ژبي سره بلکه په خپل خوي خصلت سره ئي هم ظاهره کړو په دي شان چه خپل ځان ستا غلامئ ته وسپارُو او ستا په حِضُور په پاکیزګئ او په صداقت سره خپل ټول عمر تیر کړُو- خمونږ دَ خداوند یسوع مسیح په وسیلي سره چه دَ هغه دِ ستا او له روحُ القُدس سره تمام لوي عزّت او جلال ترابدَ پوري وِي - آمین

* دا دِ په هغه وقت ولوستلي شي چه دَچا دَپارَ دُعا غوښتلي شوي وِي او هغه وغواړي چه شکرګذاريِ ادا کړي

دَ باران دَ وردیدو دَپارَ

اي الله خمونږ آسماني پلارَ ته دَ خپلي پروردګارئ په فضل سره ورېني او ورستيَ باران په زمکه باندي ورَوي تاچه هغه دَ انسان دَ فایدو دَپارَ حاصلات پیدا کړي مونږ په عاجزئ سره ستا شکر کوُو چه تا مهرباني وکړه چه خمونږ په لوي ضرورت کښ دِ په خپل میراث باندِ ښه باران ووراوه او هغه چه وچ شوِي وُو تازه دِ کړل چه تر مونږ ستا نالایقو



بندګانو لوي آرام بیاموند او ستا دَ پاک نوم بزرګي ظاهره شوه- ستا په هغهِ رحمتونو سره چه خمونږ دَخداوند یسوع مسیح په وسیلي سره دِي-آمین

دَ باران دَ وردیدو دَپارَ

اي خداوندَ الله چه تا دَ باران په شیبو او دَ اوبو په آفت سره په دي ورخوکښ مونږ په انصاف سره عاجز کړي وُو او بیا په خپل رحم سره په وقت باندِ دا دَ خوشحالي موسم راوست او خمونږ زړونو ته دَي آرام او تسلّي وبخښله ستا دَدي مهربانئ دَپارَ مونږ ستا دَ پاک نوم تعریف او تعظیم کوُو او ستا دَ شفقت ذکر به پېړي په پېړي کونکي اوسو- خمونږ دَ خداوند یسوع مسیح په وسیلي سره-آمین

دَ ارزاني دَپارَ

اي ډيرَ مهربانَ پلارَ چه تا په خپل کرم او فضل سره دَ خپلي کلیسي دَ زړه اِلتجا او دُعا واوریدله او ګراني او قحط دِ په ارزانيِ او کثرت سره بدل کړه مونږ په عاجزئِ سره ستا دَدي خاص بخښش دَپارَ شکر کوُو او زاري کوُو چه ستا مهر دِ همیشه په مونږ باندِ وِي تاچه خمونږَ زمکه خپل حاصل زیات مونږ له راکړي چه له هغي نه ستا تعریف او خمونږ آرام وِي خمونږ دَخداوند یسوع مسیح په وسیلي سره-آمین

دَ صلحي دَپارَ او له دښمنانو نه دَ بچ کیدلو دَپارَ

اي قادرِ مطلقَ الله چه دَ خپلو بندګانو دَ پناه دَپارَ دَدوي دَ دُښمنانو په مخ کښ دَ بچ کیدو دَپارَ یو مضبوط برج یي مونږ ستا حمد او شکرګذاري کوُو چه تا له هغو لویو خطرو نه چه خمونږ نه ګیرچاپیره شوي وُو بچ کړو مونږ اقرار کوُو چه دا فقط ستا احسان دَي چه مونږ دَ هغوي دَ ښکار دَپارَ و نه سپارلي شُو او مونږ تا ته زاري کوُو چه ستا رحمتونه دِ هم دغسي همیشه په مونږ باندِ وِي تا چه ټول جهان ته معلومه شي چه ته خمونږ نجات راکونکي او قوِي خلاصونکي یي دا خمونږ دَ خداوندَ یسوع مسیح په وسیلي سره-آمین

دَ خپل وطن نه دَ جګړو دَ موقوف کیدلو دَپارَ

اي قدیمَ الله خمونږَ آسماني پلارَ

هم ته دَ کور په خلقو کښ يکانګي
پيدا کونکي يي او دَ فساد کوونکو او دَ
سرکشو خلقو بلوىٰ موقوف کوي مونږ
ستا دَ پاک نوم شکر کوُو چه تا په خپل
مهر سره هغه لوي فسادونه موقوف
کړل چه په دي ورځو کښ په مونږ کښ
پورته شوي وُو - مونږ په ډيري عاجزيِ
سره تا ته زاري کوُو چه په مونږ تولو
بانِدِ داسي فضل وکړه چه آينده ستا
دَ پاک حکم تابعدار اوسُو او په ډيري
ديندارئ او نيکوکاريِ سره په امن
او په آرام کښ ژوندون تير کړو او دَ دي
رحمتونو چه په مونږ بانِدِ ظاهر شوي
دي دَ حمد او دَ شکراني قرباني هميشه
ستا په حِضُور کوُو - خمونږ دَ خداوند
يسوع مسيح په وسيلي سره - آمين

دَ وبا او له نورو عامو رنځونو نه
دَ خلاصيدلو دَپارَ

اي خداوندَ اللهَ چه دِ په ډيره سخته
او خوفناکه وَبا سره خمونږ دَ ګُناهونو
په سبب په دي ورځو کښ مونږ آزار
کړي يُو او خمونږ دَ خطاؤ په باعث
دِ تباه کړي يُو او اوس دَ آفت په وقت
دِ خپل رحم ياد کړ او مونږ دِ دَ
مرګ له منګلو نه خلاص کړي يُو

مونږ ستا په کليسيي کښ ستا دَ
رحمتونو تعريف او لويي هميشه کوو
او په خپل نفس او تن سره چه
خلاص کړي دِ دَي ستا دَ پدرانه شفقت
نذر ادا کوُو تا چه ستا دَپارَ يود ژوندۍ
قرباني شِي - خمونږ دَ خداوند يسوع
مسيح په وسيلي سره - آمين

يا دا

اي ډيرَ رحيمَ پلارَ ستا په
حِضُور په عاجزيِ سره اقرار کوُو چه
مونږ دَ قسماقسم ګُناهونو او دَ زړه
دَ سختيِ په سبب دَ هغي عذابونو
لايق يُو چه ستا دَ شريعت په وعيدونو
کښ مندرج دِي ليکن تا له نهايت
مهر خپل نه خمونږ دَ عاجزو بي کارو
په توبي بانِدِ دا متعدي مرض چه
پرِ مونږَ په دي ورځو کښ تباه
کيدُو دفع کړي دَي او خمونږ په کورونو
کښ دِ دَ خوشحاليِ او دَ تندرستيِ آواز
بيا واوراوه نو مونږ ستا دَ آلهي
جناب په حِضُور کښ دَ حمد او دَ شکر
قربانيِ کوُو او ستا دَ دي نګهبانيِ او
پروردګاريِ دَپارَ ستا دَ پاک نُوم تعريف
او تعظيم کوُو دَ خپل خداوند يسوع
مسيح په وسيلي سره - آمين



# خاصي دُعاګاني او مکتوبونه او انجيلونه

ظاهره دِ وِي چه هغه دُعا چه دَ هر اتوار يا دَ هري ميعادِي ورځي دَپارَ
چه عرفه ئي وِي دَ هغي عرفي دَ نماښام په نمانځه کښ
ولوستلي شِي

## دَ مسيح دَ راتلو اوّل اتوار

دُعا

اي قادرِ مطلقَ الله په مونږ بانِدِ
فضل وکړه چه مونږ دَ تاريکيِ کارونه
وغورزوُو او په خپلو ځانونو دَ نُور
زغره واغوندو اوس چه دَدي فاني
ژوندون په منځ کښ چه په کښ ستا
زوي يسوع مسيح په ډيري عاجزيِ سره
مونږ له راغي تا چه په آخره ورځ کښ
چه دَي په شاهانه شان وشوکت سره
دَ ژوندو او دَ مړو دَ انصاف کولو
دَپارَ دوباره راشِي مونږ دَ ابدِي
ژوندون دَپارَ پاڅُو دَ هغه په وسيلي
چه ستا او دَ رُوحُ القُدس سره اوس
او تر ابدالآباده پوري ژوندي او
بادشاهِي کوِي - آمين

دا دُعا دِ دَراتلو دَ نورو دُعاؤ سره دَ پيدائښت دَ
اختر تر عرفي پوري هره ورځ لوستلي دِ شِي

خط

روميانو ته ۱۳ : ۸ تر آخره پوري

انجيل

دَ مقدّس متي ۲۱ : ۱—۱۳

---

## دَ راتلو دَ دويم اتوار

دُعا

اي مبارکَ خداوندَ تا چه تمامِي
مقدسي صحيفي خمونږ دَ تعليم دَپارَ ليکلي
دِي دا را عنايت کړه چه مونږ ئي په داسي
شان واورو ولولُو غور پرِ وکړُو زده
ئي کړو او په باطن کښ ئي هضم کړُو
چه په صبر سره او ستا دَ پاک کلام په
تسلي سره مونږ دَ حياتِ ابدِي هغه
مبارک اميد اختيار کړُو او هميشه
ئي ټينګ ونيسُو چه تا مونږ ته
خمونږ دَ نجات راکونکي يسوع مسيح
په وسيلي سره راکړي دَي - آمين

خط

روميانو ته ۱۵ : ٤ — ۱۳

انجيل

دَ مُقدّس لوقا ۲۱ : ۲۵ - ۳۳

## دَ راتلو دَ دریم اتوار

دُعا

اي خداوندَ یسوع مسیح تا په خپلو ورنبو راتلو خپل رسول را واستاوه چه ستا دَ وړاندِ ستا لار تیار کړي دا را وبخښه چه ستا دَ رازونو خدمت‌گذار او مختارکار په دي شان ستا لار جوړه او تیارَ کړي چه دَ نافرمان‌بردارو زړونه دَ راستبازو دَ داناۍ په طرف وګرزوي هرکله چه ته دَدي دنیا دَ عدالت کولو دَپارَ راشي مونږ ستا په حِضور یو مقبول اُمت وموندي شُو چه ته دَ پلار او دَ رُوح القُدس سره همیشه واحد الله ترابدَ پوري ژوندي او بادشاهت کړي-آمین

خط

اقرنتیانو ته ۴ : ۱—۵

انجیل

دَ مُقدّس متي ۱۱ : ۲—۱۰

---

## دَ راتلو دَ څلورم اتوار

دُعا

اي خداوندَ مونږ تا ته زارِي کوُو چه ته خپل قدرت ظاهر کړه او څمونږ په مینځ کښ راشه او په لوي قوّت سره څمونږ کومک وکړه ځکه چه مونږ دَخپلو بدیو او دَ ګُناهونو په سبب دَدي میدان په دو کښ چه څمونږ دَ وړاندِ دَي اړ شوِي او ستومانه شوِي یو ستا فیض بخښونکي کرم او فضل دِ زر څمونږَ مدد وکړي او مونږ دِ خلاص کړي- ستا دَ زوي څمونږ دَ خداوند دَ کفاري په سبب چه ده لره دِ ستا او له روحُ القُدس سره عزّت او جلال ترابدَ پوري وي-آمین

خط

فلپیانو ته ۴ : ۴—۷

انجیل

دَ مقدّس یوحنّا ۱ : ۱۹—۲۸

---

## څمونږ دَخداوند یسوع مسیح دَ پیدایښت اختر

دُعا

اي قادرِ مطلقَ خدایه چه تا خپل ابنِ وحید مونږ ته راعنایت کړ چه دَي څمونږَ ذات اختیار کړي او ګویا په نن ورځ له یوي پاکدامنې پیغلي نه پیدا شِي دا را وبخښه چه مونږ سردوباره پیدا شوِي او ستا په فضل سره ستا په زامنو لوړو نیولي شوي یُو ورځ



په ورځ دِ ستا دَ پاک روح په وسیلي سره تړ و تازه شُو-څمونږ دَ هغه خداوند یسوع مسیح په وسیلي چه ستا او دَ روحِ القُدس سره همیشه واحد الله ترابدَ پوري ژوندَي او سلطنت کړي-آمین

خط

عبرانیانو ته ۱ : ۱—۱۲

انجیل

دَ مُقدّس یوحنّا ۱ : ۱—۱۴

---

## دَ مُقدّس استیفان ورځ

دُعا

اي خداوندَ دا راعنایت کړه چه مونږ په خپلو ټولو زغمونو کښ چه په دي دُنیا کښ ستا دَ حق کلام دَ شاهدۍ ورکولو په سبب په مونږ باندِ راځي مونږ په غور سره دَ آسمان طرف وګورو او هغه جلال چه ظاهر کیدونکي دَي په نظر دَ ایمان سره یُ وویِنُو او له روحُ القدس نه ډک شُو او ستا دَ ورنبي شهید مُقدّس استیفان په شان په خپلو عذابوَنکو باندِ مینه وکړو او دَ هغو دَپارَ دَعا دَ خیر وغواړو ځکه چه ده دَ خپلو قاتلانو دَپارَ تا ته اي مبارکَ یسوع سفارش وکړ چه ته دَ الله په ښي لاس ولاړیي تا چه دَ هغو ټولو دَپارَ چه ستا دَپارَ سختِي زغمِي مدد وکړي چه ته یوازي څمونږَ درمیانِي او شفیع یِي-آمین

پس له دي نه دِ دَ مسیح دَ پیدایښت دَ اختر دُعا دَ نوي کال ترعوځ پوري مدام ولوستلي شِي

دَ خط

په عوض-دَ اعمال ۷ : ۵۵ ترآخره پوري

انجیل

دَ مقدّس متي ۲۳ : ۳۴ ترآخره پوري

---

## دَ مُقدّس یوحنّا مبشّر ورځ

دُعا

اي رحیمَ خداوندَ مونږ تا ته زارِي کوُو چه دَ خپل روښانه نُور پلوشي په خپلي کلیسي باندِ وځلوه چه هغه ستا دَ مبارک رسول او مبشّر مقدّس یوحنّا په تعلیم سره داسي روښانه شِي او ستا دَ کلامِ حق په رڼا کښ داسي لاړه شِي چه په آخر کښ دَ ابدِي ژوندون رڼا ته ورسِي-څمونږ دَخداوند یسوع مسیح په وسیلي سره-آمین

خط

دَ اوّل یوحنّا ۱ : ۱—۱۰

انجيل

دَ مُقدّس يوحنّا ۲۱ : ۱۹- ترآخره پورې

---

## دَ معصومانو ورځ

دُعا

اي قادرِ مطلقَ خدايَ تا دَ وړو
او دَ شيرخوارو له خولي نه قدرت خپل
ظاهر کړ او وړو هلکانو دَ خپل مرګ
په سبب ستا جلال ظاهر کړ ټول بد
خواهشونه چه په موږ کښ دِي سره
کړه او نيست او نابود ئي کړه او په خپل
فضل سره موږ ته داسي طاقت
راکړه تا چه موږ په خپل بي‌عيب خوي
خصلت سره او دَ خپل ايمان په سنبوطيا
سره تر مرګه پورې ستا دَ پاک نوم جلال
ظاهر کړو- څښتن دَ خداوند يسوع
مسيح په وسيلي سره -آمين

خط

په عوض دَ خط- دَ مکاشفات ۱۴ : ۱-۵

انجيل

دَ مقدّس متي ۲ : ۱۳-۱۸

---

## دَ پيدايښت له اختر ورستي اتوار

دعا

اي قادر مطلقَ خدايَ چه تا
خپل ابنِ وحيد موږ ته راعنايت کړ
چه دي څښتن ذات اختيار کړي او ګويا
په نن ورځ له يوي پاکدامني پيغلي نه پيدا
شي دا راوبخښه چه موږ سر دوباره
پيدا شوي او ستا په فضل سره ستا
په زامنو لوړو نيولي شوي يو ورځ په
ورځ ستا دَ پاک روح په وسيلي سره
تروتازه شو- څښتن دَ هغه خداوند
يسوع مسيح په وسيلي چه ستا او دَ
روحُ القدس سره هميشه واحد الله
تر ابدَ پورې ژوندي او سلطنت
کوي -آمين

خط

ګلتيانو ته ۴ : ۱-۷

انجيل

دَ مقدس متي ۱ : ۱۸ ترآخره پورې

---

## دَ مسيح دَ ختني ورځ

دُعا

اي قادرِ مطلق الله تا دَ انسان
دَپارَ دَ خپل مبارک زوي ختنه وکړه
او هغه دِ دَ شريعت محکوم کړ موږ
ته دَ روح القدس اصلي ختنه راوبخښه
چه څښتنَ زړونه او څښتن ټول اندامونه
دَ دنيوي او دَ جسماني خواهشونو په
نسبت مړه شي او په ټولو خبرو کښ
موږ ستا دَ مبارکي مرضيِ تابعداري
وکړو ستا دَ هغه زوي څښتن دَ خداوند
يسوع مسيح په وسيلي سره-آمين

خط

روميانو ته ۴ : ۸-۱۴

انجيل

دَ مقدس لوقا ۲ : ۱۵-۲۱

هم دا دُعا او خط او انجيل دِ هره ورځ دَ ظهور
تر اختره پورې ولوستلي
شي

---



## اپيفني يعني دَ مسيح په غير قومونو باندِ دَ ظهور اختر

دُعا

اي الله تا دَ يوه ستوري په رهبريِ
سره خپل ابنِ وحيد په غير قومونو
باندِ ظاهر کړ په خپل رحمت سره دا
راعنايت کړه چه موږ چه اوس په
ايمان سره تا پيژنو پس له دي ژوندون
ستا په تمجيد دَ الوهيت کښ وصال
بيامومو- څښتن دَ خداوند يسوع مسيح
په وسيلي سره -آمين

خط

افسيانو ته ۳ : ۱-۱۲

انجيل

دَ مُقدّس متي ۲ : ۱-۱۲

---

## پس دَ ظهور له اختر اوّل اتوار

دُعا

اي خداوندَ موږ تا ته زاري
کوُ چه دَ خپل اُمّت دُعا چه تا ته
ناري وهي په مهربانګيِ سره قبولي
کړه او دا ور عنايت کړه چه دوي
هغه کارونه چه کول ئي په دوي باندِ
واجب دِي دريافت او معلوم کړي
او فضل او طاقت هم بياموي چه
هغه په ايمانداريِ سره په ځاي
راوړي-څښتن دَ خداوند يسوع مسيح
په وسيلي سره-آمين

خط

روميانو ته ۱۲ : ۱-۵

انجيل

دَ مقدّس لوقا ۲ : ۴۱ ترآخره پورې

---

## پس دَ ظهور له اختر دويم اتوار

دُعا

اي قادرِ مطلقَ او ازلي خدايَ
ته دَ آسمان او دَ زمکي دَ ټولو
خيزونو انتظام کوي په مهربانګيُ

سره دَ خپل امت زاري واوره اوخمونږ
دَ ژوندون په ټولو ورځوکښ خپله
سلامتي مونږ ته را وبخښه -خمونږ
دَ خداوند يسوع مسيح په وسيلي
سره -آمين

## خط

روميانو ته ۱۲ : ۶-۱۶

## انجيل

دَ مقدّس يوحنّا ۲ : ۱-۱۱

---

## پس دَ ظهور له اخترَ دريم اتوار

### دُعا

اي قادر مطلق اوازلي الله
خمونږ په کمزورتياؤ باندِ دَ رحم
نظر وکړه اوخمونږ دَ ټولو خطرو او
دَ ضرورتونو په وقت دَ خپل قدرت
ښي لاس خمونږ دَ مدد او دَحمايت
دَپارَ اوږد کړه خمونږ دَخداوند يسوع
مسيح په وسيلي سره -آمين

## خط

روميانو ته ۱۲ : ۱۶ تراخره پورې

## انجيل

دَ مقدّس متي ۸ : ۱-۱۳

---

## پس دَ ظهور له اخترَ څلورم اتوار

### دُعا

اي الله ته پوهيږې چه مونږ په
څرنګه بي شمارو او په لويو خطروکښ
نښتلي يو چه په سبب دَ ناتوانۍ دَ
بشريت خپل سم ودريدلي نه شو دښي
روحاني طاقت او حفاظت راکړه چه
په ټولو خطرو کښ خمونږ مدد وکړي
او په ټولو آزمايښتونو کښ مونږ سلامت
وساتي -خمونږ دَخداوند يسوع مسيح
په وسيلي سره -آمين

## خط

روميانو ته ۱۳ : ۱-۷

## انجيل

دَ مقدّس متي ۸ : ۲۳ تراخره پورې

---

## پس دَ ظهور له اخترَ پنځم اتوار

### دُعا

اي خداوندَ مونږ تا ته زاري کوو
چه ته خپله کليسيا چه ستا خاندان
دَي په خپل حق دين باندِ هميشه
محفوظه ولره تاچه دوي چه صرف
ستا دَ آسماني فضل په اميد باندِ
تکيه وکړي ستا په لوي قدرت سره هميشه
محفوظ اوسي -خمونږ دَخداوند يسوع
مسيح په وسيلي سره -آمين



## خط

فلسپيانو ته ۳ : ۱۲-۱۷

## انجيل

دَ مقدّس متي ۱۳ : ۲۴-۳۰

---

## پس دَ ظهور له اخترَ شپږم اتوار

### دُعا

اي خدايَ ستا مبارک زوي دَدي
دَپارَ ظاهر شه چه دَ شيطان کارونه
نيست ونابود کړي او مونږ دَ الله
زامن او دَ هميشه ژوندون وارثان
کړي مونږ تا ته زاري کوو چه دا
عنايت کړه تاچه مونږ چه دا اُميد
لرو خپل ځانونه داسي پاک کړو لکه
چه هغه پاک دَي تا چه هرکله
چه دَي په قوت او په لوي جلال
سره دوباره ظاهر شي نو مونږ
دَ هغه په ابدي او جليل بادشاهت
کښ دَ هغه په شان شو چه
هلته دَي له تا سره اي پلارَ او له
تا سره اي روحُ القدسّ هميشه
واحد الله تر ابده پورې ژوندي
او سلطنت کوي -آمين

## خط

دَ اوّل يوحنّا ۳ : ۱-۸

## انجيل

دَ مُقدّس متي ۲۴ : ۲۳-۳۱

---

## دَ روژي نه وړاندِ دريم اتوار

### دُعا

اي خداوندَ مونږ تا ته زاري
کوو ته دَ خپل اُمت دُعاګاني په
شفقت سره واوره چه مونږ چه
دَ خپلو ګناهونو په سبب واجبي
سزا مومو ستا نه مهربانۍ سره
ستا دَ نامه دَ جلال په سبب خلاص
شو -دا دِ خمونږ دَ نجات راکونکي
يسوع مسيح په وسيلي سره وي چه
له تا او له روحُ القدُس سره هميشه
واحد الله تر ابده پورې ژوندي
او سلطنت کوي -آمين

## خط

اقرنتيانو ته ۹ : ۲۴-تراخره پورې

## انجيل

دَ مقدّس متي ۲۰ : ۱-۱۶

---

## دَ روژي نه وړاندِ دويم اتوار

### دُعا

اي خداوندَ خدايَ ته ويني چه
مونږ په خپل هيڅ عمل باندِ آسره نه کوو

په رحم سره دا راعنایت کړه چه مونږ ستا
په قدرت سره له هرې مصیبت نه بچ
شُو-خمونږ دَ خداوند یسوع مسیح په
وسیلي سره-آمین

خط

۲ قرنتیانو ته ۱۱ : ۱۹—۳۱

انجیل

دَ مقدّس لوقا ۸ : ۴—۱۵

---

## دَروژي نه وراندِ وړنبي اتوار

دُعا

اي خداوندَ تا مونږ ته ښوولي
دِي چه خمونږ ټول عملونه بغیر له محبتَ
عبث دِي خپل روحُ القُدس راواستوه
اوخمونږ په زړونو کښ هغه محبّت واچوه
چه دَ صلحي او دَ تمامو خوبیو اصل
رشته دَي او څوک چه بغیر له دي نه
ژوندي دي ستا په نزد مړدَي-دا
دَ خپل یکانه زوي یسوع مسیح په روي
را وبخښه-آمین

خط

۱ قرنتیانو ته ۱۳ : ۱- ترآخره پوري

انجیل

دَ مُقدّس لوقا ۱۸ : ۳۱ ترآخره پوري

---

## دَ روژي اوّل ورځ

دُعا

اي قادرِ مطلقَ او ابدِي الله چه
له هیڅ خپل مخلوق سره دښمني نه لري
او دَ ټولو توبه کوونکو گُناهونه بخښي په
مونږ کښ نوي او شکسته زړه پیدا
کړه چه مونږ په لایق طور سره په خپلو
گُناهونو افسوس او دَ خپلو خرابیو
اقرار وکړو او له تا نه چه دَ ټولو
رحمتونو خداي يي کامل مغفرت او
معافي حاصله کړُو-خمونږ دَ خداوند
یسوع مسیح په وسیلي سره-آمین

دا دُعادِ هره ورځ په تمامي روژي کښ پس
له مقرري دُعا دَ هغي ورځي نه لوستلي شِي

دَ خط

په عوض-دَ یوئیل ۲ : ۱۲—۱۷

انجیل

دَ مقدّس متي ۶ : ۱۶—۲۱

---

## دَروژي اوّل اتوار

دُعا

اي خداوندَ تا چه خمونږ دَپارَخلویښت
ورځي او څلویښت شپي روژه ونیوله
په مونږ باندِ فضل وکړه چه داسي
پرهیزګاريْ اختیار کړُو چه خمونږ جسم



دَ روح تابع شِي تا چه په صداقت او
په رښتني قدوسیت سره ستا دَ الهام
دَتحریکــو تل ترتله تابع اوسو تا چه
ستا بزرگي او جلال ظاهر شِي چه ته
دَ پلار او دَ روحُ القُدس سره واحد
الله تر ابده پوري ژوندي او سلطنت
کوِي-آمین

خط

۲ قرنتیانو ته ۶ : ۱—۱۰

انجیل

دَ مُقدّس متي ۴ : ۱—۱۱

---

## دَ روژي دویم اتوار

دُعا

اي قادر مطلق الله ته وینی
چه مونږ دَ خپلو ځانونو دَ سنبالولو
هیڅ طاقت نه لرُو په ظاهر کښ
خمونږ دَ بدن او په باطن کښ
خمونږ دَ روح حفاظت وکړه چه مونږ
له هغو ټولو مصیبتونو نه چه خمونږ په
بدن راځي او له هغو ټولو بدوخیالونو
نه چه په روح باندِ حمله کوِي او نقصان
ورا رسوِي بچ شُو-خمونږ دَ
خداوند یسوع مسیح په وسیلي
سره-آمین

خط

۱ تسلنیقیانو ته ۴ : ۱—۸

انجیل

دَ مُقدس متي ۱۵ : ۲۱—۲۸

---

## دَ روژي دریم اتوار

دُعا

اي قادرِ مطلق خدايَ مونږ تا ته
زارِي کوُو چه دَ خپلو عاجزانو بندګانو
دَ زړه په درخواستونو باندِ لحاظ وکړه
او دَ خپل دَ لوي جناب ښي لاس اوږد
کړه تا چه دي خمونږ له ټولو دښمنانو
نه خمونږ دَپارَ پناه شِي-خمونږ دَ
خداوند یسوع مسیح په وسیلي سره-آمین

خط

افسیانو ته ۵ : ۱—۱۴

انجیل

دَ مُقدّس لوقا ۱۱ : ۱۴—۲۸

---

## دَ روژي څلورم اتوار

دُعا

اي قادرِ مطلقَ الله مونږ تا ته
زارِي کوُو چه مونږ په سبب دَخپلو
بدو عملونو دَ واجبي سزا لایق یُو-
دا را وبخښه چه ستا له فضل نه

تسلي حاصله کړو او ستا له مهربانۍ
نه آرام بیاموموـ خمونږ دَ خداوند
او نجات راکونکي یسوع مسیح په
وسیلي سره ـ آمین

### خط

گلتیانو ته ۴ : ۲۱ تر آخره پوري

### انجیل

دَ مقدّس یوحنّا ۶ : ۱ ـ ۱۴

---

## دَ روژي پنځم اتوار

### دُعا

اي قادر مطلق الله مونږ تا ته
زاري کوُو چه ته په خپل اُمت باندِ
دَ کرم نظر وکړه چه ستا له ډیره عنایت
دَ هغوي جسم او روح همیشه ستا
په هدایت او په حفاظت کښ وِي ـ خمونږ
دَ خداوند یسوع مسیح په وسیلي سره ـ آمین

### خط

عبرانیانو ته ۹ : ۱۱ ـ ۱۵

### انجیل

دَ مقدّس یوحنّا ۸ : ۴۶ ـ تر آخره پوري

---

## دَ فسحي له اخترَ ورنبي اتوار

### دُعا

اي قادرِ مطلقَ او ابدِي خدایَ
تا په خپل لوي محبت چه له انسان
سره دِ لاره خپل زوي خمونږ نجات
راکونکي یسوع مسیح دِ را واستاوه
چه خمونږ په شان جسم اختیار کړي
او په صلیب باندِ دَ مرګ درد وزغمي
تا چه ټول بني آدم دَ هغه دَ ډیري
عاجزۍ په نمونه باندِ لار شي په
مهربانۍ سره دا را وبخښه چه مونږ
دَ هغه دَ صبر په پله لار شو او دَ
هغه په قیامت کښ شریک شو ـ خمونږ
دَ هغه خداوند یسوع مسیح په
وسیلي سره ـ آمین

### خط

فلپیانو ته ۲ : ۵ ـ ۱۱

### انجیل

دَ مقدس متي ۲۷ : ۱ ـ ۵۴

---

## دَ فسحي دَ اخترَ دَ وړاندِ دوشنبه

### دَ خط

په عوض ـ دَ اشعیا ۶۳ : ۱ ـ تر آخره پوري

### انجیل

دَ مقدّس مرقس ۱۴ : ۱ ـ تر آخره پوري

---

## دَ فسحي دَ اخترِ دَ وړاندِ سه شنبه



### دَ خط

په عوض ـ دَ اشعیا ۵۰ : ۵ ـ تر آخره پوري

### انجیل

دَ مُقدس مرقس ۱۵ : ۱ ـ ۳۹

---

## دَ فسحي دَ اخترِ دَ وړاندِ چارشنبه

### خط

عبرانیانو ته ۹ : ۱۶ ـ تر آخره پوري

### انجیل

دَ مقدّس لوقا ۲۲ : ۱ ـ تر آخره پوري

---

## دَ فسحي دَ اختر دَ وړاندِ پنجشنبه

### خط

اقرنتیانو ته ۱۱ : ۱۷ ـ تر آخره پوري

### انجیل

دَ مقدّس لوقا ۲۳ : ۱ ـ ۴۹

---

## مبارکه جمعه یعني دَ مسیح دَ مصلوب کیدو ورځ

### دُعاګاني

اي قادرِ مطلقَ خدایَ مونږ تا ته
زاري کوُو چه ته په دي خپل خاندان
باندِ دَ مهربانۍ نظر وکړه چه دَ هغه
دَپارَ خمونږ خداوند یسوع مسیح په
نیولي کیدو او دَ شریرانو په لاس کښ
په حواله کیدو او دَ صلیبي مرګ په
درد زغملو باندِ راضي وه ـ چه اوس
دَ تا او دَ روح القدس سره همیشه
واحد الله تر ابدَ پوري ژوندُون او
سلطنت کوِي ـ آمین

اي قادرِ مطلقَ او ابدِي الله
چه ستا له روح نه دَ کلیسیا تمام
بدن هدایت مومي او پاکیزه کیږي
خمونږ التجا او دعا چه مونږ ستا
دَ پاکي کلیسیا دَ هري درجي دَ خلقو
دَپارَ تا ته پیش کوُو قبوله ئي کړه
چه له هغوي نه هر یو تن په خپله
خپله عهده او خدمت کښ په
رښتیني او په تقویٰ دارِيِ سره ستا
عبادت په ځاي راوړي ـ خمونږ دَ
خداوند او دَ نجات راکونکي یسوع
مسیح په وسیلي سره ـ آمین

اي رحیمَ خدایَ چه دَ ټولو
خلقو خالق یي او دَ هیڅ یو خپل
مخلوقات سره دښمني نه لري او دَ
ګُنهګار مرګ نه غواړي بلکه دا غواړي
چه هغه ستا طرف ته رجوع شي او
ژوندي اوسي په ټولو یهودیانو او
محمدیانو او هندوانو او منکرانو او

بدعتیانو باندِ رحم وکړه او له هغو نه
تولو ناداني او سخت دلي او دَ خپل پاک
کلام سپکوالي لري کړه اواي مبارک
خداوند هغوي داسي په خپله رمه
کښ راوله تاچه دوي دَ باقي ماندو
حقیقي بني اسرائیلیو سره نجات بیاموي
چه یوه رمه او یو شپون شي یعني
څښتن خداوند یسوع مسیح چه دَ تا او
دَ روح القدس سره واحد الله تر ابده
پوري ژوندي او سلطنت کوي-آمین

خط

عبرانیانو ته ۱۰ : ۱ — ۲۵

انجیل

دَ مقدّس یوحنّا ۱۹ : ۱-۳۷

---

## دَ فسحي دَ اختر عرفه

دعا

اي خداوند دا را وبخښه څنګه
چه مونږ ستا دَ مبارک زوي دَ
خپل نجات راکوونکي یسوع مسیح دَ
مرګ بپتسما موندلي ده دغسي دِ
هر ساعت دَ خپلو نفساني خواهشونو
په وژلو له هغه سره خښ شو
او دَ قبر او دَ مرګ له دروازي نه
تیر شو او دَ خوشحالۍ قیامت ته
ورسیږو-دا دِ ستا دَ هغه زوي څښتن
دَ خداوند یسوع مسیح دَ ثواب په
سبب وي چه څښتن دَپارَ مړ شه او
خښ شه او بیا پاڅیده-آمین

خط

دَ اپطرس ۳ : ۱۷- تر آخره پوري

انجیل

دَ مقدس متي ۲۷ : ۵۷- تر آخره پوري

---

## دَ فسحي اختر یا دَ قیامت اختر
## یعني څښتن دَ خداوند له قبرنه
## دَ پاڅیدو ورځ

دَ حمد په نمانځه کښ په عوض دَ ۹۵ مزمور دا آیتونه دِ
وغږولي شي یا دِ ولوستلي شي

مسیح څښتن فسح قرباني شه دَ دي
دَپارَ مونږ دِ اختر وکړو

نه په زړي خمیري سره او نه دَ
بدۍ او دَ شرارت په خمیري سره
بلکه دَ اخلاص او دَ رښتني په فطیري
سره (اول دَ قرنتیانو ۵ : ۷-۸)

مسیح پس له پاڅیدلو له مړو نه
بیا نه مري بیا به مرګ په ده حاکم
و نه کړي

څکه چه دي چه مړ شه دَ ګناه په
دَپارَ یو ځل مړ شه بیا دي چه
ژوندي دَي په الله ژوندي دَي

په دي شان تاسو هم خپل ځانونه
دَ ګناه په نسبت مړه وګڼئ لیکن په
الله کښ ژوندي په وسیله دَ یسوع
مسیح سره (دَ رومیانو ۶ : ۹—۱۱)

مسیح له مړو نه پاڅیدلي دَي او
له هغو نه چه اوده شوي دِي ورنبۍ
میوه دَه

هرکله چه مرګ دَ سړي په سبب
دَي نو دَ سړي په سبب دَ مړو قیامت
هم دَي

لکه چه په آدم کښ ټول مړه کیږي
دغسي به په مسیح کښ ټول ژوندي
شي (دَ اوّل قرنتیانو ۱۵ : ۲۰-۲۲)

ثنا دَ پلار او دَ زوي : او دَ روح القدس
دِ وي

لکه چه په ابتدا کښ وَه اوس هم
دَه : او تر ابده پوري به وي

دُعا

اي قادرِ مطلق خدایَ تا دَ خپل
یګانه زوي یسوع مسیح په وسیله
مرګ مغلوب کړ او څښتن دَپارَ دِ دَ
ابدي ژوندون دروازه پرانستلي دَه مونږ
په عاجزۍ سره تا ته زاري کوو څنګه
چه ته دَ خپل خاص فضل په آموخته
کولو سره نیکي ارادي څښتن په زړونو
کښ ږدي دغهسي مونږ دِ ستا دَ
هردم له مدد نه دَ هغو نیک انجام
ته ورسو-څښتن دَ خداوند یسوع
مسیح په وسیله چه دَ تا او دَ روح القدس
سره همیشه واحد الله تر ابدَ پوري
ژوندي او سلطنت کوي-آمین

خط

قلسیانو ته ۳ : ۱—۷

انجیل

دَ مقدّس یوحنّا ۲۰ : ۱—۱۰

---

## دَ فسحي دَ اختر دَ هفتي
## دوشنبه

دعا

اي قادرِ مطلق خدایَ تا دَ
خپل یګانه زوي یسوع مسیح په وسیله
مرګ مغلوب کړ او څښتن دَپارَ دِ
دَ ابدي ژوندون دروازه پرانستلي دَه
مونږ په عاجزۍ سره تا ته زاري کوو
څنګه چه ته دَ خپل خاص فضل
په آموخته کولو سره نیکي ارادي څښتن
په زړونو کښ ږدي دغهسي مونږ
دِ ستا دَ هردم له مدد نه دَ هغو

نیک انجام ته ورسو- خموږ دَخداوند
یسوع مسیح په وسیله چه دَ تا او دَ
روح القدس سره همیشه واحد الله
تر ابدَ پوري ژوندي او سلطنت کوي-آمین

## دَ خط

په عوض-دَ اعمال ۱۰ : ۳۴-۴۳

## انجیل

دَ مُقدّس لوقا ۲۴ : ۱۳-۳۵

---

## دَ فسحي دَ اختر دَ هفتي سه شنبه

### دُعا

اي قادرِ مطلقَ خدايَ تا دَخپل
یگانه زوي یسوع مسیح په وسیله
مرگ مغلوب کړ او خموږ دَپارَ دِ دَ
ابدِي ژوندون دروازه پرانتلي دَه
موږ په عاجزئِ سره تا ته زارِي کوو
څنگه چه ته دَ خپل خاص فضل
په آموخته کولو سره نیکي ارادي خموږ
په زړونو کښ ږدي دغهسي موږ
دِ ستا دَ هردم له مدد نه دَ هغو
نیک انجام ته ورسو- خموږ دَخداوند
یسوع مسیح په وسیله چه دَ تا او دَ
روحَ القدس سره همیشه واحد الله
تر ابدَ پوري ژوندي او سلطنت کوي-آمین

## دَ خط

په عوض-دَ اعمال ۱۳ : ۲۶-۴۱

## انجیل

دَ مُقدس لوقا ۲۴ : ۳۶-۴۸

---

## دَفسحي له اختر نه پس اول اِتوار

### دُعا

اي قادرِ مطلقَ پلارَ تا خپل
یگانه زوي را بخښلي دَي چه خموږ
دَ گُناهونو دَپارَ مړ شِي او خموږ
دَ صادق کولو دَپارَ دوباره ژوندي
پورته شِي موږ ته دا توفیق راکړه
چه موږ دَ بغض او دَ بدئِ خمیر
داسي لري کړو چه په پاک خوي
خصلت او په رښتئِ سره همیشه
ستا عبادت کوو- دا دِ ستا دَ هغه
زوي خموږ دَ خداوند یسوع مسیح
دَ ثواب په سبب وِي-آمین

## خط

دَ ۱ یوحنّا ۵ : ۴-۱۲

## انجیل

دَ مقدّس یوحنّا ۲۰ : ۱۹-۲۳

---

## دَ فسحي له اختر نه پس دویم اِتوار



### دُعا

اي قادر مطلقَ الله چه دِخپل
ابنِ وحید را عنایت کړي دَي چه هغه
خموږ دَ گُناهونو یوه قرباني او دَ دینداريِ
دَ ژوندون یوه نمونه وِي په موږ
بانِدِ فضل وکړه چه موږ په ډیري
شکرگُذاری سره دَده هغه قیمت بها
نعمت همیشه قبول کړو او هره ورځ
کوشش وکړو چه دَ هغه دَ ډیر پاک
ژوندون په مبارک پله بانِدِ لاړ شو-
په وسیله دَ هغه یسوع مسیح خدَاوَند
خموږ - آمین

## خط

دَ ا پطرس ۲ : ۱۹- تر آخره پوري

## انجیل

دَ مقدّس یوحنّا ۱۰ : ۱۱-۱۶

---

## دَ فسحي له اختر نه پس دریم اتوار

### دُعا

اي قادرِ مطلقَ الله چه گُمراهانو
ته دَ خپل حق نُور په دي اراده سره
ښکاره کوي چه دوي دَ صداقت په
لاري بانِدِ په بیرته را وګرزي هغو ټولو
ته چه دَ مسیحي دین په رفاقت کښ
شریک کیږي دا راعنایت کړه چه دوي
له هغه څیزونو نه چه ددوي دَ اقرر
په خلاف دِي په ډډه شِي او په
هغه ټولو خبرو چه دَ هغه په شان
دِي پیروِي وکړي- خموږ دَخداوند
یسوع مسیح په وسیلي سره-آمین

## خط

دَ ا پطرس ۲ : ۱۱-۱۷

## انجیل

دَ مُقدّس یوحنّا ۱۶ : ۱۶-۲۳

---

## دَ فسحي له اختر نه پس څلورم اِتوار

### دُعا

اي قادرِ مطلقَ الله فقط ته يي
چه دَ گُنهګارو خلقو دَبي‌قیدو اِرادو
او خواهشونو تدبیر کولي شي خپل
امّت ته دا عنایت کړه چه په هغه
چه تا فرمایلي دِي مینه وکړي او
هرڅه چه تا وعده کړي دَه دَ هغي
مشتاق اوسِي داسي چه دَدُنیا په
رنګارنګ او په قسماقسم تبدیلونو
کښ خموږ زړونه هلته ولګیږي چرته
چه حقیقي خوشحالي موجوده دَه-خموږ
دَ خداوند یسوع مسیح په وسیلي

سره-آمین

خط

دَ یعقوب ۱ : ۱۷ — ۲۲

انجیل

دَ مقدّس یوحنا ۱۶ : ۵-۱۵

---

## دَ فسحي له اختر نه پس پنځم اتوار

دُعا

اي خداوندَ چه له تا نه ټول ښه خیزونه راځي موږ ته چه ستا عاجز بندګان یُو دا را عنایت کړه چه ستا له پاک اِلهام نه موږ هم هغه خیال پیدا کړو چه نیک وي او ستا دَ رحمت له هدایت نه هغه په عمل راوړو-خُموږ دَ خداوند یسوع مسیح په وسیلي سره-آمین

خط

دَ یعقوب ۱ : ۲۲ — ترآخره پورې

انجیل

دَ مقدّس یوحنّا ۱۶ : ۲۳-ترآخره پورې

---

## دَ صعود اختر یعني خُموږ دَ خداوند آسمان ته دَ ختو ورځ

دُعا

اي قادرِ مطلق خدایَ موږ تا نه زارِي کُوو دا راعنایت کړه څنګه چه موږ ایمان راوړي دَي چه ستا یګانه زوي خُموږ خداوند یسوع مسیح آسمانونو ته ختلي دَي په هغهِ شان موږ هم په زړه او په خیال سره هلته وخیژُو او هر ساعت ورسره اوسُو- چه دَ تا او دَ روحُ القُدس سره واحد الله ترابده پوري ژوندي او سلطنت کوي-آمین

دَ خط

په عوض-دَ اعمال ۱ : ۱—۱۱

انجیل

دَ مقدّس مرقس ۱۶ : ۱۴ ترآخره پورې

---

## دَ صعود له اختر نه پس اتوار

دُعا

اي الله بادشاهِ ذوالجلالَ تا چه خپل یګانه زوي یسوع مسیح په لویه فتحمندئ سره په خپلي آسماني بادشاهئ کښ سرفراز کړ موږ تا ته زارِي کُوو چه یتیمان مو مه پرېږده بلکه خُموږ دَ تسلي دَپارَ خپل روحُ القدس را واستوه او موږ هغه مقام ته وخیژُو



چرته چه خُموږ نجات راکونکي مسیح ورنبي تللي دَي چه دَ تا او دَ روح القدس سره واحد الله تر ابده پوري ژوندي و سلطنت کوي-آمین

خط

دَ ۱ پطرس ۴ : ۷—۱۱

انجیل

دَ مقدّس یوحنّا ۱۵ : ۲۶-ترآخره پورې

او لږ شان دَ ۱۶ باب

---

## پنتکست یعني دَ روح القُدس دَ نازلیدو اختر

دُعا

اي خدایَ تا لکه چه په نن ورځ دَخپلو ایمان دارانو زړونو ته دَخپل روحُ القُدس په رڼښنائيِ سره دا تعلیم ورکړ دا را عنایت کړه چه موږ دَهغه روح په وسیلي په ټولو خبرو کښ صحیح انصاف ولرُو او همیشه دَ هغه په پاکي تسلي سره خوشحالي وکړو-خُموږ دَ خلاصوونکي یسوع مسیح دَ ثواب په سبب چه ستا او دَ هغه روح القدس په وحدانیت کښ واحد الله ترابده پوري ژوندي او سلطنت کوي-آمین

دَ خط

په عوض-دَ اعمال ۲ : ۱—۱۱

انجیل

دَ مُقدّس یوحنا ۱۴ : ۱۵- ترآخره پورې

---

## دَ روح القدس دَ نازلیدو دَ اختر په هفتي کښ دوشنبه

دُعا

اي خدایَ تا لکه چه په نن ورځ دَخپلو ایمان دارانو زړونو ته دَخپل روحُ القُدس په رڼښنائيِ سره دا تعلیم ورکړ دا را عنایت کړه چه موږ دَهغه روح په وسیله په ټولو خبرو کښ صحیح انصاف ولرو او همیشه دَ هغه په پاکي تسلي سره خوشحالي وکړو-خُموږ دَ خلاصوونکي یسوع مسیح دَ ثواب په سبب چه ستا او دَ هغه رُوح القُدس په وحدانیت کښ واحد الله ترابدَ پوري ژوندي او سلطنت کوي-آمین

دَ خط

په عوض-دَ اعمال ۱۰ : ۳۴-ترآخره پورې

انجیل

دَ مُقدّس یوحنا ۳ : ۱۶ — ۲۲

---

دَ روح القدس دَ نازليدو دَ
اختر په هفتي کښ سه شنبه

دعا

اي خدايَ تا لکه چه په دغه ورځ
دَ خپلو ايمان دارانو زړونو ته دَ خپل
روح القدس په روښنائي سره دا تعليم
ورکړ دا را عنايت کړه چه موږ دَ هغه
روح په وسيله په ټولو خبرو کښ
صحيح انصاف ولرو او هيشه دَ هغه
په پاکي تسلئ سره خوشحالي وکړو-خمونږ
دَ خلاصوونکي يسوع مسيح دَ ثواب
په سبب چه ستا او دَ هغه روح القدس
په وحدانيت کښ واحد الله تر ابدَ
پوري ژوندي او سلطنت کوي-آمين

دَ خط

په عوض-دَ اعمال ۸-۱۴-۱۸

انجيل

دَ مقدس يوحنا ۱۰-۱-۱۱

## دَ تثليث اختر

دُعا

اي قادر مطلقَ او ازلي خدايَ
تا په موږ خپلو بندګانو باندِ دا فضل
کړي دي چه موږ په رښتيني ايمان
سرِه دَ ازلي تثليث دَ جلال اقرار کړو
او دَ جناب باري په قدرت سره دَ
توحيد عبادت کړو موږ تا نه زاري
کوو چه موږ په دي ايمان باندِ قايم
لره او له ټولو مصيبتونو نه موهيشه
وساته چه ته واحد الله تر ابدَ پوري
ژوندي او سلطنت کوي-آمين

دَ خط

په عوض دَ مکاشفات ۴:۱- تر آخره پوري

انجيل

دَ مقدس يوحنا ۳:۱-۱۷

## پس له اختر دَ تثليث اوّل اتوار

دُعا

اي الله ته دَ هغو ټولو چه په تا باندِ
آسره لري قوت يي په مهرباني سره خمونږ
دُعا قبولي کړه او دَ دي دَپارَ چه موږ
بي له تا نه دَ خپل انساني ناتوانئ
په سبب هيڅ کار کولي نه شو-دَ خپل
فضل مدد را وبخښه چه موږ
ستا دَ حکمونو په ځاي راوړلو باندِ
هم په نيّت او هم په فعل سره تا
خوشحاله کړو-خمونږ دَ خداوند يسوع
مسيح په وسيلي سره-آمين

خط

دَ ا يوحنا ۴:۷- تر آخره پوري



انجيل

دَ مقدّس لوقا ۱۶: ۱۹- تر آخره پوري

## پس له اختر دَ تثليث دوېم اتوار

دُعا

اي خداوندَ هغه څوک چه ته يي
په خپل مضبوط خوف او محبّت کښ
وبالي هغوي له مدد او له هدايت
کولو نه هېڅکله نه هېروي موږ تا ته
زاري کوو چه ته موږ دَ خپلي نېي
رزائي په پناه کښ محفوظ وساته او
داسي وکړه چه موږ ستا دَ پاکي نامي
ابدي خوف او محبّت ولرو-خمونږ دَ
خداوند يسوع مسيح په وسيلي سره-آمين

خط

دَ ا يوحنا ۳: ۱۳- تر آخره پوري

انجيل

دَ مقدّس لوقا ۱۴: ۱۶- ۲۵

## پس له اختر دَ تثليث دريم اتوار

دُعا

اي خداوندَ موږ تا ته زاري کوو
چه په مهرباني سره خموږ واوره او
دا را عنايت کړه چه موږ چا ته چه
تا دَ دعا غوښتلو شوق کامل راکړي
دي ستا په لوي مدد سره په ټولو
خطرو او په مصيبتونو کښ حفاظت
او تسلي حاصله کړو-خمونږ دَ خداوند
يسوع مسيح په وسيلي سره-آمين

خط

دَ ا پطرس ۵: ۵- ۱۲

انجيل

دَ مقدّس لوقا ۱۵: ۱-۱۱

## پس له اختر دَ تثليث څلورم اتوار

دُعا

اي الله ته دَ هغو ټولو چه په
تا باندِ آسره لري حافظ يي بي له تا نه
هيڅ څيز قايم نه دي او هيڅ څيز
پاک نه دي خپله مهرباني په موږ
باند ډيره او زياته کړه چه ستا دَ
حکومت او دَ هدايت په سبب موږ
دَ دي فاني څيزونو له منځ نه
داسي تېر شو تا چه په آخر
کښ له ابدي څيزونو نه محروم نشو-
اي آسماني پلاره دا خمونږ دَ
خداوند يسوع مسيح په خاطر
را عنايت کړه-آمين

خط

روميانو ته ۸: ۱۸- ۲۴

انجیل

دَ مقدّس لوقا ۱۶ : ۳۷ — ۴۳

---

پس له اختر دَ تثلیث پنځم اتوار

دُعا

اي خداوندَ مونږ تا ته زاري
کوُو دا راعنایت کړه چه ستا په
حکومت سره دَدي جهان بندوبست
دِ په سلامتیا سره داسي درست
شي چه ستا کلیسیا دَ دینداريِ په ډېر
آرام کښې ستا عبادت په خوشحاليِ
سره وکړي - خمونږ دَ خداوند یسوع
مسیح په وسیلي سره - آمین

خط

دَ ا پطرس ۳ : ۸ — ۱۶

انجیل

دَ مقدّس لوقا ۱۵ : ۱ — ۱۱

---

پس له اختر دَ تثلیث شپږم اتوار

دُعا

اي الله تا دَ هغو دَپارَ چه له
تا سره محبت لري داسي ښائسته
څیزونه تیار کړي دي چه دَ سړي
له فهم نه بهر دي خمونږ په زړونو
کښې خپله مینه دومره راتویه کړه
چه مونږ په تا باندِ له ټولو څیزونو
نه ډیره مینه وکړو او ستا هغه
وعدي چه خمونږ له ټولو خواهشونو
نه زیاتي دي حاصلي کړو - خمونږ
دَ خداوند یسوع مسیح په وسیلي
سره - آمین

خط

رومیانو ته ۶ : ۳ — ۱۲

انجیل

دَ مقدس متي ۵ : ۲۰ — ۲۷

---

پس له اختر دَ تثلیث اوم اتوار

دُعا

اي دَ ټولو قوتونو او قدرتونو
مالکَ چه دَ ټولو ښو څیزونو جوړوونکی
او بخښونکي یي دَ خپل نوم محبت
خمونږ په زړونو کښې پیوند کړه په
مونږ کښې حقیقي دینداري زیاته کړه
په ټولو نیکو سره خمونږ پالنه وکړه
او په خپل لوي رحمت سره مو په
هغو باندِ قایم ولره - خمونږ
دَ خداوند یسوع مسیح په وسیلي
سره - آمین

خط

رومیانو ته ۶ : ۱۹ - تر آخره پوري



انجیل

دَ مقدّس مرقس ۸ : ۱ — ۱۰

---

پس له اختر دَ تثلیث اتم اتوار

دُعا

اي خدايَ ستا په بي زوالي پروردګارئ
سره دَ آسمان او دَ زمکي دَ ټولو څیزونو
بندوبست کیږي مونږ په عاجزئ سره
تا ته زاري کوُو چه ټول مُضر څیزونه
له مونږ نه لري کړه او ټول مفید
څیزونه مونږ ته راوبخښه - خمونږ
دَ خداوند یسوع مسیح په وسیلي
سره - آمین

خط

رومیانو ته ۸ : ۱۲ — ۱۸

انجیل

دَ مقدس متي ۷ : ۱۵ — ۲۲

---

پس له اختر دَ تثلیث نهم اتوار

دُعا

اي خداوندَ مونږ تا ته زاري کوُو
چه مونږ ته داسي روح راوبخښه چه
همیشه په هغو خبرو باندِ چه صحیح
وي خیال وکړو او په ځاي یي راوړو
ځکه چه مونږ بي له تا نه هیڅ
نیک کار کولي نه شو ستا په مدد
سره ستا دَ مرضيِ په موافق خپل
ژوندون تیر کړو - خمونږ دَ خداوند
یسوع مسیح په وسیلي سره - آمین

خط

اقرنتیانو ته ۱۰ : ۱ — ۱۴

انجیل

دَ مقدّس لوقا ۱۶ : ۱ — ۱۰

---

پس له اختر دَ تثلیث لسم اتوار

دُعا

اي خداوندَ ستا دَ رحمت غوږونه
دِ ستا دَ عاجزو بندګانو دعاؤ ته پرانیستي
اوسي تا چه دوي خپل مرادونه بیاموي
نو دوي دَ هغو څیزونو طلبګار کړه
چه ستا خوښ وي - خمونږ دَ خداوند
یسوع مسیح په وسیلي سره - آمین

خط

اقرنتیانو ته ۱۲ : ۱ — ۱۱

انجیل

دَ مقدّس لوقا ۱۹ : ۴۱ — تر آخره پوري

---

پس له اختر دَ تثلیث یوولسم اتوار

دُعا

اي الله چه خپل ډیر قدرت

خصوصا په رحم كونوكښ او په ترس
خورلوكښ ظاهروي له خپل رحم نه
په مونږ باندِ داسي فضل وكړه تا چه
مونږ چه ستا دَ حكمونو په لاري باندِ
زغلو ستا دَكرم وعدو ته ورسو
او ستا دَ آسماني خزاني شريكان شو-
خمونږ دَ خداوند يسوع مسيح په
وسيلي سره -آمين

خط

١ قرنتيانو ته ١٥ : ١ — ١١

انجيل

دَ مقدّس لوقا ١٨ : ٩ - ١٤

---

## پس له اخترَ د تثليث دولسم اتوار

دُعا

اي قادر مطلق ابدِي الله چه
خمونږ دَدُعا غوښتلو په اوريدو
باندِ هميشه تيار اوسي او خمونږ
له آرزو او له لياقت نه زيات
مونږ ته راكوونكي يي دَخپل رحمت
پريواني په مونږ باندِ ډيره نازله كړه
او له هغو خبرو نه چه خمونږَ زړه
ويريږي معاف ئي كړه او هغه
ښه خبزونه مونږ ته راكړه چه ئي
دَ غوښتو مونږ لايق نه يُو مگر
ستا دَ زوي خمونږ دَ خداوند يسوع
مسيح دَ ثواب اودَ سفارش په سبب
آمين

خط

٢ قرنتيانو ته ٣ : ٤ - ١٠

انجيل

دَ مقدّس مرقس ٧ : ٣١ - تر آخره پورِي

---

## پس له اخترَ دَ تثليث ديارلسم اتوار

دُعا

اي قادر مطلقَ او رحيم الله فقط
ستا له عنايت نه كيدي شي چه
ستا ايمان دار أمت ستا رښتني او
لايق خدمت كړي مونږ تا ته زارِي
كوُو دا راعنايت كړه چه مونږ په دي
ژوندون كښ ستا خدمت په داسي
ايمان دارِئِ سره په خاي راوړو چه په
آخر كښ ستا دَ آسماني وعدوله وفا
نه محروم باتي نه شو- خمونږ دَ
خداوند يسوع مسيح دَ ثواب په
سبب - آمين

خط

كلاتيانو ته ٣ : ١٦ — ٢٣

انجيل

دَ مقدّس لوقا ١٠ : ٢٣ - ٣٨



## پس له اخترَ دَ تثليث څوارلسم اتوار

دعا

اي قادر مطلقَ او ازلي خدايَ
دَ ايمان اودَ اميد او دَ محبت زيات والي
مونږ ته راعنايت كړه او داسي وكړه
چه په هغو خيزونو چه ته ئي حكم كوي
مونږ مينه وكړو تا چه دَ هر هغه خيز
چه ته وعده كوي مونږ ئي حاصل كړو-
خمونږ دَ خداوند يسوع مسيح په
وسيلي سره -آمين

خط

كلاتيانو ته ٥ : ١٦ — ٢٤

انجيل

دَ مقدّس لوقا ١٧ : ١١ — ٢٠

---

## پس له اخترَ دَ تثليث پنځلسم اتوار

دُعا

اي خداوندَ مونږ ستا ته زارِي
كوُو چه په خپلي هميشه مهربانگِي
سره خپله كليسيا په خپله پناه كښ
وساته او هركله چه انسان په سبب
دَ ناتوانِي خپلي بغير له تا نه له پريوتو
نه خلاصيدلي نه شي خمونږ مدد
وكړو او مونږ له ټولو مضرو خيزونو
نه هميشه وساته او په طرف دَ
هغه ټولو خبرو چه خمونږ دَ نجات دپاره
فائده منديِ وِي مونږ ته هدايت
رفرمايه- خمونږ دَ خداوند يسوع
مسيح په وسيلي سره-آمين

خط

كلاتيانو ته ٦ : ١١ تر آخره پوري

انجيل

دَ مقدّس متي ٦ : ٢٤ - تر آخره پوري

---

## پس له اخترَ دَ تثليث شپاړسم اتوار

دُعا

اي خداوندَ مونږ تا ته زاري
كوُو چه ستا ابدِي رحم دِ ستا كليسيا
صافه او محفوظه وساتي او له دي
سبب نه چه هغه بغير ستا له مدد
نه په سلامتي كښ اوسيدي نه شي
په خپلي مهربانگِي سره ئي هميشه
حفاظت وكړه- خمونږ دَ خداوند يسوع
مسيح په وسيلي سره-آمين

خط

افسيانو ته ٣: ١٣ - تر آخره پوري

انجيل

دَ مقدّس لوقا ٧: ١١ — ١٨

---

## پس له اخترَ دَ تثليث اولسم اتوار

دعا

اي خداوندَ مونږ تا ته دا زارِي کُوو چه ستا فضل دِ هیشه خُمونږ دَ وړاندِ ورستو وِي او دَ هغه په وسیله دِ مونږ په ټولو ښو کارونو باندي همیشه مستعد اوسُو- خُمونږ دَ خداوند یسوع مسیح په وسیلي سره-آمین

خط

افسیانو ته ۴ : ۱ — ۷

انجیل

دَ مقدّس لوقا ۱۴ : ۱ — ۱۲

---

پس له اخترَ دَ تثلیث اَتلسم اتوار

دعا

اي خداوندَ مونږ تا ته زارِي کُوو چه ته په خپل اُمّت باندِ داسي فضل وکړه چه هغه دَ دنیا دَ جسم او دَ شیطان له آزمایښتونو سره مقابله وکړي او په پاک زړه او په پاک نیّت سره اي واحدَ الله ستا پیروِي وکړِي- خُمونږ دَ خداوند یسوع مسیح په وسیلي سره-آمین

خط

اقرنتیانو ته ۱ : ۴ — ۹

انجیل

دَ مقدّس متّي ۲۲ : ۳۴- تر آخره پورِي

---

پس له اخترَ دَ تثلیث نولسم اتوار

دعا

اي خدایَ دَ دي دَ پارَ چه مونږ بغیر له تا نه تا خوشحال کولي نه شُو په خپل رحمت سره دا راعنایت کړه چه ستا رُوحُ القُدس خُمونږ په هره خبره کښِ خُمونږ دَ زړونو هدایت اوحکومت وکړِي- خُمونږ دَ خداوند یسوع مسیح په وسیلي سره-آمین

خط

افسیانو ته ۴ : ۱۷- تر آخره پوري

انجیل

دَ مقدّس متّي ۹ : ۱ — ۹

---

پس له اخترَ دَ تثلیث شلم اتوار

دعا

اي قادر مطلقَ او ډیرَ رحیمَ الله مونږ تا ته زارِي کُوُ چه په خپل ډیر کرم سره له ټولو مضرو خیزونو نه مونږ محفوظ وساته تا چه مونږ په جسم او په روح سره تیار اوسو او هغه خبري چه ته يِي له مونږ نه



کوال غواړِي په خوشحالیٔ سره يِي پوره کړو- خُمونږ دَ خداوند یسوع مسیح په وسیله سره-آمین

خط

افسیانو ته ۵ : ۱۵ — ۲۲

انجیل

دَ مقدّس متّي ۲۲ : ۱ — ۱۵

---

پس له اخترَ دَ تثلیث یوویشتم اتوار

دعا

اي رحیمَ خداوندَ مونږ تا ته زارِي کُوو چه خپل ایمان دار اُمّت ته معافِي او سلامتِي وبخښه چه دوِي له خپلو ټولو ګناهونو نه پاک شِي او په خاطرجمعیٔ سره ستا عبادت وکړِي- خُمونږ دَ خداوند یسوع مسیح په وسیلي سره-آمین

خط

افسیانو ته ۶ : ۱۰ — ۲۱

انجیل

دَ مُقدس یوحنا ۴ : ۴۶- تر آخره پوري

---

پس له اخترَ دَ تثلیث دوویشتم اتوار

دعا

اي خداوند مونږ تا ته زارِي کُوو چه خپله کلیسیا چه ستا خپلځانه ده همیشه په دینداریٔ سره مضبوطه لره چه ستا په حمایت سره دا له ټولو مصیبتونو نه خلاصه شِي او په تقویٰ داري سره په ټولو نیکو عملونو کښ ستا په خدمت کولو کښ لګیا اوسِي تا چه ستا دَ نامه جلال ظاهر شِي- خُمونږ دَ خداوند یسوع مسیح په وسیلي سره-آمین

خط

فلپیانو ته ۱ : ۳ — ۱۲

انجیل

دَ مقدّس متّي ۱۸ : ۲۱- تر آخره پوري

---

پس له اخترَ دَ تثلیث درویشتم اتوار

دعا

اي خدایَ ته خُمونږ پناه او قوت يِي ټوله دینداریٔ له تا نه دَه مونږ تا ته زارِي کُوو چه ته دَ خپلي کلیسیي عاجزانه دعاوُ ته توجه وکړِه او دا عنایت کړه چه هر هغه خیزونه چه مونږ په ایمان سره غواړو په حقیقت سره يِي بیامومو-خُمونږ دَ خداوند یسوع مسیح په وسیلي سره-آمین

خط

فلپیانو ته ۳ : ۱۷- تر آخره پوري

## انجیل
### دَ مقدس مِتي ۲۲ : ۱۵ — ۲۲

---

## پس له اختر دَ تثلیث خلیرشتم اتوار
### دُعا

اي خداوندَ مونږ تا ته زارِي کوُو چه خپل امت ته خپل گناهونه عفوه کړه تا چه مونږ ستا په ډیر کرم سره دَ هغو ټولو گناهونو له بندونو نه چه مونږ دَ خپلي ناتوانۍ په سبب کړي دِي خلاص شو-اي آسمانِي پلاره دا راعنایت کړه خمونږ دَ مبارک خداوند او نجات راکونکي یسوع مسیح په وسیلي سره-آمین

### خط
### قلسیانو ته ۱ : ۳ — ۱۳
### انجیل
### دَ مقدس مِتي ۹ : ۱۸ — ۲۶

---

## پس له اختر دَ تثلیث پنځویشتم اتوار
### دُعا

اِي خداوندَ مونږ تا ته زارِي کوو چه دَ خپلو ایمان دارانو خواهشونو له ترغیب ورکړه تا چه دوي له خپلو نیکو کارونو نه ډیره میوه راوړي او له تا نه ډیر ثواب بیامومي خمونږ دَ خداوند یسوع مسیح په وسیلي سره-آمین

### خط
### په عوض دَ اَرمیا ۲۳ : ۵ — ۹
### انجیل
### دَ مقدس یوحنا ۶ : ۵ — ۱۵

که چیري دَ راتلو دَ اول اتوار نه ورنبي نور اتوارونه وِي نو په هغه اتوارونو کښ چه ورستي له ظهور نه پرېښودلي شوي ؤو مقرري دُعا او خط او انجیل هرځومره چه پکار وي وِ یوستلي شي او که دَ راتلو نه ورنبي دَ تثلیث اتوارونه له پنځویشتو نه کم وِي نو باقِي دِ پرېښودي شي لیکن په دي شرط چه دا ورستۍ دُعا او خط و انجیل دِ په هغه اتوار چه له راتلو نه ورنبي دَي بلا ناغه. ولوستلي شي

---

## دَ مقدس اندریاس ورځ
### دعا

اي قادرِ مطلقَ الله تا په خپل پاک رسول مقدس اندریاس باندِي فضل وکړ چه هغه ستا دَ زوی یسوع مسیح بلنه زر ومنله او بیدرنګه ورپسي شه مونږ ټولو ته چه ستا په پاک کلام سره بللي شوي یو دا راعنایت کړه چه په جلتۍ سره خپل ځان تا ته وسپارو او په تابعداري سره ستا



پاک حکمونه پوره کړو-خمونږ دَ هغه خداوند یسوع مسیح په وسیلي سره-آمین

### خط
### رومیانو ته ۱۰ : ۹-تر آخره پوري
### انجیل
### دَ مقدس مِتي ۴ : ۱۸ — ۲۲

---

## دَ مقدس توما رسول ورځ
### دُعا

اي قادرَ مطلقَ او حيّ القیومَ خدایَ چه تا دَ ایمان دَ زیات ثابت کولو دَپارَ خپل مقدس رسول توما دِ دَ خپل زوي دَ قیامت په باب شکمن پرېښود دا راعنایت کړه چه مونږ ستا په زوي یسوع مسیح باندِ داسي کامل او بې عیبَ ایمان راوړو چه هیڅکله خمونږ ایمان ستا په حضور قابل دَ ملامتیا نه وِي اي خداوندَ دَ هغي یسوع مسیح په سبب خمونږ ،واوره چه دَ تا او دَ رُوح القدس سره دِ ئې اوس او تر ابده پوري ډیر عزت او جلال وِي-آمین

### خط
### افسیانو ته ۲ : ۱۹- تر آخره پوري
### انجیل
### دَ مقدس یوحنا ۲۰ : ۲۴-تر آخره پوري

## دَ مقدس پولس دَ رجوع کیدلو ورځ
### دُعا

اي خدایَ چه تا دَ خپل مبارک رسول مقدس پولس له منادۍ نه دَ انجیل رڼا په تمامه دُنیا کښ وځلوله مونږ تا ته زارِي کوُو دا را عنایت کړه چه مونږ دَ هغه دَ عجیبه رجوع کیدو حال یاد کړو او دَ هغه په سبب دَ هغه په پاک تعلیم له عمل کولو نه تا ته خپله شکرگذارِي ظاهره کړو-خمونږ دَ خداوند یسوع مسیح په وسیلي سره-آمین

### خط
### په عوض دَ اعمال ۹ : ۱ — ۲۲
### انجیل
### دَ مقدس مِتي ۱۹ : ۲۷-تر آخره پوري

---

په هیکل کښ دَ مسیح دَ حاضریدو ورځ چه اکثر ورته

## دَ مقدسي بیبلي مریمي دَ طهارت ورځ ویلي شي
### دُعا

اي قادر مطلق او حيّ القیّومَ خدايَ مونږ په عاجزۍ سره ستا جَنابِ عالِي ته عرض کوُو چه لکه چه ستا

یګانه زوی نن ورځ په هیکل کښ
خمونږ دَ جسم په صورت حاضر کړې
شه دغهسې دِ مونږ هم دَ زړه په پاکۍ
او په صفائۍ سره ستا په حضور حاضر
کړې شو ستا دَ هغه زوی یسوع
مسیح خمونږ دَ خداوند په وسیلې
سره - آمین

خط

په عوض دَ ملاخي ۳ : ۱ — ۶

انجیل

دَ مقدّس لوقا ۲ : ۲۲ — ۴۱

---

## دَ مقدّس متیاس ورځ

دُعا

اي قادر مطلق الله تا چه دَ
خاین او دَ غدار یهودا په ځای خپل
ایمان‌دار متیاس دِ اختیار کړ چه
دَی دَ دوولسو رسولانو په شمار کښ
داخل شي دا را عنایت کړه چه
ستا کلیسیا له دروغجنو رسولانو
نه همیشه وساتلې شي او دَ
دیانت‌دارو او دَ معتبرو شپنو په
قطار او په هدایت کښ بیولې شي
خمونږ دَ خداوند یسوع مسیح په
وسیلې سره - آمین

خط

په عوض دَ اعمال ۱ : ۱۵ تر آخره پورې

انجیل

دَ مقدّس متي ۱۱ : ۲۵ تر آخره پورې

---

## دَ مبارکې پیغلې مریمې دَ زیږې مندلو ورځ

دُعا

اي خداوندَ مونږ تا ته زارې کوُو چه
خمونږ په زړونو کښ خپل فضل را توی
کړه لکه چه مونږ دَ یوې فرښتې له پیغام
نه ستا دَ زوی یسوع مسیح دَ مُجسّم
کیدلو حال معلوم کړې دَی دغهسې
دَ دَه دَ مصلوب کیدلو او دَ بیا ژوندي کیدلو
په سبب مونږ هم دَ دَه دَ قیامت جلال
ته ورسیدې شوُ خمونږ دَ هغه خداوند
یسوع مسیح په وسیلې سره - آمین

خط

په عوض دَ اشعیا ۷ : ۱۰ - ۱۶

انجیل

دَ مقدّس لوقا ۱ : ۲۶ — ۳۹

---

## دَ مُقَدَّس مرقس ورځ

دُعا

اي قادر مطلق الله تا دَ خپل مُبشّر



مرقس له آسمانې تعلیم نه دَ خپلې
مقدسې کلیسیې تربیت کړې دَی په
مونږ باندِ فضل وکړه چه مونږ دَ
هلکانو په شان دَ هریو دروغژن
تعلیم په بوربوکي سره وانه لوزولي
شو بلکه ستا دَ پاک انجیل په رښتیا
باندِ مضبوط شو - خمونږ دَ خداوند
یسوع مسیح په وسیلې سره - آمین

خط

افسیانو ته ۴ : ۷ — ۱۷

انجیل

دَ مقدّس یوحنّا ۱۵ : ۱ — ۱۲

---

## دَ مقدّس فیلبوس او دَ مقدّس یعقوب ورځ

دُعا

اي قادرِ مطلق الله ستا په حقیقي
پیژاندلو کښ ابدي ژوندون دَی
دا را عنایت کړه چه مونږ په تحقیق
سره پوه شو چه ستا زوی یسوع
مسیح لار او رښتیا او ژوندون دَی
تا چه ستا دَ مقدّسو رسولانو مُقدّس
فیلبوس او مقدّس یعقوب په قدمونو
باندِ په ثابت‌قدمۍ سره په هغه
لار باندِ چه همیشه ژوندون ته
رسوې لاړ شو ستا دَ هغه زوی
خمونږ دَ خداوند یسوع مسیح په
وسیلې سره - آمین

خط

دَ یعقوب ۱ : ۱ — ۱۳

انجیل

دَ مقدّس یوحنّا ۱۴ : ۱ - ۱۵

---

## دَ مقدّس برناباس رسول ورځ

دُعا

اي خداوندَ الله قادرِ مطلقَ تا
خپل مقدّس رسول برنابا‌س ته دَ
رُوحُ القُدُس خاص نعمتونه ورکړل
مونږ تا ته زارې کوُو چه ته له خپلو
رنګارنګو نعمتونو نه مونږ محرومَ مه کړه
او نه له خپل فضل نه تا چه مونږ
ئې ستا دَ عزت او دَ جلال دَ پاره
همیشه استعمال کړُو - خمونږ دَ خداوند
یسوع مسیح په وسیلې سره - آمین

خط

په عوض دَ اعمال ۱۱ : ۲۲ - تر آخره پورې

انجیل

دَ مقدّس یوحنّا ۱۵ : ۱۲ — ۱۶

---

## دَ مقدّس يوحنّا بپتسما وركوونكي ورځ

دُعا

اي قادر مطلقَ الله ستا له تدبير نه ستا بنده يوحنّا بپتسما وركوونكي په عجيبه طور سره پيدا شه او دَ توبي دَ منادئِ دَپارَ او ستا دَ زوي څښتن دَ نجات راكوونكي دَ لاري دَ تيارولو دَپارَ واستولي شه داسي وكړه چه موږ دَ هغه دَ تعليم او دَ مقدّس خوي خصلت داسي پيرو شُو چه دَ هغه دَ وعظ په موافق رښتني توبه وكړُو او دَ هغه په شان هميشه رښتيا وايُو په زړه ورتيا سره گُناه منع كړُو او په صبر سره دَ حق دَپارَ درد وزغمُو - څښتن دَ خداوند يسوع مسيح په وسيلي سره - آمين

خط

په عوض دَ اشعيا ۴۰ : ۱ — ۱۲

انجيل

دَ مقدّس لوقا ۱ : ۵۷ - تر آخره پوري

---

## دَ مقدّس پطرس ورځ

دُعا

اي قادر مطلقَ الله تا دَ خپل زوي يسوع مسيح په وسيلي - خپل مُقدّس رسول پطرس ته ډېر بنسه نعمتونه وبخښل او په تاكيد سره دِ ورته وفرمايل چه څما رمّه وڅروه موږ تا ته زاري كوُو چه ته داسي وكړه چه ټول اُسقُفان او شپانه كوشش وكړي چه ستا پاك كلام واوروي او خلق ئِي په تابعدارئِ سره ومني تا چه هغوي دَ هميشه دَ جلال تاج بياموي - څښتن دَ خداوند يسوع مسيح په وسيلي سره - آمين

خط

په عوض دَ اعمال ۱۲ : ۱ — ۲

انجيل

دَ مقدّس متّي ۱۶ : ۱۳ — ۲۰

---

## دَ مقدّس يعقوب رسول ورځ

دُعا

اي رحيمَ خدايَ دا راعنايت كړه لكه چه ستا مقدّس رسول يعقوب خپل پلار او خپل هرڅه پرېښودل او دَ يسوع مسيح زوي ستا دعوت ئِي بي درنگه ومانه او ورپسي شه دغسي دِ موږ هم تمام دنيوي او جسماني خواهشونه پرېږدو او تل دِ مستعد اوسُو چه ستا پاك حكمونه په ځاي



راوړو - په وسيلي سره دَ يسوع مسيح خداوند څښتن - آمين

خط

په عوض دَ اعمال ۱۱ : ۲۷ - تر آخره پوري او ۱۲ : ۱ — ۳

انجيل

دَ مقدّس متّي ۲۰ : ۲۰ — ۲۹

---

## دَ مقدّس برتولما رسول ورځ

دُعا

اي قادر مطلقَ او ازلي خدايَ تا په خپل رسول برتولما بانِدِ فضل وكړ چه ستا په كلام بانِدِ ئِي په حق سره ايمان او وعظ ئِي وكړ موږ تا ته زاري كوُو چه خپلي كليسي ته توفيق وبخښه چه په هغه كلام چه ده پرِ ايمان راوړي دَي مينه وكړي او دَ هغه منادي وكړي او هم ئِي ومني څښتن دَ خداوند يسوع مسيح په وسيلي سره - آمين

خط

په عوض دَ اعمال ۵ : ۱۲ — ۱۷

انجيل

دَ مقدّس لوقا ۲۲ : ۲۴ — ۳۱

---

## دَ مقدّس متّي رسول ورځ

دُعا

اي قادر مطلقَ الله تا دَ خپل مبارك زوي په معرفت سره متّي دَ محصول له څوكئِ نه راوباله او رسول او مبشّر دِ مقرّر كړ په موږ بانِدِ فضل وكړه چه هر شان طمعَ او دَ دولت بي ځايه مينه پرېږدو او دَ هغه ستا زوي يسوع مسيح پيروي وكړُو چه دَ تا او دَ روحُ القُدس سره يو الله تر ابدَ پوري ژوندي او سلطنت كوي - آمين

خط

۲ قرنتيانو ته ۴ : ۱ — ۷

انجيل

دَ مقدّس متّي ۹ : ۹ — ۱۴

---

## دَ مقدّس ميكائيل او دَ ټولو فرښتو ورځ

دُعا

اي ابدي الله تا په عجب شان سره دَ فرښتو او دَ سړو خدمتونه قايم او مقرّر كړي دِي په كرم سره عنايت وكړه لكه چه ستا مقدّسي فرښتي په آسمان كښ هميشه ستا خدمت په ځاي راوړي دغهسي دِ ستا دَ مقرّرتيا په موجب په زمكه بانِدِ دوي څښتن مدد او حمايت وكړي - څښتن دَ خداوند يسوع مسيح په وسيلي سره - آمين

خط

په عوض دَ مكاشفات ۱۲ : ۷ - ۱۲

انجیل

دَ مقدّس متّي ۱۸ : ۱ — ۱۰

## دَ مقدّس لوقا مبشّر ورځ

دُعا

اي قادر مطلقَ خدایَ تا لوقا طبیب چه دَ چا تعریف په انجیل کښ دي راوباله چه مبشّر او دَ روحونو طبیب وِي ستا مرضي وِي چه دَ ده دَ تعلیم له شفا ورکوونکو دارو نه خمونږ دَ روحونو ټول رنځونه دفع شي خمونږ دَ خداوند یسوع مسیح ستا دَ زوي دَ ثواب په وسیلي سره-آمین

خط

۲ طیمطاوُس ته ۴ : ۵ — ۱۰

انجیل

دَ مقدّس لوقا ۱۰ : ۱ — ۸

## دَ مقدّس شمعون او دَ مقدّس یهودا رسولانو ورځ

دُعا

اي قادر مطلقَ الله تا دَ رسولانو او دَ نبیّانو په بنیاد باندِ خپله کلیسیه جوړه کړه چه دَ هغي دَ کټ کاڼړي پخپله یسوع مسیح دَي مونږ ته دا راعنایت کړه چه دَ هغو په تعلیم سره دَ روح په یکتائي کښ مونږ داسي پیوست شُو چه یو مُقدّس هیکل ستا مقبول جوړ شُو-خمونږ دَ خداوند یسوع مسیح په وسیلي سره-آمین

خط

دَ مقدّس یهودا ۱ — ۹

انجیل

دَ مقدّس یوحنّا ۱۵ : ۱۷ تر آخره پورِي

## دَ ټولو مقدّسانو ورځ

دُعا

اي قادر مطلقَ الله تا چه غوره کړي خپل دَ خپل زوي خمونږ دَ خداوند مسیح دَ مجازِي بدن په رفاقت او په شراکت کښ یوځاي کړي دِي په مونږ باندِ فضل وکړه چه ستا دَ مبارکو مقدسانو په تمامي نیکئ اودَ دیندارئ په خوي خصلت کښ داسي پیروِي وکړو تا چه هغو بیبیانو خوشحالیو ته ورسو چه تا دَ هغو دَپارَ تیاري کړي دِي چه له تا سره بي ریا مینه لري-خمونږ دَ خداوند یسوع مسیح په وسیلي سره-آمین

خط

په عوض-دَ مکاشفات ۷ : ۲ — ۱۲

انجیل

دَ مقدّس متّي ۵ : ۱ — ۱۲



# ترتیب په شریک کیدو دَ عشائ ربّانِئ

## یعني دَ پاک رفاقت

هر څومره خلق چه غواړي چه په پاک رفاقت کښ شریک شي کم له کم نه یوه ورځ وړاندې دِ خپل امام ته خبر وکړي

که له هغو نه څوک بدچلنه مشهور وِي یا ده په خپل قول یا فعل سره دَ خپل ګاونډِي څه نقصان کړي وِي داسي چه له دي سبب نه جماعت تر ناراض وِي هرکله چه خادم الدّین پر آګاه شي نو دَي دِ راوبولِي او ووه ئي دِ کړي چه دي هیڅري دَ خداوند دسترخوان ته دَ تلو زړه ورتیا و نه کړي تر هغه پوري چه ده ظاهر کړي نه وِي چه ذ زړه له صدق نه ئي دَ خپلو ورستینو کارونو نه توبه ویستلي ده تا چه جماعت چه له ده نه ناراض وه راضي شي او دا چه ده دَ هرچا چه نقصان ئي کړي وه هغوي ته عوض ورکړي یا چه اقرار وکړي چه په موقع سره دَ عوض ورکولو پوره اراده لرم

په دا شان هم امام دِ وکړي دَ هغو خلقو په باب چه ئي کوري چه په مینځ دَدوي کښ بُغض اوکینه شته او تر هغه پوري چه ورته معلوم نه وِي چه دَدوي په مینځ کښ صلح شوي دَه نو دوي دِ دَخداوند په دسترخوان شریک نه کړي-او که له طرفین نه یو طرف په زړه سره دَ بل طرف په معافِ دَ ټولو بدیو او دَ هغه تمامو نقصانونو چه له ده نه شوي وِي دَ ادا کولو دَپارَ تیار وِي او بل طرف په دینِي رفاقت سره نه راضِي کیږي بلکه په خپل ضد اوکینه ټینګ وِي نو په دي حال کښ بایده دِي چه قسیس دِ هغه توبه کوونکيَ په پاک رفاقت کښ شریک کړي لیکن نه هغه چه سرکش وِي - مګر هر خادمُ الدّین دِ په دي شان لکه چه دَدي سرخئِ په تفصیل یادَ وړاندې سرخئِ په تفصیل کښ ذکر وشه چه څوک منع کړي نو هغه له ضرور دِي چه حاکمِ شرع یعني اُسقُف ته دِ دَدي خبري اطلاع دَ څوارلسو ورځو په عرصه کښ ورکړي او حاکمِ شرع دِ په موافق دَقانون په باب دَ هغه سړي کښ دِ عمل وکړي

په وقت دَ رفاقت کښ دِ په میز باندِ دِ یو صاف سپین کتانِي ټکر وغوړولي شي او دَګرجي په مینځ کښ یا په محراب کښ چرته چه لوستل دَ سحر او دَ نماښام دَ نمانځه مقرّر دِي کیښوولي شي او قسیس دِ دَ میز په شمال طرف ولاړ وِي او دَ خداوند دُعا دِ دَدي لاندِ دُعا سره ولولي او جماعت دِ زنګونونه لګولي وِي +

اي ځمونږ پلارَ چه په آسمانونو کښې يې ستا دَ نوُم پاکي دِوِي بادشاهت ستا دِ راشي- رضا ستا لکه چه په آسمان پوره کيږي په زمکه دِ هم شي- ځمونږ دَ نن ورځي روډۍ نن مونږ له راکړه- او تقصيرونه ځمونږ عفوه کړه چه مونږ هم هر تقصيروار خپل بخښو- او مونږ په آزميښت کښې مه راوله بلکه له هغه شرير نه مو وساته -آمين

دُعا

اي قادرِ مطلقَ الله چه تا ته دَ ټولو زړونو حال ظاهر دَي دَ ټولو مرادونه معلوم.او له تا نه هيڅ راز پټ نه دَي دَ خپل روحُ القُدس په اِلهام سره ځمونږ دَ زړونو خيالونه پاک کړه تا چه مونږ تا سره کامله مِينه ولرُو او ستا دَ پاک نوُم لايق تمجيد وکړُو -ځمونږ دَ خداوند يسوع مسيح په وسيلي سره- آمين ÷

پس له هغه قسيس دِ دَخلقو په طرف راوګرزي اولس حکمونه دِ په صاف آواز سره واوروِي او خلق دِ زنګونونه لګولي اوسي او په هر حکم پسي دِ له الله نه دَ هغه خطا ګولو دَپارَه چه په وراندِي وقت کښې ورنه شوي ده رحم غواړي او دَ خپل فضل دَپار چه آينده-ئې هم وساتي لکه چه ليکلي دِي

امام- الله دا خبري و فرمايلي او وئي ويل چه زه يهوه ستا الله يم بي له ما نه دِ ستاسو دَپارَ نور خدايان نه وِي

خلق- اي خداوندَ په مونږ بانْدِ رحم وکړه او دَدي حکم په منلو ځمونږ زړونه مايل کړه

امام- ته دَ ځان دَپارَ هيڅ تراشلي بُت يا دَ هيڅ څيز صورت چه پورته په آسمان بانْدِ يا کښته په زمکه بانْدِ يا په اوبو کښې دَ زمکي لانْدِ دِي مه جوړوه ته هغوي ته سجدهٔ مکوه او نه دَ هغوي عبادت کوه ځکه چه زه يهوه ستا الله غيرتناک الله يم او دَ پلرونو نيکونو دَ ګناهونو سزا دَ هغوي اولاد له چه له ما سره دُښمني لري تر دريمي څلورمي پيړۍ پوري ورکوم او په زرګونو بانْدِ چه له ما سره مينه کړِي او ځما حکمونه مني رحم کوم

خلق- اي خداوندَ په مونږ بانْدِ رحم وکړه او دَدي حکم په منلو ځمونږ زړونه مايل کړه

امام- ته دَ يهوه خپل الله نوُم عبث مه آخله ځکه چه څوک دَ هغه نوُم عبث اخلِي نو يهوه به هغه بيګناه و نه شميري

خلق- اي خداوندَ په مونږ بانْدِ رحم وکړه او دَدي حکم په منلو ځمونږ زړونه مايل کړه

امام- ته دَ سبت ورځ پاکه وګڼړه او ياد ئې ولره شپږ ورځي ته محنت او خپل ټول کاروبار کوه ليکن اوومه ورځ دَ يهوه الله ستا سبت دَي په هغي کښې هيڅ کار مه کړه نه ته نه ستا زوي نه ستا لوُر نه ستا مريي نه ستا وينځه نه ستا څاروي نه بيګانه چه ستا په دروازه کښې دننه وِي ځکه چه يهوه په شپږو ورځو کښې آسمان او زمکه او تالي دريابَ او هر څه چه په هغوي کښې دِي جوړ کړل او په اوومه ورځ ئې آرام وکړ له دي سببه يهوه دَ سبت ورځي له برکت ورکړي دَي او هغه ئې پاکه کړي دَه

خلق- اي خداوندَ په مونږ بانْدِ رحم وکړه او دَدي حکم په منلو ځمونږ زړونه مايل کړه

امام- ته دَ خپل پلار او دَ خپلي مور عزت کوه دَ دي دَپارَ چه ستا ورځي په هغي زمکي بانْدِ چه يهوه الله ستا ئې تا له درکړي اوږدي شي

خلق- اي خداوندَ په مونږ بانْدِ رحم وکړه او دَدي حکم په منلو ځمونږ زړونه مايل کړه

امام- ته خون مه کوه

خلق- اي خداوندَ په مونږ بانْدِ رحم وکړه او دَدي حکم په منلو ځمونږ زړونه مايل کړه

امام- ته زنا مه کوه

خلق- اي خداوندَ په مونږ بانْدِ رحم وکړه او دَدي حکم په منلو ځمونږ زړونه مايل کړه

امام- ته غلا مه کوه

خلق- اي خداوندَ په مونږ بانْدِ رحم وکړه او دَدي حکم په منلو ځمونږ زړونه مايل کړه

امام- ته په خپل ګاونډي بانْدِ دَ دروغو شاهدي مه لوه

خلق- اي خداوندَ په مونږ بانْدِ رحم وکړه او دَدي حکم په منلو ځمونږ زړونه مايل کړه

امام- ته دَ خپل ګاونډي دَ کور طمعَ مه کوه ته دَ خپل ګاونډي دَ ښځي طمعَ مه کوه نه ئې دَ مريي

نه ئي دَ وښتو نه ئي دَ غوښي نه ئي وَ څره او نه ئي دَ نور څيز چه دَ هغه دي

خلق - اي خداوندَ مونږ تا ته منّت کوُو په مونږ بانډِ رحم وکړه او دا ټول حکمونه ستا څمونږ په زړونو بانډِ نقش کړه

پس قسيس دِ ولاړ وي لکه چه اوّل وه او له دي دوؤ دُعاؤ نه چه دَ ملکي معظمي دَپارَ دي يوه دِ ولولي

## مونږ دِ دُعا وغواړُو

اي قادرِ مطلقَ الله چه ستا بادشاهي ازلي او قدرت دِ بي حدّه دَي په تماميَ کليسي بانډِ رحم وکړه اودَ خپلي غوري کړي شوي خادمي وکټوريٰ څمونږ دَ سلطاني عظيمُ الشّاني او حاکمي قيصرِ هند زړه ته داسي هدايت وفرمايه چه داخپل ځان ستا خادمه وګڼړي او له ټولو خبرو نه زياتَ ستا دَ عزّت او دَ جلال طلب وکړي او مونږ دَ هغي تمام رعيّت دِ په دي ښه پوه شُو چه دي دَچا له طرف نه اختيار مندلي دَي ستا په سبب او ستا دَپارَ او په موافق ستا دَ مقدّس کلام او دَحکم په وفادارئِ سره دَ هغي خدمت او عزّت وکړو او په عاجزئِ سره ئي تابعدار شُو - څمونږ دَ خداوند يسوع مسيح په وسيلي چه دَ تا او دَ روحُ القُدس سره هميشه واحد الله تر ابدَ پوري ژوندي او سلطنت کوي - آمين ÷

يا دا

اي قادرِ مطلقَ او ازلي خدايَ مونږ ته ستا دَ پاک کلام نه دا ښوولي شوي دي چه دَ بادشاهانو زړونه ستا په حکم او په اختيار کښ دي او چه ته دَخپل حکمت الٰهي په موافق هر طرف ته چه ستا خوښ وي په هغه طرف هغوي مايل او متوجّه کوي مونږ په عاجزئِ سره تا ته زاري کوُو چه ته دَخپلي خادمي څمونږ دَ سلطاني عظيم الشّاني قيصرِ هند وکټوريٰ زړه ته داسي هدايت اوحکومت وفرمايه چه دا په خپلو ټولو خيالونو اوخبرو او کارونو کښ هميشه ستا دَ عزّت او دَجلال طالبه اوسي او کوشش وکړي چه ستا اُمّت چه دَ هغي په سپردِ کښ دَي په اقبالمندئ په سلامتئ او په ديندارئ سره ئي وساتي - اي رحيمَ پلارَ دَ خپل عزيز زوي څمونږ



دَ خداوند يسوع مسيح په روي دا راعنايت کړه - آمين

پس له دي دِ دَ هغي ورځي دُعا ولوستلي شي او پس له لوستلو دَ هغي دُعا قسيس دِ خط ولولي اودِ وائي چه خط (يا په عوض دَ خط مقرري حصه دَ کلامُ الله) دَ فلاني کتاب دَ فلاني باب له فلاني آيت نه شروع کيږي - او هرکله چه خط تمام شي نو دِ وائي چه خط دلته تمام شه - پس له هغي نه دِ جماعت ودريږي او قسيس دِ انجيل ولولي او دِ وائي - چه دَ مقدّس انجيل دَ فلاني کتاب دَ فلاني باب او له فلاني آيت نه شروع کيږي - او هرکله چه انجيل ولوستلي شي نو عقيده چه لاندِ ليکلي شوي ده ولوستلي يا دِ وغږولي شي او جماعت دِ دَ ورانډِ په شان ولاړ اوسي

زه ايمان لرم په واحد الله قادرِ مطلق پلار بانډِ - چه دَ آسمان او دَ زمکي او دَ ټولو ليدونکو اودَ ناليدونکو څيزونو صانع دَي

او په يو خداوند يسوع مسيح بانډِ چه دَ الله ابنِ وحيد دَي - پيدا له ټولو زمانو نه له خپل پلار نه مولود - له الله نه الله - له نُور نه نُور - نه برحق الله نه برحق الله - مصنوع نه دَي بلکه مولود - دَ زه اودَ پلار يو جوهر ذات دَي - دَ ده په وسيلي سره ټول څيزونه موجود شول - دَي څمونږ بني آدمو دَپارَ او څمونږ دَ نجات دَپارَ له آسمانونو نه راکوز شه - او دَ روحُ القُدس په وسيله له پيغلي مريمي نه مجسّم شه - اوانسان شه - او دَ پنطوس پيلاطس په حکومت کښ څمونږ دَپارَ په صليب هم شه - درد ئي وزغامه - او ښخ کړي شه - او په دريمه ورځ دَ صحيفو په موافق ژوندي شه - اوآسمانونو ته وختوت - او دَ پلار په ښي لاس ناست دَي - او په جلال سره به دَ ژوندو او دَ مړو انصاف کولو دَپارَ بيا راځي - دَ ده دَ بادشاهئ آخر به نه وي

او زه ايمان لرم په روح القُدس بانډِ چه خداوند اودَ ژوندون بخښونکي دي - چه له پلار اوله زوي نه وتونکي دَي - چه دَ پلار او دَ زوي سره ئي عبادت او تعظيم کيږي - چه دَ نبيانو په ژبه ئي وويل

او زه ايمان لرم په يوي کاتلکي او رسولي کليسي بانډِ - په يوي بپتسمي چه دَ ګناهونو دَ عفوي دَپارَ دَه - او زه دَ مړو دَ پاځيدو او دَ

راتلونکي جهان د ژوندون منتظر يو - آمين

يا د امام جماعت ته د ټولو اختروِنو يا د روژو د ورځو چه په آينده هفته کښي منلي کيږي خبر ورکړي او په دي وقت کښ که ضرور وي نو د عشائ رباني اطلاع د هم ورښي او اشتهار او طلب د حاضرۍ او د کليسيا نه د چا د خارجولو اظهار د واورولي شي - او د عبادت په وقت په کړجي کښ د د شيخ خبري اشتهار ورنه کړي شي بې د امام نه او هغه د هم د هغو اشتهار ورکړي چه د دي کتاب په قواعدو کښي مقرر وي چه د ملکي يا د حاکم د شرع له طرف نه مقرر وي -

پس له هغه نه د وعظ واورولي شي يا هوميليه يعني له مقرري وعظونو نه چه مقرر شوي دي يا آينده په حکم سره چه مقرر شي يو د ولوستلي شي

پس قسيس د د خداوند ميز ته بيرته وګرزي او د نذر ورکولو دستور د شروع کړي او د لاندي آيتونو نه د يو يا زيات موافق د خپلي راي ولولي

ستاسو روښنائي د د انسان د وړاندي داسي وځليږي چه دوي ستاسو ښه کارونه ووينې او ستاسو د پلار چه په آسمانونو کښ دي تمجيد وکړي - مقدس متي ۵ - ۱۶

خزاني د خپل ځان د پاره په زمکه کښ مه جمع کوئ چه هلته چينجي او زنګ خرابوي او غل کنهډ او غلا کوي ئې بلکه خزاني د خپل ځان د پاره په آسمان کښ جمع کوئ چه هلته چينجي او زنګ ئې نه خرابوي او نه ئې غل په کنهډ کولو غلا کولي شي - د مقدس متي ۶ - ۱۹ و ۲۰

هرڅه چه تاسو غواړئ چه خلق له تاسو سره وکړي هم هغه تاسو له هغوي سره وکړئ چه هم دغه تورت او خلاصه د نبيانو ده - د مقدس متي ۷ - ۱۲

نه هرڅوک چه ما ته خداوند خداوند وائي د آسمان په بادشاهئ کښي به داخل شي بلکه هغه چه خما د آسمانونو پلار په رضا ځي - د مقدس متي ۷ - ۲۱

ذکي ودريده او خداوند ته ئې وو چه اي خداوند ګوره چه زه نيم مال خپل غريبانو ته ورکوم او که د چا مې نقصان کړي وي نو هغه په څلورچنده ورکوم - د مقدس لوقا ۱۹ - ۸

څوک له خپل خرڅ نه کله سپاه ګيري کوي يا څوک د انګورو باغ لګوي او ميوه ئې نه خوري يا څوک کنډک څروي چه د هغه کنډک شوده نه څښي - د اول خط د قرنتيانو ۹ - ۷



که مونږ ستاسو د پاره روحاني څيزونه کرلي دي نو دا کومه لويه خبره ده چه مونږ به ستاسي جسماني څيزونه وريبو + د اوّل خط د قرنتيانو ۹ - ۱۱

کنږه تاسي نه پوهيږئ چه هغه چه د پاکو څيزونو کار کوي له هيکل نه خوري هغوي چه په قربانګاه کښ حاضري له قربانګاه سره شريک دي دغهسي خداوند هم فرمايلي دي چه د انجيل اوروونکي له انجيل نه نه ژوندون کوئ + د اوّل خط د قرنتيانو ۹ - ۱۳ و ۱۴

هرڅوک چه په صرفه کړي په صرفي سره به لو کړي او هغه چه په برکتونو سره کړي په برکتونه سره به لو کړي - هر يو لکه چه په خپل زړه کښ مقرره وي ورد کړي نه له خفقان نه او نه له ناچاريئ نه څکه چه په خوشحاليئ سره ورکوونکي بانډ الله مينه کوئ + د دويم خط د قرنتيانو ۹ - ۶ و ۷

هر هغه څوک چه د کلام تعليم موي نو معلّم د په ټولو ښيګڼو کښ شريک کړي تاسي فريب مه خورئ الله په مسخرو سره غليدلي نه شي چه سړي هر هغه چه وکړي هم هغه به لو کړي + د ګلاتيانو ۶ - ۶ و ۷

تر هغه پوري چه مو فرصت وي له ټولو سره د ښيګړه وکړو خصوصاً له اهلِ ايمانو سره + د ګلاتيانو ۶ - ۱۰

تقويٰ له قناعت سره هم دغه عظيم تجارت دي څکه چه مونږ دي عالم ته هيڅ څيز رانه يستلي نه دي او نه توانيږو چه څه به وړه وباسو + د اوّل طيمطاوس ۶ - ۶ و ۷

د دي جهان دولتمندو ته حکم ورکړه چه دوي د په سخاوت بانډ مستعد او په ويشلو بانډ د خوشحاله اوسي او آينده د د خپل ځان د پاره يو نيک بنياد پيدا کړي تاچه د هميشه ژوندون ته ورسيږي + د اوّل طيمطاوس ۶ - ۱۷ و ۱۸ و ۱۹

خداي بي انصافه نه دي چه دي به ستاسي د کار او د هغه محبّت محنت به هير کړي چه تاسي د ده په نامه بانډ ښکاره کړي دي چه د مقدّسانو خدمت مو کړي دي او کوونکي يئ + د عبرانيانو ۶ - ۱۰

نيکي کول او شراکت کول مه هيروئ چه له داسي قربانيو نه الله ډير خوشحاليږي د عبرانيانو ۱۳ - ۱۶

هرچا څخه چه د دي دنيا مال وي

او دي خپل ورور محتاج وویني او
خپل ځان له رحم نه بند ولري نو
څرنګ دَ الله محبت به په هغه کښ
اوسي + دَ اوّل یوحنا ۳ — ۱۷

له خپل مال نه خیرات وکړه او
هیڅکله خپل مخ دَ هیڅ محتاج له طرف
نه مه ګرزوه نو مخ دَ خداوند به ستا
له طرف نه و نه ګرزولي شي توبت ۴ — ۷

څو چه دِ وس وي رحم کوه که تا
سره ډیرڅه وي نو په ارت لاس سره
ورکوه که تا سره لږ وي نو کوشش
وکړه چه په خوشحالئ سره له هغه لږ
نه څه ورکړي چه په دي شان دَ ضرورت
دَ ورځي دَ پاره نیک اجر به جمع کړي +
توبت ۴ — ۸ و ۹

هغه چه په مسکینانو باندِ رحم
کوي نو خداوند ته پور ورکوي او کوم
هرڅه چه ده ورکړي وي هغه به
بیامومي + امثال ۱۹ — ۱۷

مبارک دَي هغه سړي چه دَ
مسکینانو غور کوي خداوند به ئې
دَ آفت په ورځ کښ رها وکړي +
زبور ۴۱ — ۱

هرکله چه دا آیتونه لوستي شي ډیکنان

یا دَ کلیسي حافظین یا بل
څوک لایق سړي چه دَ دي کار دَ پاره مقرر وي
دَ غریبانو دَ پاره دَ جماعت خیرات او نذرونه دِ په یو
ښه لوښي کښ چه اهل جماعت دَ دي کار دَ پاره جوړ
کړي وي جمع دِ کړي او په ادب سره دِ قسیس ته
راوړي او هغه دِ په عاجزئ سره پیش کړي او دَ پاک
میز دپاسه دِ کیږدي

او هرکله چه پاک رفاقت وي نو قسیس دِ ډوډئ
دوډئ او شیره دَ انګورو په میز باندِ کیږدي چه
دَ ده په فکر کښ ضرور وي

پس له دي دِ قسیس دا دوایي

مونږ دَ مسیح دَ تمامي کلیسي
دَ پارَ چه په دي روي زمین
باندِ په روحاني جنګ کښ دَه
دُعا غواړو

اي قادرَ او حيّ القیومَ الله تا دَ خپل
مُقَدّس رسول په معرفت مونږ ته
ښوولي دي چه دُ ټولو خلقو دَ پار دُعا
او سفارشونه او شکرګذاري وکړو مونږ
په عاجزئ سره تا ته زاري کوو چه
ته په کاملي مهربانئ سره (خمونږ خیرات
او نذرونه) او که خیرات او نذرونه نه
خمونږ دا دُعاګاني وي نو الفاظ خمونږ خیرات او
چه مونږ ستا دَ نذرونه دِ پرېښودي شي
جنابِ اعلیٰ په حضور کښ پیش کوو



قبوله ئې کړه مونږ تا ته زاري کوو چه
همیشه په خپله کلیسیاي جامع کښ
دَ رښتیئ او دَ یګانګت او دَ موافقت
رُوح واچوه او دا را وبخښه چه ټول
چه ستا دَ پاک نامه اقرار کوي ستا
دَ مُقَدّس کلام دَ رښتیني مضمون په باب
کښ متفق شي او په یګانګت او په الٰهي
محبت سره خپل ژوندون تیر کړي - او
مونږ تا ته زاري کوو چه ته ټول مسیحي
بادشاهان او سُلطانان او حاکمان
وساته او محفوظ ئې ولره خصوصًا خپله
خادمه خمونږ ملکه وکټوریه قیصرِ
هند چه دَ دي ماتحت په مونږ باندِ دینداري
او په سلامتیا سره حکومت وکړي شي او
دَ هغې تمام صلاحکارو او هغو ټولو
ته چه دَ هغې له طرف نه اختیار لري
دا عنایت کړه چه دوي په رښتیئ سره
بي له طرفداریئ نه دَ شرارت او دَ بدئ
سزا او ستا دَ حق دین او دَ نیکئ دَ
پایداريئ دَ پارَ عدالت وکړي - اي آسماني
پلارَ په ټولو اُسقفانو او دَ دین په
کشیانو باندِ فضل وکړه چه دوي
له خپل خوي خصلت او له
تعلیم نه ستا دَ رښتیا او دَ ژوندي
کلام قوّت ظاهر کړي او ستا دَ

پاکو سکرمنتونو په درستئ او په حق طور
سره خدمت وکړي او خپل ټول اُمت
ته خپل آسماني فضل ورکړه او خاص
په دي جماعت چه دلته حاضر دَي
چه دَ زړه په غریبئ او په ښایسته
ادب سره ستا مُقَدّس کلام واوري
او قبول ئې کړي او په پاکیزګئ او صداقت
سره تمام عمر ستا عبادت په زړه
سره په ځاي راوړي - او اي خداوندَ
مونږ په ډیري عاجزئ سره تا ته زاري
کُوو چه ته په مهربانګئ سره دَ هغو ټولو
چه په دي فاني ژوندون کښ په تکلیف
په غم په محتاجئ په رنځورئ یا په بل
څه مصیبت کښ ګرفتار دي تسلي
او مدد وکړه - او ستا دَ هغه ټولو
بندګانو دَ پارَ چه په ایمان او ستا
په خوف سره له دي جهان نه ئې کړچ
کړي دَي ستا دَ پاک نوم حمد او شکر
کوو او تا ته زاري کوو چه په مونږ باندِ
فضل وکړه چه دَ هغوي نیکي نموني
په دي شان اختیار کړو چه له هغو
سره ستا په آسماني بادشاهت کښ
شریک شُو - اي پلارَ دَ یسوع مسیح
په خاطر چه خمونږ یوازي میانځي ګړي
او شفیع دَي دا را وبخښه + آمین

هرکله چه اسلام دَ پاک رفاقت خبر ورکړي (او مغه دِ دا خبره همیشه په مغه اول یا په مغه اخترورکړي چه دَ رفاقت له ورځي نه وړاندِ وي) نوچه وعظ یا حیلیهه تمام شي پس دا نصیحت چه لاندِ دَي ودِ لوستلي شي

اي محبوبانو ځما اراده دَه چه (په فلاني ورځ) دَ الله په مدد سره هغو ټولو ته چه دَ دینداري او دَ تقوی په طرف متوجه وِي دَ مسیح دَ بدن او دَ وینو ډیر تسلي بخښونکي رفاقت ورکړم چه دوي ته دَ مسیح دَ واجبُ الاجر صلیب او دَ درد دَ زغملو په یادګاري کښ اخلِي چه صرف دَ هغه په وسیله مونږ دَ خپلو ګناهونو معافي مومو او دَ آسمان په بادشاهي کښ شریک کیږو دَ دي دَپارَ په مونږ باندِ واجب دِي چه دَ زړه په کاملي عاجزئ سره دَ خپل آسماني پلار قادر مطلق الله شکر ادا کړو ځکه چه ده خپل زوي ځمونږ نجات راکونکي یسوع مسیح نه فقط ځمونږ دَپارَ مړکیدلو له بلکه دَ دي دَپارَ هم راکړي دَي چه په دي پاک رفاقت کښ ځمونږ روحاني خوراک او قوّت شي- چه دا یو خدائ او تسلي ورکونکي شيَ دي دَ هغو دَپارَ چه دَ شکرګذاري په طور سره يُ آخلِي او دَ هغو دَپارَ چه په ګستاخئ سره يُ دَ ناشکرګذارئ په طور سره آخلِي سَو. خطرناک دَي- دَ دي دَپارَ په ما باندِ فرض دِي چه تاسو پوه کړم چه په دي عرصه کښ دَ دي پاک راز په مرتبه فکر وکړِي اوچه څومره لوي خطره دَه که څوک يُ دَ ناشکرګذارئ طور سره آخلِي- او تاسو خپل زړونـــه وآزمـــائئ (نه په سپکوالي سره او نه دَ هغو په شان چه له الله سره ټکي کوي بلکه) په دي شان چه تاسو پاک او صاف داسي آسماني میلمستیا ته راشئ دَ هغي واده په جامي کښ لکه چه الله په کلام مُقَدَّس کښ حکم کړي دَي او دَ دي پاک میز لایق او مقبول میلمانه شئ

دَ هغو طریقي او شان دا دَي- چه اوّل تاسو خپل خوي خصلت او ګُفتـــار دَ الله دَ حکمونو په قاعده سره وازمائِ اوچه په هره هره خبره کښ یا له نیّت یا له ژبي نه یا له فعل نه تاسوته خپل ځان ګنهګار معلـــوم شِي نو په خپله ګنهکارئ باندِ افسوس وکړئ او دَ خپل نوي خوي



خصلت او دَ ګفتګو پوره اراده وکړِئ او په حضُور دَ قادرِ مطلق الله دَ خپلو ګُناهونو اقرار وکړي او که تاسوته داسي معلوم شي چه نه فقط دَ الله بلکه دَ خپلو ګاونډیانو ګُناه مو هم کړي دَي نو دَ هغوي بخلا کول ضرور دِي اوګُنډِ که څه نقصان یا بیجاحرکت مو دَچا په نسبت کړي وِي نو په وَس سره په بیرته ورکولو دَ عوض او دَ بدلي تیار اوسئ او دَ نورو دَ تقصیرونو دَ معاف کولو دَپارَ تیار اوسئ لکه چه تاسو غواړئ چه خداي ستاسو تقصیرونه معاف کړي او که نه وِي نو دَدي پاک رفاقت له آخستو نه ستاسو هیڅ فائدهٔ نشته بلکه ستاسي عذاب به زیات شِي- نو په تاسو کښ که څوک دَ الله په حق کفر ویونکي یا منع کوونکي یا تهمت لګونکي دَده دَ کلام یا زاني وِي یا بغض لري یا حسد کوي یا په یوي بلي لوي ګناه کښ ګرفتار وِي نو له خپلو ګُناهونو نه توبه کړي او که نه وِي نو دي پاک میز ته دِ نه راځي هسي نه وِي چه پس دَدي دَ پاک رفاقت له اخستو نه شیطان لکه چه دَ یهوذا په زړه کښ ننوت په تاسو کښ هم ننوزِي او له تمامو شراروتونو نه مو ډک کړي او تاسي په جسم او په روح سره هلاکت ته راولي

او ځکه چه لازم دِي چه هیڅوک دِ په دي پاک رفاقت کښ شریک نه شي مګر هله چه دَي دَ الله په رحمت باندِ پوره آسره لري او زړه يُ الزام ورنه کړي نو ګُنډِ په تاسو کښ که څوک داسي وِي چه دَ خپل زړه الزام دفع کولي نه شِي بلکه نور څه هم دَ تسلئ یا دَ صلاح محتاج وِي نو لازم دِي چه دَي دِ ما څخه راشِي یا دِ بل خادم دَ الله دَ کلام لره چه هوښیار او دانا وِي ورشِي او سبب دُ خپلي دلګیرئ دِ ظاهر کړي چه دَ الله دَ پاک کلام له برکت نه دَ ګُناهونو دَ عفوه نعمت او روحاني صلاح او مشورت حاصل کړي چه له هغه نه يُ دَ زړه الزام دفع شِي او هیڅ شک او شبه يُ باقي پاتي نه شي

که دَي وويني چه خلق دَ پاک رفاقت په شریک کیدو غافل دِي نو په عوض دَ پورتني نصیحت دِ دا ولولي

اي محبوبانو وروڼو دَ الله په فضل سره په (فلاني ورځ) ځما اراده دَه چه دَ عشائ رباني رسم په ځاي راوړم او په دي کښ ستاسي دَ ټولو دَپارَ چه دلته حاضر ئ دَ الله له طرف نه دعوت کوم او دَ

خداوند یسوع مسیح په خاطر تاسو
ته زاري کوم چه الله پخپله تاسو
په دومره مینې سره ضیافت ته بللي
او مأمور کړي یئ تاسي له راتلو نه انکا
مه کوئ - تاسي پوهېږئ چه دا څنګه
دَ غم او دَ بې مروتئ خبره ده چه هرکله
چه یو سړي ښه لذیذه میلمستیا
کړې وي او خپل دسترخوان ئې په رنګارنګ
خوراکونو آراسته کړي وي تر دي حده
چه صرف دَ میلمانو دَ کښیناستلو
حاجت وي او بیا هم هغوي چه را بللي شوي
وي (بې سببه) په ډېرې ناشکرګذارئ
سره له راتلو نه انکار وکړي - نو په داسي
حال کښې څوک به اه تاسو نه پریشان
نه شي څوک به دا خیال ونه کړي چه
ځما ډېر سپکاوی او بې عزتي وشوه - دَ دي
دپارَ اي په مسیح کښې ډېرو محبانو
په ښه شان سره خبردار شئ داسي
نه وي چه تاسو له دي پاکې عشاخوړلو
نه خپل ځانونه په څنګ کړئ او دَ الله
غُصَّه په ځان باندې تُندَه کړئ - سړي ته
دا ویل آسان دي چه زه شریک نه شم
ځکه چه دَ دنیا په کارو بار کښې بند
یم لیکن دَ الله په درګاه کښې داسي حیلې
په دوسره آساني سره نه قبلیږي او نه

منظوریږي - او که څوک وواېي چه زه ډېر
ګنهګار یم او له دي سببَ له راتلو
نه وېرېږم نو توبه ولې نه کوي او ولې
نه سمېږي - هرکله چه الله تاسو
میلمستیا ته رابولي نو تاسو په دي ویلو
چه نه درځو ولې نه شرمیږئ - هرکله
چه ستاسو ګرزېدل الله ته باید وه
نو څه عذر به وکړئ او وبه وائې چه
مونږ تیار نه یُو به غور سره په خپلو
زړونو کښې خیال وکړئ چه داسي داسي
دروغجي بهانې به دَ الله په حضور بې فائدي
وګڼلې شي - چه په انجیل کښې لیکلې دي هغوی
چه دَ ضیافت نه انکار وکړ په دي سبب چه
زمکه ئې په بیعه سره اخستي وَه یا
چه ئې غوښتل چه دَ خپلو غوایانو
قلبې وآزمائي یا دَ دي دپارَ چه واده
ئې کړي وه دَ هغو عذرونه قبول
نه شول بلکه دوي دَ آسماني میلمستیا
نالایق وګڼلې شول - زه خو په خپله
تیار یم او په موجب دَ خپلې عهدي
دَ الله په نامه تاسو رابلم او حکم درکوم
زه دَ مسیح له طرفَ شوي تاسو رابولم
زه تاسو پوهوم چه که خپل نجات
غواړئ نو په دي پاک رفاقت کښې شریک
شئ - او په دي شان چه دَ الله زوي



ستاسو دَ نجات دَپارَ په مهربانګئ سره
خپل ځان په صلیب ورکړ دغه سي
په تاسو باندې واجب دي چه دَ ده دَ
مرګ دَ قربانئ په یادګارئ کښې دَ هغه
دَ حکم لګه چه ده پخپله حکم کړي
دي که تاسي له دي نه غافل شئ نو
په خپلو زړونو کښې خیال وکړئ چه
تاسو څرنګ الله ته زیان ورسوئ او
څومره لوي سزا ستاسو په سر باندې
اوړېږي ده هغه وقت چه تاسي قصدًا
دَ الله له مېز نه بېرته اوسئ او
له خپلو ورونړو نه چه په دي آسماني
میلمستیا کښې شریک دي جدا اوسئ
تاسو خداي سره څنګه بدسلوکي کوئ -
که تاسو په دي خبرو باندې غور وکړئ
نو دَ الله په فضل سره به ستاسو
فهم سم شي او مونږ به دَ خپل آسماني
پلار قادر مطلق الله په حضور په
عاجزئ سره له دُعا غوښتو به بېرته
پاتې نه شُو تا چه تاسو ته دا حاصل شي *

په وقت دَ اداکولو دَ پاک رفاقت هرکله
چه شریک کېدونکي ئې دَ آخستو دَپارَ په موقع سره
حاضر شي نو قسیس دِ دا نصیحت ولولي *

اي په خداوند کښې ډېرو محبوبانو
تاسو چه خمونږ دَ نجات راکونکي مسیح
دَ بدن او دَ وینو پاک رفاقت ته
راتلل غواړئ په تاسو باندې غور کول ضرور
دي چه مُقَدَّس پولُس تولو خلقو ته
څنګه په تاکید سره نصیحت کړي چه
ترهغه پورې چه دوي خپل ځان په ښه
شان سره ونه تلي او وئې نه ازمائي
نو دَ دي ډوډئ دَ خوړلو او دَ دي پیالې
دَ څښلو زړه ورتیا دِ نه کوي - ولې چه
له دي پاک رفاقت نه مونږ ته چه په رښتنې
توبه کوونکي زړه او په ژوندي ایمان
سره قبلوو ډېره فائده کیږي (ځکه
چه هغه وقت مونږ په روحاني طور سره
دَ مسیح غوښې خوړو او دَ ده وینې څکو
مونږ په مسیح کښې اوسُو او مسیح په
مونږ کښې مونږ له مسیح سره یو کیږو او
مسیح له مونږ سره) لیکن که مونږ په
ناشکرګذارئ سره هغه اخلو نو لویه
خطره ده چه په دي حال کښې مونږ
دَ خپل نجات بښونکي مسیح دَ بدن او
دَ وینو مجرمان کیږو دَ دي دپارَ چه مونږ
دَ خداوند دَ بدن لحاظ نه کوُو نو خپله
سزا خورو او څکو مونږ اور دَ غضب
دَ الله په ځان باندې پکوو مونږ ئې غضب

کُوو او مونږ رنګارنګ رنځورتیا او قسم‌قسم دَ مرګ مهلک آفتونه په خپل ځان راولو+ پس اي وروڼو تاسو خپله خپل انصاف وکړئ چه خداوند ستاسو انصاف و نه کړي تاسو له خپلو تېرو شوو ګُناهونو نه رښتني توبه وکړئ او خمونږ په نجات بخښونکي مسیح باندې ژوندي او مضبوط ایمان ولرئ خپل خوي خصلت سم کړئ او له ټولو خلقو سره کامله مینه لرئ نو هله به لایق دَ شریک کېدلو دَدې پاکو رازونو وګرزېږئ - او له ټولو خبرو نه تاسو ته دا ډېره ضروري دَه چه تاسو دَ خداې پلار اودَزوي او دَ رُوحُ القُدُس شکر دَ دنیا دَ خلاصېدو دَپارَ په ډېرې عاجزۍ او په صدق دَ زړه سره په ځاې راوړئ چه خمونږ نجات بخښونکي مسیح چه الله او انسان هم دې مړ شه او عذاب ئې وزغامه تر دې پورې خپل ځان ئې ښکته کړ چه خمونږ دَ بېکسو ګنهګارو دَپارَ چه په تیاره اودَ مرګ په سورې کښې پراته وُو دَ صلیب مرګ ئې قبول کړ تا چه مونږ دَ الله ځامن شُو او دَ ابدي ژوندون سرفرازي را ته وبخښي+ او دَدې مطلب دَپارَ چه دَ خپل خاوند او یګانه نجات بخښونکي یسوع مسیح بېحده لویه مینه یادوُو چه دې خمونږ دَپارَ داسې مړ شه او هغه بې شمارې فائدې چه ده په خپلو وینو بهولو خمونږ دَپارَ حاصل کړې دي نو پاک رازونه ئې مقرر او جاري کړي دي چه دَده دَ مینې نښه او دَده دَ مرګ همېشه یادګارئ وي خمونږ دَ لوي او بېحده تسلۍ دَپارَ- دَدې دَپارَ راشئ لکه چه په مونږ باندې نهایت واجب دي ده له دَ پلار او دَ رُوحُ القُدُس سره همېشه شکر په ځاې راوړو او خپل ځان بالکل دَده دَ پاکې ارادې او دَ رضا تابع ولرُو او په دې کوشش کښ اوسو چه تر ژوندانه پورې په پاکۍ او په صداقت سره دده خدمت وکړُو+ آمین

بیا قسیس دِ هغوي ته چه دَ پاک رفاقت دَ شریک کېدو دَپارَ راغلي وي دا دِ وايي+

تاسو چه په رښتني او په سرګرمۍ سره له خپلو ګُناهونو نه توبه کوئ او له خپلو ګاونډیانو سره الفت او مینه لرئ او آینده دَ الله دَ حکمونو پیروي کوئ او دَده په پاکو لارو کښې قدم ږدئ او په نوي طور سره دَ نېک اراده لرئ نو



په ایمان سره نژدې راشئ او دَ خپلې تسلۍ دَپارَ دا پاک رفاقت واخلئ او په عاجزۍ سره زنګونونه ولګوئ او دَ الله قادر مطلق په حضور په فروتنۍ سره دا اقرار وکړئ+

پس یو له خادمانو نه دِ دا عام اقرار دَ ګُناهونو دَ هغو ټولو په نامه باندې چه په پاک رفاقت کښې شریک کېدل غواړي ولولي او هغه او تمام جماعت دِ په عاجزۍ سره زنګونونه ولګوي او و دِ وايي+

اي قادر مطلق الله خمونږ دَ خداوند یسوع مسیح پلاره دَ ټولو څیزونو صانع او دَ ټولو بني آدمو حاکم مونږ په خپلو رنګارنګو ګُناهونو او بدیو اقرار او افسوس کوُو چه مونږ وقت په وقت په خیال په ژبه او په فعل ډېر په شدّت سره ستا دَ خدائي دَ شان په خلاف کړي دي او ستا غصّه او غضب مو په حقَ سره په خپل ځان تُند کړي دي- مونږ په زړه او په روح سره توبه او غم کوُو دَ دې خپلو بېځایو کارونو دَپارَ دَ هغو یادول مونږ ته سخت معلومېږي دَدوي بار خمونږ له زغملو نه بهر دَی- اي ډېرَ رحیمَ پلاره په مونږ باندې رحم وکړه په مونږ باندې رحم وکړه له مونږ نه هرڅه چه وشول دَ خپل زوي یسوع مسیح خداوند خمونږ دَپارَ معاف کړه او دا راوبخښه چه آینده دَ نوي ژوندون په خوي خصلت سره مونږ ستا خدمت په ځاې راوړو او ستا رضا وکړُو تا چه ستا دَ نامه عزّت او جلال ظاهر شي خمونږ دَ خداوند یسوع مسیح په وسیله سره+ آمین

پس قسیس (یا اُسقُف که حاضر وي) و دِ درېږي او دَ خلقو په طرف دِ مخ وګرزوي او دا دَ عفوې کلمې دِ ولولي+

قادرِ مطلقَ الله خمونږ آسماني پلار چه ده دَ خپل لوي رحمت په سبب له هغو ټولو سره چه په زړه سره توبه کوي او په رښتني ایمان سره دَ هغه په طرف ګرزي دَ ګُناهونو دَ عفوې وعده کړې دَه نو په تاسو باندې دِ رحم وکړي ستاسو ټول ګُناهونه دِ وبخښي او له هغو نه دِ تاسو خلاص کړي په ټولو نیکیو دِ تاسو قایم او مضبوط کړي او تاسو دِ همېشه ژوندون ته رسوي- خمونږ دَ خداوند یسوع مسیح په وسیله سره- آمین+

پس قسیس دِ دوايي

واورئ چه څمونږ نجات بخښونکي مسیح څرنګه دَتسلئ خبري هغو تولو ته چه دَ مغه په طرف په رښتیا سره متوجه دَي فرمايي

اي تولو چه ستړي او دَ بارونو لاندِ يئ ما له رائشئ چه زه به تاسو له آرام درکړم ÷ دَ متي ۱۱ — ۲۸

الله په جهان باندِ داسي مینه وکړه چه یګانه زوي خپل ئي ورو بخښه تاچه هر هغه څوک چه په دهٔ باندِ ایمان راوړي هلاک به نه شي بلکه ابدي ژوندون به ورلره وِي ÷ دَ یوحنا ۳ — ۱۶

چه مُقدّس پولس وايي هغه هم واورئ

دا کلام صادق دَي او لایق دَتولو قبلیدو دَي چه مسیح یسوع عالم ته راغي چه خطاکاران خلاص کاندِ ÷ دَ اوّل طیمطاوٗس ۱ — ۱۵

چه مُقدّس یوحنّا وايي هغه هم واورئ ÷ که څوک خطا وکړي نو یسوع مسیح صادق پلار څخه څمونږه شفیع دَي او دَي څمونږ دَ خطاؤ کفاره دَي ÷ دَ اوّل یوحنا ۲ — ۱

بیا دِ قسیس د وايي ÷

تاسو خپل زړونه پورته کړئ

جواب - مونږ ئي دَخداوند په طرف پورته کړو

قسیس - مونږ دِ دَخپل یهوه الله شکر وکړو

جواب - داسي کول لایق او مناسب دِي

پس قسیس دِ دَخداوند دَ میز په طرف وګرزي او دا دِ ووايي

دا نهایت لایق او مناسب او په مونږ باندِ فرض دِي چه هر وقت او په هر ځاي ستا شکر وکړو

اي خداوندَ دا لفظ (مُقدّس پلار) دَ مُقدّسَ پلارَ قادر تثلیث په اقرار کښ دِ مطلقَ او ابدِي الله پرینسودي شي ÷ به موافق دَ وقت که څه خاصه مقدّمه مقرّره وِي نو دلته دِ ولوستلي شي او که نه وِي نو دا دِ وِي

له دي سببَ له فرښتو او له مقرّبو فرښتو او له تول آسماني جماعت سره مونږ ستا دَ عظیم نوم حمد او تمجید کوو او همیشه ستا ثنا کوو او دا وایو قدّوس قدّوس قدّوس دَ لښکرو یهوه الله آسمان او زمکه ستا



له جلال نه ډک دِي - اي خداوند تعالیٰ تا لره دِ حمد او جلال وِي - آمین

## خاصي مُقدمي

دَ پیدائښت په ورځي او پس له هغي نه تر اوو ورځو پوري

دَ دي دَپارَ چه تا خپل ابنِ وحید یسوع مسیح راوباخښه چه دَي څمونږ دَپارَ ګویا په دي وقت پیدا شي چه دا دَ رُوحُ الْقُدُس دَ تاثیر په سبب دَخپلي مور پیغلي مریمي له جوهر نه حقیقي انسان شه او دا بي دَګناه له داغه پاک تاچه دَي مونږ له تول ګناه نه پاک کړي - له دي سببَ له فرښتو او ...... الخ

دَ فسح په اختر او پس له هغي نه تر اوو ورځو پوري ÷

لیکن ستا تعریف کول خاص دَدي دَپارَ په مونږ باندِ واجب دِي چه څمونږ خداوند ستا زوي یسوع مسیح په جلال سره پاڅیده ځکه چه اصل بره دَ فسحي هم دَي دَي چه څمونږ دَپارَ قرباني شه او دَ جهان ګناه ئي یوړه او په خپل مرګ سره ئي مرګ ورک کړ او له دوباره ژوندي کیدو نه ئي مونږ ته دوباره دَ همیشه ژوندون وباخښه - له دِي سببَ له فرښتو او .................. الخ

دَ مسیح دَ صعود په ورځ او پس له هغي نه تر اوو ورځو پوري ÷

ستا د ډیر ګران عزیز زوي یسوع مسیح خداوند څمونږ په وسیله چه پس له خپل کمال بزرګ پاڅیدو نه خپلو تولو رسولانو ته په ظاهره ښکاره شه او دَ هغوي په نظر کښ آسمان ته وخوت چه څمونږ دَپارَ ځاي تیار کړي تاچه هر چیرته چه دَي دَي هلته مونږ هم وخیژو او له دهٔ سره په جلال کښ بادشاهي وکړو له دي سببَ له فرښتو او ......... الخ

دَ روح القدس دَ نازلیدو په اختر یعني دَ پِنتِکُستَ او پس له هغه نه تر شپږو ورځو پوري ÷

څمونږ دَ خداوند یسوع مسیح په وسیله چه دَده دَ ډیري رښتیني وعدي په موافق رُوحُ الْقُدُس نن ورځ په ناګهاني لوي آواز سره دَ زوراوري سیلۍ په شان دَ اور دَ ژبو په مانند یکایک له آسمان نه نازل شه او په رسولانو باندِ ئي قرار ونیوه تاچه دوي ته تعلیم ورکړي او دَ تمامي رښتیني په طرف ئي هدایت وکړي او دوي ته دَ مختلفو ژبو طاقت وبښي او دلاورِي هم ورعنایت کړي چه هغوي په لویه سرګرمۍ سره په تولو قومونو

کښې دَ انجیل وعظ وکړي چه په سبب
دَدي مونږ له تیاري او له خطا نه خلاص
شوي یُـو او ستا دَ زوي یسوع مسیح
صاف نُور او صحیح معرفت ته رسیدلي یُو-
له دي سببَ له فرښتو او له......الخ

فقط دَ تثلیث دَ اختر دَپارَ

ته چه واحد الله واحد خداوند یي
نه فقط یو اقنوم ئې بلکه په یو جوهر
کښې دري اقانیمه یي- ځکه چه دَ پلار
دَ جلال په باب هر هغه چه مونږ ایمان
لرُو نو هم بي فرقَ او په بي کمږوو بیشئ سره
مونږ دَ زوي او دَ رُوحُ الْقُدُس په باب
ایمان لرُو- له دي سببَ له فرښتواو.....الخ

پس له هري یوي مقدمي نه دِ فورًا دا ولوستلي
شي یا دِ په سرود سره وغږولي شي+

له دي سببَ له فرښتو او له مقرّبو
فرښتو او له ټول آسماني جماعت سره
مونږ ستا دَ عظیم نُوم حمد او تمجید کوُو
او همیشه ستا ثنا کوُو او دا وایُو قُدُّوس
قُدُّوس قُدُّوس دَ لښکرو یهوه الله
آسمان او زمکه ستا له جلال نه ډک
دِي اي خداوند تعالیٰ تا لره دِ حمد او
جلال وِي-آمین +

بیا قسیس دِ دَ خداوند میـز مخه ته ګونډه
ولګوي او دَ هغو ټولو له طرفَ چه به
پاک رفاقت کښې شریک کیږي
دا دُعا دِ وغواړي+

اي رحیمَ خداوندَ مونږ نه په کښتاخ
سره ستا میز مخه راځو نه په خپل صد
باندِ بلکه ستا په رنګارنګو او
لویو رحمتونو باندِ تکیه کوُو مونږ
دَدي لایق نه یُو چه هغه پوښي چه
ستا له میـز نه پریوزي وانږوُو
لیکن ته هغه خداوند یي چه خاصه
ستا تـل رحم کول دِي دَدي دَپارَ
اي کریمَ خداوندَ دا را عنایت کړه چه
مونږ ستا دَ عزیز زوي یسوع مسیح غوښه
په داسي طور سره وخورُو او دَ هغه
وینې په داسي شان وڅکوُ تاچه ځمونږ
ګنهګار بدن دَ هغه په بدن سره پاک
شي او ځمونږ روحونه دَ هغه پـه
قِیمتي وینو سره وویڅلي شي او مونږ
دِ همیشه په هغه کښې واوسُو او دي
په مونږ کښې + آمین

هر کله چه قسیس میز مخه ودریږي او په دي
شان ئي دوډئ او شیره دَ انګورو په ترتیب
سره ایښي وِي نو په ادب سره دِي توقفه دَ خلقو



دَ وړاندِ دوډئ ماته کړي او پیاله دِ په خپلو
لاسو کښې واخلي نو هله دِ دا تَقدِیسَ دُعا ولولي+

اي قادرِ مطلقَ الله ځمونږ آسماني پلارَ
چه تا په خپل لوي رحمت سره خپل
یکانه زوي یسوع مسیح را و باخښه چه
دَي ځمونږ دَ ندیي دَپارَ دَ صلیب مرګ
وزغمي او ده خپل ځان په هغه باندِ
یو ځل قرباني کړ او پوره او کامل او کافي
قـرباني نذر او کفاره ئې دَ تمام
جهان دَ ګناهونو دَپارَ ورکړه او دَ خپل
ګران بها مرګ یوه ابدي یادګاري ئې
مقرّره کړه او په خپل مقدّس انجیل
کښې ئې مونږ ته و فرمایل چه تر هغه
پوري چه زه په بیرته را نه شم تاسو
دا هیڅري مه پریږدئ اي رحیم پلاره
مونږ په کمال عاجزئ سره تا ته زاري
کوُو ځـمونږ واوره او دا را عنایت
کړه چه مونږ ستا دَ زوي ځمونږ دَ نجات
راکوونکي یسوع مسیح دَ حکم په موافق
دَده دَ مرګ او دَ درد دَ زغملو دَ یادګاري
دَپـارَ دا دوډئ او شـیره
چه ستا دَ مخلوقات نه جوړ شوي دِي
قبول کړو او دَده په کمال مبارک بدن
او په وینو کښې شریک شُـو پـه
هغه شپه چه دي ونیولي شه دوډئ
ئې واخسته† او چه شکر ئې
وکړ نو ماته ئې کړه‡ او
خپلو شاګردانو ته ئې ورکړه
او و ئې ویل واخلئ وخورئ
دا‡ ځما بدن دَي چه ستا
دَپارَ ورکولي شي ځما دَ
یادګارئ دَپارَ داسي کوئ
په دي شان پس له دوډئ
خوړلو نه ئې* پیاله واخسته او
چه شکر ئې وکړ نو هغو
ته ئې ورکړه او و ئې ویل
تاسو ټول له دي نه وڅکئ
ځکه چه دَ نوي عهد
دا* ځما وینې دِي چه ستا سو
او دَ ډیرو دَ ګناهونو دَ
معافولو دَپارَ توېولي شي
هر وقت چه دا څکئ نو
ځما په یادګارئ کښې کوئ
آمین +

پس امام دِ اوّل دواړه قسمَ عشاي
رباني په خپله واخلي بیا دِ اُسقفانو قسیسانو او
ډیکنانو ته هم (که څوک حاضر وِي) په دي شان
ورکړي او پس له هغه نه دِ په ترتیب سره دَ جماعت په
لاس کښې هم ورکړي او ټول دِ په عاجزئ سره ګونډه
ولګوي او هر کله چه چا ته دوډئ ورکوي نو دا دِ ووایي+

+ اوس قسیس دِ رکابئ
په خپلو لاسونو کښې واخلي
‡ اوس دِ دوډئ ماته
کړي
‡ او اوس دِ په ټوله
دوډئ لاس کیږدي
* اوس دِ پیاله په
خپل لاس کښې واخلي
* او اوس دِ په هر
لوښي باندِ که پیاله وِي که
شیره دان وِي چه په کښې
دَ تقدیس دَپارَ شیره دَ
ګوره وِي لاس دِ پر کیږدي

خموږ دَ خداوند یسوع مسیح بدن چه
ستا دَپارَ ورکړي شه ستا بدن
او روح دِ تر ابدي ژوندونَ پوري
وساتي - دا واخله او ولي خوره دَدي
یادګارئ دَپارَ چه مسیح ستا دَپارَ مړ
شه شکر کوه او په خپل زړه کښ
یې په ایمان سره خوره

او امام چه چا ته پیاله ورکړي نو
دادِ ووایي

خموږ دَ خداوند یسوع مسیح وینې
چه ستا دَپارَ توي شوي دي ستا بدن
او روح دِ تر ابدي ژوندونَ پوري
وساتي - له دي نه وڅښه دَدي یادګارئ
دَپارَ چه دَ مسیح وینې ستا دَپارَ توي
شوي دي او شاکر اوسه

که دَ تقدیس ډوډئ یا شیره دَ ټولو دَ
شریک کیدلو نه دړنبئ خلاصه شي نو قسیس
دِ په هغه ترتیب پاندِ چه اوّل مذکور شه
نور دِ مقدّس کړي او په وقت دَ تقدیس
کولو دَ ډوډئ دِ له دي لفظونو نه دِ شروع
کړي

(خموږ نجات بخښونکي مسیح په هغه شپه ...الخ)

او په وقت دَ تقدیس کولو دَ پیالې دِ
له دي لفظونو نه

(په دي شان پس له ډوډئ نه .....الخ)

او هرکله چه ټول شریک شي نو امام
دِ دَ خداوند میز ته بیا راشي او تقدیس
شوي ډوډئ او شیره چه څه پاتي شوي وي
په ادب سره دِ په هغه پاندِ کیږدي او په یو
صاف کتاني چادر سره دِ پټ کړي

پس امام دِ دَ خداوند دُعا ولولي او
خلق دِ په هغه پسې هر یوه فقره ولولي

اي خموږه پلارَ چه په آسمانونو
کښ یې - ستا دَ نوم پاکي دِ وي - بادشاهت
ستا دِ راشي - رضا ستا لکه چه په
آسمان پوره کیږي په زمکه دِ هم شي -
خموږ دَ نن ورځي ډوډئ نن موږ
ته راکړه - او تقصیرونه خموږ عفوه
کړه - چه موږ هم هر تقصیروار
خپل بخښو - او موږ په آزمایښت کښ
مه راوله بلکه له هغه شریر نه مو
وساته ځکه چه بادشاهت او قدرت
او جلال تل ترتله هم ستا دي - آمین

پس له هغې نه دِ دا ولوستلې شي

اي خداوندَ او آسماني پلارَ
موږ ستا عاجز بندګان ستا له پدرانه
خوئ نه بالکل دا غواړو چه ته
په خپلي مهربانګئ سره خموږ
دَدي شکر او دَ تعریف قرباني قبوله
کړه او موږ په ډیري عاجزئ سره



تا ته زاري کوو چه ته دَ خپل زوي
یسوع مسیح دَ ثواب او دَ هغه دَ مرګ
په سبب او دَ هغه په وینو دَ ایمان په
باعث دا را عنایت کړه چه موږ او ستا
تمامه کلیسیه دَ خپلو ګناهونو معافي
او دَ هغه دَ درد زغملو نوري بتولي
فایدي حاصلي کړو - او اي خداونده اوس
موږ خپل ځانونه خپل روحونه او بدنونه
ستا په حضور پیش کوو او صدقه کوو
تا چه ستا دَپارَ یوه معقوله مُقدّسه او
ژوندئ قرباني وي او په عاجزئ سره تا ته
زاري کوو چه موږ ټول چه په دي پاک
رفاقت کښ شریک شوي یو ستا له فضل
او له آسماني برکت نه دِ فیض یاموږ -
او اګرچه موږ دَ خپلو زیاتو ګناهونو
په سبب دَدي لایق نه یو چه تا ته څه
قرباني پیشه کړو لیکن تا هم تا ته زاري کوو
چه خموږ دا کار او خدمت چه په
موږ فرض دَي قبول کړه او خموږ دَ
لیاقتونو اندازه مه آخله بلکه خموږ
ګناهونه وبخښه خموږ دَ خداوند یسوع
مسیح په وسیله چه دَ هغه په وسیله او دَ
هغه سره دَ روحُ القُدس په یګانګت کښ
تمام عزت او جلال اي قادرِ مطلق پلارَ
ستا دَپارَ دِ تر ابده پوري وي - آمین

یا دا

اي قادرِ مطلق الله حيّ القیّوم موږ
په دل و جان سره ستا شکرګذاري کوو
چه ته دَ خپل زوي خموږ دَ خلاصوونکي
یسوع مسیح دَ نهایت ګران بها بدن او دَ
وینو روحاني خوراک په مهربانګئ سره په
موږ پاندِ خوروي چه اوس په دي پاکو
رازونو کښ په درستئ سره شریک شوي
یو او چه ته په دي شان خپل شفقت
او رحمت په موږ پاندِ په یقین سره
ثابتوي او دا هم چه موږ ستا دَ زوي
په مجازي بدن کښ چه د ټولو ایماندارو
مبارک جماعت دَي بعینِه اندامونه او
یو بدن شوي یو او ستا دَ عزیز زوي
د ډیر ګران بها مرګ او دَ درد دَ ثواب
په سبب په امید سره ستا دَ ابدي بادشاهئ
وارثان هم شوي یو او اي آسماني پلاره
موږ په نهایت عاجزئ سره تا ته زاري
کوو چه ته په خپل فضل سره خموږ داسي
مدد وکړه چه موږ په دي پاک رفاقت
کښ قایم اوسو او دا ټول ښه کارونه
همیشه کوو چه تا حکم کړي دَي چه موږ
په کښ تګ وکړو - دا دِ خموږ دَ خداوند
یسوع مسیح په وسیله سره وي چه لِي
دَ تا او دَ روحُ القُدس سره تمام عزت

او جلال تر ابده پوري وي - آمين

پس دا دِ ولوستلي يا په سرود سره وغږولي شي

په اَنْاَلْعِلِّيِّينَ كښ دِ دَ الله حمد وي او په زمكه بانْدِ صلحَ او له بني آدم نه دِ رضامندي وي موږ ستا حمد كوو موږ تا ته مبارك وايو موږ تا ته سجدهٔ كوو موږ ستا تمجيد كوو موږ ستا دَ لوي عظمت دَپارَ ستا شكرگذاري كوو اي خداوَندْ الله آسماني بادشاهه الله قادر مطلقَ پلارَ

اي خداوندَ ابنِ وحيد يسوع مسيحَ - اي خداوندَ الله - دَ الله بره د پلار زويه چه دَ جهان گناهونه وړي په موږ رحم وكړه - ته چه دَ جهان گناهونه وړي په موږ رحم وكړه - ته چه دَ جهان گناهونه وړي خموږه دُعا قبوله كړه ته چه دَ خداي پلار په ښي لاس ناست يي په موږ رحم وكړه - ځكه چه هم ته قدُوس يي - هم ته خداوند يي - هم ته اي مسيحَ دَ رُوحُ القدس سره دَ الله پلار په جلال كښ په اعلىٰ مقام كښ يي آمين +

پس قسيس (يا اُسقف كه موجود وي) دا دَ بركت كلمه دِ ووايي او جماعت دِ رخصت كړي +

سَلامُ الله چه له تمام فهم نه بهر دَي ستاسو زړونه او خيالونه دِ دَ الله او دَ هغه دَ زوي يسوع مسيح خموږ دَ خداوند په معرفت او په مينه كښ وساتي او دَ الله قادر مطلق پلار او دَ زوي او دَ رُوحُ القدس بركت دِ په تاسو كښې وي او هميشه دِ په تاسو بانْدِ اوسي - آمين +

هر كله چه رفاقت نه وي نو پس له لوستلو دَ آيتونو او له جمع كولو دَ نذرونو يوه يا زياتي له دي دُعاؤ نه دِ ولوستلي شي او كه څه وجهه وي نو پس له دُعا دَ سحر يا دَ نماښام يا دَ رفاقت يا دَ ليتني نه دِ دَ امام دَ راي په موافق هم دوَ لوستلي شي +

اي خداوندَ خموږ په دي درخواستونو او په دعاؤ بانْدِ په رحم سره خموږ مدد وكړه او دَ خپلو بندگانو لار دَ نجاتِ ابدي دَ حاصلولو دَپارَ سمه كړه تا چه دَ دي عالمِ فاني دَ تمامو تغيراتو او دَ ناگهاني حالتونو په منځ كښ دوي ستا دَ ډير كرم او دَ مدد په باعث هميشه محفوظ اوسي - خموږ دَ خداوند يسوع مسيح په وسيله سره - آمين +

اي قادر مطلقَ خداوندَ او ابدي الله موږ تا ته زاري كوو چه ته مهرباني وكړه او دَ خپلو شريعتونو په لارو او دَ خپلو حكمونو په كارونو بانْدِ خموږه زړونو او بدنونو دواړو ته هدايت او پاكيزگي او حكومت و فرمايه تا چه ستا دَ كمال قدرت له حفاظت نه اوس او هميشه موږ په تن او په روح سره سلامت او خموږ دَ خداوند او نجات راكوونكي يسوع مسيح په وسيله سره - آمين +



اي قادرِ مطلق الله موږ تا ته زاري كوو دا توفيق را عنايت كړه چه هر هغه خبري چه موږ نن په ظاهري غوږونه سره اوريدلي دِي ستا په فضل سره دِ خموږ په زړونو كښ داسي پيوند شي چه هغه ستا دَ نامه دَ عزت او دَ تعريف دَپارَ دَ نيك خصلتي ميوه په موږ كښ ونيسي - خموږ دَ خداوند يسوع مسيح په وسيله سره - آمين +

اي خداوندَ په خپل كمال كرم او فضل سره خموږ په ټولو كارونو كښ خموږ پيشوائي وكړه او په خپل هميشه مدد سره خموږه ترقي وكړه چه خموږ په ټولو كارونو كښ چه اوّل او په منځ كښ او آخر له تا نه وي ستا دَ پاك نامه لوئي وكړو او په آخر كښ ستا په رحم سره هميشه ژوندون بيا موو خموږ يسوع مسيح په وسيله سره - آمين +

اي قادرِ مطلقَ خدايَ دَ تمامي دانائي سرچشمي ته اوّل خموږ له غوښتو نه خموږ په ضروورياتو او په وقت دَ غوښتو خموږ په ناداني بانْدِ پوهيږي موږ تا ته زاري كوو چه خموږ په ناتواني بانْدِ رحم وكړه او هغه څيزونه چه موږ يي دَ نالايقتيا په سبب دَ غوښتو مقدور نه لرو او دَ خپلي نابينائي په باعث غوښتلي نه شو نه په كرم سره دَ خپل زوي خموږ دَ خداوند يسوع مسيح دَ لياقت دَپارَ موږ ته عنايت كړه - آمين +

اي قادر قادر مطلق الله تا وعدهٔ كړي دَه چه دَ هغوي سوالونه څما دَ زوي په نامه كوي زه به يي واورم موږ تا ته زاري كوو چه موږ په دي وقت ستا په حضور دُعا او زاري كړي دِي خموږ په طرف په توجه سره غوږ باسه او دا را عنايت كړه چه هر هغه څيزونه چه په ايمان سره په موافق ستا دَ رضا مو غوښتلي دِي په تحقيق سره دِ موږ ته راكړي شي تا چه خموږ ضروريات دفع او ستا جلال ظاهر شي - خموږ دَ خداوند يسوع مسيح په وسيله سره - آمين +

په اتواروتو یا په نورو اخترونو کښ که رفاقت نه وِي نو ټول دستور دَ رفاقت دِ تر دُعاي عامَ پوري (دَ مسیح دَ تمامي کلیسېي دَپارَ چه په دي روي زمین باندِ په روحاني جنګ کښ ده) له یوي یا له زیاتو دعاو سره چه وراندِ لیکلي شوي دِي و دِ لوستلي شي او دَ برکت له کلیمي سره دِ تمامي شي

او دَ عشاي رباني دستور دِ په عمل کښ را نه وړي شي کهچري دَ قسیس په نهم کښ خلق دَ هغه سره دَ شریک کیدلو دَپارَ کم وِي

او که په اهلِ جماعت کښ له شلو تنو نه زیات دَ رفاقت دَ اخستو قابل نه وِي نو رفاقت دِ و نه شي مګر هرکله چه څلور (یا کم له کم نه دري) سړي له قسیس سره په هغو کښ دَ شریک کیدو دَپارَ وِي

او په اُسقفي کلیسیي او دَ کالج په کلیسیه کښ چه هلته ډیر قسیسان او خادمان دِي نو دَ لږو نه لږ هر اتوار دا لازم دِي چه دوي دِ دَ قسیس سره دَ رفاقت دستور په عمل راوړي که دَ هغوي معقوله وجهه نه وِي

او که په نسبت دَ ډوډيِ او دَ شیري چا اختلاف یا وهم لرلي وِي یا لري نو دَ هغيِ دَ دفع کولو دپارَ دا کافي ده چه ډوډيِ دِ داسي وِي چه هره ورځ خوړلي کیږي لیکن له ښائسته سپینو غنمو نه چه مُنده کیږي

او که ډوډيِ او شیره چه پرِ دعا دَ تقدیس نه وِي لوستلي شوي باقي شي نو هغه دِ امام په خپل خرڅ کښ راوړِي مګر په هغه باندِ چه دُعاي تقدیس لوستلي شوي وِي او څه تر باقي شي نو له کلیسي نه دِ بهر یو نه وړي شي بلکه قسیس او نور رفاقت اخستونکي او هغه چه دي خپل ځان څخه راوبلي پس له لوستلو دَ برکت له کلمي نه دِ په ادب سره وخوري او و دِ يې څکي

دَ رفاقت دَپارَ ډوډيِ او شیره دِ امام او دَ کلیسي محافظین دَ اهل جماعت له خرڅ نه تیار کړي

خبرداد هر یو له کلیسي نه دِ په کال کښ کم له کم نه دري ځله په رفاقت کښ شریک شي او یو ځلي دِ دَ فسح په اختر- او په کال کښ دَ فسح په ورځو کښ هر یو اهلِ جماعت دِ امام یا خادمِ دین یا دَ هغوي نائب یا نائبانو ته خپل حساب ورکړي او هر هغه



څه چه په هغه باندِ په موافق دَ دستور دَ کلیسي حق وِي نو هغه وقت دِ ادا کړي

هرکله چه دَ الله عبادت تمام شي نو په خیرات چه څه نقد وصول شوي وِي د امام او دَ کلیسي دَ محافظینو دَ راي په موافق دِ دَ خیرات په کارونو کښ خرڅ کړي شي او که دَ هغوي په مېنځ کښ چه تکرار واقع شي نو هغه دِ دَ حاکم دَ شرعي دَ حکم په موافق خرڅ کړي شي

هرکله چه دَ عشاي رباني دَجارِي کولو په دستور کښ حکم شوي دَي چه رفاقت اخستونکي دِ يې په زنګونو لګولو سره واخلي (دَ دي حکم مطلب نه دَي چه له دي نه دَ مسیح په هغه نعمتونو باندِ چه اهل لیاقت يې مومي څمونږه عاجزيِ او شکرګذاريِ مراد دِي او دَ پاک رفاقت په باب دَ بي دینيِ او دَ بي مرو یا خبري چه په بو بل شان واقع کیږي دَ رفع کولو دَپارَ دَي) لیکن که بعض شخص له نادانيِ یا له کم فهميِ نه یا دَ کیني یا دَ ضد له سببه زنګونو لګول کړه یا بدَ خبره وګڼړي نو لازم دِي چه داسي دِ ویوهیږي چه له دي زنګونو لګولو نه دا مراد نه دَي چه دَ رفاقت دَ ډوډيِ یا دَ شیري چه په هغه وقت کښ اخستي شي یا دَ مسیح دَ بذاته غوښي یا وینيِ دَ جسماني حاضريِ پرستش وکړي شي بلکه دَ هغو پرستش کول محض بي ځایه دِي- ځکه چه دَ رفاقت ډوډيِ او شیره لکه چه وِي هم هغسي په خپل اصل باندِ باتي کیږي او دَدي دَپارَ دِ يې پرستش و نه کړي شي (ځکه چه دا بت پرستي دَه او ټولو ایمان دارو مسیحیانو ته نفرت کول تر مناسب دِي) او څمونږ دَ نجات راکوونکيَ مسیح اصل بدن او وینه خو په آسمان کښ دَه او دلته نه دَه او دا خبره دَ مسیح دَ اصل حقیقي بدن په خلاف ده چه دَي په یو وقت علاوه له یو ځاي نه په نورو ځایونو کښ وِي +

# دَ وړکو دَ علانيي بپتسمي ترتيب چه په کليسيي کښ په عمل راځي

خلق دِ پوه کړي شي چه ډير مناسب دِي چه دَ اتوارونو او دَ نورو اخترونو په ورځ چه ډير خلق جمع کيږي نو دَ بپتسمي ورکولو ترتيب دِ په عمل راوړي شي دَدي سبب چه دَ جماعت حاضرين دَ هغو دَپارَ چه بپتسما مومِي دَ مسيحي کليسيي په شمار کښ دَ مقبوليدو ګواهان شي او دَدي دَپارَ هم چه هر يَو چه هلته حاضر وِي دَ هلکانو له بپتسمي نه هغه وعده ياده کړي چه ده په خپله په وقت دَ بپتسمي کښ له خداي سره کړي وه۔ دَدي دَپارَ دا هم مناسب دِي چه دَ بپتسمي ترتيب دِ په عامه ژبه کښ ولوستي شي باوجود دَدي (که چرې ضرورت وِي) دَ بچو بپتسمه په نورو ورځو هم کيدي شي

ظاهره دِ وي هر يو هلک چه بپتسمه اخستونکي وي نو دَ هغه دَپارَ دِ دوه دِيني پلاران او يوه دِيني مور مقرره شي او دَ هرې جينۍ دَپارَ دِ يو دِيني پلار او دوه دِيني ميندي

که چرې ورو له بپتسمه ورکول وِي نو دَ هغو والدين دِ يوه ورځ ورنبي يا دَ هغي ورځي په سحر له نمانځه نه اول امام خبر کړي نو دِيني پلرونه او ميندي او هغه خلق چه دَ ورو سره وِي دَ سحر دَ نمانځه دَدويم ورد له تماميدو نه پس يا دَ نماښام دَدويم ورد له تماميدو نه پس ځنګه چه امام خوښه کړي دَ بپتسمي حوض څنګه دِ تيار اوسي۔ او امام دِ د بپتسمي حوض څنګه چه هغه په صافو اوبو سره ډک وي راشي او ودِ دريږي او ودِ وائي

## دي ورُوکي له بپتسمه ورکړي شوي ده که نه

که چرې هغوي ځواب ورکړي چه نه نو قسيس دِ داسي دوائي

اي عزيزانو هرکله چه قول بني آدم له ګناه سره په ګيده کيږي او پيدا کيږي او خمونږ نجات راکونکي مسيح فرمائي هر څوک چه له اوبو او له رُوح القُدس نه دوباره پيدا نه شي او دويم پيدائښت بيا نه مومِي نو هغه دَ خداي په بادشاهت کښ داخل کيدي نه شي۔ دي دَپارَ زه ستاسو منت کوم چه خمونږ دَ خداوند

یسوع مسیح په وسیلې سره خداي پلار ته زارۍ وکړئ چه هغه په خپل فضل او رحمت سره دې وړوکي له هغه نعمت ورکړي چه دې ئې په خپل ذات سره حاصلولی نه شي چه هغه د اوبو او د روح القدس بپتسمه بیامومي او د مسیح په پاکې کلیسیې کښ شامل شي او د هغې یو ژوندی اندام اوسي

بیا دِ قسیس وائي

## موږ دِ دُعا وغواړو

اي قادر او قدیمه خدایه تا په خپل لوي رحمت سره د حضرت نوح او د هغه خاندان د اوبو له هلاکت په بیړۍ کښ بچ کړ او خپل اُمّت بني اسرائیل دِ هم له بحر قلزم نه صحیح سلامت پورې کړ - او له دې واقعې نه دِ د خپلې پاکې بپتسمې تشبیه وښوله او د یردن په سیند کښ دِ د خپل محبوب ځوي یسوع مسیح د بپتسمې په اخستو سره د اوبو تقدیس وکړ چه په هغه کښ له غُسلِ سِرِیّه په سبب ګناه ووینځلې شي - موږ تا ته زارۍ کوُو چه ته په خپلو بې حده رحمتونو سره په دې وړوکي باندِ د مهربانۍ نظر وکړه دې په رُوحُ القُدس سره ووینځه او پاک ئې کړه چه دې ستا له قهره خلاصې بیامومي او د مسیحي کلیسیې په بیړۍ کښ داخل کړی شي او په ایمان کښ مضبوط او په اُمید کښ خوشحال اوسي او په محبت کښ جوړ ونسي او له دې پرتکلیفې دُنیا له چپو نه داسې پورېوځي چه آخر کار د ابدي ژوندانه سرزمین ته ورسي چه هلته له تا سره تر ابده بادشاهت کوي - ځمونږ د خداوند یسوع مسیح په وسیلې سره - آمین

اي خدایه قادره حَیُّ القَیُّوم د هر محتاج مددګاره - او د هر خواستګار معاونه د خپلو ایماندارو ژوندون او د مړو قیامت یې موږ د دې وړوکي د پاره تا ته زارۍ کوُو چه دې ستا د مُقدّسې بپتسمې د پاره راغلی دی چه دوباره په روحاني پیدائښت سره د خپلو ګناهونو معافي حاصله کړي - اي خداونده دې قبول کړه لکه چه تا د خپل محبوب ځوي په معرفت وعده کړې ده چه غواړئ نو درته به کړی شي - لټوئ نو بیا به مومئ ټکوئ نو ستاسو د پاره به لرې کړی شي - نو اوس موږ غواړو لا له راکړه - موږ لټوُو وِ مومُو - ټکوو ځمونږ د پاره دروازه لرې کړه - چه دا وړوکي ستا د آسماني غُسل دائمي برکت حاصل کړي - او هغې



بې زوال بادشاهت ته ورسي چه د هغې تا ځمونږ د خداوند مسیح په وسیلې سره وعده کړې ده - آمین

اوس دِ جماعت ودرېږي او قسیس دِ و وائي

د انجیل کلمات واورئ چه مُقدّس مرقس د لسم باب له دیارلسم آیت نه لیکلي دي

هغوي واړه هلکان مسیح ته راوستل چه هغه ئې مَسَح کړي مګر شاګردانو راوستونکي ورټل - لیکن چه یسوع ولیدل نو خفه شه او هغوي ته ئې ووې چه هلکان ما ته راپرېږدئ او هغه مه منع کوئ ځکه چه د خداي بادشاهت هم د داسو دی - زه تاسو ته رښتیا وایم که څوک د خداي بادشاهت د وړو هلکانو په شان قبول نکړي نو هغه به په کښې داخل نشي هغوي ئې په غیږ کښ واخستل او پرې ئې لاس کېښودل او برکت ئې ورکړ

د انجیل له لوستو نه دِ پس امام دا مختصر نصیحت د انجیل له کلماتو نه واوروي

اي محبانو تاسو په دې انجیل کښ ځمونږ د خلاصونکي مسیح کلمات اورئ چه هغه حکم وکړ چه واړه ما له راولئ او چا چه هغوي هغه ځنې له راوستو نه منع کول ځکه ئې ورټل او ټولو خلقو ته څنګه نصیحت کوي چه په سادګۍ کښ د هغوي په شان شي - تاسو وینئ چه هغه په صاف اشارت او په فعل سره خپله خیرخواهي په هغوي باندِ څنګه ظاهره کړه - چه هغه ئې په غیږ کښ واخستل او په هغوي ئې لاسونه کېښودل او دُعا د خیر ئې ورته وکړه - نو تاسو شک مه راوړئ بلکه ښه یقین وکړئ چه هغه به دا وړوکي هم په مهربانۍ سره قبول کړي او د خپل رحمت په غیږ کښ به ئې واخلي - او د ابدي ژوندون برکت به ورله ورکړي - او په خپل لازوال بادشاهت کښ به ئې شریک کړي - نو هرکله چه په موږ باندِ د خپل آسماني پلار خیرخواهي د دې وړوکي په حق کښ داسې ثابته شوه لکه چه هغه د خپل ځوي یسوع مسیح په معرفت ظاهره کړه او په دې کښ هیڅ شک نشته چه هغه په مهربانۍ سره د دې محبت د کار اجازت ورکوي چه دا وړوکي چه د هغه د مُقدّسې بپتسمې د پاره ئې راوستي دي نو موږ دِ په ایماندارۍ او په عاجزۍ سره د هغه شکر وکړو او ووایو

اي قادرِ مطلق او قدیمه خدایه آسماني پلاره موږ په عاجزۍ سره ستا

شکر کوو چه تا په خپلي مهربانۍ سره موږ بللي یُو چه ستا فضل وپېژنُو او په تا ایمان راوړُو-څمونږ دا پوه زیاته کړه او موږ په دي ایمان بانِدِ همیشه مضبوط لره-خپل روح القُدس دي وړوکي ته وبخښه چه هغه دوباره پیدا شي او دَ ابدي ژوندون وارث شي-څمونږ دَ خداوند یسوع مسیح په وسیلي سره چه دَ تا او دَ روح القُدس سره اوس او تر ابده ژوندي او بادشاهت کوي-آمین

پس له دي دِ قسیس دېئي پلرونو او مېندو ته داسي ووایِي

اي عزیزانو تاسو دا وړوکي دَ بپتسمي دَپارَه دلته راوستي دَي-تاسو دُعا غوښتلي دَه چه څمونږ خداوند یسوع مسیح ئي په مهر سره قبول کړي-او هغه له گناهُونه خلاص کړي او په روح القُدس سره ئي پاک کړي او هغه ته آسماني بادشاهت او ابدي ژوندون ورکړي-تاسو دا هم اوریدلي دي څومره خېزونه چه تاسو غوښتلي دي دَ هغي ټولو دَ ورکولو وعده څمونږ خداوند یسوع مسیح په خپل انجیل کښ فرمایلي دَه هغه به ئي یقیناً په کمالِ وفادارئ سره پوره کړي لهٔ دي سبب دَ مسیح دَ داسي وعدي نه پس په دي وړوکي بانِدِ هم فرض دي چه هغه په خپله (ترکومي پوري چه هغه بالغ او دَ خپل ځان پخپله ذمّه وار نه شي) ستاسو په وسیلي سره چه دَ هغه ضامنان یئِ په صدق دَ زړه سره دِ وعده وکړي چه زه به شیطان اودَ هغه ټول کارونه رد کړم او دَ خداي په پاک کلام بانِدِ به محکم ایمان لرم او دَ هغه حکمونه به په فرمان بردارئ سره منم

نو زه پوښتنه کوم

آیا ته دَدي وړوکي په عوض کښ شیطان اودَ هغه ټول کارونَ او دَ دُنیا باطلي دبدبي او شان شوکت دَ هغي دَ تمام لالچ سره او دَ جسم نفساني خواهشونه داسي رد کوي چه دَ هغي پیروي به نه کوي او نه به دَ هغي په قید کښ اوسي

جواب-زه دا ټول رد کوم

خادمُ الدّین

آیا ته په الله قادرِ مطلق پلار بانِدِ ایمان لري چه دَ آسمان او دَ زمکي خالق دَي

او په یسوع مسیح چه دَ هغه ابن وحید او څمونږ خداوند دَي چه دَ روح القُدس په قدرت سره په کېده شه-له پېغلي مریمي نه پیدا شه-دَ پنطُس پلاطُس په حکومت کښ ئي درد وزغمه-مصلوب شه مړ شه-او ښخ شه-عالمِ برزخ ته کوز شه-په دریمه ورځ له مړو نه ژوندي پاځېده-آسمان ته وخوت-او دَ الله قادر مطلق پلار ښي لاس ته ناست دَي-له هغه ځاي نه به دَ ژوندو او دَ مړو دَ عدالت کولو دَپارَ راشي

آیا ته په روح القُدس بانِدِ ایمان لري په پاکي کاتلکي کلیسیي بانِدِ دَ پاکانو په رفاقت دَ گناهونو په بخښنه دَ بدن په قیامت او په ابدي ژوندون بانِدِ

ځواب-په دي ټولو بانِدِ زه پوخ ایمان لرم



خادمُ الدّین

آیا ته په دي ایمان بانِدِ بپتسمه غواړي

ځواب-دا ځما آرزو دَه

خادمُ الدّین

آیا ته به په فرمان بردارئ سره دَ خداي پاکه مرضي او حکمونه په ځاي راوړي او تمام عمر به دَ هغي په موافق ځي

ځواب-هو زه به داسي کوم

نو قسیس دِ دوایِي

اي رحیمَ خدایه دا را عنایت کړه چه زوړ آدم په دي وړوکي کښ داسي ښخ شي چه په هغه کښ نوي آدم ژوندي پورته شي-آمین

دا را وبخښه چه په ده کښ ټول نفساني خواهشونه مړه شي او هغه ټولي خبري چه په روح القُدس سره کیږي په ده کښ ژوندئ شي او زیاتي شي-آمین

دا را وبخښه چه هغه داسي قوت او قدرت حاصل کړي چه په شیطان او په دُنیا او په جسم بانِدِ غالب شي او پر بري بیاموي-آمین

دا را وبخښه څوک چه دلته څمونږ دَ عُهدي په خدمت سره ستا په حضور صدقه کیږي په آسماني فضیلتونو سره دِ آراسته شي او بي زواله ثواب دِ بیاموي ستا په رحم سره اي مبارکه خداوندَ خدایه چه تر ابده ژوندي او په ټولو خېزونو بانِدِ حکومت کوي-آمین

اي قادرِ مطلقَ حيّ القیّومَ خدایه ستا ډېر عزیز ځوي یسوع مسیح څمونږ

د ګناهونو د بخښنې د پاره د خپلې ډیرې بیش قیمتې پښتې نه اوبه اوویني دواړه وبهولې او خپلو شاګردانو ته ئې وفرمایل چه لاړ شئ او ټول قومونه شاګردان کړئ او هغوي له په نامه د پلار او د ځوي او د روح القدس بپتسمه ورکړئ. مونږ تا ته زاري کوو – چه د خپل جماعت په منتونو باندې توجه وکړه او دا اوبه داسې پاکې کړه چه په دې کښې په غسل سره ګناه ووینځلې شي او دا دا وبخښه چه دا وړوکي چه اوس په دې کښې بپتسمه مومي ستا له فضل معمور شي او ستا د ایمان دارانو غوره شویو ځامنو په شمار کښې همیشه اوسي ځمونږ د خداوند یسوع مسیح په وسیلې سره – آمین

بیا دِ قسیس وړوکي په خپلو لاسونو کښې واخلي او دیني مور پلار ته دِ ووایي

دَدې وړوکي نوم کیږدئ

بیا دِ ئې هغه نوم واخلي او په هغه اوبو کښې دِ ئې په احتیاط او په خبردارئ سره غوټه کړي (که چرې هغوي ووایي چه وړوکي په بنه شان سره نه غلي شي) نو داسې دِ ووایي

فلانیه زه تا له په نامه د پلار او د ځوي او د روح القدس بپتسمه درکوم – آمین

که چرې هغوي ووایي چه وړوکي کمزوري دې نو په هغه باندې صرف اوبه اچول کافي دي او کلمه ذکر کړې شوې دِ ووایي

فلانیه زه تا ته په نامه د پلار او د ځوي او د روح القدس بپتسمه درکوم – آمین

نو قسیس دِ ووایي

مونږ دا وړوکي د مسیح د کلي په جماعت کښې شامل کوو او په هغه باندې د صلیب نښه راکاږو [اوس دِ قسیس په دې مراد سره چه په مسیح د وړوکي په تندي مصلوب باندې چه د ده ایمان باندې د صلیب دې د هغه له اقرار نه نښه راکاږي] و نه شرمیږي او پس له دې د هغه د جهنډې د لاندې د ګناه او د دنیا او د شیطان سره مردانه جنګ وکړي او تر مرګه پورې د مسیح وفادار سپاهي او غلام اوسي – آمین

قسیس دِ ووایي

اې محبوبانو وروڼو هرکله چه دې وړوکي نوې پیدایښت حاصل کړې دې او د مسیح د کلیسیې په بدن کښې پیوند شوې دې اوس په دې نمونه باندې د خدای قادر مطلق شکر وکړو



او په اتفاق سره دِ له هغه نه دعا وغواړو چه دا وړوکي خپل باقي عمر په دې شان سره تېر کړي لکه چه اوس د هغه شروع شوې ده

نو ټول دِ زنګنونه ولګوي او و دِ وایي

اې ځمونږ پلاره چه په آسمانونو کښې یې ستا د نوم پاکې دِ وي بادشاهت ستا دِ راشي رضا ستا لکه چه په آسمان پوره کیږي په زمکه دِ هم شي ځمونږ د نن ورځې ډوډئ نن مونږ له راکړه او تقصیرونه ځمونږ عفوه کړه چه مونږ هم هر تقصیروار خپل بخښو او مونږ په ازمایښت کښې مه راوله بلکه له هغه شریر نه موږ ساته آمین

نو قسیس دِ ووایي

اې ډیره رحیمه پلاره مونږ په زړه سره ستا شکر کوو چه تا مهر وکړ او دا وړوکي دِ په خپل روح القدس سره دوباره پیدا کړې دې او دې دِ خپل متبنّا کړې دې او د پاکې کلیسیې د بدن یو اندام دِ جوړ کړې دې هرکله چه هغه د ګناه په نسبت مړ او د راستبازئ د پاره ژوندې شه او د هغې بپتسمې په سبب چه د مسیح په مرګ کښې ده له هغه سره ښخ شوې دې مونږ په عاجزئ سره تا ته زاري کوو دا وبخښه چه دې زوړ انسانیت په صلیب کړي او د ګناه بدن نیست و نابوده کړي او څنګه چه هغه ستا د ځوي په مرګ کښې شریک شوې دې د هغه په قیامت کښې دِ هم شریک شي چه په آخر کښې ستا د پاکې کلیسیې د باقي مانده و سره ستا د ابدي بادشاهت وارث شي ځمونږ د خداوند یسوع مسیح په وسیلې سره – آمین

نو ټول دِ ودریږي او قسیس دِ دیني مور پلار ته داسې نصیحت وکړي

هرکله چه دې وړوکي ستاسو په وسیلې سره چه تاسو د ده ضامنان یئ دا وعده کړې ده چه زه به شیطان او د هغه ټول کارونه ترک کړم او به خدای به ایمان لرم او د هغه عبادت به کوم نو تاسو یاد لرئ او په تاسو واجب او لازم دي چه دا وړوکي هرکله چه د ده کولو لایق شي نو تاسو تجویز وکړئ چه هغه زده کړي چه څنګه لویه او درنه وعده ئې ستاسو په معرفت کړې ده – او چه هغه په ښه شان سره دا خبرې زده کړي نو تاسو له مناسب دي

چه هغه دَ وعظ اوريدلو دَپارَه حاضرَوُ او خاص تاسو خبردار اوسئ چه دَ رسولانو عقيده اودَ خداوند دُعا او لَسُ حکمونه او باقي هغه خبري چه په مسيحي باندِ ئي دَ خپل روح دَ صحت دَپارَ پوهيدل او منل فرض دِي هغه دِ دَ خپل ملک په ژبه کښ ياد کړي او دا وړوکي دِ په نيکوکارئ کښ داسي پرورش بيامومِي چه په خداترسئ سره لاپِ دَ مسيح عمر تير کړي او هميشه ياد لرئ چه بپتسمه څمونږ دَ اقرار يوه تشبيهه دَه او هغه اقرار دا دي چه مونږ دَ خپل نجات راکونکي مسيح په نقشِ قدم باندِ لاړ شُو او دَ هغه همشکله شُو-لکه چه هغه څمونږ دَپارَ مړ شه او بيا ژوندي شه په دي شان سره مونږ لهم چه چا بپتسمه اخستلي ده لازم دِي چه دَ گناه له طرفَ مړه شُو اودَ راستبازئ دَپارَ ژوندِي شُو او خپل ټول خراب اوخبيث خواهشونه هيشه وژنو او هره ورځ په خپل خوي خصلت سره په ټوله نيکئ او خداترسئ کښ ترقي کوونکي اوسُو

نو دا دِ هم ووايي

دا وړوکي هرکله چه دَ رسولانو عقيده اودَ خداوند دُعا او لَسُ حکمونه پخپله ژبه کښ اورولي شي او سوا له دي نه دَ کليسي دَ سوالِ جواب تعليم واخلِي چه دَدي مطلب دَپارَ مقرر دَي نو دَي دِ اُسقُف ځنه دَ مستقيم کولو دَپارَ حاضر کړي شِي

دَ خداي له کلامه ثابتَ دَه چه هر وړوکي چه بپتسمه واخلِي اودَ څه فعلِي گناه نه ورنبي مړ شِي نو بيشکَ نجات بيامومِي

دَ صليب نښه چه په بپتسمه کښ کيدلي شِي دَ هغي صحيح معنیٰ اودَ روا کولو وجه په ديرشم قانون کښ چه په سنه ۱۶۰۴ع کښ جارِي شوي دَي و دِ کتلي شِي تاچه شُبهه لرِي شِي

# په کور کښ دَ وړو دَ بپتسمي ترتيب

دَ هر جماعت په خادمُ الدين باندِ واجب دِي چه اکثر دِ خلق پوهه وِي چه هغوي دِ دَ خپلو وړو له پيدايښت نه پس په ورنبي يا په دويم اتوار يا په څه بلي ميعادِي ورځي باندِ چه په مينځ کښ راشِي نو دَ خپلو وړو په بپتسمه کښ دِ ډيل نه کړِي په هغوي شرط سره که چرِي. دَ خادمُ الدين په



راي دَ ډيل کولو څه معقوله وجه نه وِي

اودَدي آگاهي دِ هم ورته وکړي چه هغوي دِ بغير دَ څه لوي سببَ يا له ضرورتَ هيڅري په کور کښ خپلو وړو له بپتسمه نه ورکوِي او که چرِي ضرورت وِي نو دَدي ترتيب په موافق دِ بپتسمه ورکړي شِي

ورنبي دِ دَ هغي جماعت خادمُ الدين (که چرِي هغه نه وِي نو دِ بل څوک مقرر شوي خادمُ الدين که موندي کيږي) دَ هغو سره چه حاضر وِي خداي ته دِ زارِي وکړي او دَ خداوند دُعا اودَ علانيي بپتسمي ترتيب دوِمره دعاگانِي چه څومره فرصت وِي و دِ لولِي نو له هغوي نه چه حاضر وِي څوک دِ دَ هغي وړوکي نوم کيږدي او خادمُ الدين دِ په هغه اوبه واچوِي او دا دِ ووايي

فلانيه زه تا ته پنامه دَ پلار اودَ زوي او دَ روحَ القُدس بپتسمه درکوم-آمين

نو ټول دِ زنگنونه ولگوِي او خادمُ الدين دِ دَ خداي شکر وکړي او ودِ وايي

اي ډير رحيمَ پلارَ مونږ په زړه سره ستا شکر کوُو چه تا مهر وکړ دا وړوکي دِ په خپل روحُ القُدس سره دوباره پيدا کړي دَي هغه دِ خپل متبنّا اودَ پاکي کليسي دَ بدن اندام جوړ کړي دَي- مونږ په عاجزئ سره تا ته زارِي کوُو دا را وبخښه ترڅنگه چه هغه ستا دَ زوي په مرګ کښ شريک شوي دَي دَ هغه په قيامت کښ هم شريک شِي تاچه په آخر کښ ستا دَ پاکي کليسي دَ باقيماندَ سره ستا دَ ابدِي بادشاهت وارث شِي څمونږ دَ خداوند يسوع مسيح په وسيلي سره-آمين

او هغه خلق دِ شک نه راوړِي چه دَدي وړوکي بپتسمه دَ شريعت په موافق اوکافي دَه او هغه له بيا بپتسمه ورکول مناسب نه دِي تا هم که هغه وړوکي چه په دي شان سره ئي بپتسمه اخستلي وِي ژوندي پاتي شي نو مناسب دِي چه په کليسي کښ حاضر کړي شِي دَدي دَپارَ که چرِي دَ هغه جماعت خادمُ الدين هغي وړوکي له پخپله بپتسمه ورکړي وِي نو جماعت دِ آگاه کړي شِي چه هغه بپتسمه چه هغه له ئي ورکړي وه صحيح او درسته وه او په دي حال کښ دِ خادمُ الدين داسي ووايي

زه تاسو ته تحقيق خبر درکوم چه دَ کليسي دَ صحيح او مقرر ترتيب په موافق ما دي وړوکي له په فلانِي وقت او په فلانِي ځاي دَ څو شاهدانو دَ وړاندِ بپتسمه ورکړي ده

او که چرِي هغي وړوکِي له چا بل تقرريافته خادمُ الدين بپتسمه ورکړي وِي نو دَ هغي مقام له خادمُ الدين نه چه چرته هغه وړوکي پيدا شوي يا ئي بپتسمه اخستلي وه معلومه دِ کړي چه هغي وړوکِي دَ شرع په موافق بپتسمه اخستي دَه يا نه په دي حال کښ که چرِي هغه خلق چه وړوکي ئي

کليسي ته راوستلي وي دا جواب ورکړي چه دي
ورووکي بپتسمه اخستلي ده نو خادم الدّين دِ ترِ نه
نور سوال وکړي او ودِ وايي

چا دي ورووکي له بپتسمه ورکړي ده

چه دي ورووکي بپتسمه اخستهٔ نو
څوک حاضر وُو

ممکنه ده چه ددي سکرامنټ څه
ضروري خبري په سبب دَ خوف يا دَ
جلدئ دَداسي ناچارئ په وقت کښ
پاتي شوي وي ددي دَپارَ زه بيا له
تاسو نه تفحّص کوم

په څه څيز سره دي ورووکي بپتسمه
اخستي ده

په کومي کليمي سره دي ورووکي بپتسمه
اخستي ده

هغه خلق چه ورووکي ئي راوستي دي دهغو
له جواب نه که چري خادم الدّين ته معلومه شي چه
ټولي خبري څنګه چه مناسب دي شوي دي نو هغه دِ
ورووکي له بيا بپتسمه نه ورکوي بلکه هغه دِ دَ حقيقي
مسيحيانو په کله کښ شامل وګڼي او ودِ وايي

زه تاسو ته په تحقيق سره خبر
درکوم چه ددي ورووکي په بپتسمه
کښ ټولي خبري په ښه شان او په
مناسب طور سره شوي دي چه
هغه په موروثي ګناه او دَ خداي
په غضب کښ پيدا شوي وه اوس ئي
دَ دوباره پيدايښت په حوض کښ
بپتسمه وموندهٔ دَ خداي په فرزندانو
او دَ ابدي ژوندانه په وارثانو کښ
شامل شوي دَي څنګه چه څمونږ
خداوند يسوع مسيح داسي ورووکي
په خپل فضل او کرم سره محروم
نه ساتي بلکه په ډير الفت سره ئي
خپل خان ته څخه رابلي لکه چه څمونږ
دَ تسلي دَپارَ مقدّس انجيل دا
شاهدي ورکوي

دَ انجيل کلمات واورئ چه
مُقدّس مرقس دَ لسم باب له ديارلسم
آيت نه ليکلي دي

هغوي واړه هلکان مسيح ته
راوستل چه هغه ئي مَسح کړي مګر
شاګردانو راوستونکي ورټل - ليکن چه
يسوع وليدل نو خفه شه او هغوي
ته ئي ووِ چه هلکان ما ته راپريږدئ او
هغه مه منع کوئ څکه چه دَ خداي بادشاهت
هم دَداسي دَي - زه تاسو ته رښتيا وايم
که څوک دَ خداي بادشاهت دَ ورو هلکانو
په شان قبول نکړي نو هغه به په کښ
داخل نشي هغوي ئي په غيږ کښ واخستل
او پري ئي لاس کيښودل او برکت ئي ورکړ



دَ انجيل له لوستو نه دِ پس خادم الدّين دا مختصر
نصيحت دَ انجيل له کلماتو نه داوروي

اي محبّانو تاسو په دي انجيل کښ
څمونږ دَ خلاصونکي مسيح کلمات اورئ
چه هغه حکم وکړ چه واړه ما له
راولئ او چا چه هغوي هغه څخه له
راوستو نه منع کول څنګه ئي ورټل
او ټولو خلقو ته څنګه نصيحت کړي
چه په ساده ګئ کښ دَ هغوي په شان
شي تاسو وينئ چه هغه په صاف
اشارت او په فعل سره خپله خيرخواهي
په هغوي باندِ څنګه ظاهره کړه - چه
هغه ئي په غيږ کښ واخستل او په
هغوي ئي لاسونه کيښودل او دُعا دَ خير
ئي ورته وکړه - نو تاسو شک مه راوړئ
بلکه ښه يقين وکړئ چه هغه دا ورووکي
هم په مهربانئ سره قبول کړ او دَ
خپل رحمت په غيږ کښ ئي اخستي دَي
او دَ ابدي ژوندون برکت به وله ورکړي
او په خپل لازوال بادشاهت کښ به
ئي شريک کړي - نو هرکله چه په مونږ
باندِ دَ خپل آسماني پلار خيرخواهي
ددي ورووکي په حق کښ داسي ثابته
شوه لکه چه هغه دَ خپل څوي يسوع
مسيح په معرفت ظاهره کړه نو مونږ دِ
په ايمان دارئ او په عاجزئ سره دَ
هغه شکر وکړو او هغه دُعا ولولو
چه خداوند پخپله مونږ ته ښوولي ده

اي څمونږ پلاره چه په آسمانونو
کښ ئي ستا دَ نوم پاکي دِ وي بادشاهت
ستا دِ راشي رضا ستا لکه چه په
آسمان پوره کيږي په زمکه دِ هم
شي څمونږ دَ نن ورځي ډوډي نن مونږ
له راکړه او تقصيرونه څمونږ عفوه
کړه چه مونږ هم هر تقصيروار خپل
بخښو او مونږ په ازمايښت کښ مه
راوله بلکه له هغه شرير نه موساته
آمين

اي قادرِ مطلق او قديمه خدايه
آسماني پلاره مونږ په عاجزئ سره ستا
شکر کوو چه تا په خپلي مهربانئ سره
مونږ رابللي يُو چه ستا فضل وپيژنو
او په تا ايمان راوړو — څمونږ دا پوه
زيانه کړه او مونږ په دي ايمان باندِ
هميشه مضبوط لره خپل روح القُدس
دي ورووکي ته وبخښه چه هغه څمونږ
دَ خداوند يسوع مسيح په وسيلي
سره دوباره پيدا شه او دَ ابدي نجات
وارث شه ستا غلام اوسي او ستا
تر وعدي پوري

ورسي ستا دَ هغې ځوي ځمونږ دَ خداوند
يسوع مسيح په وسيلي سره چه دَ تا او
دَ روح القدس سره اوس او تر ابده
ژوندي او بادشاهت کوي - آمين

نو قسيس دِ دَ وړوکي دَ نوم پښتنه وکړي
او چه دِيني مور پلار هغه ته وښيي نو خادم
دي دِ داسي ووائي

آيا ته دَدي وړوکي په عوض کښي
شيطان او دَ هغه ټول کارونه او دَ
دُنيا باطلي دبدبي او شان شوکت
دَ هغې دَ تمام لالچ سره او دَ جسم نفساني
خواهشونه داسي رد کوي چه دَ هغې پيروي
به نه کوي او نه به دَ هغې په قيد کښي
اوسي

جواب - زه دا ټول رد کوم

امام

آيا ته په الله قادر مطلق پلار
باندِ ايمان لري چه دَ آسمان او دَ زمکي
خالق دي
او په يسوع مسيح چه دَ هغه ابنِ
وحيد او ځمونږ خداوند دي چه دَ
روح القدس په قدرت سره پيدا
کيږه شه - له پيغلي مريمي نه پيدا
شه - دَ پنطوس پلاطس په حکومت کښي
ئې درد وزغمه - مصلوب شه - مړ شه -
او ښخ شه - عالم برزخ ته کوز شه -
په دريمه ورځ له مړو نه ژوندي
پاڅيده - آسمان ته وخوت - او دَ الله
قادر مطلق پلار ښي لاس ته ناست
دي له هغه ځاي نه به دَ ژوندو
او دَ مړو دَ عدالت کولو دَپاره راشي
آيا ته په روح القدس باندِ ايمان
لري په پاکي کاتلکي کليسيي باندِ دَ
پاکانو په رفاقت دَ گناهونو په بخښنه
دَ بدن په قيامت او په ابدي ژوندون
باندِ

ځواب - په دي ټولو باندِ زه پخ ايمان
لرم

امام

آيا ته به په فرمان بردارئ سره
دَ خداي پاکه مرضي او حکمونه په ځاي
راوړي او تمام عمر به دَ هغې په
موافق ځي

ځواب - هو زه به داسي کوم

نو قسيس دِ ووائي

مونږ دا وړوکي دَ مسيح دَ گلي په
جماعت کښي شامل کوو او په هغه باندِ
دَ صليب نښه راکاږو* *[اوس دِ قسيس دَ وړوکي
په دي مراد سره چه په تندي باندِ دَ صليب
مسيح مصلوب باندِ چه نښه راکاږي]



دَده ايمان دي دَ هغه له اقراره
و نه شرميږي او پس له دي دَ هغه
دَ جهنډي دَ لاندِ دَ گناه او دَ دنيا او دَ شيطان
سره مردانه جنگ وکړي او تر مرگه
پوري دَ مسيح وفادار سپاهي او غلام
اوسي - آمين

نو قسيس دِ ووائي

اي محبوبانو وروڼو هرکله چه دي
وړوکي دَ بپتسمي په وسيلي سره نوي پيدائښت حاصل
کړي دي او دَ مسيح دَ کليسيي په بدن کښي
پيوند شوي دي اوس په دي نعمتونو
باندِ دَ خداي قادرِ مطلق شکر وکړو
او په اتفاق سره دِ له هغه نه دُعا
وغواړو چه دي خپل باقي عمر په
دي شان سره تير کړي لکه چه اوس دَ
هغه شروع شوي ده

نو قسيس دِ ووائي

اي ډيره رحيم پلاره مونږ په زړه
سره ستا شکر کوو چه تا مهر وکړو
دا وړوکي دِ په خپل روح القدس سره
دوباره پيدا کړي دي هغه دِ خپل متبنا
او دَ پاکي کليسيي دَ بدن اندام جوړ کړي دي
هرکله چه هغه دَ گناه په نسبت مړ
او دَ راستبازئ دَپاره ژوندي شه او
دَ هغې بپتسمي په سبب چه دَ مسيح په
مرگ کښي ده له هغه سره ښخ شوي دي
مونږ په عاجزئ سره تا ته زاري کوو دا
را و بخښه چه هغه زوړ انسانيت په
صليب کړي او دَ گناه بدن نيست او
نابوده کړي - او څرنگه چه هغه ستا دَ
ځوي په مرگ کښي شريک شوي دي دَ
هغه په قيامت کښي هم شريک شي
تا چه په آخر کښي ستا دَ پاکي کليسيي
دَ باقيماندهٔ سره ستا دَ ابدي
بادشاهت وارث شي ځمونږ دَ خداوند
يسوع مسيح په وسيلي سره - آمين

نو ټول دِ ودريږي او امام دِ ديني مور
پلار ته داسي نصيحت وکړي

هرکله چه دي وړوکي ستاسو په
وسيلي سره چه دَده ضامنان ئې دا
وعده کړي ده چه زه به شيطان او دَ
هغه ټول کارونه ترک کړم او په خداي
به ايمان لرم او دَ هغه عبادت به
کوم نو تاسو ياد لرئ او په تاسو واجب
او لازم دي چه دا وړوکي هرکله چه
دَ زده کولو لايق شي نو تاسو تجويز وکړئ
چه څنگه لويه او درنه وعده ئې ستاسو
په معرفت کړي ده - او چه هغه په ښه
شان سره دا خبري زده کړي نو تاسو
له مناسب دي چه هغه دَ وعظ اوريدلو

دَپارَ حاضروئ او خاص تاسو خبردار اوسئ چه دَ رسولانو عقیده او دَخداوند دعا او لَس حکمونه او باقي هغه خبري چه په مسیحي بانِدِ ئي دَ خپل روح دَ صحت دَپارَ پوهیدل او منل فرض دِي هغه دِ دَ خپل مُلک په ژبه کښ یاد کړي او دا وړوکي دِ په نیکوکارئ کښ داسي پرورش پیاموي چه په خداي ترسئ سره لایق دَ مسیح عمر تیر کړي او همیشه یاد لري چه بپتسمه خمونږ دَ اقرار یوه تشبیهه ده او هغه اقرار دا دَي چه مونږ دَ خپل نجات راکونکي مسیح په نقش قدم بانِدِ لاړ شُو او دَ هغه همشکله شُو- لکه چه هغه خمونږ دَپارَ مړ شه او بیا ژوندي شه په دي شان سره مونږ هم چه چا بپتسمه اخستلي دَه لازم دِي چه دَ گُناه له طرفَ مړه شو او دَ راستبازئ دَپارَ ژوندِي شُو او خپل ټول خراب او خبیث خواهشونه همیشه وژنو او هره ورځ په خپل خوي خصلت سره په ټوله نیکئ او په خداي ترسئ کښ ترقي کونکي اوسو

مگر هغوي چه وړوکي ئي کلیسي ته راوستي دي دَ امام دَ سوالونو جواب په ښه شان ورنه کړي چه یقین پرِ وشي چه وړوکي په اوبو سره دَ پلار او دَ خوي او دَ روحُ القدس په نوم (چه دا دَ بپتسمي ضروري ارکان دِي) بپتسمه اخستي ده نو قسیس دِ دَ وړوکو دَ علانیي بپتسمي دَ ترتیب به موجب چه پورته لیکلي دي هغي وړوکِي له دِ بپتسمه ورکړي مگر وړوکِي له دِ په اوبو کښ دَ بپتسمي ورکولو په وقت دا کلمه ووايِي

که چري تا بپتسمه نه وي اخستي نو فلانیه زه تا له پنامه دَ پلار او دَ خوي او دَ رُوحُ القُدس بپتسمه درکوم -آمین

## دَ بالغانو دَ بپتسمي ترتیب
### چه پخپله جواب ورکولي شي

هرکله چه داسي کسانو له بپتسمه ورکول وِي چه بالغان وِي نو مور پلار یا نور هوښیاران کسان دِ اُسقُف ته یا هغه ته چه اُسقُف ئي په دي کار مقرر کړي له لږونه لږ دِ ئي یوه هفته وړنبي خبر کړي تا چه دَ هغو ازماینبت په ښه شان سره وشي چه آیا هغوي دَ مسیحي دین په اصول کښ لکه چه دَي داسي تعلیم موندلي دَي که نه او هغوي ته دِ نصیحت وکړي شي چه هغوي په دُعا او په روزه سره خپل ځان دَدي مقدس سکرامنت دَپارَ تیار کړي

که چري هغوي دَ بپتسمي لایق معلوم شي (نو په مقرري اتوار یا په میعادي ورځ څه وقت چه خلق جمع وِي) دَ سحر یا دَ نماښام دَ نمانځه دَدوېم ورد پس دَ جماعت دَ امـام دَ راي په موافق دِ دَ هغوي شاهدان هغه راولي دَ بپتسمي حوض یا لوخي ځنګه دِ حاضر کړي

او قسیس دِ هلته ودرېږي او پښتنه دِ وکړي په تاسو کښ چه دلته حاضر یئ چا بپتسمه اخستي دَه که نه که په جواب کښ هغوي ووِ چه نه نو قسیس دِ داسي ووايِي



اي محبوبانو هرکله چه ټول بني‌آدم گناه‌آلوده په رحِم کښ راځي او پیدا کیږي (او هرڅوک چه له جسمَ پیدا شوي دي جسم دَي) او څوک چه په جسم کښ دِي هغه خداي نشِي راضي کولِیَ بلکه په گُناه کښ ژوندون تیروي او ډیري خطاګانې کوي او څمونږ نجات راکونکي مسیح فرمایي هرکس چه له اوبو او له روحُ القدس دوبارَ پیدا نشِي او دوېم پیدایښت بیا نه موِي هغه دَ خداي په بادشاهت کښ داخلیدلي نه‌شِي زه تاسو ته زارِي کوم چه څمونږ دَ خداوند یسوع مسیح په وسیلي سره خداي پلار ته زاري کړئ چه په خپل فضل او رحمت سره دي کسانو ته هغه نعمت وبخښي چه هغوي ته په خپل ذات سره حاصلیدلي نشِي- تا چه دَ اوبو او دَ روحُ القُدس بپتسمه بیاموِي دَ مسیح په پاکي کلیسي کښ شامل شِي او دَ هغه ژوندِي اندامونه شِي

بیا دِ قسیس ووايِي

## مونږ دِ دُعا وغواړو
(دلته دِ ټول جماعت زنګنونه ولګوِي)

اي قادره او قدیمه خدایه تا پخپل لوي رحمت سره دَ حضرتِ نوح او دَ هغه خاندان دَاوبو له هلاکت په بېړئ کښ بچ کړ او خپل اُمت بني‌اسرائیل دِ هم له بحرِ قلزم نه صحیح سلامت پوري کړ او له دي واقعي نه دِ دَ خپلي پاکي بپتسمي تشبیهه وښوله او دَ یردن په سیند کښ دِ دَ خپل محبوب ځوي یسوع مسیح دَ بپتسمي په اخستو سره دَ اوبو تقدیس وکړ چه په هغه کښ له غُسلِ سِرِیَه په سبب گناه ووینځلي شي- مونږ تا ته زارِي کوو چه ته په خپلو بیحدو رحمتونو سره په دي کسانو بانِدِ دَ مهربانئ نظر وکړه دوی په روحُ القدس سره ووینځه او پاک ئي کړه چه دوي ستا له قهره

خلاصي بياموي او دَ مسيحي کليسيي په بيړۍ کښ داخل کړي شي او په ايمان کښ مضبوط او په اميد کښ خوشحاله اوسي او په محبّت کښ جړ ونسي او له دي پُرتکليفي دُنيا له چپو نه داسي پوري وځي چه آخر کار دَ ابدي ژوندانــه سرزمين ته ورسي چه هلته له تا سره تر ابده بادشاهت کړي- خپونږ دَخداوند يسوع مسيح په وسيلي سره- آمين

اي خدايه قادره حَيُّ القَيُّوم دَ هر محتاج مددګاره- او دَ هر خواستګار معاوِنَ ته دَ خپلو ايمان دارو ژوندون او دَ مړو قيامت يي موږ دَدي کسانو دَپارَ تا ته زارِي کوُو چه دوي ستا دَ مقدسي بپتسمي دَپارَ راغلي دِي چه دوباره به روحاني پيدايښت سره دَ خپلو ګُناهونو معافي حاصله کړي اي خداوندَ دوي قبول کړه لکه چه تا دَ خپل محبوب ځوي په معرفت وعده کړي دَه چه غواړئ نو در به کړي شي لټوئ نو بيا به مومئ ټکوئ نو ستاسو دَپارَ به لري کړي شي نو اوس موږ غواړو لاله راکړه موږ لټوو و دِ مومو ټکوُو خپونږ دَپارَ دروازه لري کړه چه دا کسان ستا دَ آسماني غُسل دائمي برکت حاصل کړي- او هغي بي زوال بادشاهت ته ورسي چه دَ هغي تا خپونږ دَ خداوند يسوع مسيح په وسيلي سره وعده کړي دَه- آمين

نوجماعت دِ ودريږي او تسبيس دِ دِ ووايي

دَ انجيل کلمات واورئ چه مقدّس يوحنّا دَ دريم باب په اوّل آيت کښ ليکلي دِي

په فريسيانو کښ يو سړي نيقوديموس نوُمِ دَ يهوديانو يو سردار وه- دي دَ شپي يسوع له راغئ او هغه ته ئي ووِ اي ربّي موږ پوهيږو چه ته دَ خداي له طرفَ معلّم راغلي يي ځکه چه هيڅوک دا معجزي چه ته ښيي نه شي ښوولي تر څو چه خداي له هغه سره نه وِي يسوع جواب ورکړ او ورته ئي ووِ زه تا ته رښتيا رښتيا وايم تر کومي پوري چه څوک دوباره پيدا نشي نو دَ خداي بادشاهت ليدي نشي- نيقوديموس ورته ووِ چه سړي زوړ شي نو څرنګه پيدا کيدي شي آيا دَ هغه دا قدرت شته چه بيا دَ مور په کيهړه لاړ شي او پيدا شي- يسوع وله ځواب ورکه زه در ته رښتيا رښتيا وايم تر کومي پوري چه څوک له اوبو او له روحه پيدا نشي دَ خداي په بادشاهت کښ داخل



کيدي نشي څوک چه له جسمَ پيدا شه جسم دَي او چه له روح نه پيدا شه روح دَي تعجب مه کوه چه ما درته ووِ چه تا له دوباره پيدا کيدل ضرور دِي باد چه چرته غواړِي نو ځي او ته دَ هغه آواز اورِي مګر نه پوهيږي چه هغه له کومه راځي او چرته ځي هرڅوک چه له روحه پيدا شه هم داسي دَي

له دي نه پس دِ هغه دا نصيحت واوروِي

اي محبوبانو تاسو په دي انجيل کښ خپونږ دَ نجات راکونکي مسيح خاص لفظونه اورئ چه سړي له اوبو او له روحَ پيدا نه شي هغه دَ خداي په بادشاهت کښ داخليدي نه شي- له دي نه تاسو معلومولي شئ چه دَدي سکرامنټ چه ئي دَ اختلو موقع وِي نو ډير ضرورت دَي- په دي شان سره دَ مقدّس مرقس دَ انجيل په اخرِي باب کښ ليکلي دِي چه خداوند آسمان ته عين دَ ختو په وقت خپلو شاګردانو ته داسي وفرمائيل چه تاسو په عالم کښ لاړ شئ او هر يو مخلوق ته دَ انجيل خوشخبري واوروئ- او هرڅوک چه ايمان راوړي او بپتسمه واخلي نو نجات به بياموي او هرڅوک چه ايمان را نه وړي په هغه باندِ به دَ سزا حکم وشي- له دي نه هم ظاهره ده چه له بپتسمي نه موږ ته څومره لويه فائده حاصليږي- له دي سبب هرکله چه پطرس رسول ونبيي ځله منادي وکړه نو دَ ډيرو زړونه سوري شو نو هغوي له پطرس او له باقي رسولانو نه سوال وکړ اي سړو ورونړو موږ څه وکړو نو هغه ورته په ځواب کښ ووِ چه له تاسو نه دِ هر يو توبه وکړي او دَ ګُناهونو دَ معافئ دَپارَ دِ بپتسمه واخلي نو روح القدس به تاسو ته ورکړل شي- چه دا وعده ستاسو او ستاسو دَ اولاده سره دَه او له هغو ټولو سره چه لري دِي څومره چه خپونږ خداوند خداي ئي راوبلي- او په ډيرو خبرو سره ئي هغه پوه کړل چه خپل ځان دَدي کوږ نسل نه بچ کړي- چنانچه هم دغه رسول په بل ځاى کښ شاهدي ورکوي چه دَ يسوع مسيح دَ قيامت په وسيلي سره اوس موږه بپتسمه بچ کوي (هغه دَ بدن خيري لري کول نه دِي بلکه دَ خداي په حضور دَ ښه تميز ځواب دي)- پس تاسو شک مه راوړئ بلکه ښه يقين

وکړيُ چه هغه دي کسانو له چه حاضر
دِي او حقيقي توبه کوي او دَ ايمان
په لاري سره هغه تحه راځي په رضامندئ
سره به ئي قبول کړي دَ هغوي ګناه به
وبخښي او هغوي ته به روحُ القُدس ور
عنايت کړي او ابدي ژوندون به ورکړي
او په خپل لازوال بادشاهت کښ به ئي
شريک کړي

نو هرکله چه په مونږ باندِ دَخپل
آسماني پلار خيرخواهي دَدي کسانو په طرف
داسي ثابتَ شوه لکه چه هغه دَخپل
خوي يسوع مسيح په معرفت هغه ظاهره
کړه نو مونږ دِ په ايمانداريُ او په عاجزيُ
سره دَ هغه شکر وکړو او ود وايُو

اي قادره او قديمَ الله آسماني
پلاره مونږ په عاجزيُ سره ستا شکر کوُو
چه تا په خپلي مهربانګيُ سره مونږ بللي
يُو چه ستا فضل وپيژنو او په تا ايمان
راوړو-خمونږ دا پوه زيانه کړه او مونږ
په دي ايمان باندِ هميشه مضبوط لره-
خپل روحُ القدس دي کسانو ته وبخښه
چه دوي دوباره پيدا شِي او دَ ابدي
ژوندانه وارثان شِي-خمونږ دَ خداوند
يسوع مسيح په وسيلي سره چه دَ تا او
دَ روحُ القُدس سره اوس او تر ابده
ژوندي او بادشاهت کوي-آمين

نو قسيس دِ هغي کسانو ته چه بپتسمي اخستلو
له راغلي دِيُ داسي ووايِي

اي محبوبانو چه دلته دَ پاکي بپتسمي
دَ اخستو په اميد راغلِي يئ تاسو اوريدلي
دِي چه دي جماعت دُعا غوښتلي دَه چه
خمونږ خداوند يسوع مسيح په مِهر سره
تاسو قبول کړي او تاسو له برکت درکړي
تاسو دَ خپلو ګناهونو نه خلاص کړي او
تاسو ته آسماني بادشاهت او ابدي ژوندون
درکړي-تاسو دا هم اوريدلي دِي څومره
خبزونه چه مونږ غوښتلي دِي دَ هغي
دَ ورکولو وعده خمونږ خداوند يسوع
مسيح په خپل مقدّس کلام کښ کړي
ده هغه خو به ئي يقيناً په کاملي
وفاداريِ سره پوره کړي-ليکن دَ مسيح
دَ داسي وعدي نه پس په تاسو هم
فرض دِي چه تاسو پخپله دَدي شاهدانو
او دَدي ټول جماعت دَ وړاندِ په صدق
دَ زړه سره وعده وکړيُ چه مونږ به
شيطان او دَ هغه ټول کارونه رد کړو
او دَ خداي په مُقدّس کلام باندِ به
محکم ايمان لرُو او دَ هغه حکمونه
به په فرمان برداريُ سره منو



نو قسيس دِ نه هريِ نه چه هغه بپتسمه اخلي
دا سوال وکړي

## سوال

آيا ته شيطان او دَ هغه ټول کارونه
او دَ دنيا شان شوکت او دبدبه او دَ
هغي دَ ټول لالچ سره او دَ جسم
نفساني خواهشونه داسي ترک کوي چه
ته به دَ هغي پيروي نه کوي او نه به
دَ هغي په قيد کښ اوسي
جواب—زه هغه ټول رد کوم

## سوال

آيا ته په الله قادرِ مطلق پلار
باندِ ايمان لري چه دَ آسمان او دَ زمکي
خالِق دَي

او په يسوع مسيح چه دَ هغه
ابنِ وحيد او خمونږ خداوند دَي
چه دَ روح القدس په قدرت سره
په ګيډه شه-له پيغلي مريمي
نه پيدا شه-دَ پنطُس پلاطُس په حکومت
کښ ئي درد وزغهه-مصلوب شه-مړ
شه-او ښخ شه-عالمِ برزخ ته کوز شه-
په دريمه ورځ له مړو نه ژوندي
پاڅيده-آسمان ته وخوت-او دَ الله
قادرِ مطلق پلار ښي لاس ته ناست
دَي-له هغه ځايَ به دَ ژوندو او دَ
مړو دَ عدالت کولو دَپارَ راځي

آيا ته په روحُ القدس باندِ ايمان
لري په پاکي کاتلکي کليسيي باندِ دَ پاکانو
په رفاقت دَ ګناهانو په بخښنه دَ
بدن په قيامت او په ابدي ژوندون
باندِ

ځواب- په دي ټولو باندِ زه پوخ
ايمان لرم

## سوال

آيا ته په دي ايمان باندِ بپتسمه
غواړي

ځواب- دا خما آرزو دَه

## سوال

آيا ته به په فرمان برداريُ سره دَ
خداي مقدسه مرضِي او حکمونه په
ځاي راوړي او تمام عمر به دَ هغي په
موافق ځي

جواب—هو چه له خدايه مدد بيامومم
نو دَ داسي کولو کوشش به وکړم

نو قسيس دِ دوايِي

اي رحيمَ الله دا راوبخښه چه
زوړ آدم په دي کسانو کښ داسي ښخ
کړي شِيْ چه په هغو کښ نوي آدم
ژوندي پورته شِي-آمين

دا را و بخښه چه په دوي کښ ټول نفساني

خواهشونه مره شي او هغه ټولي خبري چه په روح القدس سره کيږي په دوي کښ ژوندي شي او زياتي شي ـ آمين

دا را وبخښه چه دوي داسي قوت او قدرت حاصل کړي چه به شيطان او په دنيا او په جسم بانډِ غالب شي او پرِيږي بياموِي ـ آمين

دا را وبخښه هرڅوک چه دلته خمونږ دَ عُهدي په خدمت سره تاته پيش کيږي په آسماني فضيلتونو سره دِ آراسته شي او بي زواله اجردِ بياموِي ستا په رحم سره اي مبارکه خداونده چه ترابده ژوندي او په ټولو څيزونو بانډِ حکومت کوي ـ آمين

اي قادرِ مطلقَ حيُّ القيّومَ خدايه ستا ډير عزيز ځوي يسوع مسيح خمونږ دَ گناهونو دَ بخښني دَپارَ دَ خپلي ډيري بيش قيمتي ېنيتيُ نه اوبه او وينني دواړه وبهولي او خپلو شاگردانو ته يُ وفرمائيل چه لاړ شيُ او ټول قومونه شاگردان کړئ او هغو له په نامه دَ پلار او دَ ځوي او دَ رُوحُ القدس بپتسمه ورکړي مونږ تا ته زاري کوُ چه دَ خپل جماعت په منتونو بانډِ توجه وکړه او دا اوبه داسي پاکي کړه چه په دي کښ په

غُسلِ سرِيَه سره گناه وينځلي شي او دا را وبخښه چه دا کسان چه اوس په دي کښ بپتسمه موِي ستا له فضله معمور شي او ستا دَ ايمان دارانو غوړ شويو خامنو په شمار کښ هميشه اوسي خمونږ دَ خداوند يسوع مسيح په وسيلي سره ـ آمين

تو قسيس دِ دَ هر کس چه بپتسمه اخستونکي وي ښي لاس ونيسي په موقع سره دِ ني ظرف يا دَ بپتسمي حوض څخه دَ خپلي راي په موافق حاضر کړي او دَ گواهانو نه دِ بيَ دَ نوم ښتنه وکړي بيا دِ هغه له په اوبو کښ غوټه ورکړي يا دِ په هغه بانډِ اوبه واچوي او دِ دِ وائي

فلانيه زه تا له په نامه دَ پلار او دَ ځوي او دَ روح القدس بپتسمه درکوم ـ آمين

تو قسيس دِ ووائي

مونږ دا کس دَ مسيح دَ گلي په جماعت کښ شامل کوُ او په ده بانډِ دَ صليب نښه راکاږوُ* *[اوس دِ قسيس دَ هغي په دي مراد سره چه کس په تندي بانډِ دَ په مسيح مصلوب بانډِ صيب نښه راکاږي] چه يُ ايمان دَي دَ هغه له اقرار نه هغه و نه شرميږي او پس له دي دَ هغه دَ جهنډي لانډِ دَ گناه او دُ



دُنيا او له شيطان سره مردانه جنګ وکړي او تر مرګه پوري دَ مسيح وفادار سپاهي او غلام اوسي ـ آمين

بيا دِ قسيس ووائي

اي محبوبانو ورورو هرکله چه دي کسانو دويم پيدايښت بياموند او دَ مسيح دَ کليسي په بدن کښ پيوند شوي دي اوس په دي نعمتونو بانډِ دَ خداي قادرِ مطلق شکر وکړو او په اتفاق سره له هغه نه دُعا وغواړو چه دا کسان خپل باقي عمر داسي تير کړي لکه چه اوس دَ هغي شروع شوي دَه

تو ټول دِ زنګنونه ولږوي دَ خداوند دعا دِ ولولي

اي خمونږ پلاره چه په آسمانونو کښ يي ستا دَ نوم پاکي دِ وي بادشاهت ستا دِ راشي رضا ستا لکه چه په آسمان پوره کيږي په زمکه دِ هم شي خمونږ دَ نن ورځي ډوډيُ نن مونږ له راکړه او تقصيرونه خمونږ عفوه کړه چه مونږ هم هر تقصيروار خپل بخښو او مونږ په ازمايښت کښ مه راوله بلکه له هغه شرير نه مو وساته ـ آمين

اي آسماني پلاره مونږ په عاجزيُ سره ستا شکر کوُ چه تا مهربه کړي دَي او مونږ دِ راغوښتلي يو چه ستا فضل و پيژنوُ او په تا ايمان ولروُ خمونږ دا پوه زياته کړه او مونږ په دي ايمان بانډِ هميشه مضبوط لره دي کسانو ته خپل رُوحُ القدس وبخښه دوي چه اوس دوباره پيدا شول او خمونږ دَ خداوند يسوع مسيح په وسيلي سره دَ ابدِي ژوندانه وارثان شوِي دِي ستا بندګانان اوسي او ستا وعدي ته ورسي ستا دَ هغي ځوي خمونږ دَ خداوند يسوع مسيح په وسيلي سره چه دَتا او دَ روح القدس په يکانګت کښ تر ابده پوري له تا سره ژوندي او بادشاهت کوي ـ آمين

تو ټول دِ ودريږي او قسيس دِ دا نصيحت چه لانډِ دَي واوروِي او ورښي دِ دَ هغه ګواهانو ته ووائي

هرکله چه دي کسانو ستاسو دَ وړانډِ دا وعده کړي دَه چه مونږ به شيطان او دَ هغه ټول کارونه رد کړوُ او په خداي به ايمان لرُو او دَ هغه عبادت به کوُو نو تاسو ياد ولرئِ او په تاسو بانډِ واجب او لازم دِي چه تاسو هغوي ته پوريادوئِ چه څومره لويه وعده

او اقرار هغوي اوس دَدي جماعت دَ وړاندِ خاص ستاسو دَ وړاندِ چه دَ هغه غوره کړي شوي شاګردان يئِ کړي دَه- او په تاسو دا هم لازم دِي چه دوي له رغبت ورکوئِ چه دوي ډير کوشش وکړي او دَ خداي دَ پاک کلام صحيح تعليم حاصل کړي چه څومونږ دَ خداوند يسوع مسيح په فضل او په عرفان کښ ترقي وکړي او په خداي ترسئِ او په راستبازئ او په پرهيزګارئِ سره په دي جهان کښ عمر تير کړي

بيا دِ هغوي ته چه ني اوس بپتسمه اخستي ده مخاطب شي او دِ وائي

او په تاسو باندِ هم چه اوس مو دَ بپتسمي په وسيلي سره مسيح اغوستي دي واجب او لازم دِي لکه چه تاسو په يسوع مسيح دَ ايمان راوړلو سره دَ خداي او دَ نور خاص شوي يئِ په دغه شان دِ ستاسو خوي خصلت هم وي لکه چه دَ مسيح په بللو شوي او دَ نور په خاصو لازم وي او هميشه يادلرئِ چه بپتسمه ستاسو دَ اقرار يوه نښه ده او هغه اقرار دا دَي چه مونږ دَ خپل نجات راکونکي مسيح په نقش قدم باندِ لاړ شو او دَ هغه هم شکلي شو لکه چه هغه څمونږ دَ پارَ مړ شه او بيا ژوندي شه په دي شان سره مونږ له هم چه چا بپتسمه اخستي دَه مناسب دِي چه دَ ګناه له طرفه مړه شو او دَ راستبازئِ دَ پارَ ژوندي شو او خپل ټول خراب او خبيث خواهشونه هميشه وژنو او هره ورځ په خپل خوي خصلت سره په ټولي نيکئِ او په خداي ترسئِ کښ ترقي کونکي اوسو

مناسب دِي چه مړ چا چه هغه په دي شان سره بپتسمه اخستي وي له بپتسمي نه پس دِ په مناسب موقع بي ډيلَ دَ مستحکم کيدو دَ پارَ دَ اسقف دَ وړاندِ حاضر کړي شي تاچه په پاک رفاقت کښ شريک شي

که دامي کسان چه هغوي په وړوک والي کښ بپتسمه نه وي اخستي دَ هغي نه وروستي چه بالغ شي او پخپله جواب ورکولي شي دَ بپتسمي دَ پارَ حاضر کړي شي نو دَ هغوي دَ پارَ دَ وړوکو دَ علانيي بپتسمي ترتيب (يا که په خطرناک حالت کښ وي) دَ کور دَ بپتسمي ورکولو ترتيب په استعمال کښ راوړل کافي دِي نو صرف دَ وړوکي دَ لفظ په عوض کښ و لفظ دَ هلک يا دَ شخص دَ موقع په موافق ووېلي شي



# تعليم په طور دَ سوال او جواب

چه دَدي زده کول په هر کس باندِ وړنبي له هغي نه چه اسقف صاحب ئي مستقيم کړي لازم دِي

سوال

ستا نوم څه دَي

جواب- فلاني

سوال- ستا دا نوم چا ايښي دَي

جواب- څما ديني مور پلار ايښي دَي څما دَ بپتسمي په وقت چه په کښ زه دَ مسيح يو اندام دَ خداي فرزند او دَ آسماني بادشاهت وارث شوم

سوال- ستا ديني مور پلار ستا دَ پارَ هغه وقت څه کړي دِي

جواب- هغوي څما دَ پارَ دَ دريو خبرو قول او اقرار کړي دَي- اول دا چه شيطان او دَ هغه ټول کارونه او دَدي خرابي دُنيا شان شوکت او واهيات او دَ نفس ټول بد خواهشونه به زه رد کړم- دويم دا چه زه به دَ مسيحي ايمان په ټولو عقيدو باندِ اعتقاد لرم- دريم دا چه دَ خداي پاکه مرضي او حکمونه به په ځاي راوړم او ټول عمر به په هغي باندِ هره ورځ ځم

سوال- ايا ته پوهيږي چه دَ هغوي دَ قول او دَ اقرار په موافق ايمان لرل او عمل کول په تا باندِ فرض دِي

جواب- هو بيشک او خداي دِ مدد وکړي نو داسي به وکړم- او زه دَ خپل آسماني پلار په زړه سره شکر کوم چه هغه څمونږ دَ نجات راکونکي خداوند يسوع مسيح په وسيلي سره دَ نجات دي مرتبي ته زه رسولي يم- او زه له خداي نه دعا غوارم چه هغه په ما باندِ خپل فضل وکړي چه تر مرګه پوري په دي حالت کښ قايم اوسم

سوال

دَ خپل ايمان عقيده واوروه

جواب

زه ايمان لرم په الله قادرِ مطلق پلار باندِ چه دَ آسمان او دَ زمکي خالق دَي

او په يسوع مسيح چه دَ هغه ابن

وحید اوخوښ خداوند دَي چه دَ روح القدس په قدرت سره په کیدۀ شه او له پیغلي مریمي نه پیدا شه-سَو پنطوس پیلاطُس په حکومت کښې ئې درد وزغه مصلوب شه- مړ شه-او ښخ شه- عالمِ برزخ ته کوز شه-او په دریمه ورځ له مړو نه ژوندي پاخیده-آسمان ته وخوت-او دَ خداي قادر مطلق پلار ښي لاس ته ناست دَي-له هغه ځاي نه به دَ ژوندو او دَ مړو دَ عدالت کولو دَپارَ راځي

زه ایمان لرم په روح القدس باندِ او په پاکي کاتلکي کلیسیي باندِ دَ پاکانو په رفاقت دَگناهونو په بخښنه دَ بدن په قیامت او په ابدي ژوندون باندِ-آمین

سوال- ته دَدي ایمان له عقیدي نه خاص څه زده کوي

جواب- وړمبي دا زده کوم چه په خداي پلار باندِ چه هغه زه او ټول جهان ئې پیدا کړي دَي ایمان لرم- دویم دا چه په خداي زوي باندِ چه هغه څما او دَ تمامو بني آدمو دَپارَ فدیه ورکړي دَه ایمان لرم- دریم دا چه په خداي روحُ القُدس باندِ چه ما او دَ خداي ټول برگزیدگان پاک کوي ایمان لرم

سوال- تا وِ چه څما دِیني مور پلار څما دَپارَ دَ خداي دَحکمونو دَ منلو وعده کړي وَه نو ته ارس ووایه چه هغه څو دِي

جواب - لَس

سوال - هغه کوم دِي

جواب - هغه چه الله دَ خروج په شلم باب کښې فرمایلي دِي وایي زه یهوه ستا الله یم چه. ته مِ دَ مصر له زمکي له بندیخاني نه را وویستلي

۱-ته له مانه سوا بل خداي مکړه

۲-ته دَ ځان دَپارَ تراشلي شوي بُت یا دَ څه څیز صورت چه پورته په آسمان باندِ یا لاندِ په زمکه یا په اوبو کښې چه دَ زمکي لاندِ دي مه جوړَوَه- ته د هغو دَ وړاندِ مه ټیټیږه او مه دَ هغوي عبادت کوه - ځکه چه زه یهوه ستا الله غیرتناک الله یم او دَ پلارونو نیکونو دَ بدیو سزا دَ هغوي اولاد له چه له ما سره کینه لري تر دریمي څلورمي پیړۍ پورې ورکوم او چه له ما سره محبّت لري او څما حکمونه په ځاي راوړي په هغو باندِ په زرگونو زرگونو رحم کوم

۳- ته دَ یهوه خپل الله نُوم بیفایدي مه اخله ځکه چه یهوه به



هغه بیگناه و نه گڼِي چه دَ هغه نُوم بیفایدي اخلي

۴-ته دَ سبت ورځ پاکَ وگڼه او یاد ئي لره-شپږ ورځي ته محنت او ټول خپل کاروبار کوه لیکن اوومه ورځ دَ یهوه ستا دَ الله سبت دِي-په هغي کښې هیڅ کار مکړه نه ته نه ستا ځوي نه ستا لُور نه ستا مريي نه ستا وینځه نه ستا چارپایان او نه بیگانه چه ستا په دروازه دننه وِي - ځکه چه په شپږ ورځي کښې یهوه آسمان او زمکه اودریابونه او هرڅه چه په هغي کښې دِي جوړ کړل او په اوومه ورځ ئي آرام وکړ دي دَپارَ یهوه اوومه ورځ مبارکه کړه او پاکه ئي مقرّره کړه

۵-ته دَخپل پلار او دَخپلي مور عزت کوه چه ستا عمر په زمکه باندِ چه یهوه الله ستا ئي تا له درکوي ډیر شي

۶-ته خون مه کوه

۷-ته زنا مه کوه

۸-ته غلا مه کوه

۹-ته په خپل همسایه باندِ په دروغ شاهدي مه کوه

۱۰-ته دَخپل همسایه دَکور لالچ مه کوه ته دخپل همسایه دَ ښځي لالچ مکوه نه دَ هغه دَ مريي نه ئي دَ وینځي نه ئي دَ غوایه نه ئي دَ خره نه ئي دَ نور څیز چه دَ هغه وِي

سوال- ته دَدي حکمونو نه خاص څه زده کوي

جواب- زه دوه خبري زده کوم فرض دَ خداي چه په ما باندِ دِي حق دَ همسایه چه په ما باندِ دَي

سوال- دَخداي فرض په تا باندِ څه دِي

جواب- په ما باندِ دَخداي فرض دا دِي چه زه په هغه باندِ ایمان لرم له هغه نه ووېریږم او په خپل ټول زړه او په خپل ټول عقل او په خپل ټول ځان او په خپل ټول طاقت له هغه سره محبّت ولرم او دَ هغه عبادت وکړم اودَ هغه شکر په ځاي راوړم او په هغه پوره اُمید ولرم هغه ته زاري وکړم دَ هغه دَپاک نُوم اودَ کلام عزت وکړم او ټول عمر په صداقت سره دَ هغه عبادت وکړم

سوال- دَ همسایه حق په تا باندِ څه دَي

جواب- دَ همسایه حق په ما باندِ دا دَي چه له هغه سره داسي مینه ولرم لکه چه دَخپل ځان سره او له ټولو خلقو سره داسي سلوک وکړم ځنگه چه ئي زه غواړم چه هغوي له ما سره وکړي- دَخپل مور پلار سره مینه ولرم او دَ هغوي

عزت او مدت کوم - دَ ملکي معظمې او
ځوېره چه دَ هغې دَ لاندِ اختیار لرِي
دَ هغو ټولو عزت او فرمان برداري کوم -
اودَ خپلو ټولو حاکمانو اودَ اُستاذانو
اودَ خپلو دینې کله بابانو خاوندانو
تابع اوسم - اودَ خپلو ټولو بزرگانو په
ادب سره او په عاجزئ سره عزت کوم -
څوک په خبرو او په کار سره ونه دردَوُم
او په خپلو ټولو معاملو کښې په ریښتیٔ
او په صداقت سره وروسم - او په خپل
زړه کښې بُغض او دُشمني ونه لرم - او
خپل لاسونه دَ غلاغلئ نه او خپله
ژبه دَ بدکوئ اودَ دروغو اوله تُهمت
نه وساتم - او خپل بدن په اندازه
او په پرهیزگارئ او په پاکیزگئ کښې
وساتم - اودَ پردي مال حرص او
خواهش ونه کړم - بلکه په خپل محنت
سره روزي پیدا کول زده کړم او کوم
حال چه خُما دَپارَ خداي غوره کړي په
هغه حال کښې خپل فرض ادا کړم

سوال - خُما محبوبَ دا وکړه چه
ته بخپله په دي خبرو باندِ عمل نه شي
کولي او نه دَخداي په حکمونو باندِ تلي
شي او نه دَ هغه عبادت کولي شي
بغیر له دي نه چه هغه درته خپل
خاص فضل و بخښې او دا هم
زده کول لازم دِي چه هر وقت په
کوشش سره د دُعا غوښتلو نه
بغیر هغه فضل تا ته نه شي حاصیدلي
که چري تا ته دَ خداوند دُعا یاد
وِي نو ما ته يې واوره

جواب - اي خُمونږ پلاره چه په
آسمانونو کښې يې ستا دَ نوم پاکي
دِ وِي بادشاهت ستا دِ راشي رضا
ستا لکه چه په آسمان پوره کیږي
په زمکه دِ هم ژي خُمونږ دَ
نن ورځي دودئ نن مونږ له راکړه
او تقصیرونه خُمونږ عفوه کړه
چه مونږ هم هر تقصیروار خپل
بخښو او مونږ په ازمایښت کښې
مه راوله بلکه له هغه شریرنه
مو وساته - آمین

سوال - په دي دُعا کښې ته له
خداوند نه څه غواړي

جواب - زه له یهوي الله نه چه
خُمونږ آسماني پلار او دَ ټولو خیرو
بخښونکي دَي دا غواړم چه هغه په
ما او په ټولو خلقو باندِ خپل فضل
نازل کړي - تا چه ځنګه په مونږ باندِ
واجب دِي هغسي مونږ دَ هغه



عبادت او خدمت او اطاعت وکړو
او له خداي نه دا سوال هم کوم
چه خُمونږ څیزونه خُمونږ دَ جسم او
دَ روح دَپارَ پکار دِي مونږ ته
را وبخښي - او په مونږ باندِ رحم
وکړي خُمونږ ګناهونه و بخښي - او په
خپلې مهربانئ سره دَ ټولو روحاني
او جسماني خطرو نه مو بچ کړي -
او په امن کښې مو وساتي او له
هري ګناه او له شرارته او له روحاني
دُښمن او له ابدي مرګ مو وساتي -
او خُما ټوي امید دَي چه هغه
به په خپلې مهربانئ او کرم سره خُمونږ
دَ خداوند یسوع مسیح په وسیلې
هم داسې وکړي نو دي دَپاره وایم
آمین - هم داسې دِ وشي

## سوال

مسیح په خپلې کلیسې کښې څو
سکرامنتونه یعني مقدس اسرار مقرر
کړي دِي

جواب - صرف دوه چه عمومًا
دَ نجات دَپارَ ضرور دِي یعني بپتسمه
او عشاءِ رباني

سوال - له سکرامنت دَ لفظ نه
څه مراد دَي

جواب - هغه یو ظاهري او خارجي
نښه ده دَ هغې باطني او روحاني فضل
چه مونږ له راکولي شي - هغه نښه بخپله
مسیح مقرره کړي ده چه دَ هغې فضل
دَ حاصلولو یوه وسیله او خُمونږ
دَ خاطرجمئ دَپارَ دَ هغه یو
سند دَي

سوال - دَ سکرامنت څو جُزه دِي

جواب - دوه یو خو خارجي او ظاهري
نښه او بل باطني او روحاني فضل

سوال - دَ بپتسمې خارجي ظاهري
نښه یا صورت څه دَي

جواب - اوبه چه په هغې کښې په نامه
دَ پلار او دَ ځوي او دَ رُوحُ القدس
بپتسمه ورکولي شي

سوال - باطني او روحاني فضل
څه دَي

جواب - دَ ګناه په نسبت مرګ او
دَ صداقت دَپارَ نوي پیدایښت چنانچه
مونږ په ذات سره په ګناه کښې پیدا
شوي یو دَ قهر خاوند وو لوسو دَ
بپتسمې په وسیلې سره دَ فضل خاوند کیږو

سوال - له بپتسمې اخستونکو نه څه څه
فرض دِي

جواب - توبه چه په هغې سره ګناهو

ترک کړي او ایمان چه په هغې سره هغه دَ خدای په هغه وعدو باندِ چه په دي سکرامنت کښ له هغوي سره کیږي مضبوط یقین لري

**سوال**- بیا وړوکي چه دَ خپل وړوکوالي په سبب دا شرطونه نه کولي نه شي ولي بپتسمه اخلي

**جواب**- دَدي دَپارَ چه هغوي دَ خپلو ضامنانو په معرفت دَدغي دواړو شرطونو دَ پوره کولو وعده کوي او چه بالغ شي نو په هغوي باندِ دَ هغې وعدي پوره کول په خپله فرض کیږي

**سوال**- دَ عشاءِ رباني سکرامنت دَکوم غرض دَپارَ مقرر شه

**جواب**- دَدي غرض دَپارَ چه هغه قرباني چه دَ مسیح په مرګ وشوه او خه فائدي چه له هغې نه مونږ ته حاصلیږي دَ هغې دایمي یادګاري وي

**سوال**- دَ عشاءِ رباني ظاهري جز یا نښه څه دَه

**جواب**- ډوډيِ او شیره دَانګورو چه دَ هغې دَخوړلو څښلو خداوند حکم کړي دَي

**سوال**- باطني جز چه دَ هغې دانښي مثال دَي څه دَي

**جواب**- دَ مسیح بدن او وینې چه هغه ایمان داران په عشاءِ ربانيِ کښ فی الحقیقت او یقیناً اخلي او خوري او څښي

**سوال**- کومي فایدي له هغې نه مونږ ته حاصلیږي

**جواب**- دا چه څمونږ روحونو ته دَ مسیح له بدنَ او له وینو نه تقویت او تازګي حاصلیږي لکه چه څمونږ بدن ته دَ ډوډيِ او دَ شیري له انګورو نه

**سوال**- دَ عشاءِ ربانيِ په اخستلو څه څه فرض دي

**جواب**- دا چه خپل ځان وآزمائي چه آیا مونږ له تیرو شویو ګناهونو نه په رښتیا سره توبه کوو او دَ نوي ژوندون کولو مضبوط اراده لرو- او دَ خدای په هغه رحم باندِ چه دَ مسیح په وسیلي سره دَي ژوندي ایمان لرو او په شکرګذاريِ سره دَ هغه دَ مرګ یادګاري کوو- او دَ ټولو خلقو سره مینه لرو یا نه

دَ هر جماعت په خادم الدّین باندِ لازم دَي چه په اتوارونو او په میعادي ورځو کښ دَ ماښام دَ نمانځه دَدویم وورد نه پس ظاهره په کلیسیا کښ دَ جماعت هغو وړوکو ته چه ورته راولیږلي شي لکه چه مناسب ګڼړي دَدي سوال او جواب په کومه نه کومه حصه کښ دِ تعلیم ورکړي او امتحان دِ ترِ واخلي



او په هغې مور پلارانو په خاوند او په بي بي باندِ لازم دي چه خپل فرزندان او نوکران او شاګردان چه دا سوال او جواب ئې زده کړي وي په مقرر وقت دِ په کلیسیي کښ حاضر کړي او داسي دِ وکړي چه هغوي په فرمان برداريِ سره دَ خادم الدّین خبره اوري او دَ هغه محکوم دِ اوسي تر کومي پوري چه څه دَ هغو دَ زده کولو دَپارَ دلته مقرر وي زده نکړي

هرکله چه وړوکي بالغ شي او دَ رسولانو عقیده او دَ خداوند دعا او لس حکمونه په خپله ژبه کښ زده کړي او دَدي مختصر تعلیم دَ باقي سوالونو جواب هم ورکولي شي نو هغه دِ اُسقف ته حاضر کړي شي- او دَ هر مستقیم کیدونکي دَ شاهدي دَپارَ دِ یو دیني پلار یا دیني مور هم حاضره شي

او هرکله چه اُسقف حکم وکړي چه واړه دِ دَ مستقیم کیدو دَپارَ حاضر کړي شي نو دَ هر جماعت خادم الدین چه په خپل جماعت کښ څومره کسان دَ مستقیم کیدو دَپارَ اُسقف ته دَ حاضر کیدو لایق ګڼړي نو هغوي دِ یا پخپله بوځي یا دِ په خپل دستخط سره دَ هغو نومونه ولیږي نو که اُسقف صاحب ئې منظور کړي نو دَ لاندیني ترتیب په موجب دِ هغوي مستقیم کړي

# دَ مستقیم کیدو ترتیب

## یعني

## په هغو باندِ لاسونه ایښودل چه بپتسمې اخستي وي او بالغ شوي وي

په مقرره ورځ څومره چه مستقیم کیدونکي وي او په صف کښ دَ اُسقف دَ وړاندِ ودریږي نو اسقف یا بل امام چه هغه مقرر کړي وي دا دیباجه دِ ولولي

هرکله چه کلیسیي دا وغوښته چه دَ مستقیم کیدو دستور دِ په دي شان او په دي ترتیب سره په عمل راوړي چه له هغې نه دَ مستقیم کیدونکو ډیره فائده او ترقي وي نو هغوي دا حکم ورکول مصلحت وګاڼه چه آینده دِ صرف هغه کسان مستقیم کیږي چه دَ رسولانو عقیده او دَ خداوند

دُعا او لَښ حکمونه اوروَلي شي او
باقي دَ هغو سوالونو هم چه دَ سوال او دَ
جواب په مختصره رساله کښې درج
دي جواب ورکړي شي- نو دَدې حکم
پوره کول ډېر مناسب او مفيد دي په
دي مراد سره هرکله چه وړوکي باايمان
شول او په دې پوه شول چه ډېنې مور
پلار ذوي دَپارَ دَ بپتسمي په وقت څه قول
او اقرار کړي وه نو اوس دِ ئې په خپله
ژبه او پخپل اختيار سره دَ کليسي
دَ وړاندِ به ظاهره هغه قول او اقرار
ثابت کړي او وعده دِ هم وکړي چه دَ
خداي په فضل سره به مونږ تر مرګه
پوري کوشش وکړو چه دَ کوم څېزونو اقرار
چه مونږ په خپلو ژبو سره وکړ په هغې
به په وفادارۍ سره عمل وکړو

او کليسيا دَدې حکم ورکول هم
مناسب ګڼلي دي چه هرڅوک بپتسمه
واخلي پس له بپتسمي نه دِ چه مناسبَ
موقعَ وي بي ډيله دِ دَ مستقيم کيدو
دَپارَ دَ اُسقُف صاحب دَ دوړاندِ
حاضر کړي شي چه په مقدس رفاقت
کښې داخل شي

نو اُسقُف دِ ووايي

آيا تاسو دلته دَ خداي او دَدې جماعت
دَ وړاندِ هغه سنجيده وعده او اقرار
چه ستاسو دَ بپتسمي په وقت ستاسو
دَپارَ کړي شوي وه دوباره کوئ او پخپله
ئې منئ او ثابت کوئ او دا اقرار کوئ
چه څومره خبري ستاسو ډېنې مور
پلار هغه وقت ستاسو دَپارَ په خپله
ذمه اخستي وي يا تاسو پخپله په
خپلي ذمي اخستي وي په هغې باندِ
اعتقاد لرل او عمل کول په تاسو باندِ
فرض دي

هر يو دِ په اوچت آواز سره جواب ورکړي

زه قول او اقرار کوم

اُسقُف

ځمونږ مدد دَ خداي په نوم
کښې دي

جواب-چا چه آسمان او زمکه پيدا
کړل

اُسقُف-دَخداي نوم دِ مبارک وي

جواب-له اوسه تر ابده پوري

اُسقُف-اي خداوندَ ځمونږ دُعا واوره

جواب-ځمونږ فرياد دِ تا ته ورسيږي

اُسقُف-مونږ دِ دُعا وغواړو

اي قادرِ مطلقَ او حيُّ القيومَ خدايه
تا مهرباني وکړه او خپل دا بندګان دِ په
اوبو او په روحُ القدس سره دوباره



پيدا کړل او دَ هغوي ټول ګناهونه دِ
ورته وبخښل اي خداوندَ مونږ تا ته
زاري کوو چه په روحُ القدس قوت
بخښونکي سره دوي مضبوط کړه او
دَخپل فضل رنګارنګ نعمتونه ورځ
په ورځ په هغو کښې زيات کړه يعني
دَ حکمت او دَ عقل روح دَ مصلحت
او دَ باطني قدرت روح دَ معرفت او
دَ حقيقي خداترسي روح او اي خداوندَ
دَخپل پاک خوف په روح سره ئې
اوس او تر ابده پوري معمور
کړه-آمين

نو ټول دِ دَ اُسقُف په مخ کښې زنګنونه
په ترتيب سره ولګوي او هغه دِ دَ هر يو په
سر باندِ جدا خپل لاس کيږدي او و دِ وايي

اي خداوندَ په خپل آسماني
فضل سره دا خپل بنده محفوظ کړه
چه هغه هميشه ستا وي او ورځ
په ورځ دِ ستا دَ روحُ القدس فضل
په ده باندِ زيات شي ترڅو چه ستا
ابدي بادشاهت ته ورسي-آمين

نو اُسقُف دِ ووايي

خداوند دِ له تاسو سره
وي

جواب-او ستا دَ روح سره

بيا دِ ټول زنګنونه ولګوي او اُسقُف دِ ووايي

مونږ دِ دُعا وغواړو

اي ځمونږ پلاره چه په ...... شريونه
وساته-آمين

او دا دُعا

اي قادره او حيُّ القيومَ خدايه ستا
په کړو او په فعل سره هغه تاثير
په مونږ کښې کيږي هرڅه چه ستا
دَ شانِ الٰهي په حضور غوره او مقبول
دي مونږ دِ وغواړو او پوره دِ ئې هم
کړو نو مونږ په عاجزۍ سره ستا دَدې
بندګانو دَپارَ سوال کوو چه په دوي
باندِ مونږ ستا دَ مقدسو رسولانو
دَ نموني په موافق اوس خپل لاسونه
ايښي دي تا چه په دې اشاره سره
ستا دَ هغې شفقت او دَ اُلفت چه
په دوي باندِ دي دَدوي پوره يقين
او اميد وشي- مونږ زاري کوو چه
ستا پدرانه لاس دِ هميشه په دوي
باندِ اوسي ستا پاک روح دِ هروقت
له دوي سره وي او دوي ته داسي
هدايت وکړه چه دوي ستا دَ کلام په
پوه او په فرمان بردارۍ کښې ترقي
وکړي او په آخر کښې ابدي ژوندون
حاصل کړي ځمونږ دَ خداوند يسوع مسيح

په وسیلي سره چه دَ تا او دَ روح القدس سره واحد الله تر ابده ژوندي او بادشاهت کوي - آمین

اې خداوندَ قادرِ مطلق او قدیمَ خدایه مونږ عرض کوُو چه په خپلي مهربانګيُ سره خمونږ زړونه او بدنونه دَ خپلي شرعي دَ احکامو په طریقه کښ بې هدایت او حکومت او پاک و فرمایه تاچه په دي جهان کښ او تر ابده پوري خمونږ روح او بدن ستا دَ کامل قدرت په پناه کښ صحیح سلامت اوسي خمونږ دَ خداوند یسوع مسیح په وسیلي سره - آمین

نو اسقف دِ داسي دَ برکت کلمه وفرمایي

دَ خداي قادرِ مطلق پلار دَ ځوي او دَ روحُ القدس برکت دِ په تاسو وي او تر ابده پوري دِ له تاسو سره اوسي - آمین

په عشائ ربانيِ کښ دِ هیڅوک شریک نکړي شي ترڅو چه په دین باندِ مستقیم نه شي یا هغه په دي دستور باندِ دَ عمل کولو مشتاق او مستعد وي

# دَ نکاح ترلو ترتیب

اول ضرور دي چه په کلیسیي کښ جدا جدا دري اتواره یا په میعادي ورځو کښ دَ سحر دَ نمانځه په وقت او که دَ سحر نمونځ نه وِي نو دَ نماښام دَ نمانځه په وقت دَ دویم ورد نه پس دِ دَ نکاح اشتهار ورکړي شي او امام دِ دَ دستور په موافق ووایي

فلانيَ اوسیدونکيَ دَ فلاني او فلانيُ اوسیدونکي دَ فلاني دَ نکاح خبر ورکوم له تاسو نه که چا ته دَ ممانعت څه معقول سبب معلوم وي چه له هغي نه دَ دي دواړو دَ پاک نکاح ترل روا نه وي نو لازم دي چه تاسو هغه بیان کړئ دا دَ سوال ورنبي (یا دویم یا دریم) ځل دي

مګر هغوي چه ئي واده کیدونی وي په جدا جدا ځایونو کښ اوسي نو په دواړو ځایونو کښ دِ دَ هغوي دَ واده خبر ورکړي شي او دَ یو ځاي امام دِ دَ هغو نکاح نه تړي ترکومي پوري چه دَ دویم ځاي له امام نه دَ هغو دَ نکاح دَ دریو ځلو دَ اشتهار سند و نه رسي

دَ چا چه واده کیږي دَ نکاح په مقرر وقت کښ دِ دَ خپلو دوستانو ګاونډیانو سره دَ کلیسیي په مینځ کښ راشي او هلته دِ



سړي ښي طرف ته او ښځه ګیڼ طرف ته یو تر بله ودریږي

نو قسیس دِ داسي ووایي

اې عزیزانو مونږ دَ خداي په حضور او دَ دي جماعت په روبروجمع شوي یو تا چه دَ دي سړي او دَ دي ښځي پاک نکاح وترو - دا یو دَ عزت حالت دي چه خداي دَ انسان دَ معصومیت په وقت کښ مقرر کړ او هغه دَ دي یګانګت دَ پټ راز تشبیهه ده چه دَ مسیح او دَ هغه دَ کلیسیي په مینځ کښ ده او دي پاک حالت دَ نکاح ته مسیح په قاناي جلیل کښ په خپلي خاصي حضوريُ سره زیب او زینت وبخښه او هغه وقت ئي په خپلي ورنبيَ معجزي ښوولو سره هغه ته رونق وبخښه او دَ مقدس پولس دا صلاح ده چه ټول سړي دِ دا حالت دَ عزت لایق وګڼي دي دَ پار روا نه دي چه څوک دِ په بي لحاظيُ یا په سپک مزاجيُ یا په بي ادبيُ سره دَ هغي قصد وکړي او نه دِ څوک دَ دي دَ پار دا اختیار کړي چه دَ بي عقلو حیوانو په شان خپل شهوتونه پوره کړي بلکه لازم دي چه په حرمت او په هوښیاري سره په غور او په پرهیزګاريُ او دَ خداي په خوف دا اختیار کړي او دا دِ هم په ښه شان سره فکر وکړي چه په کوم کوم سبب سره دَ نکاح حالت مقرر شه

ورنبي سبب دا دي چه اولاد پیدا شي او دَ خداي په ویره او په ادب کښ تربیت بیاموي تا چه دَ هغه دَ مقدس نوم جلال ظاهر شي

دویم سبب دا دي چه دَ زنا او دَ حرامکاريُ علاج وشي تا چه دَ چا دَ ضبط توفیق نه وي واده وکړي او خپل ځان دَ مسیح دَ بدن بي داغه اندام وساتي

دریم سبب دا دي چه هغه مصاحبت او له دواړه طرفونه مدد او تسلي حاصله شي چه په راحت او په تکلیف کښ یو تر بله سره یو ځاي کیدل لازم دي - په داسي پاک حالت کښ دا دواړه تن چه حاضر دي دَ یو ځاي کیدلو دَ پار راغلي دي نو که څوک څه معقول سبب ښوولي شي چه له هغي نه دَ دي دواړو نکاح خلاف دَ شرعي وي نو اوس دِ دِ وایي او که نه وي نو آینده دِ چپ اوسي

دَ هغوي طرف ته چه دَ چا نکاح کیدونی وي مخاطب شي او داسي دِ ووایي

زه تاسو دواړه په تاکید سره آګاه کوم او هغه هیبتناکه ورځ دریادوم چه په هغې کښې به د ټولو زړونو راز ښکاره شي که چرې په تاسو دواړو کښې که څه د ممانعت وجه کیږي چه له هغې نه ستاسو د دواړو نکاح تړل له شرعي نه خلاف وي نو اوس د هغې اقرار وکړئ - ځکه چه تاسو ښه پوه شئ چه د چا نکاح د خدای د کلام په موافق نه کیږي نو د هغوی جوړه له خدای نه ده او نه ئې نکاح جائز دي

د نکاح په ورځ که څوک عذر ظاهر کړي او بیان وکړي چه د هغې له سببه په شرع الٰهي سره یا د دې حکومت د قانون په موجب په نکاح سره د هغوی یوځای کیدل روا نه دي نو هغه او له هغه سره معتبر ضامن د بل طرف له اقرارنامه لیکلي ورکړي تاچه د خپلې دعوې د ثابت کولو د پاره تمام خرڅ امانت وسپاري نو هله د نکاح موقوف شي تر کومې پورې چه د هغې تحقیقات و نه شي

که چرې څه منع مناهي په کښې واقع نه شي نو امام د مرد ته داسې ووائي

فلاني آیا ته دا ښځه د خپل ځان د ښځې کولو د پاره قبلوې تاچه ته د الٰهي ضابطې په موافق د پاک نکاح په حالت کښې له دې سره ژوندون تیر کړې - ته به له دې سره مینه لرې او دې له به تسلي ورکوې او د دې عزت به کوې په ناجوړتیا او په تندرستئ کښې به ئې ساتې او نورې ټولې ښځې به پریږدې تر څو پورې چه دواړه ژوندي یئ صرف له دې سره به اوسې

سړی دِ ځواب ورکړي

هو زه ئې قبلوم

بیا دِ قسیس ښځې ته ووائي

فلانۍ ته دا سړي د خپل خښتن کیدلو د پاره قبلوې تاچه ته د الٰهي ضابطې په موافق د پاک نکاح په حالت کښې له ده سره ژوندون تیر کړې ته به د ده په حکم کښې اوسې - د ده خدمت به کوې له ده سره به مینه لرې د ده ادب به کوې په ناجوړتیا او په تندرستئ کښې به ئې ساتې او نور ټول سړي به پریږدې او د دواړو تر ژوندانه پورې به صرف هم له ده سره اوسې

ښځه دِ ځواب ورکړي

هو زه ئې قبلوم

نو امام دِ ووائي

څوک دا ښځه دې سړي ته د واده د پاره حواله کوي



اوس دِ هغوي قول او اقرار په دې شان سره وکړي

امام دِ ښځه د هغې له پلاره یا د چا دوست له لاس واخلي او داسې دِ وکړي چه سړي دِ په خپل ښي لاس سره د ښځې ښي لاس ونیولو په هغه پسې دِ داسې وائي

زه فلانۍ تا فلانۍ د خپلې ښځې کیدو د پاره قبلوم او د خدای د پاکې ضابطې په موافق پس له نن په نیک حالئ او په بدحالئ په فراغت یا په تنګسیا په ناجوړتیا او په تندرستئ کښې به دِ زه خپله ساتم درسره به مینه لرم او ستا خاطرداري به کوم تر کومې پورې چه مرګ مو جدا نه کړي او په دې باندې زه له تا سره قول او اقرار کوم

نو هغه دِ لاس پریږدي او ښځه دِ په خپل ښي لاس سره د سړي ښي لاس ونیسي او په امام پسې دِ دا وائي

زه فلانۍ تا فلانۍ د خپل شوهر کیدو د پاره قبلوم او د خدای د پاکې ضابطې په موافق پس له نن په نیک حالئ او بدحالئ په تنګسیا او فراغت په ناجوړتیا او تندرستئ کښې به دِ زه خپل ساتم درسره به مینه لرم ستا خاطرداري به کوم او ستا تابع به اوسم تر کومې پورې چه مرګ مونږ جدا نه کړي او په دې باندې له تا سره قول او اقرار کوم

بیا دِ هغوي لاسونه پریږدي او سړي دِ ښځې له یو سلې ورکړي لیکن هغه دِ قسیس له مقررو روپو سره په کتاب باندې کیږدي - نو قسیس دِ سلې واخلي او سړي له دِ ئې ورکړي چه هغه ئې د ښځې د کیڼ لاس په څلورمه ګوته کښې په ګوته کړي او په هغې باندې دِ خپل لاس ایښې لري او د قسیس په ښوونه سره دِ داسې وائي

په دې سلې سره زه تا واده وم په په خپل بدن سره ستا ادب کوم او خپل ټول دنیاوي مال تا له درکوم د پلار او د ځوی او د روح القدس په نامه سره - آمین

نو سړی دِ د ښځې د کیڼ لاس په څلورمه ګوته کښې سلې پریږدي او هغوی دواړه دِ زنګنونه وکړي او امام دِ داسې ووائي

## مونږ دِ دعا وغواړو

اې خدایه قدیمه د تمامو بني آدمو خالق او پروردګار د روحاني فضل بخښونکیه او د ابدي نجات ورکوونکیه خپل برکت په دې بندګانو یعني په د

مرد او په دي بنځه باندي نازل کړه
چه دوي ته مونږ ستا په نامه سره
دُعاي خير کوو تا چه څرنګه اصحاق
او ربقه يو تر بله په وفادارئِ سره
ګذران کاوه په هغه شان سره دوي
دواړه په دي قول او اقرار باندِ چه
دوي يو تر بله وکړ (چهٔ دَ هغي داسَلي
چه ئي ورکړ او واخستي شه نښه او
کانړه دَي) په دي باندِ په ديانت داريِ
سره قايم اوسي او هميشه په کامِل
محبت او په موافقت سره يو ځاي
اوسي او ستا دَ حکمونو په موجب
ژوندون تير کړي خمونږ دَ خداوند
يسوع مسيح په وسيلي سره - آمين

بيا دِ قسيس دَ هغو دواړو ښي لاسونه
يو ځاي کړي او ودِ وائي

دوي چه خداي سره جوړه کړي
دي هيڅوک دِ ئي نه جدا کوي

نو امام دِ جماعت ته ووائي

دي دَپارَ چه فلاني او فلانئِ په
پاک نکاح سره يو تر بله اتفاق کړي
دَي دَ خداي او دَ دي جماعت دَ وړاندِ
ئي دَ دي اقرار وکړ او په دي باندِ ئي
يو تر بله قول ورکړ او دَ سَلي په ورکولو
او اخستلو او دَ لاسونو په يوځاي کولو

ئي دَ هغي اظهار کړي دَي نو دي
دواړو ته ښځبتن او ښځه وايم دَ پلار
او دُ زوي او دَ روحُ القُدس په
نامه سره - آمين

نو امام دِ دا دُعاي خير ورته وکړي

خداي پلار خداي زوي خداي
روحُ القُدس دِ تاسو له برکت درکړي
او ستاسو حفاظت او نګهباني دِ وکړي
خداوند دِ په رحم سره په تاسو
دَ خپلي مهربانګيِ نظر ولري او تاسو
دِ په روحاني برکت او په فضل
سره داسي ډک کړي چه تاسو په
يو ځاي داسي ژوندون تيروئِ چه
په هغي جهان کښي ابدي ژوندون
حاصل کړئِ - آمين

نو امام او خادم دِ دَ خداوند ميز
ته لاړ شي او دا مزمور دِ ولولي يا دِ ئي په
سرود سره وغږوي

مزمور ١٢٨

مبارک دَي هرکس چه له يهوه نه
ويريږي - چه دَده په لارو ځي
ځکه چه ته به دَ خپلو لاسونو ګټه
خوري - ته به مبارک يي او تا سره به
ښه وشي
ستا ښځه به دَ ميوه دار تاک په



شان شي - ستا دَ کور په دننه - ستا
ځامن به دَ ښون دَ بوټي په شان شي
ستا دَ دسترخوان نه ګيرِ چاپير
ګوره دغه شان هغه سړي به
مبارک وي - چه له يهوه نه ويريږي
يهوه به له صيحونه تا ته برکت درکړي
او ته به ټول عمر دَ اورشليم نيکي وينې
هو ته به دَ خپلو ځامنو ځامن
ووينې - په اسرائيل باندِ دِ سلام وي
ثنا دَ پلار او دَ زوي او دَ روحُ القُدس
دِ وي
لکه چه په ابتدا کښي وه اوس هم ده
او تر ابده پوري به وي - آمين
يا دا

مزمور ٦٧

الله دِ په مونږ فضل وکړي - او
مونږ له دِ برکت راکړي - او خپل مخ دِ
په مونږ روښانه کړي
چه لار ستا په زمکه باندِ معلومه
شي - نجات ستا په ټولو غير قومونو باندِ
اي الله اُمتونه دِ ستا شکر
وکړي - ټول اُمتونه دِ ستا شکر وکړي
قومونه دِ خوشحاله شي - او خوښي
دِ وکړي ځکه چه ته به راستئِ سره
دَ اُمتونو عدالت وکړي - او په زمکه

کښي به قومونو ته هدايت وکړي
اي الله اُمتونه دِ ستا شکر وکړي
ټول اُمتونه دِ ستا شکر وکړي
زمکي خپل حاصل پيدا کړي دَي
الله هو خمونږ الله به مونږ له برکت
راکړي
الله به مونږ له برکت راکړي - او
ټول سرحدونه دَ زمکي به وويريږي
ثنا دَ پلار او دَ زوي او دَ روحُ
القُدس دِ وي
لکه چه په ابتدا کښي وه اوس هم
ده او تر ابده پوري به وي - آمين

چه مزمور خلاص شي او سړي او ښځي دَ خداوند
دَ ميز دَ وړاندِ زنګونه ولګوي نو قسيس دِ ميز څخه
ودريږي او دَ هغوي طرف ته دِ مخ وګرځوي او
داسي دِ ووائي

خداوندَ په مونږ باندِ رحم وکړه
ځواب - مسيح په مونږ باندِ رحم وکړه
امام - خداوندَ په مونږ باندِ رحم وکړه
اي خمونږ پلارَ چه په آسمانونو
کښي يي ستا دَ نوم پاکي دِ وي بادشاهت
ستا دِ راشي رضا ستا لکه چه په آسمان
پوره کيږي په زمکه دِ هم شي خمونږ
دَ نن ورځي رودئ نن مونږ له راکړه
او تقصيرونه خمونږ عفوه کړه چه

مونږ هم هر تقصيروار خپل بخښو او مونږ په ازمايښت کښې مه راوله بلکه له هغه شرير نه مو وساته- آمين

امام-اي خداوندَ دا زلمي او دا ناوي سلامت ولره

ځواب- چه په تا باندِ خپل اميد لري

امام-اي خداوندَ له خپل ځاي نه دوي له مَدَت راولېږه

ځواب-او هميشه دَدوي حفاظت وکړه

امام- دوي دَپارَ يوه محکمه قلعه شه

ځواب-دَ هغو دَدښمنانو له مخه

امام-اي خداوندَ ځمونږ دُعا واوره

ځواب-ځمونږ فرياد دِ تا ته ورسي

امام

اي دَ ابراهام خدايه دَ اسحاق خدايه دَ يعقوب خدايه دي خپلو بندگانو له برکت ورکړه او دَدوي په زړونو کښې دَ ابدي ژوندانه تخم وکره هرڅه چه دوي ستا دَ پاک کلام نه دَ خپلي فائدي دَپارَ زده کړي او په عمل ئې هم راوړي-اي خداوندَ له آسمانَ په دوي باندِ دَ رحم نظر وکړه او دوي ته برکت ور وبخښه لکه چه تا په ابراهام او په ساره باندِ دَ هغوي دَ ډېري تسلئ دَپارَ خپل برکت نازل کړ هم هغه سي په دي خپلو بندگانو باندِ مهرباني وکړه او خپل برکت پرِ نازل کړه تاچه هغوي ستا دَ مرضئ تابعدار شي او ستا په پناه کښې هر وقت محفوظ اوسي او تول عمر ستا په محبت کښې اوسي ځمونږ دَ خداوند يسوع مسيح په وسيلي سره-آمين

دَ لاندِ دُعا که بنځه دَ ناميدئ سره وسيدلي وي نو دِ نه لوستلي شي

اي رحيمَ خداوندَ او آسماني پلارَ ستا دَ نعمت په فضل سره بني آدم زياتيږي مونږ تا ته زاري کوو چه دَدوي دواړو ته په خپل برکت سره مَدَت وکړه چه دوي په اولادِ سره باردار او ميوه دار شي او يو تر بله سره اوسي په خداداد محبَت او په وفادارئ سره دومره مُده ژوندي اوسي چه خپل اولاد په مسيحي دين او په نيک خوي خصلت سره تربيت يافته ووېني تاچه ستا بزرګي او ثنا وي-ځمونږ دَ خداوند يسوع مسيح په وسيلي سره-آمين

اي خدايه تا په خپل لوي قدرت سره تول څيزونه له نشت نه شته کړل او له نورو څيزونو دَ ترتيب ورکولو پس دِ دا تجويز وکړ چه له مرد نه دِ ښځه هم ستا په مشابهت او په صورت سره پيدا شه دَ ښځي اوّل پيدايښت وشي او هغوي دِ يو تر بله پيوست کړل او ورو دِ ښوول هر څوک چه تا په نکاح سره يو کړل دَ هغوي جدا کوله بالکل منع دي- اي خدايه تا دَ نکاح حالت داسي دَ لوي راز دَ کيدلو دَپارَ پاک کړي دَي چه هغه دَ هغي روحاني نکاح تشبيه او علامت دَي چه دَ مسيح او دَ هغه دَ کليسيي په مينځ کښې دَي په رحم سره په دي خپلو بندګانو باندِ نظر وکړه چه دا سړي ستا دَ کلام په موافق دَ خپلي ښځي سره مينه لري لکه چه مسيح دَ خپلي ناوي يعني له کليسيي سره مينه ولرله او په خپله ئې خپل ځان دَ هغي دَپارَ ورکړ او دَ خپل جسم په شان ئې له هغي سره مينه وکړه او پالل او پرورش ئې کوي او دا ښځه هم په مينه او په خوش مزاجي په پاک دامنئ او په تابعدارئ دَ خپل څښتن سره اوسي او په ډېري غوږي پرهيزګارئ او په سلامتئ سره دَ پاکو او خداي ترسو بيبيانو پيروي وکړي اي خداوندَ دي دواړو ته برکت ورکړه او په خپل ابدي بادشاهت کښې دوي ته ميراث ورعنايت کړه ځمونږ دَ خداوند يسوع مسيح په وسيلي سره-آمين.



نو قسيس دِ دوايي

اي قادرِ مطلقَ خدايه چه دِ په شروع کښې ځمونږ ورنبي مور پلار آدم وحوّا پيدا کړل او دَ نکاح رشته دِ پاکه کړه او هغوي دِ يو تر بله جوړه کړل- په تاسو باندِ دِ دَ خپل فضل دولت وورَوي او تاسو دِ پاک کړي او برکت دِ در وبخښي تاچه تاسو په روح او په جسم سره هغه خوشحاله ولړئ او په پاک اُلفت او صحبت کښې تر مرګه پوري برقرار اوسئ

پس له دي که چري دَ ښځي او دَ څښتن دَ فرائض او دَ حقوق په بيان کښې څه وعظ نه وي نو امام دِ دا دوايي

تاسو تول چه نکاح موشوي دَي يا دَ نکاح پاک حالت اختيار کول غواړئ واورئ چه مُقدس کتاب څښتنو ته دَ هغو دَ ښځو په بابت او ښځو ته دَ هغو دَ څښتنونو دَ فرائضو په بابت کښې

څه وايي

مقدّس پولُس دَخپل هغي خط په پنځم باب کښ چه افسیانو ته ئي لیکلي دَي نولو واده شويو سړو ته داسي حکم کوي چه اي خښتنونو دَ خپلو ښځو سره داسي مینه کوئ لکه چه مسیح هم دَ کلیسي سره مینه وکړه اوخپل ځان ئي دَ هغي دَپارَ ورکړه تا چه هغه دَ اوبو له غسله په کلام سره پاکیزه کړي او پاک ئي کړي او دَ خپل ځان دَپارَ یوه جلیله کلیسا تیاره کړي چه په هغي کښ څه داغ یا عیب یا څه داسي څیز نه وي بلکه هغه پاکه او بيعیب وي هم داسي سړو له مناسب دي چه دَخپلو ښځو سره داسي مینه کوي لکه چه دَخپل بدن سره هرڅوک چه دَ خپلي ښځي سره مینه کوي نو دَ خپل ځان سره مینه کوي ځکه چه چا دَخپل جسم سره هیچري دُښمني نه ده کړي بلکه پـالي او ساتي ئي لکه چه خداوند هم کلیسا-ځکه چه مونږ دَ هغه دَ بدن اندامونه او دَ هغه غوښه اودَ هغه هډونه يو-له دي سببَ به سړي خپل مور پلار پریږدي او خپلي ښځي سره به یوځاي شي او هغوي دواړه به یو تن شي- دا یو لوي راز دَي مګر دَ مسیح او دَ کلیسي په بابت کښ وايم- غرض له تاسو نه دِ هر یو دَ خپلو خپلو ښځو سره داسي مینه کوي لکه دَ خپل ځان سره

په دي شان سره هم هغه مقدّس پولُس په هغه خط کښ چه هغـه قلسیانو ته لیکلي دَي نولو واده شويو سړو ته داسي فرمايي اي خښتنونو خپلو ښځو سره مینه کوئ او له هغوسره تراخه مه اوسئ

دا هم واوريِ چه مُقدّس پطرس چه دَ مسیح رسول او په خپله ئي واده کړي وه واده شويو ته څه وايي اي خښتنونو دَ خپلو ښځو سره پـه هوښیاريِ سره اوسئ او ښځه نازک لوښي او له خپل ځان سره ئي دَفضل دَ ژوندانه وارثَ وګڼئ او عزت ورکړئ تاچه ستاسو دُعا بندي نشي

تر دي ځايه پوري چه په خښتن بانديِ دَ ښځي په نسبت چه څه فرض دي تاسو واوريده- اوس اي ښځو چه په تاسو بانديِ ستاسو دَ خښتنونو څه فرض دِي تاسو واورئِ او ذِه کړئ



لکه چه په مقدّس کتاب کښ صاف بیان دَي

مقدّس پولُس په خط مذکورافسیانو ته داسي تاسو ته ښيي چه اي ښځو دَ خپلو خاوندانو داسي تابع اوسئِ لکه چه دَخداوند ځکه چه خښتن دَ ښځي سر دَي لکه چه مسیح دَ کلیسي سر دَي او هغه دَ بدن بچ کونکي دَي- نو لکه چه کلیسیا دَ مسیح تابعداره دَه نو دغه سيِ دِ ښځي هم په هري خبري کښ دَخپلوخاوندانو وي او بیا دا وايي چه ښځي له لازم دِي چه دَ خپل خاوند ادب کوي

اوهم هغه مقدّس پولُس په خپل خط کښ قلسیانو ته تاسو ته دا مختصر نصیحت کوي اي ښځو لکه چه په خداوند کښ مناسب دِي دَ خپلو خښتنونو تابعداري اوسئ

مقدّس پطرس هم تاسو ته داسي وايي او په ښه شان سره درته ښيي چه اي ښځو تاسو دَ خپلو خاوندانو تابع اوسئ که چري څوک نه هغو نه کلام نه مني نو هغه دِ بغیر له کلام نه دَ خپلو ښځو له خصلتَ فایده حاصله کړي چه څه وقت ستاسو پاک خصلت چه له ویري سره دَي ووینې- او ستاسو سنګار دِ ظاهِري نه وِي لکه سرګول اودَ سرو کالي او رنګارنګ جامي اغوستل بلکه باطنه دِي چه هغه دَ زړه پټ انسانیت وِي چه غیر فاني اوحلیم اوغریب‌مزاج دَي چه دا دَ خداي په حضور بیش‌قیمت دَي-ځکه چه په دي شان سره پـه پخوانۍ زمانه کښ پاکي ښځي هم چه په خداي بانديِ ئي امید لاره خپل ځان به ئي جوړاوه اودَخپلو خپلو خاوندانو تابع به اوسیدي چنانچه ساري دَ ابرهام تابعداري کوله او ورته به ئي خداوند وایه نو تر کومي چه تاسي نیکوکاره اوسئ او له هیڅ خوفَ نه ویریږئ نو دَ هغي لونړه يئِ

مناسب دِي چه نوي واده شوي دَخپل نکاح په وقت یا له هغي نه پس په ورنبيۍ موقع بانديِ مقدّس رفاقت واخلي

## دَ رنځور دَ پښتني ترتیب

هرکله چه څوک ناجوړه شي نو دَ جماعت امام دِ خبر کړي او چه هغه په کور کښ داخلیږي نو داسي دِ ووايي

په دي کور او دَ دي په ټولو
اوسيدِ ونکو باندِ السلام

چه رنځور ته ورسيږي نو زکنزنه دِ ولکوي
او دا دِ دوايي

اي خداوندَ خموږ تقصيرونه مه
يادوه او نه مو دَ پلرونو نيکو تقصيرونه
او خموږ دَ ګناهونو بدله مه اخله
اي کريمَ خداوندَ په موږ رحم وکړه
په خپل اُمت چه تا په خپلو بيش قيمتو
وينو سره پيرودلي دي رحم وکړه او
ته له موږ نه ترابده پوري مه خپه کيږه

جواب - اي کريمَ خداوندَ په موږ رحم وکړه

نو امام دِ دوايي

موږ دِ دُعا وغواړو

اي خداوندَ په موږ رحم وکړه
اي مسيح په موږ رحم وکړه
اي خداوندَ په موږ رحم وکړه
اي خموږ پلاره چه په آسمانونو کښ
يي = وغيره

امام - اي خداوندَ خپل بنده
سلامت ولره

جواب - چه په تا باندِ آسره لري

امام - له خپل پاک ځايه دَ هغه
دَپارَ مدد را وليږه

جواب - او په لوي قدرت سره هر وقت
دَ هغه حمايت وکړه

امام - دښمن دِ په هغه قابو
بيا نه مومي

جواب - نه دِ شرير دَ هغه دُنقصان
کولو دَپارَ هغه ته نزدي راشي

امام - اي خداوندَ دَده دَپارَ
محکم برج شه

جواب - دَده دَ دښمن له مخه

امام - اي خداوندَ خموږ دُعا واوره

جواب - خموږ فرياد دِ تا ته درورسي

امام

اي خداوندَ له آسمان نه په ده
نظر وکړه خپل بنده ته وګوره دَده خبر
واخله ده له فرصت وروکړه - دَ خپل رحمت
په سترګو سره په ده نظر وکړه ده له
تسلي او په خپل شان باندِ پوره توکّل
وروکړه دَ دُښمن له خطرو نه يي وساته
او په دايمي تسلئ او سلامتئ کښ يي
محفوظ ولره خموږ دَ خداوند يسوع مسيح
په وسيلي سره - آمين

اي خدايَ قادرِ مطلقَ او ډير
رحيمَ الله او نجات راکونکيَ خموږ
واوره په دي خپل بنده باندِ چه له
رنځه سرګردان دي خپله معمولي
مهرباني وفرمايه موږ تا ته زاري کوو



چه خپله دا پدرانه تنبيه دَ هغه دَپارَ
دَ ډيري پاکئ سبب شي - چه هغه خپله
کمزورتيا وپيژني او په ايمان کښ زيات
قوي شي او په ډير اخلاص او سرګرمئ
سره توبه کړي که چري ستا مبارکه خوښي
وي چه هغه بيا دَ پخوا په شان تندرست
شي نو هغه دِ خپل باقي عمر ستا
په خوف کښ ستا دَ جلال دَپارَ
تير کړي او که نه وي نو په هغه داسي
فضل وکړه چه هغه دا مصيبت چه
ستا له طرفَ دي داسي قبول کړي چه
دَدي دردناک ژوندانه په آخر کښ هغه
ستا په ابدي ژوندانه کښ اوسي خموږ
دَ خداوند يسوع مسيح په وسيلي
سره - آمين

نو امام دِ په دي شان يا دَدي په مانند رنځور
ته نصيحت وکړي

اي عزيزه په دي پوه شه چه خدايِ
قادرِ مطلق دَ ژوندون او دَ مرګ او
دَ هغي سره دَ ټولو متعلقو خبرو مالک
دي مثلاً دَ ځوانئ او دَ طاقت دَ تندرستئ
او دَ پيرئ او دَ کمزورتيا او دَ ناجوړتيا
دي دَپارَ ته يقين وکړه که ستا ناجوړتيا
هر څنګه چه وي دَ خداي له طرفَ
ده او دَدي ناجوړتيا دَ راليږلو سبب
هر څه چه وي شايد دَ نورو دَ ښوني
دَپارَ ستا دَ صبر ازمايښت وي -
چه له دي نه دَ خداوند په ورځي
ستا ايمان دَ تعريف او دَ جلال او
دَ عزت لايق شي - او ستا جلال او
نيکبختي زياته شي يا هر څه چه په تا
کښ ستا دَ آسماني پلار په نظر کښ
بد وي دَ هغي سموالي او جوړوالي وشي
نو ته ښه پوه شه چه ته دَ خپلو
ګناهونو نه رښتني توبه وباسي او دَ
خداي په رحمت او دَ هغه دَ محبوب
ځوي يسوع مسيح په سبب اميد ولري
او دا ناجوړتيا په صبر سره وزغمي
او په دي پدرانه تنبيه باندِ په عاجزئ
سره دَ هغه شکر وکړه او ځان
بالکل دَ هغه دَ مرضئ تابع کړه نو
بي شُبهي به دا ناجوړتيا ستا دَپارَ مفيده
شي او په هغي سمي لاري کښ چه
ابدي ژوندون ته رسوي ستا دَ وړاندِ
به دَ ترقئ باعث شي

که هغه سړي ډير ناجوړه وي نو امام دِ خپل
نصيحت دلته کښ ختم کړي که نه وي نو به
هغي باندِ دِ داسي زيات دوايي

دي دَپارَ دَ خداوند په دي تنبيهه
سره راتي شه (چنانچه مُقدس پولس

دَ عبرانيانو په دولسم باب كښې وايي خداوند چه له چا سره محبت لري هغه له تنبيهه وركوي او هر يو ځوي چه هغه قبلوي نو ئې وهي كه تاسو په تنبيهه كښې صبر كوئ نو خداي له تاسو سره لكه دَ ځامنو سره سلوك كوي نو كوم يو ځوي دي چه هغه له پلار تنبيهه نه وركوي كه هغه تنبيهه چه په هغې كښې ټول شريك شوي دي تاسو له درنه كړي شي نو تاسو ولدالزنائي نه ځامن - او هركله هغه چه زمونږ جسماني پلرونه دي مونږ له تنبيهه راكوي او مونږ دَ هغو تعظيم وكړ نو آيا مونږ زيات دَ روحونو دَ پلار محكوم نه شو تا چه ژوندي اوسو - چه هغوي خو دَ لږو ورځو دَ پاره دَ خپلې پوهې په موافق تنبيهه راكوله مگر دي زمونږ دَ بهترۍ دَ پاره تا چه مونږ دَ هغه په قدسيت كښې شريك شو - اي عزيزو دا ټولې خبري په مقدس كتاب كښې زمونږ دَ تسلي او دَ تعليم دَ پاره ليكلې دي كه چري دَ هغې كريم او رحيم مرضي وي چه مونږ ته په څه شان ايذاء ورسيږي نو مونږ دِ په شكر سره دَ خپل آسماني پلار دَ تنبيهه برداشت وكړو - او دَ مسيحيانو خلقو دَ پاره دَ دي نه هيڅ زياته تسلي نشته چه صبر وكړي دَ تكليف او دَ ناجوړتيا زغملو نه پس هغه دَ مسيح په شان شي څكه چه هغه بخپله آرام و نه كاته ترڅو چه اول ئې درد و نه زغامه هغه په خپل جلال كښې داخل نه شه ترڅو چه مصلوب نشه - نو په رښتيا په دي شان دَ مسيح سره درد زغمل زمونږ دَ پاره دَ ابدي خوشحالۍ لار دَه او له مسيح سره په خوشحالۍ مړ كيدل زمونږ دَ پاره دَ ابدي ژوندانه دروازه دَه چه مونږ له مرګه پورته شو او په ابدي ژوندون كښې له هغه سره اوسو - نو زه دَ خداي په نامه تا ته نصيحت كوم چه ته دَ دي ناجوړتيا چه ستا دَ پاره واسي فائده مند ده برداشت وكړه او هغه قول او اقرار چه تا دَ بپتسمي په وقت له خداي سره كړي وه ياد كړه - او هركله چه له دي ژوند نه پس دَ هغې عادل منصف په روبرو چه په بې طرفدارۍ سره به انصاف وكړي حساب وركول زِي دي دَ پاره زه تا ته تاكيد كوم چه خپل ځان او خپل حال دَ خداي او دَ انسان په نسبت وآزمايه چه ته



دَ خپلو گناهونو په سبب بخپله خپل مدعي شي هم دغسي خپل ځان ملزم وگڼه چه زمونږ آسماني پلار دَ مسيح په خاطر په تا باندِ رحم وكړي او دَ عدالت په خوفناكي ورځي كښې په تا باندِ دعوی و نه شي او نه ته ملزم شي - نو زه دَ خپل ايمان عقيده تا ته اوروم چه ته پوه شه چه آيا ستا ايمان په شان دَ مسيحي سړي دَي كه نه

په دي ځاي دِ امام دَ ايمان عقيدي واوروي

آيا ته ايمان لري په الله قادرِ مطلق پلار باندِ چه دَ آسمان او دَ زمكي خالق دَي

او په يسوع مسيح چه دَ هغه ابنِ وحيد او زمونږ خداوند دَي چه دَ روح القدس په قدرت سره په رحم كښې راغي او له پيغلي مريمي نه پيدا شه دَ پنطس پلاطس په حكومت كښې ئې درد وزغمه مصلوب شه مړ شه او ښخ شه عالم برزخ ته كوز شه او په دريمه ورځ له مړو نه پاڅيد آسمان ته وخوت او دَ خداي قادرِ مطلق پلار ښي لاس ته ناست دَي له هغه ځاي نه به دَ ژوندو او دَ مړو دَ عدالت كولو دَ پاره راشي

او آيا ته په روح القدس باندي ايمان لري او په پاكي كاتلكي كليسي باندِ دَ پاكانو په رفاقت دَ گناهونو په بخښنه دَ بدن په قيامت او پس له مرګه په ابدي ژوندون باندِ

ناجوړه دِ ځواب وركړي

په دي ټولو باندِ پوخ ايمان لرم

نو امام دِ تحقيق وكړي چه آيا هغه دَ خپلو گناهونو رښتني توبه كړي او دَ تمام جهان سره مينه لري كه نه او هغه ته دِ نصيحت وكړي چه په خپل زړه سره هغه ټول خلق معاف كړي چه چا دَ هغه څه قصور كړي وي او كه چري هغه دَ چا قصور كړي وي نو دَ هغې معافي دِ وغواړي او كه په څه كار كښې هغه چا ته ضرر رسولي وي يا ئې نقصان كړي وي نو په خپل مقدور سره دِ هغه بدل وركړي - او كه چري هغه وړنبي دَ خپل مال بندوبست نه وي كړي نو هغه دِ پوه كړي شي چه وصيت نامه خپله وليكي او خپل پور دِ وښي چه دَ چا په ده باندِ پور وي او يا دَ ده په چا باندِ پور وي - دَ خپلي خاطرجمعي دَ پاره او دَ وصيانو دَ تسلي دَ پاره - مناسب دي چه خلقو ته وريادولي شي چه دَ خپلي تندرستيِ په وقت كښې دَ خپل دنياوي مال اسباب بندوبست وكړي

څه خبري چه پورته ليکلي دي امام دِ له دعا غوښتلو نه وړمبي څنګه چه مناسب ګڼړي واوروي

امام دِ داسي ناجوړو ته چه ئې وس وي دَ خيرات ورکولو تاکيد وکړي

اوس دِ رنځور ته دَدي خبري رغبت ورکړي شي که چري دَ څه خاص ګناه دَ درُند بار له سببَ دَ هغه په زړه کښ غم دِي نو دَ خپلو ګناهونو دِ خاص اقرار وکړي- دَدي اقرارنه پس دِ هغه په عاجزئ او په صدق دَ زړۀ سره درخواست وکړي نو قسيس دِ داکلمه دَ عفوي واوروي

خُمونږ خداوند يسوعؔ مسيح چه خپلي کليسيي ته دا طاقت ورکړي دَي څومره ګناهګاران چه رښتني توبه کړي او په هغه باندِ ايمان لري دَ هغوي ګناهونه عفوه کړي په خپل لوي رحمت سره ستا ګُناهونه وبخښي او دَ مسيح په اختيار سره چه ما ته سپرد شوي دَي زه ستا ټول ګُناهونه عفوه کوم دَ پلار او دَ زوي او دَ روحُ القُدس په نامه سره-آمين

نو قسيس دِ دَ لاندِ دُعا ولولي

## مونږ دِ دُعا وغواړو

اي ډيرَ رحيمَ الله ته په خپلو بيشمارو رحمتونو سره دَ هغوي ګُناهونه چه رښتني توبه کړي داسي هيروي چه بيا ئې هيڅري نه يادَوي دَ خپل رحمت په نظر سره به دي خپل بنده باندِ نګاه وکړه چه هغه په کمال آرزو سره بخښنه وغواړي

اي ډيره محبَ پلاره هرڅه چه دَ شيطان په فريب او په کينه سره يا په خپله دَ هغه دَ نفساني خواهش او دَ کمزورتيا په سبب سره په هغه کښ تباه شوي دِي په حال ئې کړه دَ کليسيي دَ بدن دا رنځور اندام دَ خپلو مؤمنانو په رفاقت او په يګانګت کښ قايم کړه دَده دَ شکسته زړه لحاظ وکړه دَده اوښکي قبولي کړه دده درد داسي کم کړه څنګه چه ته ښه پوهيږي- هرکله چه دَي خپله آسره هم ستا په رحمت باندِ لري دَده دَ تيرو شويو ګُناهونو حساب مه کوه بلکه په خپل روح مبارک سره ده له قوت ورکړه او که ستا مرضي وي چه دَي له دي ځاي نه پورته کړي- نو دَ خپل فضل په غيږ کښ ئې قبول کړه دَ خپل ډير عزيز زوي څمونږ دَ خداوند يسوعؔ مسيح دَ ثواب په دولت سره-آمين

نو قسيس دِ دا مزمور ولولي

### مزمور ۷۱

اي يهوه زه په تا توکل کوم- شرمنده دِ نه شم

په خپل صداقت سره مِ خلاص کړه او بچ مِ کړه- نه خپل غوږ څما په طرف ټيټ کړه- او بچات راکړه

څما دَ استوګني دَپارَ يو محکم ګټ شه-



چه زه مدام هلته ورځم- تا مِ دَ بچات حکم کړي دَي- ځکه چه ته څما ګټ او څما قلا يي

اي څما الله ته مِ دَ شرير له لاسَ بچ کړه- دَ بد او دَ ظالم لاسَ

ځکه چه ته څما اميد يي اي خداوند يهوه- ته څما تکيه يي له هلکتوب نه

او له رَحِمَ نه تا سنبال شوي يم- او ته هغه يي چه زه دِ دَ مور له نَس راوِيستلم- مدام به ستا مدحه کوم

زه دَ ډيرو په نظر کښ تعجب يم- مګر ته څما مضبوط پناه ګاه يي

څما خله به ستا له مدحي ډکه شي- او ستا له جلالَ ټوله ورځ

ته مِ دَ زوړوالي په وقت کښ مه غورزوه- چه څما قوت پرِ کميږي مه مِ پريږده

ځکه چه دَښمنان څما په باب کښ خبري کوي- او هغه څما دَ ځان په څارلو کښ دِي مصلحت سره کوي

وائي چه دَي الله پريښي دَي- ورپسي شئ و ئي نسئ- ځکه چه هيڅوک ئې خلاصونکي نشته

اي الله له ما نه مه لري کيږه- اي الله څما دَ کومک دَپارَ بيړه وکړه

هغه چه څما دَ ځان دښمنان دي شرمنده او فنا دِ شي- او هغه چه څما ضرر غواړي په رسوائئ او په شرمندګئ دِ پټ شي

زه به مدام اميدوار يم- او ستا مدحه به ډيره ډيره کوم

خُله څما به ستا صداقت بيانوي- ستا بچات ټوله ورځ- ځکه چه دَ دغو په حساب نه پوهيږم

زه به دَ خداوند الله په قدرت کښ داخل شم- ستا هو خاص ستا دَ صداقت ذکر به کوم

اي الله له هلکتوبَ دِ څما تربيت وکه- او لا ترا اوسَ پوري زه ستا عجائبات بيانوم

اي الله چه زه زوړ يم- او سپين ږيري يم- مه مِ پريږده- تا چه ستا قوت بلي پيړئ ته ظاهر کړم- قدرت ستا هرو ته چه راتلونکي دَي

اي الله ستا صداقت هم ډيراوچت دَي- چه تا لوي کارونه کړي دِي- اي الله ستا په شان څوک دَي ؟

تا چه مونږ ته ډيرِ او سخت آفتونه ښولي دِي- ته مو بيا ژوندي کړي- او دَ زمکي له ژوري نه مو بيا راپورته کړي

لويي څما به زياته کړي- او بيا را وګرزه- او ما له تسلي راکړه

زه به په بين باندِ ستا مدحه وکړم- هو ستا راستي به اي څما الله- تا له به په بربط باندِ مدحَ وغږوم- اي دَ اسرائيل قدوسه

چه زه ستا مدحه غږوم-نوځما ښونځې
بدله بناديځ ناري وکړي- او ځان پر هم
چه تا ني فديه ورکړي دَه
زبه ځما به تل وځ ستا دَ صداقت خبري
کړي- ځکه چه هرڅوک چه ځما دَ ضرر غوښتونکي
دي رسوا بلکه شرمنده شوي دي
ثنا دَ پلار او دَ زوي او دَ روح القُدس دِ وي
لکه چه په ابتدا کښ وَه اوس هم ده
او ترابده پوري به وي-آمين

دا دِ هم ولولي

اي دَ جهان نجات ورکوونکيَ چه تا په
خپل صليب او په بيش قيمتو وينو سره بيرورلي
يُو موږ په عاجزيِ سره زاري کَوو چه موږ
خلاص کړه او ځموږ مدد وکړه اي خداوندَ

نو امام دِ ووايي

قادر مطلقَ خدايه دَ هغو ټولو دَپارَ چه
په تا باندِ اميد لري يَو ډير لوي مضبوط برج
يي او ستا په حضُور ټول څيزونه چه په آسمان
او په زمکه او دَ زمکي دَ لاندِ دي سجدهٔ کوي
او تابع اوسي اوس او هيشه دِ ستا پناه او
ستا يقين وکسړي چه دَ آسمان دَ لاندِ بَي اَدمو
ته بل نُوم نه دي ورکړي شوي چه په ده کښ
او دَده په وَسيلي سره ته سلامتي او نجات
حاصل کړي شي مگر صرف ځموږ دَ
خداوند يسوع مسيح نُوم-آمين

پس له دي دِ دا ووايي

دَ خداي کريم او رحيم په حفاظت کښ
سوږ تا سپارو- خداوند دِ تا ته برکت درکړي
او ستا حافظ دِ اوسي- خداوند دِ خپل مخ
په تا باندِ وخلوي او په تا دِ دَ کرم نظر وکړيَ
خداوند دِ تا ته متوجه شي او تا ته دِ تسليِ
وبخښي اوس او تر هميشه پوري-آمين

## دَ وروکي رنځور دَپارَ دُعا

اي قادرِ مطلقَ خدايَ او رحيمَ پلاره
ژوندون او مرګ هم ستا په لاس کښ دَي
موږ په عاجزيِ سره تا ته زاري کَووچه له
آسمانه په دي وړوکي باندِ چه رنځور پروت
دَي دَ رحم نظر وکړه خپل نجات ورته
وبښيه او په خپل مُعين وقت باندِ دَي
دَ بدن له درد نه خلاص کړه دَ خپلو
رحمتونو په روي دَده روح بچ کړه که چري
ستا مرضي وي چه عمر ئي زيات کړي شي نو
دَي دِ په ټول ژوند کښ تا خوشحاله کړي
او په ايمانداريِ سره دِ ستا خدمت وکړي
او دَ خپلي زماني خلقوته دِ فايده وَرسوي
ستا دَ جلال دَ ظاهرولو وسيله دِ شي که نه
وي نو ده له په آسماني ځايونو کښ ځاي
ورکړه چه هلته دَ هغوي روحونه چه په
خداوند يسوع کښ اوده شوي دي په
ابدي آرام او په نيکبختئ کښ فيض يابه



دِي-اي خداوندَ دَ خپلو هغو رحمتونو
دَپارَه دارا و بخښه چه ستا دَ هغي ځوي
ځموږ په خداوند يسوع مسيح کښ دِي چه
هغه دَ تا او دَ روحُ القُدس سره واحد
الله تر ابده پوري ژوندي او بادشاهت
کوي-آمين

دَ رنځور دَپارَ دُعا چه دَ هغه دَ بچکيدو
اُميد کم وي

اي دَ رحمتونو پلاره او ډير تسلي
بخښونکيَ خدايه دَ تنګسيا په وقت
هم ته ځموږ مددګار يي موږ ستا
ددي بنده دَپارَ چه دَ بدن دَ ډيري
کمزورتيا په حالت کښ ستا دَ قدرت
دَ لاس دَ لاندِ پروت دَي تا څخه دَ
کُمک دَپارَ په دَو راغلي يُو اي خداوندَ
په ده باندِ دَ کرم نظر وکړه او څومره
چه دَ هغه بدن ويلي کيږي هم هغه
هومره ئي په خپل فضل او په روح
القدس سره په باطن کښ ته دَده قوت
زياتوه- دَ تير شوي عمر دَ ټولو خطاؤ
دَپارَ دَ بي ريا توبي توفيق ده له ورکړه
او په خپل زوي يسوع باندِ مضبوط
ايمان ور ته وبخښه چه له دي ځاي
نه دَ تلو او له غائب کيدو نه ورنبي
دده ګناه ستا په رحمت سره محوه شي

او په آسمان کښ دَده په مغفرت مُهر
وشي-اي خداوندَ موږ پوهيږو چه ستا
دَ ورانډِ هيڅ خبره ناشوني نه دَه که
چري ته غواړي نو اوس هم دي پورته
کولي شي او دي ځموږ په مينځ کښ
نور هم پاتي کولي شي-ليکن چه په
ظاهره معلوميږي چه دَده دَ کوچ وقت
نږدي دَي دي دَپارَ موږ تا ته زاري
کَوو چه دَي دَ مرګ دَ ساعت دَپارَ
داسي تيار کړه چه ستا دَ فضل وارث
شي په تسلئ سره له دي ځايه رخصت
شي او دَده روح ستا په ابدي بادشاهت
کښ قبول کړي شي ستا دَ ابنِ وحِيد
ځموږ دَ خداوند او دَ نجات راکونکي
يسوع مسيح دَ ثواب او دَ سفارش
په وسيلي سره-آمين

دَ رخصت دُعا دَ هغي رنځور دَپارَ چه دَ هغه
دَ مړکيدو وقت رارسيدلي وي

اي قادرِ مطلقَ خدايه تاڅخه دَ
کمال موندونکو راستبازانو روحونه چه
دَدي خاوربني قيدخاني له خلاصيدلو
نه پس ژوندي اوسي موږ ستا دَدي
بنده دَ خپل ميَن ورور روح په عاجزئ
سره ستا په لاس کښ سپارو دَدي
خبري يقين کَوو چه ته خالق آمين

او ډېر رحيم نجات ورکوونکي يې او
دا زاري هم کوُو چه دي ستا په نظر
کښ بېش قيمتي شي- مونږ زاري کوُو
چه ته دَي دَ هغي بې داغه برّه په
وينو سره چه دَ جهان دَ ګُناهونه دَ
وړلو دَپارَ ذبح کړي شه ووينځه چه
څه آلودګي په دي خرابي او خبيثي دُنيا
کښ په ده لګيدلي وِي اوخه پليتي
دَ نفس دَ شهوتونو او دَ شيطان
په حيلو سره په کښ راغلي وِي له
هغي نه پاک صاف شي ستا په حضور
بې داغه او بې عيب حاضر کړي شي-
او مونږ بېس ماندهٔ وُ له داسي توفيق
راکړه چه مونږ دَ خپل فاني حالت دا
مثال او نور مثالونه ورځ په ورځ
ووينو او معلوم کړُو چه مونږ
بخپله څنګه فاني او ناپايدار يُو او
خپلي ورځي داسي وشمارُو چه په
ژوندانه کښ دَ هغي مقدّس او دَ
آسماني حکمت طرف ته په ډيري
هوښيارئ سره زړه ولګوُو چه په
آخر ابدي ژوندانه ته ورسيږُو ستا
دَ ابنِ وحيد څمونږ دَ خداوند
يسوع مسيح دَ ثواب په سبب
سره - آمين

دعًا دَ هغي خلقو دَپارَ چه دَ هغو په
زړه کښ څه وسوسه وِي

اي مبارکَ خداوندَ دَ رحمتونو
پلاره او ډېر تسلّي بخښونکيَ خدايه
مونږ تا ته زاري کوو چه ته ترس خوړهٔ
او په همدرديً سره په دي خپل
آزرده دِل بنده بانډِ نظر وکړه- دَي
مجرِم کوي دَده په زړه کښ تلخي پيدا
کوي دَده تېره شوي ګُناه ده ته وړاندِ
ودروي ستا قهر دَي لاندِ کوي
دَده ځان حيران او پريشان دَي مګر
اي رحيمَ خدايه تا څمونږ دَ تعليم دَپارَ
خپل مُقدّس کلام ليکلي دَي چه
مونږ ستا دَ مقدّس کلام نه صبر
او تسلّي حاصله کړو له تا نه اميدوار
اوشو-دا راعنايت کړه چه دَي دَ خپل
حقيقتِ حال په نسبت او ستا دَ وعدي
او دَ وعيدونو په نسبت سمه پوه ولري
چه دَي په تا اميد لول پري نږدي او
بغير له تا نه په بل چا بانډِ اُميد
و نه لري- دُده په ټولو ازمايښتونو
کښ ده ته قوّت ورکړه او دَده ټولي
بيقراريُ دفع کړه- مانه شوي درمه
مه پري کړه لوګيَ شوي سنږ مه مړه
کړه- په خفګيَ سره تر خپل رحمتونه



مه بندوه بلکه دَ خوښيً او دَ ښادمانيً
آواز ور ته واوروه هغه هډوکي
چه تا مات کړي دي خوشحال شيَ
دَ دُشمن له خوف لي بچ کړه او
خپل نور ير بانډِ وځلوه او ورته
تسلّي وبخښه څمونږ دَ خداوند
يسوع مسيح دَ ثواب او دَ شفارس
په طفيل سره-آمين

# دَ رنځورانو رفاقت

هرکله چه تمام انسان فاني دي او په ناګهاني آفتونو او مرضونو او رنځونو سره نيولي شوي دي او ورته هيڅ معلوم نه دي چه کله به له دنيا نه کوچ وکړو نو په دي مراد سره چه دَ خداي قادرِ مطلق مرضي وِي چه يې وبلي هغه دَ مرګ دَپارَ تيار اوسي په امامانو بانډِ لازم دي چه هر وقت بلکه خصوصًا دَ وبا او دَ سرايت دَ رنځورتيا په ورځو کښ دَ خپل خپل جماعت خلق پوه کړي چه هرکله څمونږ دَ نجات راکونکي مسيح او دَ بدن او دَ وينو مقدّس رفاقت په کليسي کښ استعمال کيږي نو په هغي کښ دِ شريک شي که چري په ناګهاني آفت کښ ګرفتار شي نو دَ هغوي زړونه بيقراره نه وِي- او که څوک رنځور کليسي ته نه شي تلي او په کور کښ رفاقت اخستل غواړي نو بايده دي چه امام په وقت خبر کړي او دَ دي دِ هم خبر ورکړي چه څو تنَ به له هغه سره شامل کيږي (چه دَ دريو يا دَ دوو نه کم نه وي)- او يو مناسب ځاي دِ سره دَ ضروري اسبابَ دَ رنځور په کور کښ تيار دِي چه امام په ادب سره دا دستور ادا کړي نو هلته دِ لاړ شي او مقدّس رفاقت دِ ورکړي او له لاندِ دُعا او له خطَ او له انجيلَ دِ شروع کړي

دُعا

اي قادرِ مطلقَ او حيّ القيّومَ خدايه
او دَ بني آدمو خالقَ ته چه له چا
سره مينه کوي هغه له تنبيهه ورکوي
او څوک چه قبلوي هغه له سزا ورکوي
مونږ تا ته زاري کوُو چه په دي خپل
بنده بانډِ چه ده ستا دَ لاسَ سزا
موندلي دَه رحم وکړه او ده ته دا توفيق
وبخښه چه دَي دَ دي خپل رنځ په صبر
سره برداشت وکړي او که ستا پاکه
مرضي وِي نو دَي دِ بيا تندرست شي
او کوم وقت چه دَ ده روح دَده له تنَ
ووځي نو بي عيبه ستا په حضور حاضر
شي څمونږ دَ خداوند يسوع مسيح په
وسيلي سره-آمين

دَ عبرانيانو دَ خط ۱۲ باب ۵ آيت

اي څما زويه دَ خداوند تربيت ناڅيزه
مه گڼزه او چه هغه تا ملامت کړي نو شکسته
دِل مه شه ځکه چه خداي چه له چا سره
مينه لرِي هغه له تنبيهه ورکوِي او
هر څوي چه ئي قبلوِي نو ئي وهي
دَ يوحنّا دَ انجيل ۵ باب له ۲۴ آيت نه

زه تاسو ته رښتيا رښتيا وايم هغه
چه څما کلام اورِي او په هغه باندِ
چه ئي زه رالېږلي يم ايمان راوړي
ابدِي ژوندون هم دَ هغه دَي او هغه
په عدالت کښ نه راځي بلکه له مرګه ژوندُ نه
ته تېر شوي دِي

بيا له دي دِ قسيس دَ پاک رفاقت دستور چه دَ هغي ترتيب پورته ليکلي دَي په عمل راوړي او له دي الفاظو نه دِ ئي شروع کړي (تاسو چه له خپلو ګناهونو نه رښتني توبه کوي)

دَ پاک سکرامنټ له تقسيم کولو نه دِ وړنبي قسيس پخپله واخلِي پس له دي دِ هغه له ورکړي چه دَ رنځور سره دَ رفاقت آخستلو دَپارَ راغلي دِي او له ټولو نه دِ ورستو رنځور له ورکړي

که چرِ څوک سرِي خواه دَ سختي رنځوريا په سبب خواه دَدي دَپارَ چه امام ته په وقت خبر رسيدلي نه وِي يا هغه څخه دَ سکرامنټ دَ اخستلو دَپارَ څوک موجود نه وِي يا څه په بل معقول مزاحمت سرِه دَ مسيح دَ بدن او دَ وينو سکرامنټ وانه خستلي شي- نو امام دِ هغه ته دا تعليم وکړِي که چرِ هغه له خپلو ګناهونو نه په صدق دَ زړه سره توبه کوِي او مضبوط ايمان لرِي چه يسوع مسيح څما دَپارَ په صليب باندِ دَ مرګ درد زغملي دَي او څما دَ خلاصي دَپارَ ئي خپلي ويني بهولِي دِي او څه نعمتونه چه له دي خبري نه حاصليږي- هغه په ښه شان سره ياد لرِي او دَ هغي دَپارَ په زړه سره دَ مسيح شکر کوِي چه هغه دَ خپل ځان دَ بهترئ دَپارَ څمونږ دَ نجات راکونکي مسيح بدن او ويني خوړي او څښي که چرِي په خپلي خوله سره ئي سکرامنټ نه وِي اخستِي

که چرِي دَ رنځور پښتنه او دَ سکرامنټ ورکول په يو وقت وِي نو دَ جلتئ دَپارَ دِ قسيس دَ رنځور دَ پښتني ترتيب له هغي مزمور نه چه دَ هغي دا شروع دِه (اي خداونده څما آسره هم په تا باندِ دَه وغيره) وړنبي دِ تمام کړِي او زر دِ ترتيب دَ رفاقت شروع کړِي

دَ وبا يا دَ بل متعدِي مرض په وقت چه په اهلِ جماعت او په اهلِ محلي کښ دَ رنځ دَ لګيدو له خوفَ له رنځور سره په عشاي ربانئ کښ دَ شريک کيدو دَپارَ څوک نه راځي نو دَ رنځور په خاص درخواست باندِ قسيس له هغه سره شريک کيدي شي



# دَ مړو دَ جنازي ترتيب

ظاهره دِ وِي چه دا ترتيب دِ په عمل کښ رانه شي چه بغير له بپتسمي نه مړ وِي يا له کليسيي نه خارج وِيَ يا ئي پخپله ځان وژلي وِي

قسيس او امام دِ دَ ګرجي له احاطي نه يا دَ قبرستان له دروازي نه دَ مړي سره شي او دَ هغه په وړاندو وړاندِ دِ دا وايي يا دِ په سرود سره ځږوِي دَ ګرجي يا دَ قبر طرف ته دِ ځي

خداوند فرمايِي چه ژوندون
او قيامت زه يم چه په ما باندِ
ايمان راوړي که هغه مړ شِي
نو هم به ژوندي وِي او که څوک
ژوندي وِي او په ما ايمان راوړِي
نو هغه به هيچري مړ نه شِي-
دَ مقدّس يوحنّا ۱۱- ۲۵ و ۲۶

څما يقين دَي چه څما خلاصونکيَ
ژوندي دَي او په آخره ورځ به
په خاوره ودريږي- که چرِي په
آخر کښ څما څرمن سخا شِي نو
هم به بي له جسمَ الله وويِنم
زه به پخپله هغه وويِنم او
څما سترګي نه بل څوا به ئي وويِني
ايوب ۱۹- ۲۵ و ۲۶ و ۲۷

دي جهان ته موږ څه راوړي
نه دِي او ظاهره دَه چه له دي ځاي
نه څه وړي نشو- خداي راکړ او

خداي واخست او دَ خداي نوم
مبارک دَي- ۱ طمطاؤس ۶- ۷
ايوب ۱- ۲۱

چه کليسيي ته راشي نو يو يا دواړه مزمور نه
چه لاندِ ليکلي دِي و دِ لوستلي شي

۳۹ مزمور

ما وويل چه زه به خپلي لاري
وساتم- چه په ژبه خطا و نه کړم-
زه به خپله خُله په قيزه سره وساتم-
هرکله چه شرير څما په مخ کښ
وِي
زه په خاموشئ کښ ګونګ شوم
او له نيکئ کولو نه چپ شوم- او غم
څما زيات شه
زړه څما په ګوګل کښ وسهِ چه
ما فکر کاوه نو اور بل او په ژبه مړوِ
په آخر خپل مِ پوه کړه اي
بهوه- چه څما دَ ورځو حساب

څه دَي- ما پوه کړه چه زه څومره
ناپائيدار يم
گوره تا څما ورځي دَ لوېشتي
په شان کړي-او ژوند څما ستا په
نزد هيڅ نه دَي- په تحقيق سره هر
سړي په خپل حال کښ تشه ساجوړ
شوی دَي
په يقين سره هر سړي په خيال
کښ گرزي- په يقين سره په باطلو
بي آرامه شوي دَي- هغه جمع کوي
او نه پوهيږي چه څوک به يې ټول
کړي
اوس اي خداوندَ زه څه
ته انتظار کوم- هم په تا څما
اميد دَي
ما له ټولو گناهونو خپلو
خلاص کړه- دَ احمقانو مِ مه
پيغور کوه
زه گونگ وم خپله خُله مِ
وازه نه کړه- ځکه چه تا دا کار
کړي دَي
له ما نه دِ خپل آفت لري کړه-
زه ستا دَلاس له گُذاره فنا شوم
هرکله چه ته انسان دَ هغو دَ
گناه په سبب په عذاب سره سزا
ورکوي- بنائست دَ هغو دَ پتنگ په
شان ويلي کوي- نو په يقين سره هر يو
سړي تشه سا ده
اي بهوه دُعا څما واوره-او فرياد
څما ونغوږه-او په اوښکو څما مه
چپ کيږه- ځکه چه زه تا سره بيگانه
يم- اوسيدونکيَ دَ خپلو پلرونو
نيکونو په شان
له ما نه نظر وگرزوه چه آرام
وکړم-وړاندِ له هغه نه چه لاړ شم او بيا نه شم
ثنا دَ پلار او دَ زوي ..........الخ

مزمور ۹۰

اي خداوندَ ته څمونږ دَ استوگني
ځاي يې پُشت په پُشت
له هغه نه پخوا چه غرونه پيدا
کيدل-او تا زمکه او جهان جوړ
کړل- له ازلَ تر ابده پوري ته الله
يې
ته انسان خاوري کوي-او وايي
چه بيرته وگرزئ اي بنيِ آدمو
ځکه چه زر کاله ستا په
نظر کښ- داسي دِي لکه پرون چه
تير شه- او لکه پهَر په شپه
کښ
او ته هغوي لکه سيلاب وړي



هغوي لکه خوب دِي- هغوي په
صبحدم کښ لکه وابښه چه زرغونيږي
هغه په صبحدم کښ تازه کيږي
او لوئيږي- نمابښام لوَ کيږي او
وچ کيږي
ځکه چه مونږ ستا په قهر
کښ فنا شوي يو-او ستا په غضب
کښ پريشان شوي يُو
تا څمونږ گناهونه په خپل نظر
کښ ايښي دِي- څمونږ پټ تقصيرونه
دِ دَ خپل حِضور په روښنايئ کښ
ځکه چه څمونږ ټولي ورځي ستا
په غضب کښ تيري شوي- مونږ
خپل کلونه دَ خيال په شان
تمام کړل
څمونږ دَ کلونو ورځي اَويا دِيَ
ياکه چري دَ قوّت په سبب تر اَتيا
کالو پوري وِي- نو دَ هغه فخر
محنت او رنځ دَي-ځکه چه زر تيريږي
او مونږ اَلوزُو
څوک ستا دَ قهر قوّت پيژني-
ستا غضب ستا دَ ويري په شان
مونږ ته څمونږ دَ ورځو حساب
راوښيه- تا چه مونږ دَزړه حکمت
حاصل کړُو
اي بهوه بيرته راشه- تر کومه پوري ؟-
اوپه خپلو بندگانو باندِ نرم شه
په صبحدم کښ مونږ په خپلو مهربانو
سره ماړه کړه- چه مونږ ټولي ورځي
خوښ او خورم اوسُو
مونږ خوشحال کړه موافق دَ
ورځو چه تا مونږ خپه کړي يُو-
او دَ کالونو چه مونږ په کښ شر
ليدلي دَي
خپل کار دِ خپلو بندگانو ته ښکاره
کړه-او خپل شوکت دِ دَ هغو ځامنو ته
نعمت دَ بهوه څمونږ دَ الله دِ
په مونږ باندِ وِي- او څمونږ دَ
لاسونو کار په مونږ قايم کړه- هو
ته څمونږ دَ لاسونو کار ثابت کړه
ثنا دَ پلار او دَ زوي او دِ روح القدس
دِ وِي
لکه چه په ابتدا کښ وه اوس
هم دَه او تر ابده پوري به وِي-آمين
پس له دي دا وِرد به ولوستلي شي
اقرنتيانو ۱۵ باب له ۲۰ آيت نه تر آخره پوري
چه قبر ته ورسي او مړي په زمکه کښ
دَ ايښودو دَپاره تيار کړي نو قسيس دِ دوايِ
يا قسيس او امام دِيُ په خوش آوازيُ سره دوائي
انسان چه له ښځي نه پيدا کيږي

لړي ورځي ژوندي وِي او په مصيبت
کښ گرفتار اوسِي- هغه دَ گُل په شان
غوړيږي بيا مړاوي کيږي دَ سوري په
شان ځي په يو ځاى نه پاتي کيږي
موږ ژوندي دَ مرګ په پنجه کښ
يو موږ دَ چا پناه ولټوو بغير له تا
اي خداوندَ چه خموږ دَ گناهونو
په سبب په انصاف سره ناراض يې
نو هم اي خداوندَ پاکَ خدايَ
اي قادرِ مطلقَ الله اي پاکَ او ډيره
رحيمَ نجات راکونکيَ موږ دَ ابدِي
مرګ دَ تريخ درد په حواله کوه مه
اي خداوندَ ته خموږ دَ زړونو
په رازونو پوهيږي خموږ له دُعا نه
دَ خپل مِهر غوږونه مه بندوه بلکه
په موږ حلم وفرمايه اي قدّوسَ
خداوندَ اي قادرِ مطلقَ خدايَ اي
پاکَ او رحيمَ نجات راکونکيَ اي منصفِ
اعلیٰ عادله او قديمه داسي دِ نه وِي
چه موږ په آخر ساعت کښ دَ مرګ
له دردونو په سبب له تا جدا شُو

چه ښخيني حاضرين په مړي باندِ خاوري اچوي
نو قسيس دِ ووايي

هرکله چه دَ خداي قادرِ مطلق دا
مرضي وشوه چه خموږ دَ دي عزيز ورور
روح چه رحلت ئي کړي دَي په خپل
لوي رحمت سره ئي ځان ته وباله دي
دَپارَ موږ دَده جُثه دَ زمکي په حواله
کوو خاوري له خاورو سره ايري له
ايرو سره گرد له گرد سره په دي کامل او
قوِي اميد سره دَ قيامت دَ ابدِي
ژوندانه پوري خموږ دَ خداوند يسوع
مسيح په وسيلي سره چه هغه به خموږ دا خواره
جُثه داسي بدله کړي چه هغه به
دَ هغه دَ جليل بدن هم صورتي شي
دَ هغه دَ کامل قدرت په مطابق چه ټول
څيزونه دَ خپل ځان تابع کولي شي
نو دا دِ ولوستي شي يا دِ په خوش آوازي
سره وويلي شي

ما له آسمانه يو آواز واوريد چه
ئي ما ته ووِ چه وليکه- له اوسَ هغه
مړي چه په خداوند کښ مړي مبارک
دِي روح وايِي چه هو ځکه چه هغوي
دَ خپلو محنتونو نه آرام بيامومي
نو قسيس دِ ووايِي

خـداوندَ په موږ باندِ رحم
وکړه
مسيحَ په موږ باندِ رحم
وکړه
خداوندَ په موږ باندِ رحم وکړه



اي خموږ پلاره چه په آسمانونو- وغيره
قسيس
اي قادرِ مطلقَ خدايه تا څخه
دَ هغو روحونه چه په خداوند مسيح
کښ شوِي دِي او له دي ځاي ئي کوچ کړي
دَي او ژوندِي دِي او ستا په حضوړ
دَ برگزيده گانو روحونه چه دَ جُثي له
بارَ خلاص شوي دِي په کاملي نيکبختيَ
سره خوشحالي کوِي موږ په زړه سره
ستا شکر کوُو چه خموږ دي ورور زدي
گناه آلودي دُنيا له دردونو نه ئي تا خلاص
غـوره کړ- موږ تا ته زاري کوُو چه
به خپل ډير کرم او مِهر سره بي ډيله
دَ خپلو برگزيده گانو شمار پوره کړه
او خپله بادشاهي زر راوله چه موږ
له هغو ټولو سره چه ئي ستا دَ پاک
نوم په رښتني ايمان سره انتقال کړي
دَي ستا په ازلِي او ابدِي جلال کښ
دَ بدن او دَ روح پوره کامليت او سعادت
حاصل کړو خموږ دَ خداوند يسوع
مسيح په وسيلي سره-آمين
دُعا
اي رحيمَ خدايه خموږ دَ خداوند
يسوع مسيح پلاره چه دَي قيامت
او ژوندون دَي هرڅوک چه په ده
باندِ ايمان راوړي که چرې مړ شي نو
هم به ژوندَي اوسِي او چه څوک
ژوندي وِي او په ده ايمان لړي دَ ابدِي
مرګ مزه به ونه څکي او ده دَ خپل
مقدّس رسول پولُس په معرفت موږ
ته دا تعليم راکړي دَي چه موږ دَ هغو
دَپارَ چه په ده کښ اوده کيږي دَ نا
اُميدو په شان غم ونه کړو اي پلاره
موږ په عاجزيِ سره تا ته زارِي کوو
چه موږ دَ گُناه له مرګ دَ صداقت
په ژوندانه کښ پورته کړه چه هرکله
موږ له دي جهانه کوچ وکړو نو په
مسيح کښ آرام بيامومو لکه چه خموږ
اُميد دَي چه خموږ دي ورور مونده لي
دَي او دا چه په آخر کښ چه دَ ټولو
قيامت وشِي موږ ستا په نظر کښ
غوره راشُو او هغه دَ مبارکبادئ کلمه
موږ ته واورولَي شِي چه ستا عزيز
څوي له هغو ټولو سره چه ستا مينه
او ويره لري هغه وقت وفرمايِ چه
اي ځما دَ پلار مبارکو فرزندانو راشئ
او هغه بادشاهت په ميراث کښ واخلئ
چه دَ ابتدا له عالمَ ستاسو دَپارَ
تيار شوَي دَي اي رحيمَ پلاره موږ
تا ته زارِي کوُو چه خموږ دَ ميانځگړي

او خلاصونکي يسوع مسيح په وسيلي
سره دا راعنايت کړه-آمين
ځمونږ دَ خداوند يسوع مسيح

فضل او دَ خداي محبّت او دَ
روح القدس رفاقت دِ هميشه ځمونږ دَ
ټولوسره دِي-آمين

# دَ ښځو شکرانه چه پس له بچي راوړو نه دِ په عمل کښ راشي

ښځه دِ دَ بچي راوړو نه پس په مقرر وقت صافي جامي واغوندي او کليسي ته دِ لاړه شي او هلته دِ دَ دستور
به موافق يا دَ حاکم دَ شرع دَ ويلو به موجب دَ موقع به ځاي زنګنونه ولګوي نو قسيس دِ هغي ته ووايي

هرکله چه قادرِ مطلق خداي مهرباني
وکړه چه ته په سلامتيا سره خلاص شوي او
هغه ته دَ بچي راوړو دَ لوي خطري نه وساتلي
دَدي دَپارَ ته په ډيري خوشحالئِ سره له زړه
نه دَ خداي شکر وکړه. او ووايه
[نو قسيس دِ ١١٦- مزمور ووايي]
زه له يهوه سره مينه لرم-ځکه چه ده
واوريدي-ځما آواز او ځما زاريِ
له دي سببَ ئي ما ته غوږونه کيښول-
زه به په خپل ټول عمر کښ ده ته فرياد وکړم
دَ مرګ عذابونو ګير کړم-او دَ هاديز سختيو
ونيولم-زه په درد او غم کښ ګرفتار شوم
پس ما دَ يهوه نوم واخست-چه اي
يهوه عرض لرم ځان ځما خلاص کړه
يهوه کريم او صديق دَي — هو
الله ځمونږ رحيم دَي
يهوه دَ مخلصانو ساتونکي دَي-چه زه عاجز
شوي وم-نو ما له ئي نجات راکړ
اي ځما ځانه خپل آرام ته وګرزه-چه
يهوه په تا باندِ احسان کړي دَي
تا له مرګه ځما ځان خلاص که- سترګي
م له اوښکو-او پښي مِ له ښوئيدلو
زه به دَ يهوه حضُور ته وګرزم — دَ
ژونديو په زمکو کښ
زه ايمان راوړم له دي سببَ زه خبره
کوم-زه په ډيري سختئِ کښ وم
ما په خپلي جلتئِ سره وويل-چه
ټول بنيِ آدم دروغ ويونکي دِي
زه به يهوه ته څه ورکړم-دَ هغو
ټولو په عوض کښ دَ ځان دَپارَ
زه به دَ نجات پياله واخلم-او دَ
يهوه نوم به وبولم
زه به دَ يهوه نذرونه ادا کړم-هو دَ
دَ هغو ټولو خلقو په مخ کښ



دَ يهوه په نظر کښ ګران بها دَي-
دَده دَ تقويٰ دارانو مرګ
اي يهوه حقيقتًا زه ستا بنده يم-
زه ستا بنده يم ستا دَ وينځي ځوي
يم-تا ځما بندونه پرانتل
زه به ستا حضُور ته دَ شکرګذارئِ
ذبحي ذبح کړم-او دَ يهوه نوم به وبولم
زه به يهوه ته نذرونه ادا کړم-
هو دَ هغو ټولو خلقو په مخ کښ
دَ يهوه دَ کور په دربارونو کښ-
ستا په مينځ کښ اي اورشليمَ-اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ
ثنا دَ پلار او دَ زوي او دَ روح القدس
دِ وِي
لکه چه په ابتدا کښ وَه اوس هم
ده او تر ابده پوري به وِي-آمين
يا ١٢٧- مزمور
که چري يهوه کور جوړ نه کړي-نو
دَ جوړونکيو محنت بي فائدي دَي-که
يهوه دَ ښهر حفاظت ونه کړي — دَ
څوکيدار څوکيره عبث ده
تاسو ته دَ سحرخيزئِ هيڅ فائده
نشته او دومره ناوقته اوده کيږئِ-او
دَ محنت ډوډئِ خورئِ-هم دغه شان
به خپل محبوب ته خوب ورکړي
ګوره ځامن دَ يهوه ميراث دَي -
او دَ رَحِم ميوه اجر دَي
لکه دَ پهلوان په لاس کښ غشي
داسي دِي دَ ځوانئِ ځامن
مبارک هغه دي چه خپل ترکش
ئي له هغو نه ډک دَي-هغوي به شرمنده
نه شي-چه له دښمنانو سره په دروازه
کښ خبري کوي
ثنا دَ پلار او دَ زوي او دَ
روحُ القُدس دِ وِي
لکه چه په ابتدا کښ وَه اوس هم
ده او تر ابده پوري به وِي-آمين
نو قسيس دِ ووايي
## مونږ دِ دُعا وغواړو
اي خداوندَ په مونږ رحم وکړه
اي مسيحَ په مونږ رحم وکړه
اي خداوندَ په مونږ رحم وکړه
اي ځمونږ پلارَ چه په آسمانونو کښ- وغيره
امام-اي خداوندَ دا ښځه خپله بنده سلامته وساته
ځواب-چه په تا آسره لري
امام-ته دَدي دَپارَ يو محکم برج شه
ځواب- دَدي دَ دښمن له مخه
امام-اي خداوندَ ځمونږ دُعا واوره
ځواب-او ځمونږ فرياد دِ تا ته ورسيږي
امام
## مونږ دِ دُعا وغواړو

اي قادرِ مطلقَ خدایه مونږ په
عاجزيِ سره ستا شکر کَوو چه تا کرم
وکړ خپله بنده دا ښځه دِ دَ بچي راوړو
دَ لوي درد او له خطري نه بچ کړله
اي ډیره رحیمَ پلاره مونږ تا ته
زارِي کَوو دا را عنایت کړه چه دا
ستا په مدد سره په دي جهان کښ په
ایمان داريِ سره خپل عمر تیر کړي او
ستا دَ مرضيِ په موافق لاړه شي او په
راتلونکي جهان کښ په ابدي جلال کښ
شریکَ شي۔ حُمونږ دَ خداوند یسوع
مسیح په وسیلي سره۔ آمین

ښځه چه شکراني اداکولو له راغلي ده دَدستور په موافق دِ نذر ادا کړي اوکه چرِعشاءِ رباني
ورکولي شي نو مناسب دِي چه دا په هغي کښ شریکَ شي

# وعید

یعني

## په گُنهکارو باندِ دَ خداي دَغضب او دَ قهر اظهار

سره دَ بعضي دُعاؤ چه دَ روژي په ورنبئ ورځ
او په هغه وقت چه حاکم دَ شرعي ئي
وفرمائي ولوستلي شي

چه لیتني تمامه شي دَدستور په موافق دَ سحرله نماځه نه پس نو قسیس دِ
دَ نماځه په ځاي یا دِ په ممبر باندِ ووایي

اي ورورو دَ اولِ زماني په
کلیسیي کښ دَ هغي دَ ضابط دَپارَ
دا عُمده طریقه جارِي وه چه څوک
به په ظاهره گُناه سره مُلزم کیدهٔ نو
دَ هغوي دَپارَ به دَ روژو په اول کښ
ظاهري سختيِ او دَ رسوايِ قاعدي
مقرر کیدي او هغوي به په
دي جهان کښ سزا بیاموندہ چه
دَ خداوندَ په ورځ دَ هغوي
روحونه بچ شي او نور خلق
دَ هغوي دَ نموني نه عبرت
حاصل کړي او له گُناه نه ډیر
وویریږي
دَدي په عوض دا ښه
دي چه اوس ستاسو دَ ټولو
دَوراندِ دَ خداي دَ لعنت عامي



فتوی تمامِ ولوستي شي چه په ناتائبو
گنهکارو باندِ دِي چه دَ استثناداوويشتم
باب او دَ کلام الله له نورو مقامونو نه
انزه ولي شوِي دِي۔ او تاسو دَ هري
فتوي په ځواب کښ آمین ووایئِ چه
تاسو دَ خداي له قهره چه په گنهکارانو
باندِ راځي خبر شيِ او په زړه سره
دَ رښتني توبي طرف ته زیات مایل شئ
او په دي خطرناکي زمانه کښ په ډیري
هوښیاريِ سره لاړ شئ او له هغي گناهونو
نه وتختيِ چه تاسو دَ هغي په خپله
ژبه سره اقرار کوئ چه هغه دَ خداي
دَ لعنت لایق دِي
لعنتي دَي هغه چه کنودلَي یا قالب
کړي بُت دَ عبادت دَپارَ جوړوي
او جماعت دِ ځواب وکړي او ودِ وايي
آمین
امام۔ لعنتي دَي هغه چه په خپل
پلار مور باندِ لعنت وایي
جواب۔ آمین
امام۔ لعنتي دَي هغه چه دَخپل
گواندي دَ زمکي پوله لاندِ کوي
ځواب۔ آمین
امام۔ لعنتي دَي هغه چه روند بي لاري کوي
ځواب۔ آمین

امام۔ لعنتي دَي هغه چه دَ مسافر
او دَ یتیم او دَ کُنډي دَ مقدمي حق ماتوِي
ځواب۔ آمین
امام۔ لعنتي دَي هغه چه خپل
گواندي په پسوني کښ وهي
ځواب۔ آمین
امام۔ لعنتي دَي هغه چه دَخپل
گواندي دَ ښځي سره سمَلي
ځواب۔ آمین
امام۔ لعنتي دَي هغه چه دَ بیگناه
دَ قتل کولو دَپارَ مزدوري اخلي
ځواب۔ آمین
امام۔ لعنتي دَي هغه چه په سړي
باندِ خپله اسره لري او انسان خپله
پناه کوي او په زړه کښ له خداوندَ
بي لاري کیږي
ځواب۔ آمین
امام۔ لعنتیان دِي بي رحمان
زناکاران حارصان بت پرستان
تُهمت لگونکي نشه بازان او ظالمان
ځواب۔ آمین

امام

نو چه دا ټول لعنتیان دِي
(لکه چه داؤد نبي شاهدِي لِي) چه
دَ خداي له حکمونو نه بي لاري او

ګمراه شوي دي- مونږ دِ هغه خوفناک
غضب چه څمونږ په سرونو باندِ
ځنګېږي او هردم په مونږ باند راپرېوتونکی
دَي یاد کړُو او په ډېري شکسته دلي
او غرېبۍ سره دَ خپل خداوند خدای
طرف ته وګرزو او په خپل ګُناه
آلوده ژوندون باندِ وژاړو اودَخپلو
تقصیرونو اقرار وکړُو او کوشش
وکړُو چه دَ توبي لایقه میوه راوړو-
ځکه چه اوس دَ ونو په بېخ باندِ
تبر لګېدلي دَي نو هره ونه چه ښه
میوه نه نیسِي نو پرې به کړي شي او
په اور کښ به وغورزولي شِي-دَ الله
الْحَيّ په لاس کښ پرېوتل هولناک دِي
هغه به په ګنهګارانو باندِ جالونه
اور او ګوګړ وورِوِي او سیلۍ او
طوفان به راولېږي دَ هغوي دَ څښلو
به هم دا بخره وِي- ځکه چه خداوند
له خپله ځایَ وتلي دَي چه دَ زمکي
اوسېدونکو له دَ شرارت سزا ورکړي-
مګر دَ هغه دَ راتلو په ورځ به څوک
ودرېدي شِي- چه هغه ظاهر شِي
نو څوک به ودرېدلي شِي-چې خپل
ئې په لاس کښ دَي هغه به خپل
درمند ښه صاف کړي او خپل غنم به

په خنبي کښ جمع کړي او بوس به په
هغه اور کښ چه ځېځري نه مړي وسیزي
دَ خداوند ورځ داسي راځي لکه دَ بټي
غل او څه وقت چه به خلق وائي چه
سلامتي او په هر شان سره امن امان
دَي نو په هغوي به ناګهاني هلاکت په
دي شان سره راشي لکه چه په بارداري
ښځي درد لګي او هغوي به بچ نه شيَ
نو دَ انتقام په ورځ به دَ الله قهر
ظاهر شِي چه ضدیانو ګنهګارانو به
خپلي سخت دلۍ سره په خپل ځان جمع
کړي دَي چه هغوي دَ خدای مِهر تحمّل
او مُهلت سپک وګانړه چه همیشه
هغوي دَ توبه‌کارۍ دَپارَ راغواړي –
خداوند فرمائي چه هغه وقت به
هغوي ما ته ناري ووهي مګر زه به
وانه ورم هغوي به وختِي ما ولټوي
مګر بیا به مِ نه مومِي او دا به له دي
سببَ وِي چه هغوي له معرفت سره
دُښمني وړله او دَ خداوند خوف ئې
وَنه مانه بلکه څما له صلاح نه ئې
نفرت وکړ او څما تنبیهه ئې حقیره
وګنړله- مګر چه دروازه بنده شوه نو
دَ تکولو وقت تېر شه اوچه دَ عدالت
وقت راورسید نو دَ رحمت دَ طلب



کولو ګهړۍ تېره شوه- هاي هاي ځنګه
هولناک آواز دَ هغي ډېري برحقي
فتوی به وِي چه په هغوي به جاري
شي او ور ته به ووېلَي شي چه اي
لعنتیانو هغي ابدي اور ته لاړ شئ
چه دَ شیطان او دَ هغه دَ مُریدانو
دَپارَ تیار شوي دَي- له دي سببَ
اي ورونړو ترڅو چه دَ نجات ورځ
دَه خبردار شئ ځکه چه شپه راځي
چه په کښ به څوک هیڅ کار و نه
کړي شي- ترڅو چه نُور څمونږ سره
دَي نو مونږ دِ په نُور ایمان راوړو
او دَ نُور دَ ځامنو په شان دِ لاړ
شُو چه دَ بهر په تیاره کښ وا نه
چولي شُو چه هلته ژړا او غابښ چیچل
دِي- مونږ دِ دَ خداي مهرباني حقیره
ونه ګنړُو چه هغه دَ رحم په سبب
مونږه دَ آراسته کولو دَپارَ بلي او
په خپل ډېر شفقت سره وعده کوي
که چرې په پوره او رښتني زړه سره
دَ هغه طرف ته رجوع وکړو نو هرڅه
چه څمونږ نه شوي دِي هغه به را
ته وبخښِي- ځکه چه که څمونږ ګناهونه
دَ قرمزو په شان سره وِي مګر دَ
واوري په شان به سپیني شِي او

هر څو که ارغواني وِي نو دَ ورِیَ په
شان به رنړي کړي شي- یهوه
وائي چه دَ خپلي ټولي بدۍ نه واوړئ
نو ستاسو ګُناه به ستاسي دَ هلاکت
باعث نه شِي خپله ټوله بې‌دیني له
خپله ځانه لري وغورزوئ نوي زړونه
او نوِي روحونه پیدا کړئ یهوه الله
فرمائي اي بني‌اسرائیلو تاسو به ولي
مرئ- زه خو دَچا مړکېدونکي په
مرګ راضِي نه یم نو تاسو را وګرزئ
چه ژوندِي اوسئ-که چرې مونږ
ګناه وکړه نو هم پلار څخه څمونږ
وکِیل دَي یسوع مسیح راستباز او
هغه څمونږ دَ ګُناهونو کفاره دَي-
ځکه چه هغه څمونږ دَ تقصیرونو
دَپارَ زخمِي شه او څمونږ دَ بدیو
دَپارَ ووهلي شه- دي دَپارَ راځئ
چه مونږ دَ هغه طرف ته وګرزُو
چه ټول ګناهګاران چه خالصه
توبه کوِي په رحم سره ئې قبلوِي
او یقین وکړئ که چرې مونږ خالصه
توبه وکړُو او هغه څخه لاړ شُو نو
هغه څمونږ قبلولو ته تیار دَي او
څمونږ په ګُناه بخښلو باندِ ډېر
مستعد دي-که چرې خپل ځان دَ هغه

تابع کړو او اینده دَ هغه په لاري ځو
او دَ هغه ملایم جغ او سپک بار
په خپل ځان وِاخلو چه دَ هغه دَ
فروتنۍ دَ صبر او دَ محبّت پیروي
وکړو او دَ هغه دَ روحُ القُدس دَ
هدایت مطیع او دَ هغه دَجلال هر
وقت طالبان اوسو او په خپل خپل
کسب کښ په لایق طور سره په
شکرګذاریِ سره ئې عبادت کړو که
څړي داسي وکړو نو مسیح به مونږ
دَ شرع له لعنتَ او دَ هغي سختي سزا
له وعید نه بچ کړي په هغوي به
پریوزي چه کینږ طرف ته ودرولی
شي او مونږ به خپل نبي ته ودروي
او دَخپل پلار دَ فضل دَ مبارکبادۍ
کلمه به مونږ ته وفرمائي چه تاسو
ځما جلیل بادشاهت په میراث
کښ واخلئ چه په هغي کښ به
مونږ تول په خپل بیحد رحمت سره
ورسوي -آمین

نو هغه ټول دِ زنګنونه ولګوي او قسیس او خادمان
دِ په هغه ځائي باندِ چه څرته دَ لښني دَ لوستو دستور
وي زنګنونه دِ ولګوي او دا مزمور دِ ولولي

۵۱- مزمور

اي الله لکه چه ستا مهرباني ده په
ما باندِ فضل وکړه- لکه چه ستا رحمتونه
ډیر دِي هومره ځما ګناهونه محوه کړه
له خپلي ګناه نه مِ ښه ووینځه او
له خپلي خطا نه مِ پاک کړه
ځکه چه زه په خپلو بدو اقرار
کوم- او ځما خطا همیشه ځما په مخ کښ ده
ما ستا هو خاص ستا خطا مِ کړي
ده- او ستا په نظر کښ مِ بدِي کړي
ده- دي دَپارَ چه ته خبري کوي پاک کړَي
شي- او چه ته عدالت کوي نو پاک ظاهر
شي
ګوره ما په ګناه کښ صورت نیولیَ
دَي- او په خطاکاريِ سره مِ مور په
حمل کړي یم
ګوره ته دَ دننه ریښتِني خوښوي- نو
ما ته په باطن کښ حکمت وښیه
په زوفا سره مِ صاف کړه چه
پاک شم- ما ووینځه چه له واوري نه
زیات سپین شم
ما ته دَ خوښۍ او دَ خوشحالۍ خبره
واورَوه - چه هغه هډوکِي چه تا مات
کړي دِي خوشحال شي
ځما له خطا نه خپل مخ وګرزوه -
او ټولي بدئِ ځما محوه کړه
اي الله په ما کښ پاک زړه پیدا کړه-



او نیک روح ځما په باطن کښ تازه کړه
ما له خپله حضُوره مه شړه- او
خپل مُقدّس روح له ما نه مه اخله
دَخپل نجات خوښي ما له بیا راکړه-
او په خپل آزاد روح سره مِ سنبال کړه
نو زه به ګناهګارانو ته ستا لاري
وښیم- او خطاکاران به ستا په لوري
در وګرزولیَ شي
اي الله ځما دَ نجات الله ما له خونو
نه وساته- نو ژبه ځما به ستا صداقت
وغږوِي
اي خداوندَ شونډي ځما پرانزه-
چه خُله ځما ستا صداقت بیان کاندِ
ځکه چه ته په ذبحي نه خوشحالیږي
چه زه ئې ادا کړم- او نه په سیځونکي
قربانۍ خوشحالیږي
ذبحي دَالله خسته روح دَي- اي الله ته
به خسته او غمجن زړه سپک و نه ګڼړي
له صیحونه سره په خپلي خوښۍ نیکي
وکړه- او دیوالونه دَ اورشلیم جوړ کړه
نو ته به دَ صداقت په ذبحو کښ او په
سیځونکیو قربانیو کښ او په سیځونکیو کاملو
قربانیو کښ خوشحال شي- او دوي به ستا
په قربانګاه باندِ سخوندر پورته کړي
ثنا دَ پلار او دَ زوي او دَ
روحُ القُدس دِ وِي
لکه چه په ابتدا کښ وه اوس هم
دَه او تر ابده پوري به وِي- آمین
اي خداوندَ په مونږ رحم وکړه
اي مسیحَ په مونږ رحم وکړه
اي خداوندَ په مونږ رحم وکړه
اي ځمونږَ پلارَ چه په آسمانونو
کښ یِي = وغیره
امام- اي خداوندَ خپل بندګان
سلامت ولره
ځواب- چه په تا آسره لرِي
امام- له پورته ته دوي له مدد
را ولیږه
ځواب- او همیشه په لوي قدرت
سره دَدوي حفاظت وکړه
امام- اي خدایه ځمونږ خلاصونکيَ
ځمونږ مدد وکړه
ځواب- او دَخپل نُوم دَ جلال دَپارَ
مونږ خلاص کړه او دَخپل نُوم په خاطر
په مونږ ګناهګارانو مهربان شه
امام- اي خداوندَ ځمونږ دُعا واوره
ځواب- ځمونږ فریاد دِ تا ته ورسي
امام
مونږ دِ دُعا وغواړو
اي خداوندَ مونږ تا ته زاري کړو

څموږ دُعا په رحمت سره واوره او هغه
ټول چه ستا په حضور دَ خپلو ګناهونو
اقرار کوي پري ئي بږده چه دَ هغوي زړه په
خپلو خپلو خطاؤ سره وله الزام ورکوي دَ
هغوي ګُناهونه ستا په رحمت سره پرانتي شي
او عفوه کړي شي څموږ دَ خداوند یسوع
مسیح په وسیلي سره - آمین

اي قادرِ مطلقَ خدایه او رحیمَ پلاره
ته په ټولو بنيآدمو باندِ ترس خوري او دَ
خپل هیڅ مخلوق نه نفرت نه کوي ته دَ ګنهګارو
مرګ نه غواړي بلکه دا چه هغه دَ خپلي ګُناه
نه واوړي او نجات بیاموي رحم وکړه او څموږ
خطا عفوي کړه موږ چه دَ خپلو ګُناهونو دَبار
دَ لاندِ یُو او ستړي یُو قبول کړه او تسلي
راکړه - ابدي رحم هم ستا شان دَي دَ ګُناهونو
بخښل هم ستا خاصّه ده —— نو اي
مهربانه خداوندَ په موږ رحم وفرمایه په
خپل اُمت باندِ چه تا په خپلو وینو پیرودَلي
دَي رحم وکړه دَ خپلو بندګانو حساب په عدل
سره مَاخله چه موږ سپکي خاوري او خوار
ناچار ګُنهګاران یُو بلکه له موږ نه چه په
عاجزئ سره دَ خپل سپکوالي اقرار کوُو او په
صدق دَ زړه سره له خپلو تقصیرونو نه
توبه کوُو خپل غضب لري کړه او په دي
شان په جلتئ سره په دي جهان کښ څموږ
مدد وکړه چه په آینده جهان کښ موږ تر
ابده پوري له تا سره ژوندي اوسو څموږ
دَ خداوند یسوع مسیح په وسیلي سره - آمین

نوَجماعت دِ په امام پسي دا و لولي

اي خداوندَ کریمَ موږ خپل طرف ته
وګرزوه نو موږ به وګرزُو - مهربانه شه اي
خداوندَ په خپل اُمّت باندِ مهربان شه چه
په ژړا او په روژه او په نمانځه سره ستا طرف
ته رجوع کیږي - چه ته رحیم خداي ترسناک بردبار
او ډیر رحیم ئي - چه موږ دَ سزا لایق یُو نو
ته څموږ سره تحمّل کوي او په خپل غضب کښ
رحم یادَوي - په خپل اُمّت باندِ رحم وفرمایه
اي کریمَ خدایه په هغه باندِ رحم
وفرمایه او خپل میراث مه پریشانه
کوه - اي خداوندَ څموږ واوره ځکه
چه ستا رحم لوي دَي دَ خپلو ډیرو
رحمتونو په موافق په موږ نظر وکړه
دَ خپل ابنِ مبارک څموږ دَ خداوند یسوع
مسیح دَ ثواب او دَ شفاعت په طفیل سره - آمین

نو بیاځي دِ امام ووایي

خداوند دِ موږ له برکت راکړي او
څموږ حفاظت دِ وکړي خداوند دِ دَ خپل
مخ نُور په موږ باندِ وځلوي او موږ
ته دِ تسلّي را عنایت کړي اوس او
تر همیشه پوري - آمین



# کتاب دَ زبور

## ۱- ورځ
## دَ سحر نمونځ
### ۱- مزمور

۱ مبارک هغه سړي چه دَ شریرانو
په صلاح نه ځي - او دَ خطاکارانو
په لار نه ودریږي - او دَ ټوقمارانو
په مجلس کښ نه کښیني
۲ مګر دَ یهوه په تورات کښ دَ هغه
ښادي ده - او ورځ او شپه دَده په
تورات کښ هغه فکر کوي
۳ نو هغه به دَ هغي وني په شان
وي چه دَ اوبو په ولو باندِ لګولي
وي - چه په خپل وقت سره میوه
نسي - پاڼي ئي هم نه رژیږي - او هر
کار چه کوي هغه به تر سره کیږي
۴ شریران داسي نه دي - بلکه دَ بُوسو
په شان دي چه باد ئي وړي
۵ نو له دي سببَ به شریران په عدالت
کښ و نه دریږي - او خطاکاران به
دَ صادقانو په ټولي کښ
۶ ځکه چه یهوه دَ صادقانو لار
پیژني - لیکن دَ شریرانو لار به دَ
هلاکیدو وي

### ۲- مزمور

۱ ولي قومونه جګړي کوي؟ - او خلق
باطل فکرونه کوي
۲ دَ زمکي بادشاهان په مخالفت پورته
کیږي - او سرداران په کور کښ سره
مصلحت کوي - په یهوه او په مسیح
دَده (وایي)
۳ راشئ موږ به دَ هغو بندونه پریکړو -
او دَ هغو پړي به له خپلو ځانونو
نه وغورځوُو
۴ هغه چه په آسمانونو کښ کښیني
و به خاندي - خداوند به دَ هغو
پیښي وکړي
۵ پس دي به له هغو سره په قهر
خبري وکړي - او په خپل غضب سره
به ئي وربروي
۶ ما خپل بادشاه مقرر کړي دَي - په
خپل پاک غره دَ صیحون
۷ زه به دا حکم ظاهر کړم - یهوه ما ته

ويلي دي چه ته خما خوي يې-نن ورځ
مِ ته پيدا کړي
۸ له ما نه وغواړه او زه به دَ وراثَت
دَپارَ قومونه درکړم- او حدونه دَ
زمکي ستا دَ قبضي دَپارَ
۹ ته به هغوي دَ اوسپني په لخته مات
کړې- دَ کُلال دَ لوښي په شان به
يې ټوټي ټوټي کړې
۱۰ نو اوس هوښيار شئ اي بادشاهانو-
پوه شئ اي دَ زمکي قاضيانو
۱۱ دَ يهوه عبادت په ويره سره وکړئ-
او په لړزيدو سره خوشحالي کوئ
۱۲ ځوی ښکلوئ- هسي نه چه دي خپه
شي او تاسو په لاري کښ هلاک شئ-
ځکه چه قهر به يې زر شُغلي وکړي
مبارک هغه ټول چه پر باندِ توکل کوي

## ۳-مزمور

۱ اي يهوه هغوي چه ما آزاروي څومره
ډير شول- هغه چه په ما باندِ پورته
کيږي ډير دي
۲ هغوي ډير دي چه خما دَ ځان په باب
کښ وايي- دَ هغه دَپارَ به خداي
کښ نجات نشته
۳ مګر اي يهوه ته خما ګير چاپير
ډال يې- خما جلال او سر پورته کونکَي
يې
۴ زه به خپل آواز سره يهوه ته فرياد
کوم-او دي له خپله پاکه غره نه
ځواب راکوي
۵ زه څملاستم او اوده شوم-زه ويښ
شوم ځکه چه يهوه مِ ساتونکَي دي
۶ زه له زرګونو خلقو نه نه ويريږم-چه
هغوي خپل ځانونه را نه چاپير کړل
۷ اي يهوه پورته شه اي خما الله
ما له نجات راکړه-ځکه چه تا ټول
دُښمنان خما په ژامي باندِ ووهل- دَ
شريرانو غاښونه دِ مات کړل
۸ نجات دَ يهوه دَي- ستا برکت دِ په
خپل اُمّت باندِ وِي

## ۴- مزمور

۱ چه زه در ته فرياد وکړم نو ځواب
راکړه اي خما دَ صداقت الله-تا ماله
په تنګسيا کښ کشادګي راکړه- په ما
فضل وکړه او دُعا خما واوره
۲ اي بني آدمو ترکومه پوري به خما
جلال په بيعزتيِ کښ بدل کړي شي-
ترکومه پوري به باطلو سره مُحبّت
لرئِ او دروغ به لټوئِ؟
۳ او وپوهيږئِ چه يهوه دَ خپل ځان
دَپارَ تقوىٰ دار جدا کړي دِي-يهوه به



واورِي چه زه ور ته فرياد وکړم
۴ خپه کيږئِ او ګُناه مه کوئ-او په
خپل کټ باندِ په خپلو زړونو کښ
فکر کوئ او چپ اوسئ
۵ دَ صداقت قربانئِ ذبحي کړئ او په يهوه
توکل وکړئ
۶ ډير دي چه وايي چه څوک به مونږ ته
نيکي وښيي؟-دَ خپلي څهري نُور په
مونږ باندِ وځلوه اي يهوه
۷ تا مِ په زړه کښ خوښي واچوله -له
هغو نه زياته چه غنم او شراب دَ
هغوي ډير شوي وُو
۸ زه به په سلامتيا سره څملم اوده به
شم-ځکه چه ته مِ اي يهوه يواځي
په خپلي سلامتيا کښ ساتي

## ۵-مزمور

۱ اي يهوه خما خبرو ته غوږ کيږده-
خما انديښني ته نظر وکړه
۲ خما دَ ژړا آواز واوره اي خما بادشاه
او اي خما الله-ځکه چه تا ته دُعا
کوم
۳ اي يهوه ته په صبحدم کښ خما آواز
واوري او زه به په صبحدم کښ ستا
دَپارَ تيار شم او انتظار به کوم
۴ ځکه چه ته داسي الله نه يې چه په
شرارت خوښيږي- بدي ستا په حضور
کښ وسيدلي نه شي
۵ احمقان به ستا په نظر کښ ونه دريږي
ته له ټولو مفسدانو سره دُښمني لري
۶ ته به هغوي چه دروغ وايي هلاک
کړي- يهوه له خوني او له فريبي سړي
نه نفرت کوي
۷ ليکن زه به ستا په ډيري مهربانئ
سره ستا کور ته درشم- ستا له ويري
به ستا دَ پاک هيکل په لورِ سجده
وکړم
۸ اي يهوه په خپل صداقت سره مِ
رهنمائي شه خما دَ دُښمنانو په سبب
خما په مخ کښ خپله لار سمه کړه
۹ ځکه چه دَ هغو په خُلو کښ هيڅ
وفاداري نشته- باطن يې ژور غار
دَي-ستونئ يې واز قبر دَي-په خپلو
ژبو سره خُشامندي کوي
۱۰ اي الله ته هغوي مجرم وګڼړه-چه
له خپلو مصلحتونو په خپله پريوزي
دَ ګناهونو په کثرت کښ يې لري
وشړه-ځکه چه هغوي له تا نه
بغاوت وکړ
۱۱ نو هغه ټول چه په تا توکّل کوي
خوشحاله به شي- هغوي به مدام له

خوشحالۍ ناري وهي ځکه چه ته يې
ساتنه کوې- هغه ټول چه ستا
په نامه مينه کوي په تا کښ دِ
خوشحاله شي
۱۲ ځکه چه ته به صادقانو له برکت
ورکوې-اې يهوه ته به يې دَ خپلي
مهربانۍ لاندِ لکه چه دَ ډال لاندِ
پټ کړې

۱- ورځ

دَ نمابنام نمونځ

۶-مزمور

۱ اې يهوه ته مِ په خپل قهر سره
مه رټه-او دَ خپل غضب په جوش
سره ما له تنبيه مه راکوه
۲ اې يهوه په ما باندِ فضل وکړه ځکه
چه زه بې طاقت شوم-اې يهوه ما
جوړ کړه- ځکه چه هډونه مِ پريشانه
شول
۳ ځان مِ هم په پريشانۍ کښ دی-پس
ته به اې يهوه تر کومه پورې
۴ اې يهوه بيرته راشه- ځان ځما خلاص
کړه- دَ خپلي مهربانۍ په سبب نجات
راکړه
۵ ځکه چه ستا ذکر په مرګ کښ نشته-
څوک به تا له په هاډيز کښ ثنا وايي
۶ زه په زوېرګي کولو ستړې شوم- هره
شپه زه خپل کټ لاهو کوم- زه
خپل کټ په اوښکو باندِ لوندوم
۷ دَ غم له سببَ مِ سترګي وچيږي-ځما
دَ ټولو دُښمنانو له سببَ زړيږي
۸ اې ټولو بدکارانو له ما لري شئ-ځکه
چه يهوه ځما دَ ژړا آواز واوريده
۹ يهوه ځما فرياد اوريدلي دی- يهوه
به ځما دُعا قبوله کړي
۱۰ ټول دُښمنان ځما به شرمنده شي-زر
به پريشانه شي- هغوي به وګرزي-
او ناګهانه به شرمنده شي

۷-مزمور

۱ اې يهوه ځما الله زه به په تا توکّل
کوم- ما له دَ هغو ټولو نه چه راپسي
دي نجات راکړه او خلاص مِ کړه
۲ هسي نه چه دَ زمري په شان مِ
وشيري- او چه څوک مِ خلاصونکی
نه وي ټکړې ټکړې مِ کړي
۳ اې يهوه ځما الله که چرې مِ دا
وکړل-که ځما په لاسونو کښ بدي وشوه
۴ که ما له هغه سره چه مينه يې
راسره کوله بدي کړي وي-(بلکه هغه
چه بې سببَ مِ دُښمن وه آزار مِ کړ)
۵ دُښمن دِ په ما پسي شي او لاندِ دِ



يې کړي-هو ژوند ځما دِ هم په زمکه
پايمال کړي-او عزت مِ دِ په خاورو
کښ کړي
۶ اې يهوه په خپل قهر سره پورته شه-
په سبب دَ غُصّې ځما دَ دُښمنانو نه
خپل ځان بلند کړه-او ځما دَپارَ
بيدار شه تا دَ عدالت دَپارَ حکم
کړی دی
۷ او دَ خلقو ټولي به له تا نه چاپيره
شي- نو ته دَ هغو دَپاسَ بيا پورته
وچاروځه
۸ يهوه دَ خلقو عدالت کوي-اې يهوه
ځما دَ صداقت په شان-او ځما دَ
رښتيني په شان ځما عدالت وکړه
۹ اې کاشکي چه شرارت دَ شريرانو
ختم شي-ليکن ته صادقانو ته قوت
ورکړه- ځکه چه صادق الله دَ زړونو
او دَ پښتورګو ازمايونکی دی
۱۰ ځما ډال په الله باندِ دی- چه
راست زړونو ته نجات ورکوي
۱۱ خدای صادق انصاف کونکی دی-
هو خدای چه هره ورځ غضب کوي
۱۲ که چرې را و نه ګرزي نو هغه به خپله
توره تيره کړي- هغه په خپلي لينديْ
باندِ زيئ ټکولي ده او تياره کړې يې ده
۱۳ دَ هغه دَپارَ يې دَ مرګ اسباب تيار
کړي دي- دَي خپل غشي سيځونکي
جوړوي
۱۴ ګوره هغه له ګُناه نه دَ زيږولو په درد
کښ شه-هو هغه ګُناه په حمل اخستې
ده او دروغ يې زيږولي دي
۱۵ هغه ډوغل جوړ کړ او و يې کنود-او
په هغه کنده کښ چه جوړولې يې خپله
ورپريوت
۱۶ دَ هغه محنت به په خپل سر ورپريوزي
او دَ هغه ظلم به دَ هغه په ککرۍ
ورکښته شي
۱۷ زه به دَ يهوه دَپارَ دَده دَ صداقت
په مطابق ثنا ووايم-او دَ يهوه الله
نُوم به و ستايم

۸-مزمور

۱ اې يهوه ځمونږ پروردګار-ستا نُوم
څومره لوی دی په ټوله دنيا کښ- تا
خپله بزرګي پاس په آسمانونو کښ
ظاهره کړې ده
۲ دَ ماشومانو او دَ يې رودونکيو له
خَلو نه دِ خپل قوت ثابت کړی دی-
ستا دَ دُښمنانو له سببَ-چه دُښمن
او دَ بدل اخستونکی دِ بند کړ
۳ هر کله چه ستا آسمانونو ته چه ستا

دَ گوتو کارېگرې ده نظر وکړم- سپوږمۍ
او ستوري و ته چه تا مقرّر کړي دِي
۴ نو انسان څه دَي چه ته ئې په یاد
راوړې ؟- او ابنِ آدم څه دَي چه ته
ئې خبر واخلې ؟
۵ هغه دِ له الله نه څه قدر کم کړي
دَي- او دَ عزّت او دَ شوکت تاج دِ
ور په سر کړي دَي
۶ تا هغه دَ خپل لاس په کارونو باندِ
حاکم کړي دَي- هر څه دِ دَ هغه
تر پښو لاندِ کړي دِي
۷ ټولې گډې او غوا- هو هم دَ صحرا
ټول وحشیان
۸ دَ هوا مرغان- او دَ دریاب کبان- هر
یو څیز چه دَ اوبو په لارو ځي
۹ اي یهوه څمونږ پروردِگارَ- څومره
لوي دِي نُوم ستا په ټوله زمکه

## ۲- ورځ
## دَ سحر نمونځ
## ۹- مزمور

۱ زه به په خپل ټول زړه سره دَ
یهوه ثنا ووایم- زه به ستا ټول
عجائب کارونه بیان کړم
۲ زه به له تا نه خوښ او خوشحاله شم-
زه به ستا دَ نُوم مدحه وکړم
اي حق تعالیٰ
۳ هرکله چه څما دُښمنان بیرته
راگرزِي- نو هغوي تیندک خوري او
ستا په حِضُور کښ هلاکیږي
۴ ځکه چه تا ځما حق او مقدّمه ثابتَ
کړي ده- ته په تخت صادق مُنصف
ناست يې
۵ تا غیر قومونه ملامت کړي دِي- او
شریران دِ هلاک کړي دِي- تا دَ هغو
نُوم تر اَبَدَالاٰباده پوري محوه کړي دَي
۶ دُښمنان تمام شول- او تر ابده پوري
نابود شول- او ښهرونه چه تا وران
دَ هغو ذکر هم ورک شوي دَي
۷ لیکن یهوه تر اَبَده پوري ناست
دَي- هغه دَ عدالت دَپارَ خپل تخت
تیار کړي دَي
۸ او هغه به په صداقت سره دَ دُنیا
عدالت وکړي- هغه به په راستيِ سره
دَ اُمتُونو انصاف وکړي
۹ یهوه دَ مظلومانو دَپارَ اوچت برج
دَي- دَ مُصیبت په وقت کښ ئې اوچت
برج
۱۰ او هغوي چه ستا نُوم پېژني به تا
به توکّل کوي- ځکه چه تا اي یهوه
هغوي چه تا لټوي ترک کړي دِ نه دِي



۱۱ یهوه له چه په صیحون کښ اوسي
مدحه و غږوئ- او په اُمتونو کښ
دَده کارونَ بیان کړئ
۱۲ هرکله چه دَي دَ خُون تلاش کوي
نو هغوي یادوِي- دي دَ عاجزانو فریاد
نه هیروِي
۱۳ اي یهوه په ما باندِ فضل وکړه- څما
ازار ته وگوره له هغو نه چه څما
کینه لرِي زغمم- اي ته چه دَ مرگ
له دروازو نه څما پورته کونکَي يې
۱۴ دي دَپارَ چه ستا ټوله مدحه بیان
کړم- دَ صیحون دَ لور په دروازو-
زه به ستا په نجات خوښي وکړم
۱۵ قومونه په هغه ړوغل کښ چه ئې
جوړ کړي وه لویدلي دِي- په هغه
دام کښ چه دوي پټ کړي وه- هم
دَدوي پښې نښتلي
۱۶ یهوه خپل ځان مشهور کړي دَي
هغه عدالت وکه- دَ خپلو لاسُونو
په کار کښ شریر نښتلي دَي
۱۷ شریران به په هاویه کښ وگرزي- ټول
قومونه چه الله ئې هیروِي
۱۸ ځکه چه محتاجان به تر ابَد پوري
هیر نه کړي شي- او دَ خواران اُمید
به تر ابَد ضایع نه شي
۱۹ پورته شه اي یهوه چه انسان غالب
نه شي- دَ غیر قومونو دِ ستا په حضور
کښ عدالت وکړي شي
۲۰ اي یهوه په هغوي ویره واچوه- غیر
قومونه دِ وپوهیږي چه هغوي تش
بني آدم دِي

## ۱۰- مزمور

۱ اي یهوه ته ولې لرې ودرېږې- او
دَ غم په وقت کښ ولې ځان پټوې
۲ شریران په مغروريِ کښ مظلومان
سیزِي- دوي په هغه مصلحتونو کښ
چه کړي ئې دِي گرفتار دِ شي
۳ ځکه چه شریران دَ خپل نفس په
هوا فخر کوِي- او حریص ته نیکبخت
وائي- او یهوه سپک گڼي
۴ شریر دَ خپل مخ په تکبر کښ وائي
چه هغه طلب نه کوِي- دَ هغه ټول
خیالونه دا دِي چه الله نشته
۵ لاري ئې په هر وقت کښ مضبوطې
دِي- ستا عدالتونه دَ هغه له نظرَ
ډیر پورته دِي- او دي په خپلو ټولو
دُښمنانو باندِ پوک وهي
۶ هغه په خپل زړه کښ وائي چه
زه به تغیر نه موم- زه به پُښت
تر پُښتَ په تکلیف کښ نه شم

۷ دَ هغه خُله له لعنتَ او له فریبَ
او له ظلمَ ډکه ده - دَ ژبي لاندِ يي
ملامتیا او فساد دي
۸ هغه دَ کلیو په پسونو کښ کښېني - په
پټو ځایونو کښ بيګناه قتلوِي - سترګي
يي په پټه سره دَ مِسکینانو څار کوِي
۹ لکه دَ زمري په خپل غار کښ هغه
په پسوني کښ کښېني - هغه په پسوني
کښ کښېني چه مسکینان ونسِي -
مسکینان ونسِي چه راِيي کاږي په خپل
دام کښ
۱۰ نو هغه غلي ناست دي هغه ټیټ
کیږي - او عاجزان دَده له قوت نه
پریوزي
۱۱ هغه په خپل زړه کښ واِيي چه خداي
هیر کړي دي - هغه خپل مخ پټوِي
هرګز به يي و نه ویني
۱۲ پورته شه اي یهوه اي الله خپل
لاس اوچت کړه - غریبان مه هیروه
۱۳ ولي شریر دَ الله سپکه کوِي؟ - او په
خپل زړه کښ واِيي چه تحقیقات
به و نه کړي
۱۴ تا خو لیدلِي دِي - ځکه چه ته په
بدیِ او زیان کاریِ باندِ نظر کوي چه
ته يه لاس کښ واخلي - مِسکینان

ځان تا ته سپاري - او ته دَ یتیمانو
مددګار شوي يي
۱۵ دَ شریر سنګلي ماتي کړه - او بد چه
دي دَ هغه شرارت ولټوه څو چه نور
بیا نه مومي
۱۶ یهوه تر اَبَدُالآبادَ بادشاه دي - غیر
قومونه دَده له زمکي نه نابود شوِي
دِي
۱۷ اي یهوه تا دَ مسکینانو مراد اوریدلي
دي - ته به دَ هغو زړونه قوِي کړي -
ته به په خپلو غوږونو باندِ واوري
۱۸ چه دَ یتیمانو او دَ مظلومانو عدالت
وکړي - ځکه چه سړي چه دَ زمکي دي
نور ظلم و نه کړي

۱۱- مزمور

۱ په یهوه باندِ زه توکل کوم - تاسو
ولي ځما ځان ته واِيي - لکه چڼچڼه
خپل غره ته والوزه
۲ ګوره چه شریران په لیندو ږِي
لګوِي - او غشِي په ږيِ ږدِي - چه
په پټه سره راست دِلان پر وولي
۳ چه بیخونه خراب شول - نو صادقان
څه کولي شي
۴ یهوه په خپل پاک هیکل کښ دي - یهوه
دَ هغه تخت په آسمانونو کښ دي -



دَده سترګي وینِي - او باڼه يي دَ بنيآدمو
ازمایښت کوِي
۵ یهوه صادقان آزماِيي - لیکن له شریرانو
او له هغو نه چه ظلم دوست لرِي -
نفرت کوِي
۶ دي به په شریرانو دامونه ورَوِي - اور -
او ګوګړ - او بادِ سموم دَ دوي دَ کاسي
بخره به شي
۷ ځکه چه یهوه صادق دَي صداقت
خوښوِي - هغوي چه راست دِي دَده مخ
به ووینِي

## ۲- ورځ
## دَ ماښام نمونځ
### ۱۲- مزمور

۱ اي یهوه نجات ورکړه - ځکه چه
تقوي داران تمامیږي - ځکه چه دیندَاران
له بنيآدمو نه کمیږي
۲ هر یو خپل ګاونډِي سره دروغ واِيي -
او په خوشامندګرو شونډو - او په دودلۍ
سره خبري کوِي
۳ یهوه به تولي خوشامندګري شونډي
پریکړي - هغه ژبي چه لوي لوي خبري
کوِي
۴ چه ویلي يي دِي چه مونږ به په خپلو
ژبو سره غالب شو - ځمونږ شونډي

خپلي دِي - څوک په مونږ مالک دَي؟
۵ دَ مِسکینانو دَ ظلم له سببَ - دَ عاجزانو
دَ اسویلیو له سببَ - زه به پورته شمه
یهوه واِيي - زه به يي په حفاظت کښ
کیږدم چه پرِ پوک وهي
۶ دَ یهوه خبري کره خبري دِي - لکه
سپین زر دَ خټو په کوټاګِي کښ - اووه
واره صاف شوِي وِي
۷ ته به يي وساتي اي یهوه - مدام به
مونږ دَدي زماني نه وساتي
۸ شریران په هر لوري ګرزي - کوم وقت
چه شرارت په بنيآدمو باندِ سرفراز
کیږي

### ۱۳- مزمور

۱ تر کومه پوري اي یهوه دَ همیشه پوري
به ما هیروي څه؟ - تر کومه پوري به
ته خپل مخ را نه پټوي
۲ تر څو به زه خپل ځان سره مصلحت
کوم - چه ټوله ورځ به په خپل زړه
کښ غمونه کوم - تر کومه پوري به مِ
دښمن را باندِ سرفراز کیدلي شي
۳ را ته وګوره - او ځواب راکړه اي یهوه ځما
الله - سترګي مِ روښانه کړه هسي
نه چه دَ مرګ په خوب ووده شم
۴ مبادا چه دښمن مِ وواِيي چه په دِه

غالب شوي يم- خُما آزارونکي به خُما
په خوځيدلو خوشحال ښي
۵ ليکن ما ستا په کرم بانِدِ توکّل کړي
دَي- خُما زړه به ستا په نجات خوښي
وکړي
۶ زه به دَ يهوه حمد وغږوم- ځکه
چه له ما سره ئې احسان کړي دَي

۱۴- مزمور

۱ احمق په خپل زړه کښ ويلي دِي
چه الله نشته- هغوي خراب شول-
هغو پليت کارونه وکړل- هيڅوک
نيکي کونکي نشته
۲ يهوه له آسمانونو نه په بني آدم بانِدِ
نظر وکړ- چه وويني چه څوک دَي چه
پوهيده- چه دَ الله لټونکي شته
۳ هغوي ټول يو خوا ته شول- او ټول
فاسِد شول- هيڅوک نيکي کونکي نشته
يو هم نشته
۴ هغه ټول مُفسدان نه پوهيږي څه؟-
چه قوم خُما دَ ډوډۍ په شان خوري-
او دَ يهوه نُوم نه اخلي
۵ هغوي هلته په ډيري ويري کښ وُو-
ځکه چه الله دَ صادقانو په ډبرۍ
کښ دَی
۶ تاسو دَ عاجز مصلحتونه سپک
کړي- مګر يهوه دَ هغه پناه دَي
۷ کاشکې چه دَ اسرائيل نجات له
صيون نه وتلي وَي- هغه چه يهوه
دَ خپل قوم قيديان را وګرزوي- نو
يعقوب به خوښ ښي- او اسرائيل به
خوشحال ښي

## ۳- ورځ
## دَ سحر نمونځ

۱۵- مزمور

۱ اي يهوه څوک به ستا په خيمه کښ
ووسي- ستا په پاک غره کښ به
څوک استوګنه وکړي
۲ هغه چه سم ځي- او صداقت کوي-
او په خپل زړه کښ رښتيا وائي
۳ هغه چه په خپلي ژبي سره غِيبت
نه لګوي- او خپل دوست سره بدي
نه کوي- او په خپل ګاونډي بانِدِ عيب
نه لګوي
۴ او کمينه دَ ده په نظر کښ سپک وي-
ليکن هغو له چه له يهوه نه ويريږي
عزّت ورکوي- هغه چه په خپل
نُقصان قسم خوري او نه بدليږي
۵ او هغه چه خپل نقد دَ سُود دَپارَ
نه ورکوي- او دَ بې ګناه دَ آزارولو
دَپارَ رِشوت نه اخلي- هغه چه دا



کارونه کوي- هيڅري به و نه خوځيدلي
ښي

۱۶- مزمور

۱ اي الله ته مِ وساته- ځکه چه زه
په تا بانِدِ توکّل کوم-
۲ يهوه ته مِ وويل چه ته خُما يهوه
يې- بې له تا نه خُما بهتري نشته
۳ مُقَدّسان چه په زمکه کښ دِي- دوي
بزرګان دِي چه په کښ خُما ټوله خوښي ده
۴ دَ هغوي غمونه به زيات کړي ښي- چه
يهوه په بل معبود بدلوي- زه به دَ
هغو دَ وينو تويولو قرباني و نه کړم-
او په خپلو شونډو به دَ هغوي نُوم
وانه خلم
۵ خُما دَ ميراث او خُما دَ پيالي برخه
يهوه دَي- ته به خُما حِصّه مضبوطه
کوي
۶ پري په غورو ځايونو کښ خُما دَپارَ
پريوتلي دي- هو خُما ميراث پاکيزه دَي
۷ زه به يهوه مبارک کړم- چه ما ته ئې
صلاح راکړه- هو خُما پښتورګي په
شپه کښ ما له تعليم راکوي
۸ يهوه ما مدام دَ خپل وړاندِ ايښي
دَي- چه دَي خُما ښي لاس ته دَي-
زه به هيڅري و نه خوځولي شم
۹ له دي سببَ زړه خُما خوشحال دي-
او جلال خُما خوښي کوي- جسم خُما
به هم په حفاظت کښ لوسي
۱۰ ځکه چه ته به ځان خُما په هاديز
کښ پري نږدي- او خپل تقویٰ دار
له به دَ سخا کيدلو ليدل ور نه کړي
۱۱ ته به ما ته دَ ژوندانه لار وښيي-
ستا په حِضُور کښ دَ خوشحالۍ
ډکوالي دَي- ستا په ښي لاس کښ
تر ابده پوري ښادۍ دِي

۱۷- مزمور

۱ اي يهوه صداقت واوره- خُما فرياد
ونغوږه- خُما دُعا ته چه له بې ريا
شونډو نه وزي غوږ کيږده
۲ خُما انصاف دِ ستا له حِضُوره ووځي-
ستا سترګي دِ په راستۍ نظر وکړي
۳ تا خُما زړه وازمايه- تا په شپه کښ
خُما خبر واخست- خُما آزمايښت دِ
وکړ- مګر هيڅ بدي دِ بيا نه مُونده
ما نيّت وکړ چه خُما خَله به خطايي
و نه کړي
۴ دَ انسان کارونه چه دِي ستا دَ
شونډو دَ خبرونو نه- خپل ځان مِ
دَ ظالم له لارو نه و ساته
۵ خُما قدمونه ستا په لارو کښ ټينګ

شوي دِي- ځما پښي خوځيدلي نه دِي
۶ ما خو تا ته ناري وهلي دِي ځکه چه
ته به اي الله ځواب راکړي- ما ته
غوږ کيږده او خبره مِ واوره
۷ خپلي عجائبي مهرباني ظاهري کړه-
اي ته چه نجات ورکوي هغو ته چه
په تا توکّل کوي- له هغو ياغيانو
نه چه ستا دَ ښي لاس په برخلاف
دِي
۸ ما دَ سترګي دَ کسي په شان وساته
دَ خپلو وزرو تر سوري لاندِ مِې پټ
کړه
۹ له شريرانو له مخي نه چه ما هلاکوي-
ځما له سختو دُښمنانو نه چه را نه
چاپيره کيږي
۱۰ هغوي په خپلو وازدو کښ پټ شول-
په مغروري سره خبري کوي
۱۱ اوس هغوي ځمونږ لاري کيري کړي-
او سترګي ئي ځار راښي کوي چه مونږ
په زمکه وپرزوي
۱۲ هغه دَ زمري په شان دِي چه په
ښکار مَيَن وِي- او لکه دَ زمري دَ
بچي چه غلي په پټوني کښ کښيني
۱۳ پاځه اي يهوه- دَ هغوي مخي ته
شه- و ئي غورزوه- ځان ځما په خپله

تُوره له شريره خلاص کړه
۱۴ له خلقو نه په خپل لاس اي يهوه-
دَ دُنيا له خلقو نه چه برخه ئي په دي
دُنيا کښ ده- او چه ته ئي کيډي له
خپلي خزاني نه ډکوي- هغوي له اولاد
سره ماړه شول- او دَ خپلو ماشومانو
دَپارَ باقي پريږدي
۱۵ مګر زه به په صدق سره ستا ديدار
وويِنم- هر کله چه زه بيدار شم نو
ستا په شکل به موړ شم

## ۳- ورځ
## دَ ماښام لمونځ
## ۱۸- مزمور

۱ اي يهوه ځما قوّت زه په تا باندِ مَيَن
يم
۲ يهوه ځما کټ او ځما قلعه او ځما
خلاصونکي دَي- ځما الله ځما کټ په
هغه زه به توکّل کوم- ځما ډال او
ځما دَ نجات ښکر ځما اوچت برج دَي
۳ زه به هغه يهوه ته چه ممدوح دَي
فرياد وکړم- په دي شان به زه له
خپلو دُښمنانو نه نجات بيامومم
۴ دَ مرګ پړيو راګير کړم- دَ بي دينۍ
سيلابونو وويرولم
۵ دَ هاديز پړيو ګير کړم- دَ مرګ دامونه



په ما باندِ راغلل
۶ ما په خپلي تنګسيا کښ يهوه ته فرياد
وکړ او خپل الله ته مِ زاري وکړه-
له هيکل ئي ځما آواز واوريده- او
ځما زاري دَده دَ وړاندِ دَده په غوږو
کښ ورسيدله
۷ نو زمکه ولړزيدله او په زلزله شوه-
بيخونه دَ غرونو هم وخوځيدل- او
په لړزيدو کښ شو چه دَي په قهر
شه
۸ پس دَده دَ سپيږمو لوګي راپورته شه-
او له خولي ئي اور وخوړه- سکروټي
ور نه بلي شولي
۹ آسمانونه ئي هم راټيټ کړل- او کوز
راغي- او دَ قدمونو لاندِ ئي توره تياره
وه
۱۰ او په کروبي باندِ سور شه- او والوت-
هو هغه دَ باد په وزرو باندِ زر والوت
۱۱ له تياري نه ئي خپل ستر او خپله خيمه
له ځانه ګير چاپير جوړه کړله- دَ اوبو
تياره دَ آسمانونو اوريځي
۱۲ دَده دَ مخي له روښنائي نه اوريځي تيري
شوي- ږلئ او دَ اور سکروټي
۱۳ يهوه هم په آسمانونو کښ وګرزيده- او
حق تعالیٰ خپل آواز وکړ- ږلئ او دَ

اور سکروټي
۱۴ او ده خپل غشي وويشتل- او هغوي
ئي تار په تار کړل- هو بريښنائي قسما قسم
او هغوي ئي پريشان کړل
۱۵ نو دَ اوبو نالي ظاهري شوي- او بيخونه
دَ جهان ښکاره شول- ستا په ترټلو
اي يهوه- ستا دَ سپږمو دَ باد په
الوتلو
۱۶ او له پاسَ ئي را واستاوه زه ئي
ونيولم- له ګڼو اوبو نه ئي را وکښلم
۱۷ زه ئي له زوراوره دُښمن خپله خلاص
کړم- او ځما له دُښمنانو نه ځکه چه
له ما نه زوراور وُو
۱۸ دوي ځما دَ تنګدستي په ورځ کښ
را باندِ راغلل- ليکن يهوه ځما تکيه وه
۱۹ ده زه بهر کشاده ځاي ته را ووېستلم
او خلاص ئي کړم ځکه چه دَي له
ما نه خوشحاله وه
۲۰ يهوه ما له موافق ځما له صداقت
سره بدله راکړه- موافق ځما له پاکدستي
سره ئي ما ته بدله راکړه
۲۱ ځکه چه ما طريقي دَ يهوه ساتلي
دِي او له خپل الله نه په شرارت
سره تلي نه يم
۲۲ ځکه چه دَده ټول عدالتونه ځما په

نظر کښِ وُو-او دَ دهٔ حکمونه مِ له
ځانه لرې نه کړل
۲۳ زهٔ دَ دهٔ سره کامل وم-او خپل
ځان مِ له خپلې گناه نه وساته
۲۴ دې دَپارَ یهوه ځما له صداقت
سره برابر ما ته بدله راکړه-موافق
ځما له پاکدستۍ سره چه دَ ده په
حضور کښِ وه
۲۵ تقویٰ دار سره به تقویٰ دارې وکړې-
دَ کامل سړي سره به ته خپل ځان
کامل وښیې
۲۶ پاک سره به ته خپل ځان ښه پاک
وښیې-او دَ کوږ سره به ته خپل
ځان کوږ وښیې
۲۷ ځکه چه ته مظلوم قوم له نجات
ورکوې-او سترگې دَ کبرجنو به ته
کوزې کړې
۲۸ ځکه چه ته به ډیوه ځما روښانه
کړې-یهوه ځما الله ځما تیاره رڼا
کوي
۲۹ ځکه چه زهٔ ستا په مدد په داړه
وزغلېدم-دَ خپل الله په سبب
مِ له دیواله ودنگل
۳۰ الله چه دَې لاره یې کامله دَه-کلام
دَ یهوه مجرب دَې-دَ هغو ټولو چه
په دهٔ توکل کوي ډال یې دَې
۳۱ بې له یهوه نه څوک الله دَې؟-او
څوک کټ دَې بې له الله نه ځمونږ؟
۳۲ هغه الله چه ملا ځما یې مضبوط
وتړله-او لارې ځما کاملې کوي
۳۳ پښې ځما دَ هوسۍ په شان کوي-او
ما په خپلو اوچتو ځایونو باندې
ودروي
۳۴ لاسونو ځما ته دَ جنگ تعلیم ورکوي-
تر دې حده چه بازوگان ځما دَ زېړو
لیندې کږوي
۳۵ تا دَ خپل نجات ډال ما له راکړ-
او ښي لاس ستا را پورته کړم-او
احسان ستا لوی کړم
۳۶ ځما تر قدمونو لاندې دِ ځای ارت کړ-
او پښې ځما ونه خوځېدلې
۳۷ زهٔ به په خپلو دښمنانو پسې روان
شم او لاندې به یې کړم-او ور نه به
را و نه گرزم څو چه هلاک نه شي
۳۸ داسې به یې ووهم چه پاڅېدلې
نه شي-ځما دَ پښو لاندې به پرېوزي
۳۹ ځکه چه تا دَ جنگ دَپارَ ځما ملا
وتړله-تا لاندې کړې دِي هغه چه
په ما پورته شوي دِيْ
۴۰ تا ځما دَ دښمنانو ماته شا کړه-چه



زهٔ هغوي چه له ما سره دښمني کوي تباه
کړم
۴۱ هغوي زارې وکړه مگر هیڅوک یې نجات
ورکونکي نه وه-هو یهوه ته-مگر دهٔ
ځواب ور نه که
۴۲ او هغوي مِ دَ باد دَ گرد په شان
اوړه اوړه کړل-او دَ کوڅو دَ چِقړو
په شان مِ وغورزول
۴۳ زهٔ دِ دَ خلقو له جگړو نه خلاص
کړم-په قومونو باندې دِ سردار کړم-
هغه قوم چه ما نه پېژاند ځما به
خدمت وکړي
۴۴ دَ غوږ اورېدلو سره به مِ ډوي
واوري-بېگانه به په مکر سره ځما
خدمت وکړي
۴۵ بېگانه به وچ شي-او له خپلو
بندو ځایونو نه به په لړزېدو سره
راشي
۴۶ یهوه ژوندې دې او مبارک دِ شي
ځما کټ-او ځما دَ نجات الله دِ
سرفراز شي
۴۷ هغه الله چه ځما بدل اخلي-او
قومونه ځما لاندې کوي
۴۸ هغه ما له خپلو دښمنانو نه خلاصوي
هو ته مِ له هغه چه په ما
راپاسي ما پورته کوي-له ظالم سړيه
مِ آزادوې
۴۹ دې دَپارَ به ستا اې یهوه په قومونو
کښِ حمد ووایم-ستا نوم به وستایم
۵۰ دې خپل بادشاه ته لوی نجات ورکوي
او خپل مسیح کړي شوي له مهرباني
ورکوي-داؤد له او اولاد له یې تر
ابده پورې

## ۴-ورځ
## دَ سحر نموځ
### ۱۹-مزمور

۱ آسمانونه جلال دَ الله بیانوي-او
فضا عمل دَ لاسونو دَ ده ښکاره کوي
۲ یوه ورځ دَ بلې ورځې سره خبرې کوي-
او یوه شپه بلې شپې ته علم ورښیې
۳ نه یې ویل شته نه یې خبرې-آواز
دَ دوي هم آورېدې نه شي
۴ مگر په ټوله زمکه کښِ تار دَ دوي
وتلي دَی-لفظونه دَ دوي دَ عالم تر
آخره پورې-ده په هغو کښِ دَ نمر
دَپارَ خیمه ودروله
۵ چه دَ واده دَ زلمي په شان له
خلوتخانې خپلې نه بهر راوزي-او
لکه پهلوان دَ میدان په ډور کښِ
خوشحالي کوي

۶ دَ آسمانونو له یوې څنډې نه دَ
هغه راوتل دِي- دَ هغه گردش دِ
تر بلې څنډې پورې- او له گرمۍ يې
هيڅ څيز پټ نه دي
۷ تورِیت دَ یهوه کامل دَي ځــان
راگرزونکي- شاهديئ دَ یهوه رښتيني
دِي- ساده سړي هوښيار وِي
۸ مسائل دَ یهوه راست دِي زړه
خوشحاله کوِي- حکم دَ یهوه صاف
دي سترگي روښانه کوِي
۹ ويره دَ یهوه پاکه دَه ترابده پورې
باقِي دَه- عدالتونه دَ یهوه رښتيني دِي
او ټول صادق دِي
۱۰ او دوي له سرو زرو غوره بلکه له
ډیرو کړو زرو نه زيات دِي- له شاتو
نه او دَ گبينه له څڅيدلو نه خوارهٔ دِي
۱۱ بنده ستا له دغو نه عبرت مومِي- دَدغو
په ساتلو کښ ډیر اجر دي
۱۲ څوک خپله خطا ليدلي شِي- ته مِ له
پټو گناهونو نه پاک کړه
۱۳ بنده خپل له گناهونو پہ ستنه کړه- چه
په ما باندِ غالبه نه شِي نو زهٔ به کامل
شم- او له لويَ گناه نه به صفا شم
۱۴ څما دَ خلې خبرې او څما دَ زړه فکر دِ
ستا په حِضور کښ منظور شِي- اي

يهوه څما گټ او څما شفيع

۲۰- مزمور

۱ دَ تنگدستيِ په ورځ دِ یهوه تا له
جواب درکړي- دَ يعقوب دَ الله نوم
دِ تا محفوظ کړي
۲ ستا دَپاَرَ دِ له مقدِس مدد در
واستوِي- او له صيحونه دِ تا ته کومک
درکړي
۳ ټولي پيشکشيِ ستا دِ په ياد راوړي-
او سيځونکي قربانيِ ستا دِ قبولي کړي
۴ ستا دَ زړه له مراد سره دِ برابر
تا ته انعام درکړي- او ټول مصلحت
ستا دِ پوره کړي
۵ مونږ به ستا په نجات خوښي و غزوو
او دَ خپل الله په نوم به جنډې
خپلي ودروُو- یهوه دِ ټول سوالونه
ستا پوره کړي
۶ اوس زهٔ پوهيږم چه یهوه خپل مسيح
ته نجات ورکوِي- هغه به دَ خپل
پاک آسمانه ځواب ورکړي- دَ خپل
ښي لاس دَ نجات له قوتَ
۷ څيني په گاډو او څيني په آسونو باور
کوِي- ليکن مونږ به دَ خپل یهوه الله
دَ نوم ذکر وکړو
۸ هغوي ټيټ شول او پريوتل- ليکن



مونږ پاسيدلي اوسم ودريدلي يُو
۹ اي یهوه نجات راکړه- کومه ورځ چه
مونږ فرياد کوو نو بادشاه دِ مونږ
له جواب راکړي

۲۱- مزمور

۱ اي یهوه ستا په قوّت بادشاه خوشحالي
کوِي- او ستا په نجات به څومره
ډيره ښادِي وکړي
۲ تا ده ته دَده دَ زړه مراد ورکړي دَي-
او تا دَ هغه دَ شونډو عرضِي منعَ
نه کړله
۳ ته دَ نيکيِ په برکتونو سره دَ هغه
دَ وړاندِ شوي- دَ خالصو سرو زرو
تاج دِ ور په سر کړه
۴ هغه له تا نه ژوند وغوښت تا
ورکه- د رازِي دَ ورځو تر ابدالآبادَ
پورِي
۵ عِزّت دَ هغه ستا په نجات کښ
ډير دَي- زينت او شوکت دِ ورباندِ
کيښول
۶ څکه چه تا هغه ډير مبارک کړ تر
ابدالآبادَ- تا هغه په خپل حِضور
کښ په خوښيِ سره خوشحاله کړ
۷ څکه چه بادشاه په یهوه باندِ تکيه
کوِي- او دَ حق تعالىٰ په فضل سره

به ونه خوځيدلي شِي
۸ ستا لاس به ستا ټول دُښمنان
ځرگند کاندِ- ستا ښي لاس به ستا
ټول کينه کونکي بيامومِي
۹ ته به هغوي دَ خپل قهر په وقت کښ
دَ اور دَ تناره په شان کړي- یهوه
به هغوي په خپل غضب سره ونغرِي
او اور به يې وخورِي
۱۰ ته به دَ هغو ميوه له زمکي نه ټابودَ
کړي- او دَ هغو اولاد دَ بني آدم له
مينځَ
۱۱ څکه چه هغه له تا سره دَ بديِ
نيّت وکه- هغوي بد تدبير وکه چه
پوره کولي يې نه شه
۱۲ څکه چه ته به دَ هغو شا وگرزوِي-
دَ خپلي ليندي ژيِ به دَ هغو په
مخامخ راکاږي
۱۳ اي یهوه ته په خپل قوّت سره
هسک شه- نو مونږ به ستا دَ
قدرت غزل او مدحه ووايُو

۴- ورځ
دَ نماښام نمونځ

۲۲- مزمور

۱ اي څما الله اي څما الله زهٔ دِ ولي
پريښي يم- ولې لرې يې څما له مدَدَ لو

ځما دَ زوېرِکِي له خبرو نه
۲ اي ځما الله زه په ورځ کښ نارې
وهم - مګر ته ځواب نه راکوې - او دَ
شپې هم او زه پټه خوله نه يم
۳ مګر ته قُدُّوس يې - اي دَ اسرائيل
په مدح کښ اوسېدونکې
۴ ځمونږ پلرونو په تا تکيه لرله - تکيه
يې وکړه او تا هغوي خلاص کړل
۵ او چه هغوي تا ته فرياد وکه نو
خلاص شول - چه هغو په تا باندِ
تکيه وکړه نو شرمنده نه شول
۶ ليکن زه خو چينجَي يم او نه سړې -
دَ سړو پېغور يم او په قوم کښ
سپک
۷ هرڅوک چه ما وينِي را پورې خاندِي
شونډې را نه بوڅوِي او سرونه
خوځوِي (وايِي)
۸ يهوه ته يُې ځان وسپاره هغه دِ يُې
خلاص کړِي - هغه دِ يُې خلاص کړِي
ځکه چه هغه له ده نه خوشحاله دَي
۹ مګر ته هغه يُې چه زه دِ له رَحِم
را ووېستلم - دَ خپلې مور په تيو باندِ
تا م تکيه وکړله
۱۰ له رَحِمَ نه تا وسپارلي شوم - دَ مور
له کېدې نه ځما الله ته يُې

۱۱ له ما نه مه لرې کېږه ځکه چه تنګي
نزدې ده - ځکه چه مددګار هيڅوک
نشته
۱۲ ډېرو غوايانو راګير کړم - مضبوط غوايان
دَ باشان له ما نه چاپېر شول
۱۳ هغوي په ما باندِ خپلې خُلې وازې
کړِي - لکه دَ خيرونکي او دَ غړېدونکي
زمري
۱۴ زه دَ اوبو په شان توې شولم - او
ټول هډوکي مِ بېل بېل شول -
زړه مِ دَ موم په شان دَي - وِيلې
شوې دَي ځما دَ کُلمو په مېنځ کښ
۱۵ قوّت مِ دَ کودرِي په شان وچ شه -
او ژبه مِ په تالُو پورې ونښتله -
او تا زه دَ مرګ خاورو ته راوستلې
يم
۱۶ ځکه چه له ما نه سپي چاپېر شول -
دَ شريرانو ټولي راګير کړم - لاسونه
او پښې ځما يُې سورې کړل
۱۷ زه ټول هډوکي خپل شمارلې شم -
هغوي ما ته ګورِي او نظر را ته کوِي
۱۸ او جامې ځما په خپل مېنځ کښ سره
وېشِي - او ځما په لباس باندِ پشک
اچوِي
۱۹ ليکن ته اي يهوه له ما سه لرې



کېږه - اي ځما قوّتَ ځما دَ کومک دَپاره
تلوار وکړه
۲۰ ځان ځما له تورې نه خلاص کړه -
ځما يګانه دَ سپي له پنجې نه
۲۱ دَ زمرِي له خُلې نه ما له نجات
راکړه - هو دَ ځنګلي غوايه له ښکرونو
نه دِ ما له ځواب راکړې دَي
۲۲ زه به دَ خپلو ورونړو په مېنځ کښ
نوم ستا بيان کړم - دَ ټولي په مېنځ
کښ به حمد ستا ووايم
۲۳ اي له يهوه وېرېدونکيو حمد دَ هغه
ووايِئ - اي ټوله اولادَ دَ يعقوب دَ هغه
جلال ظاهر کړِئ - او اي ټوله اولادَ
دَ اسرائيل له ده نه وېره وکړِئ
۲۴ ځکه چه ده درد دَ درد مندانو حقير
او سپک ګڼلي نه دَي - او مخ يُې له
هغه نه پټ نه کړ - او چه ده ته
يُې فرياد وکه نو وايُې ورېد
۲۵ له ما نه به ستا حمد به په لوي جماعت
کښ وِي - زه به خپل نذرونه دَ
هغو په مخ کښ چه له ده نه وېرېږي
ادا کړم
۲۶ حليمان به دوډئ وخوري او ماړه
به شِي - هغوي به دَ يهوه حمد کوِي
چه طالبان يُې دِي - زړونه ستاسو

دِ تر ابده پورې ژوندي وِي
۲۷ ټول حدونه دَ جهان به ياد کړِي -
او دَ يهوه په لورِي به راوګرزِي - او
ټولې ټبرې دَ قومونو به ستا په حِضُور
کښ سجدې وکړِي
۲۸ ځکه چه بادشاهي دَ يهوه ده - او
دې حاکم دَي په قومونو باندِ
۲۹ غټان دَ دُنيا به وخوري او سجدې
به وکړِي - هم هغه ټول چه خاورو
ته کوزېدونکي دِي دَ ده په حِضُور
کښ به ټيټ شِي - هغه هم چه
خپل ځان ژوندَي پاتې کولې نه شِي
۳۰ يَو اولاد به دَ ده خدمت کړِي - بل
پُښت ته به دَ خداوند په باب کښ
بيان وکړَې شِي
۳۱ هغوي به راشِي او دَ هغه صداقت
به وښيِي - امّت ته چه پيدا به شِي
چه ده کړې دَي

۲۳- مزمور

۱ يهوه ځما شپُون دَي - زه به دَ هيڅ
څيز محتاج نه شم
۲ هغه ما په شنو چراګاهو کښ پرېږدي
هغه مِ دَ راحت اوبو ځنه بيايِي
۳ هغه ځان ځما بېرته راګرزوِي - دَ
خپل نُوم په وسيلې سره ما ته دَ صداقت

په لارې کښې هدايت کوي
۴ بلکه هرکله چه زه دَ مرګ دَ سورې
په خوږ کښې ځم - نو دَ هيڅ بدئ نه
به نه ويرېږم ځکه چه ته ما سره
يې - ستا کونټئ او ستا لوګې به ما له
تسلي راکوي
۵ ته ځما دَ دښمنانو په روبرو ځما په
مخ کښې دسترخوان غوړوې - ته مې
په سر تيل مږې - ځما پياله ترمونګه
پورې ډکه شوله
۶ فقط نيکي او مهرباني دَ ټولو ورځو
دَ ژوندانه به په ما پسې راځي - او
زه به مدام دَ يهوه په کور کښې اوسم

۵- ورځ

دَ سحر نمونځ

۲۴- مزمور

۱ زمکه دَ يهوه ده او ډکوالي ئې - دُنيا
او دَ هغې ټول اوسيدونکي
۲ ځکه چه هغه بُنياد دَ هغې په اوبو
باندې کينبود - او په دريابونو باند ئې
ودروله
۳ څوک به دَ يهوه په غره باندې وخيژي
او څوک به دَ هغه په پاک مکان
باندې قايم شي
۴ هغه چه لاسونه ئې صاف وي او
زړه ئې پاک وي - چه خپل ځان ئې
بُطلان ته اوچت نه کړ - او چه په
فريب سره ئې قسم و نه خوړ
۵ هم هغه به له يهوه نه برکت بيامومي
او صداقت به دَ خپل نجات له الله
نه
۶ دَ هغه دَ طالبانو پيړۍ دا ده - چه
ستا ديدار لټوي اې دَ يعقوب الله
۷ اې دروازو خپل سرونه پورته کړئ
او اې ابدي دروازو پورته کړې شئ -
چه دَ جلال بادشاه دننوزي
۸ هغه دَ جلال بادشاه څوک دې؟ -
يهوه ځونتاک او قادر دې - يهوه چه
په جنګ کښې زوراور دې
۹ اې دروازو خپل سرونه پورته کړئ -
هو اې ابدي دروازو پورته کړئ -
چه دَ جلال بادشاه دننوزي
۱۰ دَ جلال بادشاه څوک دې؟ - دَ فوځونو
يهوه - هم هغه دَ جلال بادشاه دې

۲۵ - مزمور

۱ اې يهوه زه خپل ځان ستا په
لوري پورته کوم
۲ اې ځما الله ما په تا باندې تکيه وکړه
شرمنده دې نه شم - دُښمنان دې په
ما باندې خوشحال نه شي



۳ هم هغه ټول چه په تا اميد لري
شرمنده دې نه شي - بلکه هغه دې شرمنده
شي چه په ناحق فتنه انګيز دي
۴ اې يهوه ما ته لارې خپلې راښکاره
کړه - ما ته طريقې خپلې راوښيه
۵ په خپلې رښتيئ مې راهنمائي وکړه -
او را ته وښيه - چه ځما دَ نجات
الله ته ئې - زه ټوله ورځ تا ته انتظار
کوم
۶ اې يهوه خپل رحمتونه او مهربانئ
يادې کړه - چه دا واړه ازلي دي
۷ ځما دَ ځوانئ خطا مه يادوه او نه ځما
تقصيرونه - دَ خپلې مهربانئ له سببه
ما ياد کړه - دَ خپلې نيکئ له سببه
اې يهوه
۸ يهوه نيک او راست دې - ځکه چه
خطاکارانو ته په لار کښې تعليم
ورکوي
۹ حليمانو ته به په عدالت کښې لار
وښيي - او حليمانو ته به خپله
لار وښيي
۱۰ ټولې طريقې دَ يهوه دَ مهربانئ او دَ
راستئ دي - هغو له چه دَ ده دَ وعدې
او دَ شاهدو حفاظت کوي
۱۱ اې يهوه دَ خپل نامه په روي - ځما
بدي وبخښه - ځکه چه لويه ده
۱۲ هغه کوم سړې دې چه له يهوه نه
ويريږي - دې به هغه ته لارې وښيي
چه دې ئې غوره کړې
۱۳ دَ هغه ځان به په آرام کښې اوسيږي
او اولاد دَ هغه به دَ زمکې وارث
شي
۱۴ راز دَ يهوه له هغو سره دې چه
له ده نه ويريږي - او وعدې خپلې به
هم هغو ته ورښکاره کړي
۱۵ سترګې ځما مدام دَ يهوه په لوري دي
ځکه چه دې به ځما پښې له دامه
وباسي
۱۶ ځما په لوري نظر وکړه - او په ما رحم
وکړه - ځکه چه زه يواځې او عاجز يم
۱۷ ځما دَ زړه غمونه زيات شوي دي - ته
ما له تنګسو نه خلاص کړه
۱۸ ځما په عاجزئ او ځما په خوارئ باندې
نظر وکړه - ته مې ټولې خطا مُعافي کړه
۱۹ دُښمنان ځما ګوره چه ډېر دي - او
په سخته کينه له ما سره کينه لري
۲۰ ځان ځما وساته او خلاص مې کړه -
شرمنده دې نه کړې شم ځکه چه په
تا باندې توکّل کوم
۲۱ نيکوکارئ او راستئ دې ځما نګهباني

وکړي - ځکه چه زه تا ته انتظار کوم
۲۲ اسرائیل ته فدیه ورکړه اي الله - دَ
خپلو ټولو سختیو نه

## ۲۶ - مزمور

۱ اي یهوه ځما انصاف وکړه - ځکه چه
زه په خپلې نیکوکارۍ کښ تللې یم - ما
هم په یهوه باندِ تکیه وکړه او زه به
و نه ښوئیږم
۲ اي یهوه ما وآزمایه او ځما ازمائښت
وکړه - پښتورګې ځما او زړه ځما کره کړه
۳ ځکه چه ستا شفقت ځما دَ سترګو
دَ وړاندِ دَي - او زه ستا په رښتینۍ
کښ لاړم
۴ باطل کارانو سره زه نه کښیناستم -
او له ریاکارانو سره به دننه نه ځم
۵ دَ بدکارانو دَ جماعت سره کینه کوم -
او له شریرانو سره به کښېنه نم
۶ زه به په پاکیزګۍ کښ خپل لاسونه
وینځم - چه ستا دَ قربانګاه طواف به
وکړم اي یهوه
۷ چه زه دَ شکرګذارۍ آواز واوروم -
او چه ستا دَ ټولو عجائبو کارونو بیان
وکړم
۸ اي یهوه ستا دَ کور په استوګنې مینه
کوم - او په هغه مکان چه ستا
جلال په کښ اوسي
۹ ځان ځما دَ خطاکارانو سره مه شامل
کړه - نه ژوند ځما له خونیانو سره
۱۰ چه دَ هغو په لاسونو کښ فساد دَي
او ښي لاس ئې له بډو نه ډک دي
۱۱ مګر زه به په خپلې راستۍ کښ لار
شم - ته ما له فدیه راکړه - او په ما
باندِ فضل وکړه
۱۲ پښې ځما په سم ځاي ودریږي - په
جماعت کښ به زه یهوه ته مبارک وایم

## ۵ - ورځ
## دَ ماښام مونځ

## ۲۷ - مزمور

۱ یهوه ځما نور او ځما نجات دَي له
چا نه وویریږم؟ - یهوه ځما دَ ژوندانه
قوت دَي له چا نه ویره وکړم؟
۲ چه بدان په ما باندِ نژدې راغلل
ځما دَ غوښو خوړلو دَ پاره هغوئ دښمنان
ځما او کینه کونکیو ځما ټپندک وخوړ
او پریوتل
۳ که لښکر په ما باندِ خیمې ودروي -
ځما زړه هیڅ نه ویریږي - که په ما
جنګ پورته شي - نو هم زه به تکیه
وکړم
۴ ما له یهوه نه یو سوال وکه - دَي



طلبګار به شم - چه ټول عمر دَ یهوه
په کور کښ استوګنه وکړم - دي دَپارَ
چه زه دَ یهوه نعمت ووینم - او دَ ده په
هیکل کښ تحقیقات وکړم
۵ ځکه چه دَي به ما دَ مصیبت په ورځ
دَ خپل سایوان لاندِ په پناه کښ
وساتي - دَ خپلې خیمې په پردي کښ
به ما پټ کړي - په کمټ باندِ به ما
وخېژوي
۶ نو اوس به ځما سر پورته کړی شي
ځما دَ دښمنانو دَ پاس چه له ما نه
چاپېر دي - او زه به دَ ده په خیمه
کښ دَ ښادۍ ذبحې حلالې کړم - غزل
دَ ده به وغږوم - دَ یهوه دَ پارَ به
مدح وکړم
۷ واوره اي یهوه چه زه په خپل آواز
سره فریاد کوم - او په ما باندِ هم فضل
وکړه او ځواب راکړه
۸ تا ته ځما زړه ووې چه ځما مخ ولټوه -
ستا مخ اي یهوه لټوم
۹ خپل مخ له ما نه مه پټوه - خپل
بنده په غضب سره مه شړه -
ته ځما مددګار شوي - نو مه ما ترک
کړه - او مه ما پرېږده اي ځما دَ
نجات الله
۱۰ چه زه خپل پلار او خپلې مور پرېښوم
مګر یهوه به ما شامل کړي
۱۱ اي یهوه ما ته خپله لار وښیه - او
ما ته دَ سمې طریقې هدایت وکړه -
ځما دَ دښمنانو له سببه
۱۲ دَ خپلو دښمنانو په نفس ما مه
سپاره - ځکه چه دروغژن ګواهان او هغوي
چه دَ ظلم ساه اخلي راته پورته شول
۱۳ زه بیخوده شوم که ما ایمان رانه وړ
چه دَ یهوه نعمت ووینم - دَ ژوندانه
په زمکه کښ
۱۴ دَ یهوه منتظر اوسه - مضبوط اوسه
او خاطر جمع شه - هو دَ یهوه
منتظر اوسه

## ۲۸ - مزمور

۱ اي یهوه تا ته به فریاد وکړم - اي ځما
ګټ ته له ما نه مه کونړ کیږه -
هسي نه که له ما نه چپ شي - زه
به دَ هغو په شان شم - چه په
کنده کښ کوزیږي
۲ واوره آواز ځما دَ فریادونو چه زه
تا ته زارۍ کوم - هرکله چه خپل لاسونه
پاک مقدس ته پورته کړم
۳ له هغو شریرانو سره ما مه شریک
کړه - او دَ بدکردارانو سره - چه له خپلو

همسایګانو سره سلام کوي- او په
زړونو کښ يې بد وي
۴ هغو له دَ خپلو کارونو په شان ورکړه
او موافق دَ شرارت دَ هغو دَ عملونو
موافق دَ عملونو دَ لاسونو دَ دوی
ورکړه- هغو ته عوض خپل ور وګرزوه
۵ دَپارَ دَدي چه هغوي دَ يهوه په کارونو
نه پوهيږي- او دَده دَ لاسونو په
عمل- دَي به هغوي وغورزوي او
بيا به يې جوړ نه کړي
۶ يهوه دِ مبارک وِي- چه ده څما دَ
منتونو آواز آوريدلی دَی
۷ يهوه څما قوّت او څما ډال دَی- څما
زړه په ده تکيه کړي ده- او زه مدد
موندلی شوی يم- نو زړه م خوشحال
شه- او زه به په غزل سره دَده
حمد و وايم
۸ يهوه دَ هغو قوّت دَی- او دَ خپل
مسيح دَ نجات دَپارَ محکمه قلا ده
۹ ته خپلو خلقو ته نجات وبخښه- او خپل
ميراث ته برکت ورکړه- او هغوي
وڅروه- او هغوي تر ابده پورې سرفراز کړه

## ۲۹- مزمور

۱ اي ځامنو دَ خدايانو يهوه ته منسوب
کړئ- جلال او قوّت يهوه ته
منسوب کړئ
۲ يهوه ته دَده دَ نوم جلال منسوب
کړئ- دَ قدوسيئ په زينت سره يهوه
ته سجده وکړئ
۳ دَ يهوه آواز په اوبو باندِ دَی- دَ
جلال الله ګړېږي- هو يهوه په ګڼو
اوبو باندِ دَی
۴ دَ يهوه آواز زورآور دَی- دَ يهوه
آواز له شوکت ډک دَی
۵ دَ يهوه آواز نښتر ماتوِي- هو دَ
يهوه آواز دَ لبنان نښتر ماتوي
۶ دَی هغه دَ سخي په طور ټوپ لوِي-
لبنون او سريون دَ وحشي غوايه
دَ بچي په شان
۷ دَ يهوه آواز دَ اور شغلې څيروي
۸ دَ يهوه آواز صحرا لرزوِي- يهوه
دَ قادِس صحرا لرزوِي
۹ دَ يهوه آواز هوسئ پيازوِي- او ښه
ماتوِي- او دَده په هيکل کښ هر
څه وايي جلال
۱۰ يهوه په طوفان باندِ کښيناست-
هو يهوه دَ بادشاه په شان کښيني
تر ابدَ پورې
۱۱ يهوه خپلو خلقو ته زور بخښي-
يهوه به خپلو خلقو ته دَ سلامتيا



برکت ورکړي

## ۶- ورځ
## دَ سحر نمونځ
## ۳۰- مزمور

۱ اي يهوه زه به ستا ستاينه وکړم-
ځکه چه تا زه راوچت کړم- او څما
دښمنان دِ را باندِ خوشحال نه کړل
۲ اي يهوه څما الله- ما تا ته زاري
وکړه- او تا ما له شفا راکړه
۳ اي يهوه تا څما ځان له هادِيز
پورته کړي دَی- تا زه ژوندي کړي
يم چه زه کندي ته کوز نه شوم
۴ حمد وغږوئ يهوه له اي دَ هغه
تقوئ دارانو- او دَده دَ پاک نوم يادګاري
وکړئ
۵ ځکه چه دَده قهر دَ يو دم دَی- په
رضامندئ کښ يې ژوندون دَی-
شپي له به ژړا وِي- مګر صباح ته
به ښادي
۶ ما دَ خپلي خوښئ په وقت کښ وويل
چه زه به تر ابده پورې ونه خوځيږم
۷ اي يهوه تا په خپلي مهربانئ سره څما
غر مضبوط که- تا خپل مخ پټ که
زه پريشانه شوم
۸ اي يهوه ما تا ته فرياد وکه- او ما
له خداوند فضل وغوښت
۹ چه څما په وِيني کښ به څه فائده
حاصله شي؟ چه زه په کنده کښ کوز
شم؟- خاوري به ستا حمد ووايي
څه؟ او يا به ستا دَ رښتيئ بيان
وکړي څه؟
۱۰ اي يهوه واوره او په ما فضل وکړه-
اي يهوه ته م مددګار شه
۱۱ ژړا څما به ګډيدلو بدله کړه- ګند
دِ را نه پرانست او ملا څما دِ دَ خوښئ
په کمربند وتړله
۱۲ دي دَپارَ چه لوبي څما ستا مدح
وکړي- او چپ نه شي- اي يهوه څما
الله زه به تر ابدَ پورې ستا شکر کوم

## ۳۱- مزمور

۱ اي يهوه زه په تا توکل کوم شرمنده
دِ نه چيري نه شم- په خپل صداقت
سره م خلاص کړه
۲ ته خپل غوږونه څما په لوري راټيټ
کړه او په جلتئ سره م خلاص کړه-
ته څما دَپارَ مضبوط ګټ څما دَ نجات
دَپارَ محکمه قلا يي
۳ ځکه چه ته څما ګټ او قلا يي- دَ
خپل نوم په سبب ما ته هدايت او
لار ښوونه وکړه

۴ له هغه دامَ چه هغوي خما دَپارَ
پټ غوړولي دَي ته مِ خلاص کړه-
ځکه چه ته خما پناه يې
۵ زه خپل رُوح ستا لاس ته سپارم
اي يهوه دَ ربښتِنيُ الله تا خما دَپارَ
فديه وکړه
۶ زه له هغو سره کينه لرم چه دَ
دروغو بُطلان ساتِي-ليکن زه به
په يهوه تکيه کوم
۷ ستا په مِهر به خوښ اوخوشحال
شم-ځکه چه تا خما په غم باندِ
نظروکه-او تا خما دَ ځان سختيُ
وپيژندلي
۸ او زه دِ دَ دښمنانو په لاسونو کښ
بند نه کړم-او پښي خما دِ په ارت
ځاي باندِ ودرولي
۹ اي يهوه په ما فضل وکړه ځکه چه
زه په تنگ حال کښ يم-خما سترگي
له غمَ وچيږِي هو خما ځان اوخما بدن
۱۰ ځکه چه ژوند خما په غم کښ او
کالونه مِ په هاي هُوي کښ تيرشول
خما قوت خما دَ بديُ په سبب کم
شه-او خما هډوکي وچ شوِي دِي
۱۱ زه دَ ټولو دُښمنانو له سببَ پيغور
شوم-هو خما بي شمار همسايگانو
ته او ويره خما دوستانو ته-چه
بهر يُ وليدلم را نه وتښتيدل
۱۲ زه له ياده هير شوي يم لکه دَ
مړ-دَ ماتَ لوښي په شان شوي
يم
۱۳ ځکه چه ما دَ ډيرو تهُمت اوريدلي
دَي گيرچاپيرِ مِ ويره وه-په ما
باندِ يُ يَو ترَ بله مصلحت وکړ-
خما دَ ځان وژلو دَپارَ يُ تجويز
وکه.
۱۴ مگر اي يهوه ما په تا باندِ تکيه
وکړه-ما ووِيل ته خما الله يې
۱۵ وقتونه خما ستا په لاس کښ دِي
ما دَ خپلو دُښمنانو له لاسَ-او
هم له هغو چه را باندِ ظلم کوِي
خلاص کړه
۱۶ خپل مخ په خپل بنده باندِ وځلوه
او په مهربانيُ خپلي سره نجات
راکړه
۱۷ اي يهوه شرمنده دِ نه شم-ځکه
چه ما تا ته فرياد کړي دي-شريران
دِ شرمنده شي او په هاديز کښ
دِ چپ پاتِي شي
۱۸ دروغژني شونډي دِ چپ شي-چه
دَ بي عزتيِ خبري چه په صادقانو



گستاخي کوِي-په غرور او په کبر سره
۱۹ څومره لويه ده نيکي ستا چه دَ خپلو
ويريدونکيو دَپارَ دِ ساتلي دَه-چه
تا کړي دِي دَ هغو دَپارَ چه په تا
باندِ توکل کوِي دَ بني آدمو دَ وړاندِ
۲۰ هم ته به دُوي دَ بني آدمو له بندونو
نه دَ خپل حِضُور په پرده کښ پټ
وساتِي-ته به دُوي دَ ژبو له جگړو
په خپلي خيمي کښ پټ کړي
۲۱ يهوه دِ مبارک شي-ځکه چه دَه
عجائبي مهربانيُ په يَو محکم ښهر
کښ را ښکاره کړي
۲۲ ما په خپلي جلتيُ سره وويل چه
زه ستا دَ سترگو له وړاندي نه
پريکړي شوم-ليکن هغه وقت چه
ما تا ته فرياد وکړ-نو تا خما دَ زاريو
آواز واوريده
۲۳ اي تاسو ټولو تقويٰ دارانو دَ يهوه
سره مينه لرئِ-يهوه دَ ربښتينو
ساتنه کوِي-او کبرجن ته به ډير
اجر ورکوِي
۲۴ زوراور شئِ-او خاطر جمعَ اوسئِ
تاسو ټول چه يهوه ته انتظار
کوئِ

## ۶- ورځ
## دَ نماښام نمونځ
### ۳۲-مزمور

۱ مبارک دَي هغه چه گُناه يُ وبخښلي
شوه چه خطا يُ پټه شوه
۲ مبارک دَي هغه سړي چه يهوه
دَده بديُ په حساب کښ را نه وړِي
او رياکاري دَ هغه په رُوح کښ
نه وِي
۳ هرکله چه زه چپ شوم-نو هډوکي خما
زاړه شول-دَ ټولي ورځي له غړيدلو
له سببَ
۴ ځکه چه ورځ او شپه ستا لاس
په ما باندِ درند وه-تازگي خما دَ
اوړي په خشکيُ سره بدله شوله
۵ تا ته مِ په خپلي گُناه اقرار وکړ-او
خپله خطا مِ پټه نه کړه-ما
وويل چه زه به يهوه ته دَ خپلو
گُناهونو اقرار وکړم-او تا خما دَ
بديُ گُناه مُعافه کړه
۶ دَدي دَپارَ به هريَو تقويٰ دار تا
ته دُعا وکړي په کوم وقت چه ته
موندَي شي-په يقين سره که دَ
ډيرو اوبو سيلاب راشي-هغه ته
به و نه رسيږي

۷ ته خما دَپارَ پناه یې- ته به مِ له
تنګسیا نه وساتې- او دَ خلاصې په
سرودونو به مِ سره ګیر کړې
۸ زه به تا پوه کړم- او در وبه ښیَم- هغه
لار چه ته به پرِ ځې- زه به نصیحت
درکړم خما سترګې به په تا وې
۹ تاسو دَ آسپې او دَ قچرې په شان
مه کیږئ چه بې تمیزَ وِي- په واګې او
په قیزې سره یې خوښې تابع کیږي-
هسې نه وِي چه درنږدې شي
۱۰ دَ شریرانو دَپارَ به ډیر عذابونه وِي-
مګر په هغو باندِ چه په یهوه باندِ
تکیه کوِي مهربانيِ به ترچاپېره شي
۱۱ اې صادقانو له یهوه نه خوشحاله
اوسئ او ښادې کوئ- او اې ټولو
راستدلانو خوښې وغوږئ

۳۳-مزمور

۱ اې صادقانو دَ یهوه خوښئ وغوږئ
چه حمد دَ راست دلانو دَپارَ ښه
دَې
۲ یهوه ته په ستار سره حمد کوئ- په
لس تارې رباب یې حمد وغږوئ
۳ نوې شعر ورته وغږوئ- ښائسته
وغږوئ په لوې آواز سره
۴ ځکه چه کلام دَ یهوه راست دَې-
او ټول کارونه دَ ده له رښتنې سره
وِي
۵ دَې دَ صداقت او دَ عدالت سره مینه
لرِي- زمکه دَ یهوه له مهربانيِ نه
ډکه ده
۶ دَ یهوه له کلامَ آسمانونه جوړ شول-
او دَ ده دَ خولې له دمَ دَ هغو ټول
لښکر
۷ دَې دَ دریاب اوبه دَ ډیرِ په شان
جمعَ کوِي- ژورې په انبارخانو کښې
جمعَ کوِي
۸ ټوله زمکه دِ له یهوه نه ویریږي-
او وسیدونکي دَ جهان دِ له ده نه
په ویره کښې وِي
۹ ځکه هغه چه ده ووَیل وشول- او
هغه چه ده وفرمایل نو ودریدل
۱۰ یهوه دَ قومونو مصلحت باطلوِي- او
ارادې دَ خلقو بې فایدې کوِي
۱۱ مصلحت دَ یهوه تر ابدَ پورې قائم
دَې- خیالونه دَ زړه یې ترابدَ پورې
جارِي دِي
۱۲ مبارک دَې هغه قوم چه الله یې
یهوه دَې- هغه قوم چه دَ خپل وراثت
دَپارَ یې غوره کړې دِي
۱۳ یهوه له آسمانه ګورې- دَې په ټولو



بنِي آدمو باندِ نظر کوِي
۱۴ او دَ خپلې استوګنې له مقامَ هغه
نظر کوِي- په ټولو اوسیدونکیو دَ
زمکې
۱۵ هغه چه جوړوِي زړونه دَ ټولو- په
ټولو عملونو باندِ یې فکر کوِي
۱۶ هیځ بادشاه نشته چه دَ لښکر په
کثرت سره نجات بیامومِي نه پهلوان
په ډیر قوت سره بچ کیږي
۱۷ آس دَ بچاؤ دَپارَ خوشې څیز دَې-
او له خپلَ زورَ هیڅوک خلاصولې
نه شي
۱۸ ګوره دَ یهوه نظر په خپلو ویریدونکیو
دَې- هم په هغو چه دَ ده دَ مهربانيِ
امیدوار دِي
۱۹ دَ هغو دَ ځان دَ خلاصولو دَپارَ- او
په قحط سالیِ کښې به یې ژوندې وساتي
۲۰ ځان ځمونږ دَ یهوه دَپارَ انتظار وکه
- مددګار او ډال ځمونږ هم دې دَې
۲۱ ځکه چه ځمونږ زړه په ده کښې
خوشحال شي- ځکه چه مونږ دَ ده
په مقدَس نوم تکیه کړې ده
۲۲ اې یهوه ستا مهربانې دِ په مونږ
باندِ وِي- لکه چه مونږ تا ته انتظار
کړې دَې

۳۴- مزمور

۱ زه به هر وقت یهوه مبارک کړم-
دَ ده ثنا به مدام ځما په خوله کښې
وِي
۲ ځان ځما به په یهوه خپل فخر وکړي
او غریبان خلق به واورِي او خوشحاله
به شي
۳ بزرګي دَ یهوه له ما سره وکړئ- او
مونږ ټول دِ دَ ده نوم وستایو
۴ ما یهوه ته سوال وکړ او ده ځواب
راکه- او له ټولو خپلو ویروئ خلاص
کړم
۵ هغوې په ده باندِ نظر وکه او روښانه
شول- او مخونه یې شرمنده نه شول
۶ دې غریب فریاد وکه او یهوه واورید
- او له ټولو بدونو یې نجات ورکه
۷ فرښته دَ یهوه دَ ویریدونکیو نه یې
ګیرچاپېر خیمه ودروِي- او هغوې
خلاصوِي
۸ و یې ځکه او و یې ګوره چه یهوه ښه
دَې- مبارک هغه سړې دَې چه په
ده توکل کوِي
۹ دَ یهوه نه ویره کوئ اې دَ ده مقدسانو
- ځکه چه هیڅ حاجت نه دَیَدِ هغو
چه دَ ده نه ویره کوِي

۱۰ دَ زمري بچي محتاج او وږي کېږي-
مګر هغه چه دَ يهوه طالبان دِي
دَ هيڅ ښه څيز محتاج به نه شي
۱۱ واښيئِ اي هلکانو ځما واورئِ- زه
به تاسو ته دَ يهوه ويره درونښيم
۱۲ هغه کوم سړي دَي چه دَ ژوندانه
شوق لري- او دَ ډېرو ورځو ميِنه لري
چه ښه ووېني
۱۳ ژبه خپله له بدئ نه وساته- او
خپلي شونډي دَ رياکارئ له خبرو
کولو نه
۱۴ له بدئ نه وتښته او نېکي کوه- او
صلحه لټوه او ورپسي شه
۱۵ دَ يهوه سترګي دَ صادقانو په طرف
دِي- او غوږونه ئې دَ هغو دَ فرياد
په طرف دِي
۱۶ مخ دَ يهوه دَ بدکارانو په خلاف
دَي- چه ياد دَدوي به له زمکي
نه ورک کړي
۱۷ صادقانو فرياد وکه او يهوه واوريد-
او هغوي له ټولو ربړونو نه خلاص
کړل
۱۸ يهوه دَ شکسته دلانو زړو ته نژدې
دَي- او هغه ته چه روح ئې غمجن
دي نجات ورکوي
۱۹ دَ صادقانو تکليفونه ډېر دِي- مګر
يهوه به ئې له ټولو خلاصوي
۲۰ دَي دَ هغو ټولو هډونه ساتي- له
هغونه يو هم مات شوي نه دَي
۲۱ شر به شريران هلاک کړي- او
هغوي چه صادقانُ سره کينه کوي
مجرم به ئې کړي
۲۲ يهوه دَ خپلو بندګانو دَ ځانونو دَپارَ
فديه ورکوي- او هرڅوک چه په
ده توکّل کوي مجرم به نه کړي شي

### ۷- ورځ
### دَ سحر نمونځ
### ۳۵-مزمور

۱ اي يهوه له هغو سره چه له ما
سره کينه کوي ته کينه وکړه- او
له هغو سره چه له ما سره جنګ
کوي ته جنګ وکړه
۲ ډال او وسله ونيسه- او ځما دَ مددګارئ
دَپارَ پورته شه
۳ نېزه هم وباسه او لاره بنده کړه
دَ هغو چه په ما پسي راځي- ځان
ځما ته وفرمايه چه ستا نجات
زه يم
۴ هغه چه ځما ځان لټوي خجل او
شرمنده دِ شي- هغه چه ځما دَ



ضرر فکر کوي وګرزولي او کږوږ
دِ شي
۵ لکه بوس دَ باد دَ وړاندِ دِ شي-
او فرښته دَ يهوه دِ ئې په ماتي
ووهي
۶ لار دَ دوي دِ تاريکه او خوئيدونکي
وي- او فرښته دَ يهوه دِ ورپسي
وي
۷ ځکه چه بې سبب ئې ځما دَپارَ دام
خپل په ډوغل کښ پټ ايښي دَي-
او ناحق ئې ځما دَ ځان دَپارَ وکنوده
۸ ناګهاني آفت دِ پرِ نازل شي- او
په هغه دام کښ چه په خپله ئې
پټ کړي دَي هم دوي دِ ونښلي- او
په هغه آفت سره دِ په کښ پخپله
پريوزي
۹ نو ځان ځما به په يهوه کښ خوشحال
شي- او دَده په نجات به خوښي
وکړي
۱۰ ټول هډونه ځما به ووايي- چه اي
يهوه څوک به ستا په شان وي-
چه مظلوم به دَ هغه له لاسَ چه
له ده نه زبردست وي خلاص کړي-
بلکه مسکين او بېچاره به له هغه
نه خلاص کړي چه شوکي کوي
۱۱ دروغژن ګواهان پورته شول- له ما
نه ئې هغه سوالونَ وکړل چه زه پرِ
نه پوهېږم
۱۲ هغوي له ما سره بدي کوي دَ نيکيِ
په بدله کښ ځما دَ ځان دَ خرابولو
دَپارَ
۱۳ چه هغوي رنځوران شول- نو جامي مِ
کنډوي- او په روژي لرلو مِ نفس
خپل ضعيف کړ- او دُعا مِ په خپل
غېږ کښ په بېرته راغله
۱۴ زه داسي لاړم لکه چه هغه ځما
دوست يا ورور وه- او سر مِ ټيټ
که لکه چه څوک دَ خپلي مور وير کوي
۱۵ مګر دَيِ ځما په غم خوښ شول- او
سره ټول شول- هم هغه رابانديِ
تُهمت کونکي راجمع شول- چه زه ورته
خبر نه وم- وئې څيرلم او منع نه شول
۱۶ له رياکارانو ټوقي وهونکيو په مينځ
کښ په ميامستيا- هغوي په ما
راندِ غاښونه چيچل
۱۷ اي خداوندَ ترڅو به ګوري- ځان
ځما له هغو خرابيو نه خلاص کړه-
يګانه ځما له زمريو نه
۱۸ زه به په لويِ جماعت کښ ستا حمد
ووايم- او دَ ډېرو خلقو په مينځ کښ

به ستا مدح وکړه

۱۹ هغوي چه څما دُښمنان دِي- په ما
دِ ناحق خوشحال نه شي- او هغه
چه ناحقَ کینه راسره کوي سترګي
دِ نه رپوي

۲۰ ځکه چه هغوي دَ صلاح خبري
نه کوي- بلکه دَ ملک دَ صلاح خواهانو
په ضد دَ فریب مصلحت کوي

۲۱ او خولي يُ راته وازي کړي دِي-
هغه وِ چه هاهٰا څمونږ سترګو
ولیده

۲۲ اي یهوه تا خو دا ولیدل چُپ مه
اوسه- اي خداوندَ له ما نه مه
لري کیږه

۲۳ بیدار شه او وِیښ شه څما دَ
عدالت دپارَ- څما دَ مقدّمي دپارَ
اي څما الله او اي څما خداوندَ

۲۴ اي څما یهوه الله څما انصاف وکړه
موافق دَ خپل صداقت سره- او
هغوي دِ په ما خوشحال نه شي

۲۵ او هغه دِ په خپل زړه کښ و نه
وايِي- چه هاهٰا مونږ داسي غوښت-
او دا دِ هم نه وايِي- چه مونږ هغه
ونغړه

۲۶ هغه چه څما په نُقصان خوښیږي
رسوا او شرمنده دِ شي- هغوي دِ
چه په ما باندِ په مغرورۍ سره
خیژي دَ بي عزّتۍ او دَ شرمندګۍ
جامي دِ ور واغوستولي شي

۲۷ هغوي چه څما دَ صداقت مشتاق
دِي ښادي دِ وکړي- او خوشحال
دِ شي- او مدام دِ وايِي چه یهوه
دِ لوي کړي شي- چه خوشحال دَي
دَ خپل بنده په سلامتیا سره

۲۸ او ژبه څما به ستا دَ صداقت بیان
کوي- هم ستا دَ جلال توله ورځ

## ۳۶- مزمور

۱ دَ شریر دَ شرارت خبري څما په زړه
کښ دِي- چه دَده په سترګو کښ دَ
الله ویره نشته

۲ ځکه چه هغه په خپلو سترګو
خوشامندي کوي- داسي چه څما
بدي څرګنده نه شي او کینه
نه کړي شي

۳ دَده دَ خولي خبري بدي او دَ فریب
دِي- ده دانائي او نیکي ترک کړي
ده

۴ هغه په خپل کټ باندِ دَ بدۍ تجویز
کوي- او په داسي لار کښ چه ښه
نه ده ودریږي- هغه له بدۍ نه



نفرت نه کوي

۵ اي یهوه ستا مهرباني په آسمانونو
کښ ده- ستا رښتیني تر اوریځو پوري
رسیدلي دَه

۶ صداقت ستا دَ الله دَ غرو په شان
دَي- او عدالتونه ستا هم یو لوي
ژور دِي- اي یهوه ته انسان او
حیوان ساتي

۷ اي الله ستا مهرباني څنګه بیش قیمتا
ده- او بني آدم ستا دَ وزرو تر سوري
لاندِ پناه نیسي

۸ او ډوي به ستا دَ کور دَ څورب والي
نه ماړه شي- او دَ خپلي خوشنودۍ
دَ ولو نه به پر وڅښوي

۹ ځکه چه دَ حیات چینه تا څخه ده-
ستا په نُور کښ به مونږ نُور وینو

۱۰ ته خپله مهرباني په هغو باندِ چه
تا پیژني زیاته کړه- او صداقت خپل
په راست دِلانو باندِ

۱۱ دَ کبرجنو پښي دِ ما ته ونه رسیږي
او لاس دَ شریرانو دِ ما ونه شړي

۱۲ هلته دَ بدۍ کار کوونکي پرېوتلي دِي-
غورزولي شوي دِي او بیرته کیدلي
به نه شي

# ۷- ورځ
# دَ نماښام نمونځ

## ۳۷- مزمور

۱ ته دَ شریرانو له سببَ مه ټولیږه-
حسدناک مه شه په هغو باندِ چه
بدي کوي

۲ ځکه چه هغوي به ژر دَ وښو په شان
پریکړي شي- او دَ شنو وښو په شان
به مراوي شي

۳ په یهوه باندِ تکیه وکړه او نیکي کوه
په ځمکه کښ ووسه په رښتیني سره
وڅره

۴ په یهوه باندِ خوشحالَ اوسه- او
هغه به ستا دَ زړه سوالونه تا له
درکړي

۵ خپله لار یهوه ته وسپاره- په ده
باندِ تکیه وکړه نو هغه به يُ وکړي

۶ او هغه به ستا صداقت دَ روښنائۍ
په شان وباسي- او ستا عدالت
به دَ غرمي په شان

۷ یهوه ته چُپ اوسه او دَ هغه دپارَ
انتظار کوه- په هغه چاچه خپلي
لارې تر سره کوي مه ټولیږه- له
هغه سړي له سببَ چه بد تدبیرونه
کوي

له قهر نه راوګرزه-او غضب پرېږده
مه تُولېږه چه تش بدئِ ته دِ ورسوي
۹ ځکه چه بدکاران به غوځ شي-مګر
هغه چه دَ يهوه منتظر دي وارثان
دَ زمکي به شي
۱۰ اوس لږ پاتي دي چه شريران به نه
وي-او ته به دَده دَځاي په غور
سره تلاش وکړي-او نه به وي
۱۱ مګر عاجزان به دَ زمکي وارثان شي-
او له ډېري سلامتيا سره به خوشحاله
اوسي
۱۲ شرير په صادق باندِ سازش کوي
او غاښونه ورته چيچي
۱۳ خداوند به په دوي پوري وخاندي-
ځکه چه دَي ئې وِيني چه دَ هغه
ورځ راځي
۱۴ شريرانو توري ويستلي-او ليندي
ئې په ښئِ کړي-دَ غريب اودَ مظلوم
دَ پرزولو دَپارَ-دَ لاري دَ راستانو
دَ هلاکولو دَپارَ
۱۵ دَ هغو توري به دَ هغو په زړونو کښ
ورننوزي-او ليندي به ئې ماتي شي
۱۶ لږ چه صادق څخه دي ښه دي-دَ
ډېرو شريرانو له دولتَ
۱۷ ځکه چه متي دَ شريرانو به ماتي
شي-ليکن يهوه صادقانو ته تکيه
ورکوي
۱۸ يهوه دَ کاملانو ورځي پېژني-او
ميراث دَ هغو به تر ابده پوري وي
۱۹ دَ آفت په وقت کښ به شرمنده
نه شي-بلکه دَ قحط په ورځو کښ
به هم ماړه وي
۲۰ ځکه چه شريران به برباد شي-او
دُښمنان دَ يهوه به په شان دَ
ښائسته والي دَ ورشو-فنا به شي
دَ لوګي په شان به فنا شي
۲۱ شريران قرض اخلي او بيائې نه
ورکوي-ليکن صادقان احسان کوي
او بخشش ورکوي
۲۲ ځکه چه مبارکان دَده به وارثان
دَ زمکي شي-ليکن ملعونان به
پرېکړي شي
۲۳ قدمونه دَ سړي دَ يهوه له طرف
مقرر کړي شوي دي-دَده په لاره
کښ خوشحال دي
۲۴ او چه پرېوزي نو هم به هلاک
نه شي-ځکه چه يهوه ئې دستګير
دَي
۲۵ ځوان وم اوس زوړ شوم-نو هم
ما صادق ترک شوي ليدلي نه دي-
او نه اولاد دَده ډوډي لټونکي
۲۶ ټوله ورځ هغه احسان کونکي دَي او
قرض ورکونکي-او اولاد دَده هم
مبارک دَي
۲۷ له بدئِ نه لري شه او نيکي کوه-
او تر ابدَ پوري آباد اوسه
۲۸ ځکه چه يهوه په عدالت مِينه کوي-
او تقويٰ داران خپل نه پرېږدي-
بلکه تر ابده پوري ئې ساتلي دي-
ليکن اولاد دَ شريرانو به پرېکړي شي
۲۹ صادقان به دَ زمکي وارثان شي-
او تر ابده پوري به په کښ اوسي
۳۰ دَ صادقانُ خوله دَحکمت بيان کوي-
او ژبه ئې دَ عدالت خبري کوي
۳۱ دَ خپل الله تورات ئې په زړه کښ
دَي-او قدمونه ئې نه ښوئېږي
۳۲ شرير په صادق پسي څار کوي-
او دَده دَ قتل تلاش کوي
۳۳ يهوه به دَي دَ هغه په لاس کښ
پرې نږدي-او دَ عدالت کولو په وقت
کښ به ئې مجرم نه کړي
۳۴ يهوه ته منتظر اوسه او لاري دَده
ساته-او هغه به تا دَ زمکي وارث
کولو دَپارَ سرفراز کړي-او چه شريران
پرېکړي شي نو ته به ئې ووِيني
۳۵ ما شرير هيبت ناک وليد-دَ هغې
وني په شان چه په خپلَ زمکه کښ
خوزيږي
۳۶ څوک تېر شه او ګوره هغه نه وه-
ما ئې تلاش وکه ليکن بيا نه موندَي
شه
۳۷ کامل سړي په نظر کوه او راست سړي
ته وګوره-ځکه چه آخر دَ داسي سړي
سلامتي ده
۳۸ او ګناهکاران به ټول هلاک شي-
آخر دَ شريرانو به پرېکړي شي
۳۹ او نجات دَ صادقانو له يهوه نه
دَي-اودَ تنګسيا په ورځو کښ ئې
قلا ده
۴۰ يهوه دَدوي مددګار دَي او ساتي
ئې-له شريرانو نه ئې ساتي او نجات
ورکوي-ځکه چه دُوي په ده توکل کړي دَي

## ۸- ورځ
## دَ سحر نموځ
### ۳۸-مزمور

۱ اي يهوه ته په خپل قهر سره
ما مه ترټه-او په خپل غضب
سره تنبيه مه راکوه
۲ ځکه چه ستا غشي په ما کښ ننبلي-
او لاس ستا را باندِ درونه ولګيد

۳ ستا دَ غضب له کبله ځما په بدن
کښې تندرستي نشته - او دَ خپلې
گُناه په سبب مې په هډوکو کښې
سلامتي نشته
۴ دې دَپارَ چه بدئ مې له سره پورته
شوې دِي - او دَ درانه بار په شان
ځما دَپارَ زياتي درنې دِي
۵ پرهارونه مې بدبويه او وراسته شول
دَ خپلې ناداني په سبب
۶ زه کوږ او بيحد کوبَ شوي يم - ټوله
ورځ غمگين گرزم
۷ ملا مې له سوزش ډکه دَه - او په تن
کښې مې تندرستي نشته
۸ زه بې طاقتَ او ژبلَي شوي يم - او
دَ خپل زړه له پريشانئ نه غوغا کوم
۹ اي خداوندَ ټول شوق ځما ستا دَ
حضُوره دَي - او ځما زويرَي له تا نه
پټ نه دِي
۱۰ زړه مې درزيږي قوّت را نه لاړ شه
- او رڼا دَ سترگو مِ هم ورکه شوه
۱۱ ياران او اشنايان مې دَ آفت له
سببَ بيل راته ولاړ دِي - او خپلوان
مِ لرې لرې را نه ودريدل
۱۲ هغه چه ځما دَ ځان غوښتونکي دِي
دامونه راته ږدِي - او هغه چه ځما

دَ غم غوښتونکي دِي بدئ خبري
راته کوِي - او ټوله ورځ دَ دروغو
فکرونه کوِي
۱۳ مگر زه دَ کڼ په شان شوم چه نه
اورِي - او دَ هغه گونگ په شان
چه خپله خوله نه پرانزِي
۱۴ هو زه دَ هغه سړي په شان يم چه
نه اورِي - او چه په خوله کښې ئې
حجت نه وِي
۱۵ ځکه چه زه په تا اي يهوه اميد
لرم - ته به ځواب راکړِي اي يهوه
ځما الله
۱۶ ځکه چه ما وويل چه هسې نه چه
هغوي په ما باندِ خوشحالي وکړِي -
چه پښې مې ونښوئيږِي لوِي را باندِ
وکړِي
۱۷ ځکه چه زه د غورځيدلو ته طيار يم - او
خپل غم مدام په خپل نظر کښې
لرم
۱۸ ځکه چه زه په خپلې بدئ اقرار کوم
دَ خپلې خطا دَپارَ به پښيمان شم
۱۹ مگر دُښمنان ځما چالاک دِي او
مضبوط دِي - او هغه چه په ناحقه
کينه راسره کوِي ډير شول
۲۰ هغه چه دَ نيکئ په بدله بدي کوِي



دُښمنان مې شول - ځکه چه زه په
نيکئ پسې ځم
۲۱ اي يهوه ما مه پريږده - اي ځما الله
له ما نه مه لرې کيږه
۲۲ ځما په مددگارئ کولو تلوار وکړه -
اي ځما دَ نجات خداوندَ

### ۳۹ - مزمور

۱ ما وويل چه زه به خپلې لارې وساتم
چه په ژبه خطا ونه کړم - زه به
خپله خوله په قيزه سره وساتم -
هرکله چه شرير ځما په مخ کښې
وِي
۲ زه په خاموشئ کښې گونگ شوم
او له نيکئ کولو نه چُپ شوم - او غم
ځما زيات شه
۳ زړه ځما په کوگل کښې وسه - چه
ما فکر کاوه نو اور بل شه - او په
ژبه مې وويل
۴ په آخر خپل مې پوه کړه اي يهوه
- چه ځما دَ ورځو حساب څه دَي
ما پوه کړه چه زه څومره ناپايدار يم
۵ گوره تا ځما ورځې دَ لويشتې په شان
کړې - او ژوند ځما ستا په نزد هيڅ
نه دَي - په تحقيق سره هر سړي
په خپل حال کښې تشه ساه جوړ

شوي دَي
۶ په يقين سره هر سړي په خيال
کښې گرزِي - په يقين سره په باطلو
بې آرامه شوي دَي - هغه جمع کوِي
او نه پوهيږِي چه څوک به ئې ټول کړِي
۷ اوس اي خداوندَ زه څه ته انتظار
کوم - هم په تا ځما اُميد دَي
۸ ما له ټولو گناهونو خپلو خلاص
کړه - دَ احمقانو مې مه پېغور کوه
۹ زه گونگ وم خپله خله مې وازه
نه کړه - ځکه چه تا دا کار کړي دَي
۱۰ له ما نه دِ خپل آفت لرې کړه - زه
ستا دَ لاس له گُذاره فنا شوم
۱۱ هرکله چه ته انسان دَ هغو دَ گناه
په سبب په عذاب سره سزا ورکوِي -
ښائست دَ هغو دَ پتنگ په شان
وِيلي کوِي - نو په يقين سره هر يو
سړي تشه ساده
۱۲ اي يهوه دُعا ځما واوره - او فرياد
ځما ونغوره - او په اوښکو ځما مه
چپ کيږه - ځکه چه زه تا سره
بيگانه يم - او سيدونکي دَ خپلو
پلرونو نيکونو په شان
۱۳ له ما نه نظر وگرزوه چه آرام وکړم
وړاندِ له هغه نه چه لاړ شم او

بيا نه شم

## ۴۰- مزمور

۱ ما په صبر سره يهوه ته انتظار
وکه- نو هغه په ما باندِ راټيټ شه
او فرياد څما ئي واوريده
۲ هغه دَ هلاکت دَ کندي نه او دَ
چکړو له بوښتني نه بهر راويستلم
او پښي څما ئي په کټ باندِ کيښوي-
اوقدمونه څما ئي قائم کړل
۳ او ده څما په خوله کښ يو نوي غزل
راکړ څمونږ دَ الله دَ پاره جلال- ډير
به ئي وويني او وبه ويرېږي- او
په يهوه به تکيه وکړي
۴ مبارک دَي هغه سړي چه په يهوه
خپله تکيه کوي- او دَ کبرجنو او
دَ هغو سړو په لوري چه په دروغو
پسي ګرزي مخ نه اړوي
۵ اي يهوه څما الله ستا عجائبات چه
تا کړي دي ډير دي- او ستا خيالات
چه څما طرف ته دي- تا سره حساب
نه شي کيدلي- که زه بيان کړم او
دَ هغه په باب کښ خبري وکړم
نو دَ شمار کولو نه زيات دي
۶ تا ذبحه او هديه نه غوښتله- غوږونه
څما دِ سوري کړل- تا دَ سوزولو قربانئ
او دَ خطا قربانئ و نه غوښتلي
۷ نو ما ووِ چه ګوره زه راځم- په کتاب
کښ څما په حق کښ ليکلي دي
۸ اي څما الله زه ستا دَ مرضي په
کولو باندِ خوښ يم- هو تورات ستا
څما په زړه کښ دَي
۹ ما په لوي جماعت کښ ستا دَ صداقت
زيري وکړ- ګوره خپلي شونډي به
بندي نه کړم- اي يهوه ته پوهيږي
۱۰ ما ستا صداقت په خپل زړه کښ
پټ نه کړ- ستا دَ رښتنئ او ستا
دَ نجات خبره مِ بيان کړه- ما ستا
شفقت او ستا رښتيا له لويه جماعت
پټ نه کړل
۱۱ ته اي يهوه خپل رحمتونه له ما نه
مه منع کوه- ستا مهرباني او ستا
رښتيا دِ مدام څما ساتونکي وِي
۱۲ څکه چه بي شمارو بديو ګير کړم-
او خپلو ګناهونو راسي نيولي يم
چه طاقت دَ ليدلو نه لرم- او دَ سر
دَ وېښتو نه مِ په شمار زياتي
دي- او خپل زړه هم پريښي يم
۱۳ اي يهوه مهرباني وکړه ما خلاص
کړه- اي يهوه په مددګارئ څما
جلتي وکړه



۱۴ هغوي دِ خجل او شرمنده شي-
چه څما ځان دَ هلاکولو دَ پاره لټوي
هغوي دِ بيرته وغورزولي شي او
بي عزت دِ شي- چه څما په نقصان
خوشحاليږي
۱۵ هغوي دِ برباد کړي شي دَ هغوي دَ
شرمندګئ له سببه- چه په ما
باندِ هاها کوي
۱۶ هغه ټول چه ستا طالبان دي په
تا کښ دِ خورم وي- او هغه چه
ستا دَ نجات مشتاق دي مدام
دِ وائي- چه يهوه دِ لوي کړي شي
۱۷ زه مسکين او محتاج يم- نو هم
خداوند په ما فکر کوي- څما مددګار
او څما خلاصونکئ ته يي- اي څما
الله ډيل مه کوه

## ۸- ورځ
## دَ نماښام ګمونځ
## ۴۱- مزمور

۱ مبارک دَي هغه سړي چه دَ
مسکينانو غور کوي- يهوه به هغه
دَ آفت په ورځو کښ خلاص کړي
۲ يهوه به هغه وساتي او ژوندَي
به ئي کړي او په زمکه کښ به مبارک
وي- او ته به هغه دَ ده دَ دښمنانو
په نفس پري نږدي
۳ يهوه به هغه له دَ بيمارئ په کټ
باندِ تکيه ورکړي- دَ هغه ټوله بيماري
به دَ بيماري په وقت کښ وڅنډي
۴ ما وويل اي يهوه په ما فضل
وکړه- ځان څما له شفا ورکړه-
څکه چه ما ستا خطا کړي ده
۵ څما دښمنان څما په حق کښ بدي
خبري وائي- چه کله به مړ شي او
نوم به ئي کله ورک شي
۶ او که هغه څما دَ کتلو دَ پاره راشي
نو دروغ وائي- دَ هغه زړه دَ هغه
دَ پاره بدي راټولوي- او چه بهر لاړ
شي نو هغه خبري کوي
۷ هغه ټول چه له ما سره کينه لري
څما په ضد پُس پُسَ کوي- او څما
دَ نقصان تجويز کوي
۸ هغه وائي چه دَ شيطان څه شي
په ده پوري نښتي دي- او س چه پروت
دي بيا به هيڅري پورته نه شي
۹ هم هسي هغه څما لوي دوست- چه
ما پرِ باندِ تکيه وکړه څما ډوډئ ئي
وخوړله- لته ئي را باندِ پورته کړي ده
۱۰ مګر ته اي يهوه په ما فضل وکړه او
ما پورته کړه- چه له هغو نه بدله واخلم

۱۱ او په ده زه پوه شوم چه ته له ما
نه خوښ يي- ځکه چه دُښمن مِ بَرَي
راباندِ ونه مونده
۱۲ او تا زه په ديندارئِ کښ سنبال کړي
يم- او په خپل حِضور کښ دِ تر
ابده پوري قايم کړم
۱۳ مبارک دِ ثِي يهوه دَ اسرائيل الله
له ازله تر ابده پوري- آمين

۴۲- مزمور

۱ لکه چه اُوسَئ دَ نالي دَ اوبو دَپارَ
مشتاقه وِي- هم هسي خما خان
مشتاق دَي تا ته اي الله
۲ خان خما دَ الله بلکه دَ اِلٰهُ الحَيّ تږي
دَي- چه کله به لاړ شم او دَ الله
په حِضور کښ به حاضر شم
۳ ورځ او شپه مِ خپلي اوښکي خوراک
شوي- ځله راته وائي چه ستا الله
چرته دَي
۴ او خپل نفس په خپل خان باندِ
تويه وم- چه څرنګ زه له هغه تولي
سره لاړم او دَ الله کور ته ورسره
تللم- دَ خوښئِ او دَ تعريف په آواز
سره لکه چه اختر کوِي .
۵ اي خما خانَ ته ولي داسي خپه يي-
او په ما کښ ولي بي آرامَ يي- ته
امید په الله وکړه- ځکه چه زه به
اوس دَ هغه مدحه وکړم- دَ هغه
دَ حِضور دَ نجات دَپارَ
۶ اي خما الله خما خان په ما کښ
خپه دَي- له دي سببَ به دَ آردَن په
زمکه کښ ياد کړم حرمون دَ مصَعَر
له غره نه
۷ ستا دَ نولَو په آواز باندِ ژوره ژوري
ته ناري وهي- ټول موجونه او چپي
ستا په ما باندِ تيري شولي
۸ يهوه به دَ ورځي په وقت کښ دَ
خپلي مهربانئِ حکم وکړي- او دَ
شپي وقت به دَده غزل له ما سره
وِي- دُعا به خما دَ ژوندانه دَ الله
په لوري وِي
۹ زه به الله ته چه خما ګټ دَي ووايم
چه زه دِ ولي هير کړم- ولي دَ دُښمن
دَ ظلم له سببَ خپه لاړم
۱۰ لکه چه خما هډونه په چيت پيت
کيدلو سره څي- دُښمنان مِ شکنځل
راته کوِي- چه هغوي هره ورځ راته
وائي چه ستا الله چرته دَي
۱۱ اي خما خانَ ته ولي خپه يي- او په
ما کښ ولي داسي بي آرام يي- ته
امید په الله وکړه ځکه چه زه



به اوس دَده مدحه وکړم- دَ هغه
دَ حِضور دَ نجات دَپارَ اي خما الله

۴۳- مزمور

۱ اي الله خما عدالت وکړه- او دَ بي ايمانه
قوم سره خما دَپارَ مقدّمه وکړه- له
رياکاره او له بدکاره سړي نه مِ
خلاص کړه
۲ ځکه چه ته خما دَ قوت الله يي
تا زه ولي لري وغورزولم؟- او زه له
دُښمنانو له ظلمَ ولي په ژړا ځم
۳ خپل نور او خپله رښتيا راوليږه
- هغوي دِ خما هدايت وکړي- هغوي
دِ ما ستا پاک غره ته راولي- او
ستا خيمي ته
۴ پس زه به قربانګاه دَ الله ته ورشم-
الله ته خما کاملَ خوښي- او په
ستار به ستا مدحه وغږوم اي الله
خما الله
۵ اي خما خانَ ته ولي خپه ئي- او په
ما کښ ولي داسي بي آرام يي- ته
اميد په الله وکړه- ځکه چه زه
به اوس دَده مدحه وکړم- چه
خما دَ څهري مددګار دَي او
خما الله

۹- ورځ
دَ سحر نمونځ

۴۴- مزمور

۱ اي الله موږ په خپلو غوږونو سره
واوريدل خموږ پلرونو او نيکونو
موږ ته ويلي دي- دَ هغه کار په
باب کښ چه دَ هغو په ورځو کښ
په وړاندِنيو ورځو کښ تا وکړل
۲ چه تا په خپل لاس سره قومونه خارج
کړل او هغوي دِ مِشته کړل- او
قومونه دِ ورېرول او هغوي دِ وغورځول
۳ ځکه چه هغوي دِ په خپله توره
سره دَ زمکي وارثان نه کړل- او نه
خپلي مټي ولهٔ نجات ورکه- بلکه
ستا ښي لاس او ستا له مټي
او ستا دَ حِضور نور- ځکه چه تا
په هغوي مهرباني وکړه
۴ اي الله ته خما بادشاه يي- دَ يعقوب
دَپارَ دَ خلاصِي حکم وکړه
۵ ستا په مددګارئِ سره به موږ خپل
دُښمنان وشړو- په نامه ستا به
هغه کسان چه خموږ په ضد پورته
کيږي پايمال کړو
۶ ځکه چه زه په خپلي لِندي تکيه نه
لرم- او نه به خپله توره نجات راکړي

۷ بلکه تا له دُښمنانو نه نجات راکړ-
او هغوي چه کِينه راسره کوي ستا
شرمنده کړل
۸ مونږ په الله تولـه ورځ فخر کړي دَي
-او ترابدَ به ستا دَ نامه مدحه
کړو
۹ لیکن تا اوس مونږ ترک کړو او
شرمنده دِ کړو- او څمونږ له لښکرو
سره نه ځي
۱۰ ته مو دَ دُښمن په مخ کښ راګرزوي-
او هغوي چه له مونږ سره کِينه لرِي
دَ خپل ځان دَپارَ به مو لُوټ کړِي
۱۱ تا مونږ دَ خوړلو دَپارَ مقرّر کړُو لکه دَ
ګډو په شان-او دَ غير قومونو په
مينځ کښ به مو تار په تار کړي
۱۲ تا خپل اُمّت مُفت خرڅ که-او دَ
هغو له قيمتَ دِ هيڅ نفَعَ وانه خِسته
۱۳ ته به مو دَ خپلو ګاونډيانو پيغور
کړي- دَګيرچاپير دَ خلقو به مو
توقه او مسخرِه کړِي
۱۴ دَ غير قومونو په مينځ کښ به مو
يَو متل کړي- دَ اُمّت په مينځ کښ
به مو دَ سر خوځولو
۱۵ او رسوايِي څما تولـه ورځ څما په
نظر کښ دَه- او شرمندهګيِ دَ مخ څما

زه پټ کړم
۱۶ په سبب دَ آواز دَ تُهمت کونکي او
دَ ملامت ويُونکيِ- په باعث دَ دُښمن
او دَ بدل اخستُونکي
۱۷ دا تول په مونږ باندِ راغلِي دِي-
مګر ته مو هير نه کړي-او ستا
په وعده مو بي‌وفائِي ونه کړه
۱۸ نه مو زړه له تا نه وګرزيده-لونه څمونږ
پښي ستا له لارِي ګرزيدلي دِي
۱۹ مګر تا دَ ګيدړو په مکان کښ مات
مات کړُو- او دَ مرګ په سورِي سره
دِ پټ کړو
۲۰ که چرِ مونږ دَ خپل الله نُوم هير
کړي وَي- يا مو دَ بل معبود په لورِي
خپل لاسونه پورته کړي وَي
۲۱ نو الله به دَدي تحقيقات ونه کړِي
څه ؟- ځکه چه دَي دَ زړه په رازونو
خبر دَي
۲۲ په يقين سره مونږ تولـه ورځ ستا
دَپارَ مړه کيږُو- دَ ذبح دَپارَ ګډورِي
ګڼلِي کيږُو
۲۳ وِيښ شه ولِي اوده کيږِي اي
خداوندَ پورته شه او تر ابدَ پورِي
مو مه غورزوه
۲۴ ته ولِي خپل مخ پټوي ؟- او څمونږ



غم او ظلم هيروي
۲۵ ځکه چه ځان څمونږ په خاورو کښ
نسکور شه- ګيډه څمونږ په زمکه
پورِي ولښته
۲۶ څمونږ دَ مددګارئِ دَپارَ پورته شه
-او دَ خپلِي مهربانِي له سببَ څمونږ
فديه ورکړه

## ۴۵-مزمور

۱ څما په زړه کښ ښه خبره جوش
کوِي- زه هغه څيزونه چه ما دَ بادشاه
په حق کښ جوړ کړي دِي بيان ئِ کوم
-څما ژبه دَ ماهر کاتب قلم ده
۲ په ښائِست کښ له بنيِ‌آدمَ زيات يِي-
ستا په شونډو باندِ کرم توي شوي
دَي-له دي سببَ الله ته تر ابدَ
پورِي مبارک کړَي يِي
۳ اي جبّاره خپله تُوره په خپلِي ملا
وتړه- هو خپل زِينت او شوکت
۴ او په خپلي اقبال‌مندَيَ سره سور
شه-او دَ رښتنيِ او دَ فروتنيِ او دَ
صداقت له سببَ- او ستا ښَي لاس
به تا ته دهشتناک کارونه درونِبيِ
۵ ستا غشِي تيره دِي- اُمّتونه ستا
دَ لاندِ پريوزِي -او دَ بادشاه دَدُښمنانو
په زړه کښ دِي

۶ اي الله ستا تخت تر ابدالاٰبادَ پورِي
دَي- دَ راستيِ اَمصا ستا دَ بادشاهيِ
اَمصا دَه
۷ تا په صداقت مِينه وکړه او شرارت
سره دِ کِينه وکړه- له دي سببَ الله
ستا الله ته مسح کړَي يِي- دَخوشحاليِ
په تيلو سرِه له خپلو ملګريو نه
۸ ستا له تولو جامو نه دَ مرو او دَ
عُودو او دَ تج خوشبويِي راځي- چه
په ربابونو ئِ دَ هاتيِ دَ غاښونو په
محلو کښ خوشحاله کړِي
۹ دَ بادشاهانو لُونړه ستا په عزتناکو
کښ دِي-او بيګمه ستا په ښي لاس
ولاړه ده دَ اوفِير په سرو زرو
۱۰ اي لُورِي واوره او ګوره-او غوږ راته
ونسه- خپل قوم او دَ خپل پلار کور
هير کړه
۱۱ نو بادشاه به ستا دَ حُسن آرزومند
شِي- ځکه چه ستا خداوند دَي- نو
دَ هغه تعظيم کوه
۱۲ او دَ طُور لُور به دَ پيشکشيِ سره
راشِي- او دولتمند خلق به ستا دَ
مخ دُعا کوِي
۱۳ شاه زادګيِ بالکلّ جلالِي دَه- جامي ئِ
په سرو زرو سره جړاؤ کړي شوي دِي

۱۴ هغه به بادشاه ته په کبنیدهٔ کړي شوي
جامو کښ راوستَي شِي-پیغلي سُهیلیٔ
چه په دي پسي ځِي-تا ته به راوستلي
شِي
۱۵ هغوي به په ښادئ او په خوشحالئ
سره درمو رسیږي-او دَ بادشاه په
محل کښ به داخلي شِي
۱۶ ستا دَ پلارانو په ځاي کښ به ستا
ځامن وِي-ته به هغوي دَ ټولي زمکي
سرداران کړي
۱۷ زه به پُښت په پُښت ستا نُوم یادګار
وګرزوم-نو ټول اُمتونه به ترابدالاباد
پوري ستا مدحه کوِي

## ۴۶-مزمور

۱ الله څمونږ پناه او زور دَي-دَ سختیو
په وقت کښ ډېر لایق مددګار دَي
۲ له دي سببَ به مونږ نه ویریږو که
زمکه بدله شِي-او چه غرونه دَ قعرِ
دریاب په مینځ کښ وغورزولي شِي
۳ که چرِ اوبه غړمبیږي-او ځک پورته
کړي شِي-که چري دَ هغو دَ موجونو
نه غرونه وخوځیږي
۴ سِیند دَي چه دَ هغه لَختي دَ الله
ښهر خوشحال کوِي-دَ حق تعالیٰ دَ
مسکنونو پاک ځاي
۵ الله دَ هغه په مینځ کښ دَي-هغه
به هرګز و نه خوځولي شِي-الله به
دَ هغو مدد وکړي هو صبا وختِي
۶ غیرو قومونو ناري ووهلي-بادشاهتونه
وخوځیدل-ده آواز وکه زمکه وِیلي
شوله
۷ دَ لښکرو یهوه له مونږ سره دَي
او دَ یعقوب الله څمونږ اوچت
برج دَي
۸ راشيِ کارونه دَ یهوه وګورئ-چه
څنګه ځنګه ویرانيَ ئې په زمکه کښ
کړي دِي
۹ دَي دَ زمکي. ترِ آخر پوري جنګونه
موقوفوِي-لیندي ئې ماتوِي او نیزي
ئې دوه ټکړي کوِي-او ګاډِي ئې په
اور سیځِي
۱۰ وار وکړيِ او پوه شئ چه زه الله
یم-زه به دَ غیرو قومونو په مینځ کښ
پورته کړي شم زه به په زمکه کښ پورته
کړي شم
۱۱ دَ لښکرو یهوه له مونږ سره دَي-دَ
یعقوب الله څمونږ اوچت برج دَي

## ۹-ورځ-دَ نمابنام نمونځ

## ۴۷-مزمور

۱ اي ټولو خلقو لاسونه ووهئ-دَ فتح
په آواز سره الله ته ناري وکړيِ
۲ چه یهوه حق تعالیٰ هیَبتناک دَي-
په ټوله زمکه بانديِ لوي بادشاه دَي
۳ قومونه به تر مونږ لانديِ کړِي-او غیر
قومونه به څمونږ تر پښو لانديِ
۴ څمونږ میراث به څمونږ دَپارَ غوره
کړِي-دَ یعقوب فخر چه په ده ئې مِینه
وکړه
۵ الله په نارو سره پورته شه-هو
یهوه دَ تُوَرئ په آواز سره
۶ دَ الله مدحَ وغږوئ مدح وغږوئ-
څمونږ دَ بادشاه مدحَ وغږوئ مدحَ
وغږوئ
۷ ځکه چه الله دَ ټول جهان بادشاه
دَي-په هوښیارئ مدحَ وغږوئ
۸ الله په غیر قومونو بانديِ بادشاهت
کوِي-الله په خپل مُقَدَّسِ تخت
بانديِ کښیني
۹ دَ قومونو امیران جمع شول-دَ
اَبراهام دَ الله له خلقو سره-ځکه
چه ډالونه دَ جهان دَ الله دِيَ-او
دي بي‌شانه مُتَعٰالِي دَي

## ۴۸-مزمور

۱ یهوه بزرګ دَي او ډېر ممدوح-څمونږ
دَ الله په ښهر کښ دَده په مقَدَّس
غره بانديِ
۲ ښائسته دَي په اوچت والي کښ دَ
ټولي زمکي خوښي-دَ صیحون غر دَي
دَ شمال په ډډو-دَ بزرګ بادشاه
دارُالسَّلَطَنَتْ
۳ دَ هغه په محلونو کښ الله مشهور
دَي چه اوچت برج دَي
۴ ګوره چه بادشاهان سره جمع شول-
او سره تیر شول
۵ هغو ولید نو حیران شول-پریشان
شول او وتښتیدل
۶ هغه ځاي دهشت ونیول-او دَ
لنګانه په شان درد ورباندِ راغي
۷ دَ نمرخاته په باد سره-دَ ترسِیس
جهازونه تَه ماتوِي
۸ لکه چه مونږ اوریدلي دِي هم هغه
شان مو ولیدل-دَ لښکرو دَ یهوه
په ښهر کښ څمونږ دَ الله په ښهر
کښ-الله به هغه تر ابده پوري په
قرار لرِي
۹ اي الله مونږ ستا مهربانِي یاده کړه
-ستا دَ هیکل په مینځ کښ
۱۰ اي الله لکه چه ستا نوم دَي-هم
هسي ستا مدحَ دَ زمکي تر اُخره
پوری ده-ښي لاس ستا له صداقتَ

ږک دَي
۱۱ دَ صيحون غر دِ خوشحال وِي — دَ
يهودا لُونړه دِ خوښي کوِي- ستا دَ
عدالتونو په سببَ
۱۲ په صيحون گرزيِ او طواف تر کويِ-
او برجونه ئې وشماريِ
۱۳ دَده په ښهرپناه زړه ولگويِ
او دده محلّي په غور سره وويني-
دَپارَ دَدي چه راتلونکي پيړيو ته ئې
خبر ورکړيِ
۱۴ الله تر ابدالآباد پوري زمونږ الله
دَي- هغه به تر مرگه پوري زمونږ
هادِي وِي

## ۴۹- مزمور

۱ اي تمامو قومونو دا واوريِ- اي ټولو
اوسيدونکيو دَ جهان غوږ ونسيِ
۲ هم اصلو هم لويو- دولتمندو دَمحتاجانو
سره
۳ زما خوله به دَ حکمت خبري کوِي- او
تفکر زما دَ زړه به په فهم سره وِي
۴ زه به خپل غوږ دَ يوه مثال په
لوري ونسم- او زه به دَ خپلي کنايي
خبره په ستار سره ظاهره کړم
۵ زه به دَ آفت په ورځو کښ ځله
ويره کوم- هغه وقت چه بدِي زما

پوندي گيرِي کړِي
۶ هغه چه په خپل دولت تکيه کوِي-
او دَ خپل مال په کثرت فخر کوِي
۷ هيڅوک دَ خپل ورور فديه نه شي
ورکولي- او نه به دَ هغه دَپارَ کفاره
الله ته ورکړِي
۸ (ځکه چه دَ هغو دَ ځان فديه گرانبها
ده- او دا کار به تر ابده پوري بند
پاتي وِي)
۹ چه هغه به مدام ژوندَي وِي — او
هرگز به خرابي ونه وينِي
۱۰ ځکه چه هغه گورِي چه دانايان
مرِي- جاهل او حيوان سره نابودَ
کيږِي- او خپل دولت نورو ته پريږدِي
۱۱ دَ هغو خيال دا دَي چه دَ هغو
کورونه به تر ابده پوري وِي — او
مسکنونه دَ هغو به پشت په پشت-
هغوي خپله زمکه په خپلو نومونو
سره بلِي
۱۲ مگر انسان په عزت کښ نه پاتي
کيږِي- هغه دَ حيوانو په شان دَي
چه فنا کيږِي
۱۳ دا لار دَدوِي له احمقيِ دَدوِي ده-
او له دوِي نه وروستو خلق به دَدوِي
په خبرو باندِ خوښيږِي



۱۴ دُوِي دَ گډو په شان دَ هادِيز دَپارَ
مقرّر شوِي دِي- مرگ به دَ هغه
شپون وِي- او راستان به صحر په
دُوِي باندِ تَسَلُّط کوِي- دَ هغه
ښائستگي به دَ هاديز دَ خوړلو دَپارَ
شي چه دَ هغه دَپارَ استوگنه
نه وِي
۱۵ ليکن الله به زما دَ ځان دَپارَ دَ
هادِيز له قبضي نه فديه ورکړِي-
ځکه چه دَي به مِ منظور کړِي
۱۶ هرکله چه يَو سړِي دولتمند شي نو
مه ويريږه- هرکله چه دَ کور جلال
ئې زيات شي
۱۷ ځکه چه هغه به دَ مرگ په وقت
هيڅ له ځانه سره يو نه سي- او دَ
هغه جلال به ورپسي ورکوز نه شي
۱۸ خوچه ژوندَي وه نو ځان ته ئې
مبارک وايه- او که ته دَ خپل ځان
دَپارَ نيکي کوي- نو خلق به ستا
تعريف کوِي
۱۹ هغه به دَ خپلو پلرونو پيړيِ ته
لاړ شي- هغه به هيڅري نُور ونه وينيِ
۲۰ انسان چه په عزت کښ دَي- او
نه پوهيږِي- دَ حيوانانو په شان
دَي چه فنا کيږِي

## ۱۰- ورځ

## دَ سحر نموځ

## ۵۰- مزمور

۱ دَ خدايانو الله يهوه ويلي دِي- او زمکه
ئې له نمرخاته نه تر نمر پريواته پوري
طلب کړله
۲ له صيحونه چه دَ ښائستگيِ کامليت
دَي- الله روښانه شه
۳ زمونږ الله به راشي- او چپ به نه
وِي- او په حضُور کښ به ئې اور
بليږي- او په گيرچاپير به ئې سخت
طوفان وِي
۴ هغه به پورته آسمانونو ته آواز کوي
- او زمکي ته چه دَ خپلو خلقو عدالت
وکړي
۵ زما تقوىٰ دارانو له راجمع کړيُ- چه
له ما سره ئې په ذبحه سره وعده
کړي ده
۶ آسمانونه به دَده صداقت ظاهر کړي
چه الله په خپله عدالت کونکيَ دَي
۷ اي زما خلقو واوريُ زه به خبره
وکړم- اي اسرائيلَ زه به په تا گواهي
ولم- زه الله ستا الله يم
۸ زه به دِ دَ دغو دَپارَ ملامت نکړم- او
ستا سيځونکي قربانيِ مدام زما په نظر

کښې دي
۹ زه به ستا دَ کور سخوندر وانه خلم-
او نه ستا دَ شپلونو بزي
۱۰ ځکه چه ټول دَ ځنګل وحشيان
ځما دي-غواپان په زرګونو غرونو
باندي
۱۱ زه ټول مارغان دَ غرونو پېژنم-او
دَ صحرا ځناور ځما دي
۱۲ که زه وږی شم تا به خبر نه کړم-
ځکه چه دُنيا او دَ هغې معمورِي ځما
ده
۱۳ زه دَ غوايانو غوښي خورم څه؟-يا
دَ بزو وِيني څښم څه ؟
۱۴ ذبحه کړه الله ته دَ سلامتيا ذبحه
-او دَ حق تعالیٰ په حضُور نذرونه
ادا کړه
۱۵ او دَ غم په ورځ کښې ما ته فرياد وکړه
-نو زه به تا خلاص کړم- ته به ځما
جلال وساتي
۱۶ مګر الله شرير ته وائي-چه ځما
دَ حکمونو دَ بيانولو سره ستا څه کار
دَي ؟-او ځله ځما وعدهٔ په خوله
راوړي ؟
۱۷ هرکله چه دَ تعليم سره کينه کوي-
او ځما خبري په شا غورزوي

۱۸ چه ته غل وِيني-نو له هغه سره
راضي يې-او له زناکارانو سره شريک
شوي يې
۱۹ او خپله خُله په شرارت پرانزي-
او ژبه دِ دَ فريب بهانې جوړوي
۲۰ چه ته کښيني نو دَ خپل ورور غيبت
کوي-او هم دَ خپلي مور په ځوي تُهمت
لګوي
۲۱ تا دا کول او زه چپ وم-او تا دا ګمان
کاوه چه زه هم ستا په شان يم-
مګر زه به دِ ملامت کړم او هغه
به په ترتيب سره ستا دَ وړاندِ کيږدم
۲۲ په دې وپوهيږئ کنه اي چه تاسو
الله هيروئِ-هسي نه چه زه مو
ټوټې ټوټې کړم او هيڅوک مو
خلاصونکي نه وِي
۲۳ هغه چه دَ شکرګذارئ ذبح کوِي ځما
جلال ستايِي-او هغه چه خپلي لارې
تياروِي-دَ الله نجات به وښيم

## ۵۱- مزمُور

۱ اي الله لکه چه ستا مهرباني ده
په ما باندِ فضل وکړه-لکه چه ستا
رحمتونه ډير دِي هومره ځما ګناهونه
محوه کړه
۲ له خپلي ګُناه نه مِ ښه ووينځه-



او له خپلي خطا نه مِ پاک کړه
۳ ځکه چه زه په خپلو بدو اقرار
کوم-او ځما خطا هيشه ځما په مخ
کښي ده
۴ ما ستا هو خاص ستا خطا مِ کړي
ده-او ستا په نظر کښې مِ بدِي
کړي دَه-دې دَپارَ چه ته خبري
کوي پاک کړې شي-او چه ته
عدالت کوي نو پاک ظاهر شي
۵ ګوره ما په ګُناه کښې صورت نيولي
دَي-او په خطاکارئ سره مور په
حمل اخستي يم
۶ ګوره ته دَ دننه رښتِني خوښوي-
نو ته ما ته په باطن کښې حکمت
وښيه
۷ په زوفا سره مِ صاف کړه چه پاک
شم-ما ووينځه چه له واوري نه
زيات سپين شم
۸ ما ته دَ خوښيِ او دَ خوشحاليِ خبره
واوروه چه هغه هډوکي چه تا مات
کړي دِي خوشحال شي
۹ ځما له خطا نه خپل مخ وګرزوه-
او ټولي بدئ ځما محوه کړه
۱۰ اي الله په ما کښې پاک زړه پيدا
کړه-او نيک روح ځما په باطن کښې

تازه کړه
۱۱ ما له خپله حضُورَ مه شړه- او
خپل مُقدّس روح له ما نه مه اخله
۱۲ دَ خپل نجات خوښي ما له بيا راکړه
-او په خپل آزاد روح سره مِ
سنبال کړه
۱۳ نو زه به ګُناهګارانو ته ستا لارې
وښيم-او خطاکاران به ستا په
لُوري در وګرزولي شي
۱۴ اي الله ځما دَ نجات الله ما له
خونونو نه وساته-نو ژبه ځما به
ستا صداقت وغږوِي
۱۵ اي خداوندَ شونډي ځما پرانزه-چه
خُله ځما ستا صداقت بيان کاندِ
۱۶ ځکه چه نه په ذبحي نه خوشحاليږي
چه زه يُې ادا کړم-او نه په سيځونکي
قربانيِ خوشحاله کيږي
۱۷ ذبحي دَ الله خسته روح دَي-اي
الله ته به خسته او غمجن زړه سپک
ونه ګڼړي
۱۸ له صيحونه سره په خپلي خوښئ
نيکي وکړه-او ديوالونه دَ اورشليم
جوړ کړه
۱۹ نو ته به دَ صداقت په ذبحو کښې
او په سيځونکيو قربانيو کښې او په

سيځونکيو کاملو قربانيو کښې خوشحال
شي-او دوي به ستا په قربانګاه باندې
سخوندر پورته کړي

## ۵۲- مزمور

۱ اي زورآورَ ته ولې په بدئ فخر کوې
-دَ الله مهرباني هر ورځ ده
۲ ستا ژبه دَ تکئ تدبير کوې- دَ تيرې
چړې په شان دَ تکئ کار کوې
۳ ته په بدئ له نيکئ نه مينه کوې-او
په دروغو دَ صدق دَ ويلو نه
۴ ته دَ هلاکت په ټولو خبرو مينه کوې
اي فريب ويونکي ژبې
۵ دغه شان به دِ الله تر ابدالآبادَ پورې
خراب کاندِ- هغه به تا واخلي او تا
به له خيمې نه بهر راکاږي -او دَ
ژوندانه له زمکې نه به دِ بيخ وکاږي
۶ صادقان به ئې هم ويني او وبه ويرېږي
-او پرِ پورې به وخاندي او وبه وائي
۷ چه ګوره دا هغه سړي دَي چه الله
ئې خپل قوت نه ګاڼه- مګر دَ خپل
مال په کثرت ئې تکيه وکړه- او په
بدئ ئې خپل ځان قوي کړ
۸ ليکن زه دَ الله په کور کښې دَ ښونه
دَ زرغونې ونې په شان يم-او دَ
الله په رحمت تر ابدالآبادَ پورې تکيه
کوم
۹ مدام به ستا شکر کوم ځکه چه تا
داسې وکړل-او زه ستا دَ نامه انتظار
کوم- ځکه چه ښه دَي ستا دَ تقوىٰ
دارانو په مخ کښې

## ۱۰- ورځ

## دَ نمابنسام نمونځ

## ۵۳- مزمور

۱ احمق په خپل زړه کښې ويلي دي
چه الله نشته- هغوي خراب شول
هغوي پليت کارونه وکړل- هيڅوک
نيکي کونکي نشته
۲ الله له آسمانونو نه په بني‌آدم باندِ
نظر وکه- چه ووينې چه څوک دي
چه وپوهيده- چه دَ الله لټونکي شته
۳ هر يو له هغوي نه بيرته شه ټول
سره فاسد شول- هيڅوک نيکي کونکي نشته
يو هم نشته
۴ هغه مفسدان نه پوهيږي څه ؟-
چه قوم ځما دَ ډوډئ په شان
خوري-او دَ الله نوم نه اخلي
۵ هغوي په ډيرې ويرې کښې وُو-
چه هلته ويره نه وه- ځکه چه
الله دَ هغوهمونه چه تا ته ئې خيمه
وهلې ده پراګنده کړي دي



تا هغه شرمنده کړي دي ځکه چه
الله شړلي دي
۶ کاشکې چه دَ اسرائيل نجات له صيّون نه
وتلي وې- هرکله چه الله دَ خپل
قوم قيديان را وګرځوي-نو يعقوب
به خوښ شي-او اسرائيل به خوشحال
شي

## ۵۴- مزمور

۱ اي الله په خپل نامه سره نجات
راکړه-او په خپل قوت سره مې
انصاف وکړه
۲ اي الله دُعا ځما واوره
او دَ خولې خبرو مې ونغوږه
۳ ځکه چه بيګانه خلق په ضد را ته
پورته شوي دي-او ظالمان ځما
دَ ځان په طلب کښې شوي دي-
الله ئې دَ خپل ځان دَ وړاندِ کښېولي
نه دَي
۴ ګوره مددګار ځما الله دَي-خداوند
ورسره دَي- چه ځما ځان سنبالوي
۵ دَي به ځما دَښمنانو ته بدي ور
وجارباسي-او په خپلې راستئ سره
ئې تباه کړه
۶ دَ نفل په قربانئ سره به تا له زه
ذبح وکړم-او اي يهوه زه به ستا
په نامه شکر وکړم ځکه چه ښه دَي
۷ دَپارَ دَدي دِ زه له ټولو غمونو نه
خلاص کړي يم-او په خپلو دُښمنانو
باندِ سترګو مې خوښي وليده

## ۵۵- مزمور

۱ اي الله دُعا ځما واوره
او ځما له زاريو مه پټيږه
۲ ما ته غوږ کيږده او ما له ځواب
راکړه- زه په خپل غم کښې بي‌آرامَ
او پريشانَ يم
۳ دَ دَښمن دَ آواز له سببَ-او دَ شرير
دَ ظلم له سببَ- ځکه چه دوي
په ما باندِ بدي اچوي-او په غضب
کښې ما تنګوي
۴ زړه ځما په کوګل کښې سخت درد
کوي-او دَ مرګ هول را باندِ لويدلي
دَي
۵ ويره او لړزه په ما باندِ راغلل-
او هيبت راباندِ غالب شه
۶ او و مې ويل چه کاشکې چه ما دَ
کوترې په شان وزر لرلې - چه
والوتلې او آرام مې وکړې
۷ هو زه به لرې ګرځيدلم - او په
ځنګل کښې به تيکاؤ کيدلم
۸ زه پناه ته ژر وزغلي دَي- له تيز

باذَ او له طوفانه
۹ اي خداوندَ هغوي هلاک کړه او
په ژبه کښ ني فرق وکړه - ځکه
چه ما په ښهر کښ ظلم او فساد
ليدلي دَي
۱۰ ورځ او شپه دَ هغه په ديوالونو باندي
ګرزِي - بدِي او شرارت دَ هغه په
مينځ کښ دِي
۱۱ دَ هغه په مينځ کښ هم شرارت
دَي - او له کوځو نه ئي فريب او رياکاري
نه ووزِي
۱۲ ځکه چه دُښمن نه وه چه ما ته
ئي ښکنځل وکړل - نو به مِ صبر
کړي وه - او نه هغه وه چه ما سره
ئي کِينه وکړه په ما لوي شه - نو
زه له هغو نه پټيږم
۱۳ مګر ته وي يَو سړي چه خما برابر
وي - خما ملګري او خما دوست
۱۴ چه مونږ به يَو ځاي خوږي خبري
سره کولي - دَ الله په کور کښ له
خلقو سره تللو
۱۵ په هغوِ دِ ناګهانِي مرګ راشِي - ژوندي
دِ هاوِيَز ته کوز شِي - ځکه چه شرارت
دَ هغوِ په استوګنو دَ هغو په مينځ
کښ دَي

۱۶ زه به الله ته ناري کړم - او يهوه
به ما له خواب راکړي
۱۷ نمابنام او صبا او دَ غرمي په وقت
فرياد او ژړا کوم - او هغه به خما
آواز واورِي
۱۸ هغه خما دَ ځان په سلامتيا کښ
فديه ورکړه له جنګ نه چه خما
مخالف وه - ځکه چه ډير وُو چه
له ما سره ئي جنګ وکړ
۱۹ الله به واورِي - او هغه به مبتلا
کړي هغه چه دَ قديمه کښيناستونکي
دَي - هغوي چه تَغَيُّر وله نشته -
او چه له الله نه نه ويريږي
۲۰ خپلو صلحه کونکيو ته ئي خپل
لاسونه واچول - خپله وعده ئي ماته
کړه
۲۱ دَ هغه خوله پسته وه لکه دَ ګوړ
مګر په زړه ئي جنګ وه - خبري ئي
له تيلو نه زياتي نرمي دِي - مګر
يستلي شوي تُوري دِي
۲۲ خپل بار په يهوه باندِ وسپاره
چه هغه به مدد درکړِي - او صادقان
به هيچري خوځيدلو ته ور نه کړي
۲۳ مګر ته اي الله هغوي به دَ هلاکت
په کوهِي کښ ورکوز کړي - خونيان



او تګکان سړي به تر خپل نيمه عمر
پوري ژوندون و نه کړِي - مګر زه
به په تا باندِ تکيه وکړم

## ۱۱- ورځ
## دَ سحر نموځ
### ۵۶- مزمور

۱ اي الله په ما باندِ فضل وکړه
ځکه چه بني آدم غواړِي چه ما
ونغري - تول ورځ په جنګ سره
ظلم را باندِ کوِي
۲ دُښمنان خما تول ورځ خما نغرړل
غواړِي - ځکه چه هغوي ډير دِي
په غرور راسره جنګ کوِي
۳ هر کله چه زه په ويره کښ يم
نو په تا به تکيه وکړم
۴ په الله کښ به دَ هغه دَ کلام
حمد ووايم - په الله باندِ ما تکيه
وکړه - او زه به و نه ويريږم - چه بشر
به خما څه وکړي ؟
۵ هغوي تول ورځ خما خبري بدلوِي -
او دَ هغوي تول فکرونه په ما باندِ
دَ بدئ دَپارَ دِي
۶ هغه سره تول شول او ځانونه
پټوِي - دوي خما قدمونه ګورِي -
لکه چه خما دَ ځان دَپارَ ئي انتظار

کړي دَي
۷ هغوي به دَ بدئ په سبب خلاص
شِي څه ؟ - اي الله ته په خپل
قهر سره دا قومونه وغورزوه
۸ ته خما ګرزيدل شماري - او ښکي خما
په خپلي ښيښي کښ ساتي - هغه
ستا په دفتر کښ نه دِي څه ؟
۹ هر کله چه زه فرياد وکړم - نو دُښمنان
خما به پسته وګرزِي - دا زه پوهيږم
چه الله خما دَپارَ دَي
۱۰ الله ته به زه دَ هغه دَ کلام مدحه
وکړم - په يهوه کښ به زه دَ هغه
دَ کلام مدحه وکړم
۱۱ ما په الله باندِ تکيه وکړه - زه به
ونه ويريږم - چه انسان په ما څه
کولي شِي
۱۲ اي الله ستا نذرونه په ما باندِ
دِي - او زه به تا ته شکرګذاري ادا کړم
۱۳ ځکه چه تا خما ځان له مرګ خلاص
که تا خما پښي دَ ښوئيدلو نه ساتلي
نه دِي څه ؟ - چه دَ الله په حِضُور
کښ وګرزم - دَ ژونديو په نُور کښ

### ۵۷- مزمور

۱ په ما باندِ فضل وکړه - اي الله فضل
وکړه - ځکه چه ځان خما په تا کښ

پناه راوړي دَه- هو زه به ستا دَ
وزرو تر سورِي لاندِ پناه ونيسم
تر هغه پورِي چه دا آفتونه تير شِي
۲ زه به الله تعالیٰ ته فرياد وکړم-الله
ته چه هرڅه ځما دَپارَ پوره کوِي
۳ دَي به له آسمانه را واستوِي-او ما
له به نجات راکړِي- هغه چه به
ما پسي ګرزِي او تهمت را باندِ لګوِي
- الله به خپله مهربانِي او خپله رښتِني
واستوِي
۴ ځان ځما دَ زمريو په مينځ کښ دَي
-او زه دَ آتش مزاجو سړيو په مينځ
کښ څملم- هو په بنِي آدم کښ چه
غاښونه ئې برچي او غشي دِي-او
ژبه ئې تيره توره ده
۵ اي الله ته په آسمانونو باندِ اوچت
شه- جلال ستا دِ په ټوله زمکه
باندِ وِي
۶ هغو ځما دَ پښو دَپارَ دام ينبي دَي-
ځان ځما کوږ شوي دَي- هغو ځما
په مخ کښ کوهَي وکَنود- په خپله په
کښ پريوتل
۷ ځما زړه ټينګ دَی اي الله ځما زړه
ټينګ دَي- زه به غزل ووايم هو
زه به مدح وغږوم

۸ ويښ شه اي ځما جلالَ ويښ شه
اي ربابَ او ستاره زه به سحر
ويښ شم
۹ اي خداوندَ زه به دَ خلقو په مينځ
کښ ستا مدحه وکړم-زه به دَ قومونو
په مينځ کښ ستا مدحَ ووايم
۱۰ ځکه چه مهربانِي ستا دَ آسمانونو
دَپاسَ لويه ده-او رښتِني ستا تر
اوريځو پورِي
۱۱ اي الله ته په آسمانونو باندِ اوچت
شه-او جلال ستا دِ په ټوله زمکه
دَپاسَ شِي

## ۵۸- مزمور

۱ تاسو په چپ والِي کښ دَ صداقت خبرې
کوئِ څه ؟-اي بنِي آدمو تاسو په
راستِئِ سره عدالت کوئِ څه ؟
۲ هو په زړه کښ بد کارونه کوئِ-او
دَ خپلو لاسونو ظلم په زمکه کښ
تولوئِ
۳ شريران له رحِمَ بيګانه دِي- له
پيدا کيدلو نه ګرزِي او دروغ وايِي
۴ دَ هغو زهر دَ مار دَ زهرو په
شان دِي-او دَ هغه کاڼه منګور
په شان دِي چه خپل غوږ بند
کړِي



۵ چه دَ پاړوګرو آواز نه اورِي-که څِه
لوِي لوي منترونه پرِ پوکي
۶ اي الله ته غاښونه دَ دوي په خُله
کښ مات کړه-اي يهوه دَ زمرو
دَ بچو داړي وباسه
۷ دَ جارِي اوبو په شان دِ وِيلي شِي-
هوکله چه خپل غشِي په ګورت کوِي
- هسي دِ شِي لکه چه پريکړي شوي
وِي
۸ هغوي دِ دَ ګوچِي په شان وِيلي کيږِي
او تيريږِي-دَ ښځي دَ کيدي دَ زيان
په شان چه نمر ئې ليدلي نه وِي
۹ له هغه نه وړاندِ چه ستاسي په
ديګچو پسي په اغزو سره اور بل شِي
- هغه به ئې په بزبوړکِئِ سره يوسِي
شنه او سوزيدونکِي برابر
۱۰ صادق به خوشحال شِي چه بدله
اخستل وينِي- هغه به خپلي پښي
دَ شرير په وينو کښ ووينځِي
۱۱ او سړِي به وايِي چه په حقيقت سره دا دَ
صادقانو سړيو دَپارَ اجر دَي-بِي شکَ
يو الله شته چه په زمکه کښ عدالت کوِي

## ۱۱- ورځ- دَ نمابنام نمونځ

## ۵۹- مزمور

۱ اي ځما الله ما له خپلو دُښمنانو
نه خلاص کړه-له هغو نه مِ سرفراز
کړه چه په دُښمنِئِ را ته پورته کيږِي
۲ له بدفعلانو نه مِ خلاص کړه-او له
خُونيانو سړو نه ما له نجات راکړه
۳ چه ګوره دوي ځما دَ ځان دَپارَ په
پټوني کښ ناست دِي-زور آور
خلق مِ په ضد جمع شوي دِي-نه
ځما دَ ګناه او نه ځما دَ خطا دَپارَ
اي يهوه
۴ بي ځما له قصوره هغوي زغلِي او
ځانونه طيارَوِي- ته ځما دَ مدد دَپارَ
وِيښ شه او نظر وکړه
۵ ته اي يهوه دَ لښکرو الله دَ اسرائيل
الله- دَ ټولو غير قومونو دَ ليدلو دَپارَ
پورته شه-او په هيڅ دغاباز باندِ رحم
مه کوه
۶ هغه نمابنام پسته ځِي او دَ سپي
په شان غاپِي-او په ښهر ګرداګِرد ګرزِي
۷ ګوره چه په خُلو اړومِي کوِي-او په
شونډو کښ ئې تورِي دِي-او وايِي چه
څوک به ئې واورِي
۸ مګر اي يهوه ته به په دوي پورِي
وخاندي-او ټول غير قومونه به
مسخري کړِي
۹ اي ځما قوت په تا صبر کوم-ځکه

چه الله ځما اوچت برج دَي
۱۰ ځما رحیم الله به ځما په مخ کښ
ځي - الله به په هغوي چه ځما په پسُوني
کښ کښیني خپله خوښي به رابښکاره
کړي
۱۱ هغوي مه وژنه هسي نه چه قوم
ځما هیر کړي - مګر په قدرت سره
ئي پراګنده کړه - او هغوي لاندِ وغورزوه
اي خداوندَ ته څمونږ ډال یي
۱۲ دَ هغوي دَ خُلي دَپارَ او دَ هغو
دَ شونډو دَ خبرو دَپارَ - هغوي
دِ په خپلي مغروريِ کښ ونیولي
شِي - دَ لعنت او دَ دروغو چه ئي
وايي
۱۳ فنا کړه په غضب کښ ئي فنا کړه
چه بیا نوي - او دوي دِ وپوهیږي چه
الله په یعقوب کښ بادشاهي کوي
دَ زمکي تر حده پوري
۱۴ نمابنسام دِ وګرزي - او دَ سپي په شان
دِ غاپي - او په ښهر دِ ګرداګرد ګرزي
۱۵ هغه به دَ خوراک دَپارَ وګرزي -
او که ماړه نه شول نو ټوله شپه
به تیره کړي
۱۶ زه به ستا دَ قدرت ثنا ووایم - هو
صبا به زه ستا دَ مهربانيِ مدحَ
وکړم - ځکه چه تهٔ اوچت برج شوي
یي - او پناه ځما دَ تنګسیا په ورځ
کښ
۱۷ اي ځما قوتَ زه به ستا مدحَ وغږوم
الله ځما اوچت برج دَي ځما دَ مهربانيِ الله

## ۶۰- مزمُور

۱ اي الله تا مونږ وغورزولُو - او مات
دِ کړو - ته په قهر شولي - بیا مونږَ
په ځاي کړه
۲ تا زمکه ولړزوله - او سوريُ سوريُ
دِ کړه - ته ئي سوري جوړ کړه - ځکه
چه هغه رپیږي
۳ تا خپلو خلقو ته سختي ښکاره کړه
په مونږ دِ دَ حیرانيِ شراب وڅښول
۴ تا هغو له چه له تا نه ویریږي نښه
ورکړله - چه ښکاره کړي شِي دَ
رښتنيِ له سببَ
۵ چه محبُوب ستا خلاص شِي - په
خپل ښي لاس سره نجات راکړه
او مونږ له ځواب راکړه
۶ الله په خپلي پاکيِ سره وفرمائل زه
به خوشحالَ شم - او سِکَمْ به ووېشم
او خوړ دَ سُکُوتْ به کچ کړم
۷ جلعاد ځما دَي او مَنَسيِ ځما دَي
اِفرائیم هم ځما دَ سر قوت دَي -



یهُودا ځما قانون کونکَي
۸ مُوآب ځما دَ وینځلو لوښي دَي - په
اَدوُم به خپلي څپليِ ورغورزوم
اي فلِسطْ ځما له سببَ ناري ووهه
۹ څوک به ما محکم ښهر ته راولي
او چا زه اَدوُم ته بوتلم
۱۰ اي الله تا مونږ غورزولي نیوځه؟
او نه اي الله څمونږ له لښکرو
سره بهر نه وزي
۱۱ ته دَ دُښمن په مخالف مونږ له مدد
راکړه - ځکه چه دَ انسان نجات
عبث دَي
۱۲ مونږ به دَ الله په مددګاريِ سره
بهادري وکړو - ځکه چه هم دَي به
څمونږ دُښمنان پائمال کړي

## ۶۱- مزمُور

۱ اي الله فریاد ځما واوره - او دُعا م
ونغوږه
۲ چه ځما زړه ډوب شِي نو دَ زمکي
له سرحدَ به زه تا ته فریاد وکړم -
ته مِ هغه ګټ ته چه له ما نه اوچت
دَي بوزه
۳ ځکه چه ته ځما دَپارَ پناه شوي
یي - دَدُښمنانو په مخ کښ مِ یَو محکم
برج یي
۴ زه مدام ستا په خیمه کښ اوسم - ستا
دَ وزرو تر سوري لاندِ به پناه ونسم
۵ ځکه چه تا اي الله ځما نذرواوریده
ما ته دِ دَ خپل نوُم دَ ویریدونکیو میراث
راکه
۶ ته به دَ بادشاه ورځي زیاتي کړي - او
کالونه دَ هغه به تر دومره پیړو پوري
ورولي
۷ هغه به دَ الله په حِضُور کښ تر
ابده پوري ووسي - ته مهرباني او راستي
مقرر کړه چه دَده حفاظت کوي
۸ پس زه به تر ابده ستا دَ نوُم مدحَ
وغږووم - چه ورځ په ورځ به خپل
نذرونه ادا کوم

## ۱۲- ورځ
## دَ سحر نمونځ

## ۶۲- مزمُور

۱ فقط په الله ځما ځان چپ کیږي -
له هغه نه ځما نجات دَي
۲ فقط هغه ځما ګټ او ځما نجات دَي
هغه ځما اوچت برج دَي زه به سخت
لغزش ونه خورم
۳ تاسو به دَ یَوَ سړي په خلاف څو
مده مخالف کیږئِ - چه تاسو هغه
قتل وژنئِ - لکه کوږ دیوال او رپوتونکي

شپول
۴ فقط هغوي مصلحت سره کوي چه
ځونکه ئې له ځپله شوکتَ وغورزوي-
هغوي په دروغو سره خوشحال کيږي-
په خولو سره برکت وايي- مگر په دننه
کښ ئې لعنت دَي
۵ اي ځما ځان فقط په الله چپ کيږه-
ځکه چه ځما اميد په ده دَي
۶ فقط هغه ځما کټ اوځما نجات
دَي- هغه ځما اوچت برج دَي زه به
ونه ښوئيږم
۷ نجات او جلال ځما له الله سره دَي
ځما دَ قوت کټ اوځما پناه په الله
کښ ده
۸ اي خلقو په ده باندِ مدام تکيه
وکړئ- خپل زړه دَده دَ وړاندِ خالي
کړئ- الله ځمونږ دَپارَ پناه دَي
۹ په رښتيا سره کمينه خلق باطل دَي
او عليجاه خلق دروغژن دَي- هغه
به تول په تله کښ سپک وختږي
۱۰ په ظلم تکيه مه کوئ- او په لوټ
فخر مه کوئ- او چه مال موزيات شي
په هغه پوري زړه مه تړئ
۱۱ الله يَو وار وفرمائيل- ما دوه واره
واوريدل- چه قوت له الله نه دَي

۱۲ او مهرباني هم له تا نه ده اي خداونه
ځکه چه هر سړي ته به دَ هغه
دَ عمل په شان بدله ورکړي

## ۶۳- مزمور

۱ اي الله ته ځما الله يي- زه به په
لوې سحر تا ولټوم- ځان ځما ستا
تږي دَي- جسم ځما ستا مشتاق
دَي- په وچه او په تږي زمکه کښ
چه هلته کښ اوبه نه وِي
۲ هم هسي مِ په مقدس کښ وکتل
چه ستا قدرت او جلال وينم
۳ ځکه چه رحمت ستا له ژونده
غوره دَي- شونډي ځما به ستا حمد
ووايي
۴ هم هسي به تر خو پوري چه ژوندَي
يم تا ته به مبارک وايم- ستا په
نامه به لاسُونه پورته کړم
۵ ځان ځما به هم هسي په مغزو او
په وازدو موړ وِي- او خوله ځما به
دَ خوشحالئِ په شونډو ستا حمد
ووايي
۶ هر کله چه زه په خپل کټ باندِ تا
ياد لرم- او په پهرونو دَ شپي کښ
ستا غور کوم
۷ له دي سببَ چه ته ځما مددګار



شوي يي- او ستا دَ وزرو تر سورِي
لاندِي به خوشحالي وکړم
۸ ځما ځان په تا پسي شوي دَي-
ستا ښي لاس ما سنبالوِي
۹ مگر هغه کسان چه ځما دَ ځان
دَ هلاکولو طلبګار دِي- دَ زمکي تل ته
به لار شي
۱۰ هغه به دَ توري قوت ته وسپارلي
شي- او دَ ګيدړو دَپارَ به بخره
شي
۱۱ او بادشاه به له الله نه خوښ شي
هر څوک چه قسم په الله کوي
هغه به فخر وکړي- ليکن دَ دروغژنو
خُلي به بندي شي

## ۶۴- مزمُور

۱ په خپل غم کښ مِ آواز واوره اي
الله- او دَ دُښمن له خوف مِ ژوندَي
وساته
۲ دَ هغو شريرانو له مصلحتَ مِ پټ
کړه- او دَ هغو مفسدانو له مجلس نه
۳ چه خپلي ژبي ئې دَ تورو په شان
تيري کړي- او ترخي خبري لکه دَ
غشي په ګورت کوي
۴ دي دَپارَ چه په پټه سره کامل
سړي وولي- هغه ناګهاني غشي

ولي او نه ويريږي
۵ او په بدي خبري سره خپل ځانونه
مضبوطوِي- او دَ پټو دامونو کيښودلو دَپارَ
خبري کوِي- او وايي چه دوي به څوک ويني
۶ هغوي دَ بدو کارونو تلاش کوي - او
وايي چه مونږ ښه لټول وکړل- او دَهر
يَوه فکر او زړه ژور دَي
۷ مگر الله به ئې ووِلي- او په غشي سره
به ناڅاپه ژوبل کړي شي
۸ او په خپله ژبه به تيندک وخوري-
دَ هغه ژبه په خپله مخالفَ دَه- هر څوک
چه ئې وينِي سرونه به ورته خوځوي
۹ او ټول سړي به وويريږي- او دَ الله
کار به بيان کړي- او دَده کار به په
ښه شان سره وپيژني
۱۰ صادق به په يهوه کښ خوښ شي-
او په ده به تکيه وکړي- او ټول
راست دلان به فخر وکړي

## ۱۲- ورځ
## دَ نمابنام نمونځ
## ۶۵- مزمُور

۱ اي الله ستا دَپارَ په صيون کښ
ثنا غلي ناسته ده- او تا ته به نذر
ادا کړي
۲ يا سَامِعُ الدُّعَاءِ

ټول بشر به تا ته راشي
۳ په ما باندې ګناهونه غالب شول-
زمونږ خطاکارۍ چه دي ته به يې
کفاره ورکړې
۴ مبارک هغه دی چه تا غوره کړ-
او در نزدې دې که- چه ستا په بارګاهو
کښې استوګنه کوي- مونږ به ستا
د کور له نيکۍ نه ماړه شو- هو ستا
د مقدس هيکل
۵ ته مونږ له په صداقت کښې په ويره
سره ځواب راکوې-اې زمونږ د
نجات الله-ته تکيه يې د سرحدونو
د زمکې-او د هغو چه لرې دي په
قعرِ درياب باندې
۶ ته په خپل زور سره غرونه ودروې
ته چه په زور سره ملا تړې
۷ ته د دريابونو غرنبيدل د موجونو
آواز قلاروې-او د خلقو زوږ
۸ هغه هم چه په سرحدونو باندې
اوسي ستا له نښو نه ويريږي-ته
د صبا او د بيګاه وتل خوښوې
۹ ته د زمکې حال ګورې او سيرابې
ورکوې-ته يې ډېر غني کوې-د الله
درياب له اوبو نه ډک دی- ته
خلقو ته غنم ورکوې هر کله چه
ته زمکې تياري کوې
۱۰ د هغو کرونديو ډېرې اوبه کوې-
کيلونه يې هواروې-ته يې په باران
سره نرموې-او زرغونو ته يې برکت ورکوې
۱۱ ته په خپل لطف سره کال ته تاج
ورکوې-او ستا د لارې غوړ والي
حاصليږي
۱۲ د بيابان په څراګاه باندې توييږي-
او غونډۍ په خوښۍ سره ملا تړلې
دي
۱۳ څراګاهونه په رمو سره ملبّس
دي-درې يې له غلو نه پټې شوې
دي-او هغه له خوشحالۍ نه آوازونه
کوي بلکه غزل وايي

## ۶۶- مزمور

۱ اې ټولې زمکې الله ته په خوښۍ
سره ناره وکړه
۲ د ده د نامه د جلال مدح وغږوئ
او وصف د ده لوی کړئ
۳ الله ته ووايئ چه ستا کارونه څومره
هيبتناک دي-ستا د قدرت د
لويۍ نه به ستا دښمنان ستا
تابعدار شي
۴ ټوله زمکه به تا ته سجده وکړي-
او ستا مدح به وغږوي-او ستا



د نامه مدح به وغږوي
۵ راشئ د الله کارونه وګورئ-په بني آدمو
باندې په خپل کار کښې څنګه هيبتناک
دی
۶ ده درياب په وچه بدل که-هغوی
له درياب نه پياده پورې وتل-او
هلته کښې مونږ ټول له ده نه
خوشحاله شولو
۷ دی په خپل قدرت سره ابدي سلطنت
کوي-او سترګې يې په قومونو نظر
کوي-او باغيان دې خپل ځانونه لوی
نه کاندې
۸ اې خلقو زمونږ الله مبارک کړئ-او
د ده د حمد آواز واورئ
۹ چه ځان زمونږ په ژوند کښې لري-
او زمونږ پښو ته لغزش نه ورکوي
۱۰ اې الله دې ديار تا زمونږ ازمايښت
وکه-او کړه دې کړو لکه چه سپين
زر کړه کيږي
۱۱ تا مونږ په دام کښې راوستلو- تا
زمونږ په شا باندې درونه پيټې
ايښې دي
۱۲ او زمونږ په سر باندې دې خلق سواره
کړل- مونږ په اور په اوبو کښې تللي يو-
ليکن تا دولتمند ځاي ته ورسول
۱۳ زه به له سيځونکيو قربانيو سره ستا
په کور کښې داخل شم-خپل نذرونه
به ادا کړم
۱۴ چه ځما شونډو ويلي دي-او ځما
خولې ويلي دي چه زه په تنګدستۍ
کښې وم
۱۵ زه به سيځونکې قربانۍ د څربو څناورو
حلالې کړم-د صبانو له خوشبويۍ سره
سخوندر او سيرلې هم وکړم
۱۶ اې ټولو ويريدونکيو د الله راشئ
او واورئ-چه زه به بيان کړم چه
ده زمونږ د پار څه څه کړي دي
۱۷ ما ده ته په خپلې خولې سره فرياد
وکه-او د ده وصف ځما په ژبه
وشه
۱۸ که زه په خپل زړه کښې بدکارۍ ته
مايل يم- نو خداوند به وانه وريږي
۱۹ ليکن الله په رښتيا سره اوريدلي دي
ځما د دعا آواز يې آوريدلي دي
۲۰ الله دې مبارک وي-چه ځما دعا او خپله
مهرباني يې له ما نه رد نه کړه

## ۶۷- مزمور

۱ الله دې په مونږ فضل وکړي-او مونږ
ته دې برکت راکړي-او خپل مخ دې په
مونږ روښانه کړي

۲ چه لار ستا په زمکه باندِ معلومه
ثِي- نجات ستا په ټول غیر قومونو
باندِ
۳ اي الله امتونه دِ ستا شکر وکړِي-
ټول اُمتونه دِ ستا شکر وکړِي
۴ قومونه دِ خوشحاله ثِي-او خوښي دِ
وکړِي- ځکه چه ته به په راستيِ سره
دَ امتونو عدالت وکړِي-او په زمکه
کښ به قومونو ته هدایت ورکړِي
۵ اي الله اَمتونه دِ ستا شکر وکړِي-
ټول اَمتونه دِ ستا شکر وکړِي
۶ زمکي خپل حاصل پیدا کړِي دَي-الله
هو خموږ الله به موږ له برکت راکړِي
۷ الله به موږ له برکت راکړِي-او ټولي
سرحدونه دَ زمکي به وویرېږي

## ۱۳- ورځ
## دَ سحر نمونځ
### ۶۸-مزمور

۱ الله دِ پورته ثِي-دُښمنان دَده دِ تار
پتار ثِي-هغه چه له ده سره کینه
لرِي دَده له حِضُورَ دِ وتښتي
۲ لکه چه لُوګَي خوریږي-هم هسي
هغوي خواره کړه-او لکه چه موم دَ
اور په مخ کښ وِيلي کیږِي-هسي
دِ شریران دَ الله له مخي نه نابودَ ثِي
۳ مګر صادقان دِ خوشحال ثِي هغوي
دِ دَ الله په مخ کښ خوښي وکړِي-
هو له خوښيِ نه دِ خوشحال ثِي
۴ دَ الله ثنا وغږويِ-دَده دَ نامه مدح
وغږويِ-دَ هغه دَپارَ لارا وچتَ کړِيَ
چه په بیابان کښ سور دَي-نوم دَده
یاهْ دَي-او په حِضور دَده خوښي کويَ
۵ دَ یتیمانُ پلار او دَ کُنډو وکیل
الله دَي په خپل مُقَدَّس مکان
کښ
۶ الله تنها له په ټبر کښ کښینوِي
-او قیدیان په بختوريِ کښ راولِي-
لیکن یاغیان به په وچه زمکه اوسِي
۷ اي الله هغه وقت چه ته دَخپل
امت مخي له ورتلي- چه له بیابانه
تیرېدي
۸ زمکه ولړزیدله-او آسمانونه دَ الله
له حِضُورَ وڅڅیدل-هو دا سِینَا
هم دَ الله په حِضُور چه دَ اسرائیل
الله دَي
۹ اي الله تا په شیبو باران وورواوه
-تا خپل ستومانه شوي میراث قایم
که
۱۰ ستا مخلوق په هغه کښ اوسیدل-
اي الله تا په خپلي ښیګړي سره دَ مسکینانو



دَپارَ تیار که
۱۱ خداوند حکم ورکوِي-دَ زیرِي کونکیو
ښځو لوي ټولَي دَي
۱۲ دَ لښکرو بادشاهان تښتي تښتِي-او
هغه چه په کور کښ ناسته ده لُوټ
ویشِي
۱۳ تاسو ولي په شپلونو کښ څملئِ-لکه
چه دَ کوتري دَ وزرو په شان چه
په سپینو زرو سره پټ شوي وِي
-او بڼري ئي په سرو زرو سره
۱۴ چه قادر مطلق په کښ بادشاهان
تار پتار کړل-نو دَ صَلمُونَ په غره
کښ دَ واوري وریدلو په شان
۱۵ دَ الله غر دَ باشان غر دَي-اوچت
غر دَ باشان غر دَي
۱۶ اي لویو غرونو تاسي ولي په حسد
سره څار کويَ-په هغه غر چه
الله دَ خپل سکونت دَپارَ غوره کړِي
دَي-هو یهوه به تر ابده پورِي په
کښ اوسِي
۱۷ دَ الله کاڼِي شل زره بلکه په
زرګونو زرګونو دِي-خداوند په هغوي
کښ دَی-لکه چه سِینَا په مُقَدَّس
دَي
۱۸ ته په لوړه وختلي-قید دِ قید که-
تا په خلقو کښ بخښیشونه واخستل-
هو په شریرانو کښ یاهْ الله په هغو
کښ اوسِي
۱۹ هو الله چه خموږ نجات دَي —
خداوند دِ مبارک وِي-چه هره ورځ
خموږ بندونه پورته کوِي
۲۰ خموږ الله خلاصونکَي الله دَي-او
دَ مرګ انجام دَ یهوه خداوند په
لاس دَي
۲۱ بلکه الله به دَ خپلو دُښمنانو سر
ووهِي-دَ هغه سرِي سڼره وره کړيَ
چه په ګُناهونو کښ ځِي
۲۲ یهوه وفرمایل چه زه به ئي له باشا نه
بیرته راولم-هو زه به هغوي دَ دریاب
له ژوري نه بیرته راولم
۲۳ تا چه پښي خپلي په وینو ډوبي
کړِي-ستا دَ سپیو ژبي هم ستا له
دُښمنانو حصه ومومِي
۲۴ اي الله هغوي ستا تلل ولیدل-هو
ځما دَ الله ځما دَ بادشاه تلل په
مَقدِس کښ
۲۵ سرود وهونکِي وړاندِ تلل او ساز
وهونکِي وروستو-پیغلي په منځ کښ
چه طَنبَلُونه ئُي وهل
۲۶ تاسو په مجامعو کښ الله مبارک کړئ

- هو يهوه ته تاسو چه دَ اسرائيل
چينه يئ
27 وړوکي بِن يَمِين دَ هغو حاکم دَي -
دَ يَهوُدا سرداران او دَ هغه ټولي
دَ زبولون سرداران دَ نفتالي سرداران
28 ستا الله ستا دَ قوت حکم وکه - اي
الله هغه کار چه تا زمونږ دپاره وکه
قوي ئې کړه
29 ستا دَ هيکل له سببَ چه په
اورشليم کښ دَي - بادشاهان به
ستا حضور ته پېشکشي راوړي
30 ته دَ لوخو وحشي ځناور وټه - دَ
غوايانو ګوهاري سره دَ سخو دَ ټوليو -
هر يو په سپينو زرو سره پېشکشي
ورکوي - هغه قومونه چه په جنګ
خوشحاله کيږي تار بِتار ئې کړه
31 اميران به له مصر نه ووځي - کوش
به زر خپل لاسونه الله ته پورته
کړي
32 اي بادشاهتو دَ زمکي الله ته
سرود وغږوئ - خداوند ته مدح
وغږوئ
33 هغه ته چه له ازلَ په فَلَکُ الافلاک
سور دَي - ګورئ هغه خپل آواز هو
لوي آواز اوروي
34 تاسو دَ قوت نسبت الله ته وکړئ
دَده جلال په اسرائيل باندي دَي
او دَده قوت په اوريځو کښ دَي
35 اي الله ته په خپل مُقَدَّس مکانو
کښ هيبتناک يې - دَ اسرائيل الله
هغه دَي چه زور او قدرت خلقو
ته بخښي - الله مبارک دَي

## ۱۳- ورځ
## دَ نمابنام نمونځ
## ۶۹- مزمُور

1 اي الله ما نجات راکړه - ځکه چه
اوبه مِ تر ځانَ پوري راغلي دي
2 زه په ژوري خټي کښ ډوبېږم چه
هلته ودريده نشته - په ژورو
اوبو کښ راغلي يم چه په طوفان
کښ ئې غرق شوم
3 زه په فرياد کولو سره ستړي شوم
ستوني مِ وچ شه - دَ خپل الله
په انتظار کولو سره په سترګو مِ
دهوند راغي
4 هغوي چه بې سببَ کينه راسره
کوي خما دَ سر له ويښتو نه
زيات دي - او هغوي چه خما هلاکت
غواړي او په ناحقه خما دښمنان دي
زورور دي او هغه څه چه مِ نه



نه وُو بېرته مِ ورکړل
5 اي الله ته خو خما په ناداني خبر يې
- او خما تقصيرونه له تا نه پټ نه دي
6 اي يهوه رَبُّ الافواجه هغه چه ستا
منتظر دي خما په سبب دِ شرمنده
نه شي - اي دَ اسرائيل الله هغه
چه ستا طلب کوي خما په سبب دِ
شرمنده نه شي
7 ځکه چه زه ستا دپاره ملامت کړي
شوي يم - او شرمندګي مِ مخ پټ
کړي دَي
8 زه له خپلو ورونړو نه بېګانه شولم
- او دَ خپلي مور له ځامنو نه پردي
9 ځکه چه زه ستا دَ کور غيرت خوړلي
يم - او دَ هغو ملامتي چه تا ملامتوي
په ما پرېوتلي
10 هرکله چه ما وژړل او ځان مِ
روژتي وه - نو دا هم خما دَ ملامتيا
باعث شه
11 هرکله چه ما دَ ټغرئ جامي جوړي
کړي نو زه هغو ته يو متل جوړ شوم
12 هغه چه په دروازه کښ کښيني خبري
راپوري کوي - او زه دَ نشه کونکو غزل
يم
13 ليکن زه تا ته دُعا کوم اي يهوه دَ
قبليدلو په وقت کښ - اي الله ستا
دَ مهربانئ په لوئي سره - دَ خپل
نجات په رښتيني سره ما له ځواب
راکړه
14 له خټو مِ راوباسه چه ډوب نه شم
- زه له هغو نه چه کينه راسره
کوي - او دَ ژورو اوبو نه دِ بچ کړي شم
15 دَ سيلاب اوبه مِ دِ ونه غرقوي
ژوره مِ دِ ونه نغري - او کوهي دِ
خپله خُله را باندي بنده نه کړي
16 اي يهوه ما له ځواب راکړه ځکه چه
مهرباني ستا ښه دَه - دَ خپلو ډېرو
رحمتونو په موافق خما په لوري متوجه
شه
17 او له خپل بنده نه خپل مخ مه
پټوه - ځکه چه زه په تنګسيا کښ يم
- په جلدئ سره ما له ځواب راکړه
18 ځان ته مِ را نژدي شه - او شفيع ئې
ورکړه - خما له دښمنانو له سببَ مِ
فديه ورکړه
19 ته خما په ملامتيا او خما په رسوائ
او خما په بې عزتي خبر يې - خما
ټول دښمنان ستا په حضور کښ
دي
20 ملامتيا مِ زړه وچاوه - او په بيمارئ

کښې ګرفتار یم- ما وکوت چه څوک
مِ همدردي وکړي هیڅوک نه وه- او
دَ تسلۍ ورکولو دپارَ لیکن بیا مِ
نه مونده
۲۱ هغوي دَ خوراک دَپارَ ترخه راکړل-
او تنده کښې ئې سرکه راباندِ وڅښوله
۲۲ دسترخوان دِ دَ هغو دَ وراندِ دام
شِي- اوچه هغوي سلامتیا کښې وي
نو دام دِ ئې شِي
۲۳ دَ هغو سترګې دِ رندي شِي چه
نه وینيِ- او ملاَ دَ هغو دِ مدام په
لړزه وِي
۲۴ په دوي باندِ خپل غضب را نازل
کړه- او ستا سخت قهر دِ هغوي
لاندِ کړي
۲۵ دَ هغوي محلونه دِ وِیجاړ شِي- دَ
هغو په خیمو کښې دِ هیڅوک ونه
اوسِي
۲۶ ځکه چه هغوي ستا وهلي آزاروِي
ستا دَ ژوبلو غم په خبرو زیاتوِي
۲۷ دَ هغوي ګناهونه په ګناهونو باندِ
زیات کړه- او ستا په صداقت کښې
دِ داخل نه شِي
۲۸ او دَ ژوند له کتابَ دِ محوه شِي-
او په صادقانو کښې دِ ونه لیکلي شِي
۲۹ لیکن زه خو مِسکین او غمګین یم-
اي الله ستا نجات دِ ما سرفراز
کړي
۳۰ زه به دَ الله نوُم په مدحَ سره
وغړوم- او په شکرګذارۍ سره به ئې
تعریف وکړم
۳۱ دا به له غوایه نه په نزد دَ یهوه
غوره کړي- یا له سخوندر نه چه
ښکر او سُم لري
۳۲ عاجزانو لیدلي دي او خوشحالَ دي
- او اي دَ الله طالبانو ستاسو
زړونه دِ ژوندي شِي
۳۳ ځکه چه یهوه دَ مسکینانو اوري
او دَ خپلو قیدیانو بيعزتي نه کوِي
۳۴ آسمانونه او زمکې دِ دَده حمد ووايِ-
دریابونه هم او هر یو ژوندي شَي
چه په هغو کښې دَي
۳۵ الله به صیحون خلاص کړي او دَ یهوُدا
ښهرونه به جوړ کړي- او هغه به
په کښې اوسِي- او وارث به ئې کړي
۳۶ او دَدوي دَ غلامانو اولاد به هم دَ
هغه وارث کړي- او هغه چه دَده په
نوُم مِینه کوِي هغه به په کښې اوسِي

## ۷۰- مزمُور

۱ اي الله ځما دَ خلاصولو دَپارَ جلتي



وکړه- اي یهوه په مددګارۍ ځما
جلتي وکړه
۲ هغوي دِ خجل او شرمنده شِي-
چه ځما ځان لټوِي هغوي دِ بیرته
وګرځولي شِي او بي عزت دِ شِي
چه ځما په نقصان خوشحالیږي
۳ او هغوي دِ بیرته کړي شِي دَ هغوي
دَ شرمندګۍ له سببَ- چه هاها
وايِي
۴ هغه ټول چه ستا طالبان دي
په تا کښې دِ خوښ او خورم وِي- او
هغه چه ستا دَ نجات مشتاق
دِي مدام دِ وايِ- چه الله دِ
لوي کړي شِي
۵ زه مسکین او محتاج یم- اي الله
ځما دَپارَ بیړه وکړه- ځما مددګار
او پناه ته ئې- اي یهوه ته ډیل مه کوه

## ۱۴- ورځ
## دَ سحر نمونځ
## ۷۱- مزمُور

۱ اي یهوه زه په تا توکل کوم-
شرمنده دِ هیڅرې نه شم
۲ په خپل صداقت سره م خلاص
کړه او بچ مِ کړه- ته خپل غوږ
ځما په طرف ټیټ کړه- او نجات
راکړه
۳ ځما دَ استوګنې دَپارَ یوَ محکم ګټ
شه- چه زه مدام هلته ورځم- تا
مِ دَ نجات حکم کړي دَي- ځکه
چه ته ځما ګټ او ځما قلا یې
۴ اي ځما الله ته مِ دَ شریر له
لاسَ بچ کړه- او دَ بد او دَ ظالم
له لاسَ
۵ ځکه چه ته ځما امید یې اي خداوند
یهوه- ته ځما تکیه ئې له هلکتوب
نه
۶ او له رَحِمَ په تا سنبال شوي یم
- او ته هغه یې چه زه دِ دَ مور له
نَسَ راویستلم- مدام به ستا مدحَ کوم
۷ زه دَ ډیرو په نظر کښې تعجب یم-
مګر ته ځما مضبوط پناهګاه یې
۸ ځما خُله به ستا له مدحې ډکه
شِي- او ستا له جلالَ ټوله ورځ
۹ ته مِ دَ زوړوالي په وقت کښې مه
غورزوه- چه ځما قوّت پرِ کمیږي
مه مِ پریږده
۱۰ ځکه چه دُښمنان ځما په باب کښې
خبري کوِي- او هغه چه ځما دَ ځان
په څارلو کښې دِي مصلحت سره
کوي

۱۱ وايي چه دَي الله پرېښي دَي-ورپسې
شئ و يې نسئ- ځکه چه هيڅوک يې
خلاصونکي نشته
۱۲ اي الله له ما نه مه لري کېږه-
اي الله خما دَ کومک دَپارَ بېړه وکړه
۱۳ هغه چه خما دَ ځان دُښمنان دي
شرمنده او فنا دِ شي-او هغه
چه خما ضرر غواړي په رسوائي او
په شرمندګئ دِ پټ شي
۱۴ زه به مدام اميدوار يم-او ستا
مدحَ به ډيره ډيره کوم
۱۵ خُله خما به ستا صداقت بيانوي-
ستا نجات ټوله ورځ-ځکه چه دَ
دغو په حساب نه پوهيږم
۱۶ زه به دَ خداوند الله په قدرت
کښ داخل شم- ستا هو خاص ستا
دَ صداقت ذکر به کوم
۱۷ اي الله له هلکتوبَ دِ خما تربيت
وکه - او لا تر اوسَ پوري زه ستا
عجائبات بيانوَم
۱۸ اي الله چه زه زوړ يم-او وېښته
مِ سپين دِي- مه مِ پرېږده-تاچه
ستا قوّت بلي پيړئ ته ظاهر کړم-
قدرت ستا هر يو ته چه راتلونکي
دَي

۱۹ اي الله ستا صداقت هم ډير اوچت
دَي- چه تا لوي کارونه کړي دِي-
اي الله ستا په شان څوک دَي ؟
۲۰ تا چه مونږ ته دِ ډير او سخت آفتونه
خولي دِي- ته مو بيا ژوندي کړي
-او دَ زمکي له ژوري نه به مو بيا
راپورته کړي
۲۱ لويي خما زياته کړه -او بيا راوګرزه
-او ما له تسلي راکړه
۲۲ زه به په بين باندِ ستا سحَ وکړم
-هو ستا راستي به اي خما الله-
تا له به په بربط باندِ مدحَ وغږوم-
اي دَ اسرائيل قدّوسه
۲۳ چه زه ستا مدحَ غږوم- نو خما
شونډي به له ښادئ ناري وکړي
-او ځان مِ هم چه تا ئې فديه
ورکړي ده
۲۴ ژبه خما به ټوله ورځ ستا دَ صداقت
خبري کوي- ځکه چه هرڅوک چه
خما دَ ضرر غوښتونکي دِي رسوا بلکه
شرمنده شوي دِي

## ۷۲-مزمُور

۱ اي الله ته خپل عدالتونه بادشاه
ته ورکړه-او صداقت خپل دَ بادشاه
ځوي ته



۲ هغه به ستا دَ خلقو په صدق
سره انصاف وکړي-او ستا په
عاجزانو به عدالت
۳ غرونه به دَ خلقو دَپارَ سلامتيا راوړي
-او غونډئ په صداقت کښ
۴ هغه به دَ خلقو دَ مسکينانو
انصاف کوي- دَ محتاجانو ځامنو
له به نجات ورکړي-او ظالمان به
ټکړي ټکړي کړي
۵ تر هغه پوري چه نمر باقي وي له
تا نه به وويريږي-او څو چه سپوږمئ
وي په ټولو پيړو کښ
۶ هغه به داسي راکوز شي-لکه باران
په لوَ کړي شوي زمکه باندِ- لکه
بارانونه چه به زمکه باندِ وريږي
۷ دَده په زمانه کښ به صادقان
تر و تازه وي-او تر هغه پوري
چه سپوږمئ باقي وي ډيري سلامتئ
به وي
۸ له درياب تر درياب پوري به دَده
حکومت جاري وي-او له درياب
تر سرحدَ دَ زمکي پوري
۹ هغوي چه په بيابان کښ اوسي
دَده دَ وړاندِ به ټيټ شي -او
دُښمنان به ئې خاوري ښکل کړي

۱۰ دَ ترسيس او دَ جزيرو بادشاهان به
پيشکشئ ورته راوړي-دَ شبَا او
دَ سَبا بادشاهان به نذراني ادا
کوي
۱۱ هو ټول بادشاهان به ده ته سجده
وکړي- ټول غير قومونه به دَده خدمت
وکړي
۱۲ ځکه چه دَي به محتاج چه فرياد
کوي خلاص کړي-او هغه غريب
چه مددګار ئې نه وي
۱۳ په غريب او محتاج به رحم وکړي-
او دَ خوارانو ځانونو له به نجات
ورکړي
۱۴ دَي به دَ هغو ځانونه ښُفعَ کړي له
فريبَ او له ظلمَ-او دَ هغوي خون
به دَده په نظر کښ قيمت بها وي
۱۵ دَي به ژوندي اوسي- او سره زر
دَ سَبا به ده ته ورکړي شي- سره
به دَده په حق کښ مدام دُعا کوي-
ټوله ورځ به ده ته مبارکئ ورکوي
۱۶ زياتي داني دَ غنمو به وشي په زمکه
کښ دَ غرونو په څوکو کښ- چه
ميوي دَ هغو به دَ لبنان په شان
ښکيږي-او دَ ښهر خلق به ئې دَ
زمکي دَ واښو په شان ترو تازه وي

۱۷ نُوم دَده به تر ابده پورې باقي وِي
-او دَ نمر په شان به ئې نُوم مشهور
وِي- خلق به په ده کښې مبارک
شِي- ټول غير قومونه به ده ته
مبارک وائِي
۱۸ يهوه الله دَ اسرائيل دِ مبارک
شِي- چه فقط عجائب کارونه کوِي
۱۹ او دَ جلال نُوم دَده دِ تر ابده
مبارک وِي- او ټول جهان دِ دَ هغه
په جلال سره ډک شِي-آمين او امين؛

## ۱۴- ورځ
## دَ نمابنام نمونځ
## ۷۳- مزمُور

۱ په تحقيق سره الله دَ اسرائيل
دَپارَ ښه دَي- هو پاک زړونو له
۲ مګر زه چه وم نيږدې مې پښې ښويدلو ته
نژدې دِي- قدمونه مې ښوئيدلو ته
۳ ځکه چه ما له احمقانو سره کينه
کوله- هغه وقت چه ما دَ شريرانو
بخت وليد
۴ چه دَ هغو په مرګ کښې هيڅ سختئ
نشته- مګر قوت دَ هغوي محکم دَي
۵ او دَ نورو سړو په شان دوي په
آفت کښې نه دِي- او نه دَ نورو
خلقو په شان په دوي زحمت ورځي
۶ له دې سببَ مغرورِي دَ طوق په
شان دَ هغه په غاړه باندِ- ظلم دَ
جامې په شان پټ کړې دِي
۷ سترګې ئې له وازدو نه وتلي دِي-
له هغه نه چه زړه ئې غواړي زيات
بيامومِي
۸ دوي مسخرې کوِي او په شرارت
سره دَ ظلم خبرې کوِي- ويل په
مغرورئِ سره کوِي
۹ خولې ئې دَ آسمان دَ الله په لورې
وازې کړې دِي-او ژبې ئې په زمکه
کښې ګرزي
۱۰ دې دَپارَ دَ هغه خلق راګرزي-
دَ اوبو ډکه کاسه دوي خالي کوِي
۱۱ او وائِي چه الله څنګه پوهيږي-
او حق تعالیٰ علم لرِي څه؟
۱۲ ګوره دا شريران دِي- چه مدام په
آرام کښې شوِي دولت ئې زياتيږِي
۱۳ په يقين سره ما خپل زړه عبث
صاف کړې دَي-او لاسونه مې په
پاکئِ سره ووينځل
۱۴ او ټوله ورځ په سختئِ کښې شوم-
او هر صبا عذابيږم
۱۵ او که چرِ زه ووايم چه زه به داسې
بيان وکړم-نو به ستا دَ اولاد له



تولې سره بې وفائي وکړم
۱۶ چه ما دا فکر وکه چه ئې څرنګه
معلوم کړم- نو زه دردمند شوم
۱۷ او تر هغه پورې چه زه دَ الله په
مَقدِس کښې داخل شوم- دَ هغو
په انجام پوه شوي نه وم
۱۸ په يقين سره ته هغوي دَ ښوئيدلو
په ځايونو کښې وردروي- او هلاکت
ته ئې ورغورزوي
۱۹ په يو دم سره څنګه ويران شول-
او هغوي په آفتونو سره فُونا شول
۲۰ لکه له خوبَ چه څوک وِيښ شِي-
هم هسې ته به اي خداوندَ چه ته
وِيښ کيږِي ته به دَ هغو دَ صورتَ
نفرت وکړې
۲۱ ځکه چه ځما زړه خپه شه-او په
خپلو پښتورګو کښې سُورې شوم
۲۲ يو داسې حيوان وم او جاهل-چه
ستا په حِضُور کښې ډنګر وم
۲۳ نو هم زه مدام له تا سره يم- تا
له ښي لاسَ ونيولم
۲۴ او ته به مې په خپل مصلحت سره
هدايت وکړې-او آخر جلال ته
به ما قبول کړې
۲۵ په آسمان باندِمِ بې له تا هيڅوک
نشته-او په زمکه کښې سوا له تا
دَ هيچا مشتاق نه يم
۲۶ بدن او زړه ځما کمزورې کيږِي-ليکن
الله ځما دَ زړه قوت او تر ابده
پورې ځما بخره دَي
۲۷ ګوره هغه چه له تا لرې دِي فنا
به شِي-او تا هغه ټول چه له تا
نه زنا پسې ځي هلاک کړي دِ دِي
۲۸ ځما دَپارَ ښه دِي چه الله ته نژدې
شم- ما يهوه الله خپل پناه جوړ کړ-
چه زه ټول کارونه ستا بيان کړم

## ۷۴- مزمُور

۱ اي الله موږ دِ ولې تر ابده پورې
ترک کړي يُو- ستا دَ چراګاه په رمو
باندِ څله ستا دَ قهر لوګي کيږِي
۲ خپل جماعت ياد کړه چه تا دَ قديمه
پيرودلَي دَي-تا شُفعَ ورکړې دَه چه
دَ خپل ميراث فرقه ئې کړي-او صيون
غر چه ته په کښې اوسيدې
۳ قدمونه واخله ژ ابدِي کنډرو
پورې- ټولې بدئِ چه دُښمن په
مَقدِس کښې کړې دِي
۴ ستا دُښمنانو ستا په جماعت کښې
غوغا وکړه- خپلې نښې ئې دَ نښان
دَپارَ ودرولي دِي

۵ او واسي معلومَ شوه لکه سړي چه
پورته کړي وي- تبر دَ ونو په بنړ بانډِ
۶ او اوس به تول نقش کړي شوي
کار دَ هغه په يو وار- په تبرګونو او
په څټګونو ماتوي
۷ هغوي ستا مَقدِس په اور وسيځه
- او ستا دَ نوم دَ اوسيدلو ځاي
ئي په زمکه ونړاوه پليت ئي کړه
۸ هغو په خپلو زړونو کښ وويل
چه راځئ چه تول سره خراب کړو
- تول جماعتونه دَ الله ئي په زمکه
کښ سيځلي دي
۹ مونږ خپلي نښي نه وينو- نبي هم
باتي نشته- او په مونږ کښ څوک
نشته چه وپوهيږي چه ترکومه
پوري به وي
۱۰ اي الله دُښمن به ترکومه پوري
رسوائي کوي- تر ابده پوري به دُښمن
ستا په نامه کفر وائي څه ؟
۱۱ ته ولي خپل لاس هو خپل ښي لاس
بيرته راکاږي ؟- له خپلي غيږي ئي
راوباسه او فنا ئي کړه
۱۲ نو هم الله له قديمه څما بادشاه دَي
- چه دَ زمکي په منځ دَ نجات کار کوي
۱۳ تا په خپل قدرت سره درياب وڅيره
- او دَ نهنګانو ګټري دِ په اوبو کښ
ماتي کړي
۱۴ دَ لويټانو سرونه دِ ټکړي ټکړي کړل
- تا دَ خوړلو دَپاره ورکړل هغه قوم
له چه بيابان کښ اوسي
۱۵ او چيني او سيلابونه دِ څيري کړل
- جاري دريابونه دِ وچ کړل
۱۶ ورځ ستا ده او شپه هم ستا ده
- نُور او نمر تاجوړ کړي دي
۱۷ تول حدونه دَ زمکي دِ مقرر کړل
- ووړي او ژمي تاجوړ کړي دي
۱۸ اي يهوه دا ياد کړه چه دُښمن رسوائي
کړي دَه- او احمق قوم ستا په نُوم
کفر ويلي دَي
۱۹ ته دَ خپلي قُمري ځان ځنګلي ځناور
ته مه سپاره- دَ خپلو عاجزانو
ژوندون تر ابده پوري مه هيروه
۲۰ وعدي ته نظر وکړه- ځکه چه
تياره ځايونه دَ زمکي دَ ظلم دَاستوګني
نه ډک دي
۲۱ مظلوم دِ شرمنده نه ګرزي-
عاجزان او محتاجان دِ ستا دَ نامه
مدح وکړي
۲۲ پورته شه اي الله خپله مقدمه
وکړه- ياد کړه چه احمق تا له تول



ورځ رسوائي کوي
۲۳ دَ خپلو دُښمنانو آواز مه هيروه-
دَ فتني پورته کوليو غوغا چه مدام په تا
پورته کيږي

## ۱۵- ورځ
## دَ سحر نمونځ
## ۷۵- مزمُور

۱ اي الله مونږ ستا شکر کوو- مونږ
شکر کوُو ځکه چه ستا نوُم نزدي
دَي- سړي تول عجائبات ستا هم
هسي بيانوي
۲ او هر کله چه زه وقت مقرر کړم-
نو په راستيِ سره به عدالت کوم
۳ زمکه او تول اوسيدونکي ئي ويلي
شول- ما دَ هغو ستني ودرولي دي
۴ ما کبرجنو ته وويل چه کبر مه کوئ
- او شريرانو ته چه ښکر مه پورته کوئ
۵ خپل ښکر مه پورته کوئ- په ګردن کشئ
سره خبري مه کوئ
۶ ځکه چه نه له نمرخاته نه له نمرپريواته
نه- او نه له سُهَيله سرفرازي
راځيږي
۷ بلکه الله منصف دَي- يو کوزوي او
بل هسکوي
۸ ځکه چه دَ يهوه په لاس کښ کاسه
دَه او شراب ئي خميره کيږي- له نشي نه
ډکه دَه او له دي نه ئي وزتوي -
ليکن تول شريران دَ زمکي به دَ هغي
خيري نچوړ کړي او وبه ئي څښي
۹ مګر زه به ئي تر ابده پوري بيان کړم
او دَ يعقوب دَ الله مدحه به وغږوم
۱۰ تول ښکرونه دَ شريرانو به مات کړم
- او دَ صادقانو ښکرونه به پورته کړي
شي

## ۷۶- مزمُور

۱ الله په يهودا کښ مشهور دَي- نوُم
ئي په اسرائيل کښ بزرګ دَي
۲ او خېړ ئي په شالم کښ دَي - او
استوګنه ئي په صيحون کښ ده
۳ ده هلته غشي دَ ليندو مات کړل-
ډال او توُره او جنګ
۴ ته حَسِين او ذوالجَلال يي دَ ښکار
له غرونو نه
۵ دلاور لوټ شوي دي هغوي ووده
شول- او تولو قوتناکو سړيو خپل
لاسونه نه موندل
۶ هواي دَ يعقوب الله ستا په ترټلو
باندِ- ګاډي او سور دَ غفلت په
خوب کښ واچولَي شول
۷ ته خاص ته دهشتناک يي- څوک

ستا په حِضُور کښ وودريدلي شي
چه ته خپه يي
۸ تا له آسمانه حکم واوراوه-اوزمکه
وويريده او چپ شوله
۹ چه الله عدالت له پورته شه-تو
نجات ورکړلو دپارَ دَ زمکي غريبانو ته
۱۰ ځکه چه غُصه دَ انسان به ستا
تعريف وکړي-او باقِي غضبونه به ته
منعَ کړي
۱۱ قسم وکړه او يهوه خپل الله ته يَ
اداکړه- ټول دَده کيرچاپير دِي هغه
له چه هيبتناک دَي پيشکشئ دِ راوړي
۱۲ دَي به دَ اميرانو روح پريکړي-اودَ
زمکي بادشاهانو ته هيبتناک دَي

## ۷۷-مزمُور

۱ زه به الله ته په خپل آواز سره
ناره وکړم- هو په خپل آواز سره
الله ته او هغه به غوږ راته ونسِي
۲ زه دَ تنگدستئ په ورځ کښ به
خداوند لټوم-لاس مِ په شپه
کښ ور وغزول او سُست نه شول
-ځان مِ له تسلئ موندلو نه انکار
وکه
۳ الله يادوم او بي آرام يم- زه ناري
کوم او روح مِ غمناک دَي
۴ ته ځما سترگي بيداري لري- زه
داسي حيران يم چه خبري کولي نه شِم
۵ ما دَ پخوانيو ورځو فکرونه-دَ ورانِئ
زمانِي کالو نه
۶ غزل خپل به شپه کښ يادَوم-
په خپل زړه کښ فکر کوم-او روح
مِ ډير تلاش وکه
۷ چه خداوند به مِ تر ابده پوري
ترک لرِي څه ؟-بيا به هيچري را نه
راضي نه شِي څه ؟
۸ مهربانِي دَده تر ابده ورکه شوه
څه ؟-دَده وعدي تر ابده پوري
نااميدي شه ؟
۹ الله خپل فضل هير کړ څه ؟-
هغه خپل رحمتونه په قهر بند
کړل څه ؟
۱۰ ما ووِ دا ځما ناتوانِئ-دا تغيرِ دَ الله
تعالیٰ دَ ښي لاس دَي
۱۱ زهِ به دَ يهوه کارونه بيان کړم -
ځکه چه زهِ به ستا قديمِي عجائبات
ياد کړم
۱۲ زه به ستا دَ هرکار تذکره وکړم-
او ستا په کارونو به فکر وکړم
۱۳ اي الله ستا لار په مقدس کښ
دَه-کوم الله لوي دَي لکه چه الله



۱۴ ته هو ته هغه الله يي چه عجائب
کارونه کوي- دَ قومونو په مينځ کښ
دِ خپل زور ظاهر کړ
۱۵ تا په خپل بازو سره خپل قوم
شُفعَ کړ- دَ يعقوب او دَ يُوسف
ځامن
۱۶ اي الله تَه اوبو وليدي-ته اوبو
وليدي وويريدلي-او ژوري ولړزيدلي
۱۷ اوريځو اوبه توي کړلي-آسمانونه وغريدل
-او له ځلورو طرفو نه ستا غشِي
لاړل
۱۸ ستا دَ رعد آواز په بوربوکِئ کښ
وه- بريښنا دِ جهان رڼا که- زمکه
ولړزيده او وريپيده
۱۹ ستا لار په درياب کښ وه-اوستا
تلل په ډيرو اوبو کښ-او ستا
دَ قدمونو پل معلوم نه وه
۲۰ تا دَ خپل قوم دَ رمي په شان
رهنمائِي وکړه- دَ موسیٰ او دَ هارون
له لاسَ

## ۱۵- ورځ
## دَ نماښام نمونځ
## ۷۸-مزمُور

۱ اي ځما اُمَتَ توريت ځما واوريُ-
ځما دَ خولي خبرو ته غوږ کيږدئِ
۲ زهِ به په يو متل خوله پرانزم- دَ
قديمِي راز خبري بيان کوم
۳ چه مونږ آوريدلِي دِي-او پيژندلِي دِي
-او ځمونږ پلرونو او نيکونو هم راته
بيان کړي دِي
۴ دَدوي له اولادَ به ئي پټ نه کړو-
بلکه راتلونکِي پُښت ته به دَ يهود مدحي
بيان کړو-او دَده قوت او دَده عجائب
کارونه چه ده وکړل
۵ ځکه چه ده په يعقوب کښ يوه
وعده قائمه کړه- په اسرائيل کښ
ئي تورنت مقرر کړ-چه ئي ځمونږ
پلرونو ته وفرمائيل- چه دوي ئي
خپلو ځامنو ته وښيِي
۶ دي دَپارَ چه راتلونکي زمانه هوهغه
ځامن چه پيدا شِي زده ئي کړي-
چه پورته شِي او خپل اولاد ته
ئي بيان کړِي
۷ تا چه هغوي په الله باندِ اميد وکړي
-او دَ الله کارونه هير نه کړي- بلکه
دَده حکمونه وساتِي
۸ او دَ خپلو پلرونو په شان نه شِي
باغِي او سرکښه پيړئِ- چه خپل
زړونه ئي تيار نه کړل-او دَ هغو
روحونه الله سره ټينگ نه شول

۹ دَ اِفرائیمؔ اولاد وسلې وتړلي او لیندۍ
يُ واخستلې - دَ جنګ په ورځ پسته
وتښتیدل
۱۰ دَ الله وعدې يُ و نه ساتلې - بلکه
دَده دَ توریت په تلو نه يُ انکار
وکه
۱۱ او دَده کارونه يُ هیر کړل - او دَده
عجائب کارونه چه په دوي يُ ظاهر
کړل
۱۲ دَ دوي دَ پلرونو او دَ نیکونو په مخامخ
يُ عجائب کارونه وکړل - دَ مصر په
زمکه کښ دَ صُعَنِ په میدان کښ
۱۳ ده دریاب څیرې که - او هغوي يُ
پورې کړل - او اوبه يُ دَ ډیرۍ په شان
ودرولي
۱۴ دَ ورځي په وقت يُ په اوریځي سره
لار ښوَوله - او ټوله شپه يُ دَ اور
په رڼړا
۱۵ په بیابان کښ يُ ګټه وڅیرله -
په دوي يُ وڅښولي لکه دَ ژورې -
۱۶ له ګټ نه يُ سیلاب راوویست -
او دَ والو په شان يُ اوبه وبهَولي
۱۷ هغوي خپله خطا په دې بانډِ زیاته
کړه - دَ سرکشۍِ کولو په سبب مخالف
دَ حق تعالیٰ په بیابان کښ

۱۸ او په خپلو زړونو کښ يُ دَ الله
ازمایښت وکه - دَ ډوډۍِ په غوښتلو
دَ خپل نفس دَ پارَ
۱۹ هغوي دَ خپل الله په خلاف خبرې
وکړي - و يُ ویل چه الله په بیابان
کښ دسترخوان تیارولي شي څه ؟
۲۰ ګوره ده ګټ داسې وواهه چه اوبه
ورنه را ووتلي - او ولي و بهیدلي -
دَي ډوډۍ هم راکولي شي څه ؟ - او
دَ خپل قوم دَ پارَ به غوښې تیارې کړي
څه ؟
۲۱ پس دا یهوه واوریدل - او په قهر
شه - او په یعقوب بانډِ اور بل شه
- او هم په اسرائیل يُ قهر پورته
شه
۲۲ ځکه چه هغويَ په الله یقین و
نه که - او دَده په نجات يُ تکیه
و نه کړه
۲۳ نو ده هم پورته اوریځي نه حکم
وکه - او دروازې دَ آسمان يُ لرې
کړي
۲۴ او په هغوي يُ مَن ووراوه چه
و يُ خوري - او هغو ته يُ آسماني
غله ورکړه
۲۵ سړو دَ زوراورو ډوډۍ وخوړه -



او دومره توښه يُ ورواستوله چه
پړ ماړه شول
۲۶ او له آسمانه يُ مشرقي باد راوالوزاوه
- او په قوت سره يُ جنوبي باد
راوست
۲۷ او دَ خاورو په شان يُ غوښې
ووروولې - او ددریاب دَ شګو په
شان يُ اَلوتونکي مرغان
۲۸ او دَ هغوي دَ ډیرو په منځ کښ
يُ را وغورزول - دَ هغوي دَ استوګنې
په ځاي يُ ګیرچاپیر
۲۹ نو و يُ خوړل او ښه ماړه شول - او هغه
شَي يُ وله ورکه چه پرِ بانډِ مست
شول
۳۰ دوي له خپلې مستۍ نه په ډډه نه
شول - لیکن هغه وقت چه خوراک
يُ هم لا تر اوسه په خولو کښ وه
۳۱ غضب دَ الله په هغو پورته شه -
او غټان دَ هغوي يُ قتل کړل -
او دَ اسرائیل ځوانان يُ ووهل
۳۲ او سره له دې يُ هم بیا زیاته خطا
وکړه - او دَده په عجائبو قدرتونو
يُ باور و نه کړ
۳۳ نو ده دَ هغو ورځي په عبثو سره
تیرې کړي - او دَ هغوي کلُونه يُ په

پریشانۍ
۳۴ چه دوي يُ قتل کول - نو پس له
هغه يُ طلب وکه - او را وګرزیدلي
او وختي يُ دَ الله تلاش وکه
۳۵ او یاد يُ که چه الله دَ هغوي ګټ
دَي - او حق تعالیٰ دَ هغوي شفیع دَي
۳۶ لیکن په خولو سره يُ دَده خوشامند
کوله - او په ژبو سره يُ ده ته دروغ
ویل
۳۷ ځکه چه له ده سره يُ زړونه راست
نه وُو - او دَده په وعده کښ وفادار
نه وُو
۳۸ مګر دَي رحیم شوَي دَ هغو ګناهونه
يُ مُعاف کړل او هلاک يُ نه کړل - هو
ده څو واره خپل قهر را وګرزاوه -
و ټول غضب خپل يُ و نه خوځاوه
۳۹ ځکه چه ده یاد کړل چه دوي بشر
دي - یَو تلونکي باد دَي چه بیا بیرته
نه راځي
۴۰ دوي څو واره په بیابان کښ یاغي
شول - او په صحرا کښ يُ په غضب
که
۴۱ بلکه وګرزیدل او بیا يُ الله وآزمایه
- او دَ اسرائیل قدُوس يُ غمګین که
۴۲ دَده لاس يُ یاد نه کړ - نه هغه

ورځي چه دوي له ئي له دُښمن فديه
ورکړه
۴۳ چه ده په مصر کښ ښنکه خپله
ښنبه ودروله -او دَ صُعَن په میدان
ئي خپل عجائب کارونه
۴۴ چه دَ هغوي دریاب ئي په وينو بدل
که -او دَ هغوي ولي چه ئي ښبلَي
نه شوي
۴۵ او غوبارِي ئي په هغو کښ ورواستول
چه هغه ئي وخوړل-اوهم چِندخي
چه هغه ئي خراب کړل
۴۶ او دَ هغو حاصل ئي پیشیتو ته ورکه
-او دَ هغوي مَشَقَتُونه ئي ملخ ته
۴۷ تاکونه ئي په ږلئِ ووهل-اودَ انځیرو
وني ئي په چَنئِ
۴۸ او چارپایان دَ هغوي ږلئِ ته و
سپارل-اورمي ئي تَندَر ته
۴۹ دَ خپل غضب سختيُ ئي په هغو
باندِ واچوله-قهر او غُصه اوعذاب
-دَ بديُ دَ فرښتو ټولَي
۵۰ او دَ خپل قهر لار ئي جوړه کړه-دَ
هغو ځان ئي له مرګ ونه ساته-
بلکه دَ هغو ژوندون ئي وبا ته
و سپاره
۵۱ او په مصرکښ ئي ټول مشران وړنبي پیدا شوي
هلاک کړل-او دَ هغو قوّت دَ حام
په خیمو کښ
۵۲ مګر خپل قوم ئي دَ رمي په شان
بوته-او هغوي ته ئي دَ کلي په شان
په بیابان کښ لار وښووله
۵۳ او په امن سره ئي بوتلل چه
ونه ویریدل-مګر دریاب دَ هغو
دُښمنان ډُوب کړل
۵۴ او دوي ئي دَ خپل مَقدِس په حد
کښ راوستل-دي غره ته چه دَده
ښي لاس حاصل کړي دَي
۵۵ غیر قومونه ئي هم دَدوي له مخه
وشړل-او دَ هغو میراث ئي په رسۍ
سره په جریب ووېشه- او قرقي
دَ بنِي اسرائیلوئ په خپلو خیمو کښ
ووسولي
۵۶ تا هم وئي آزمایه او یاغِي شول له
الله حق تعالیٰ نه -اودَده شاهدي
ئي ونه ساتلي
۵۷ بلکه وګرزیدل اودَ خپلو پلرونو
او نیکونو په شان ئي بي وفائِ وکړه
او دَ کږِي لیندي په شان ښنکَړن
شول
۵۸ او دَخپلو اوچتو ځایونو په سبب
ئي غضبناک که-او په خپلو تراشلو



بُتانو ئي په غیرت که
۵۹ الله چه دا واوریدل نو په غُصه
شه-او له اسرائیلو ئي ډیر نفرت
وکه
۶۰ ځوچه دَ شِیلو مَسکن ئي ترک
که- هغه تمبو چه خلقو کښ ئي
ودرولَي وه
۶۱ او خپل قوّت ئي په بند ورکه-
او خپل حشمت ئي دَدُښمن په لاس
۶۲ خپل قوم ئي تُورو ته وسپاره-
او په خپل میراث غضبناک شه
۶۳ دَ هغو ځوانان ئي په اور وسیځل
او دَ هغوي په پیغلو دَ واده غزل
نه وه
۶۴ کوهینان ئي په تُوره پریوتل-او
کونډو ئي ویر ونه که
۶۵ پس خداوند وِیښ شه لکه له خوبَ
-دَ جبّار په شان چه دَ شرابو له
سببَ غوغا کوي
۶۶ نو ده دَخپلو دُښمنانو په شان
ووهل-او همیشه رسوائي ئي ورکړه
۶۷ او دَ یُوسف خیمه ئي ترکه کړله-
او دَ اِفرَائِیمْ فرقه ئي غوره نه کړه
۶۸ مګر دَ یَهُودَا فرقه ئي غوره کړه-دَ
صیحون غر چه دَي پرِ مَیَن وه
۶۹ اوخپل مَقدِس ئي دَ اوچت ځایونو
په شان جوړ کړ-لکه دَ زمکي چه تر
ابده پوري ئي قائمه کړي ده
۷۰ او بنده خپل داؤد ئي غوره که-
او دَ ګډو له شپلونو ئي راوِنیو
۷۱ دَ لنګو ګډو دَ ورستو تللو نه ئي
راوستل-یعقوب دَ خپل قوم دَ
څرِ‌ولو دَپارَ او دَ اسرائیل خپل میراث
۷۲ ده دَخپل زړه دَ راستيِ سره هغه
وڅرَول-او دَ خپلو لاسو له حکمت
سره ئي هغو ته رهنمائِي وکړه

## ۱۶- ورځ
## دَ سحر نمونځ
### ۷۹- مزمُور

۱ اي الله غیر قومونه ستا په میراث
کښ داخل شول- ستا مُقَدَّس
هیکل ئي نجس که-او اورشلیم ئي
ډیرَي ډیرَي که
۲ ستا دَ بندګانو لاشونه ئي دَ آسماني
مَرغانو خوراک کړل- ستا دَ تقویٰدارانو
غوښي ئي دَ زمکي دَ وحشیانو
۳ دَ هغوي وِيني ئي دَ اورشلیمَ ګیرچاپیر
دَ اوبو په شان توي کړلي - او
هیڅوک ئي ښخونکي نه وُو
۴ مونږ په خپلو ګاونډیانو کښ رسوا

شُوُو- هغو ته چه را نه چاپېر دِي
مسخره اوخندا شُوُو
۵ اي يهوه ته به تر کومه پوري غضبناک
بي تر ابده پوري څه ؟-ستا غيرت
به دَ اور په شان سوځي څه ؟
۶ په هغو غيرو قومونو چه تا نه پېژني
خپل قهر نازل کړه-او په هغو
ملکونو باندِ چه نُوم ستا نه اخلي
۷ ځکه چه هغو يعقوب ونغړد-او
دَ ده استوګنه ئي خرابه کړه
۸ خمونږ دَ پلرونو نيکونو بدکارئِ په
مونږ باندِ مه يادوه-خپل رحمتونه
مونږ ته زر راورانبي کړه-ځکه چه
ډېر کوز شوِي يُو
۹ اي خمونږ دَ نجات الله خمونږ مدد
وکړه دَ خپل نُوم دَ جلال دَپارَ-اوخلاص
موکړه او کفاره ورکړه خمونږ دَ خطا
له سببَ ستا دَ نُوم دَپارَ
۱۰ ولي دِ غير قومونه وايي چه دَ هغوي
الله چرته دَي-دَ خپلو بندګانو دَ
بهيدلو وِينو قصاص دَ غير قومونو
په مخ کښ خمونږ په نظر کښ دِ
معلوم شي
۱۱ ستا په مخ کښ دِ دَ قيدي اسويلي
درشي-او په خپل لوي قدرت سره
هغه چه دَ مرګ دَپارَ مقرر شوِي
دِي وئي ساته
۱۲ خمونږ ګوانډيانُ له اوو واره دَ
هغو په غيږ کښ ور وګرزوه — دَ
هغوي رسوائي چه هغوي تا له
اي خداوندَ رسوا کړي دَي
۱۳ نو مونږ چه ستا قوم او ستا دَ
څراګاه رمي- تر ابده پوري به ستا
شکر کوُو-او پُښت په پُښت به
ستا مدحه ظاهروُو

## ۸۰- مزمُور

۱ اي شپونه دَ اسرائيلو غوږ ونسه
-چه ته يُوسف دَګلي په شان
بيايي- ته چه په کروبيمو باندِ کښيني
روښانه شه
۲ او دَ اِفرائيمَ او دَ بِنيامِين او دَ
مَنَسّي په مخ کښ خپل قوّت وخوځوه
-او خمونږ دَ نجات دَپارَ راشه
۳ اي الله مونږ را وګرزوه-او خپل
مخ روښانه کړه نو مونږ به نجات
بيامُومُو
۴ اي يهوه دَ لښکرو الله-تر کومه
پوري به دَ خپل قوم په دُعا غضبناک
بي
۵ ته په هغو دَ اوښکو خوراک وخوره



-او دَ اوښکو ډک اوبِږي پرِ وڅښوه
۶ ته مونږ له دَ جګړي سبب ګرزوي
خمونږ ګوانډيانو ته-او خمونږ دُښمنان
په خپل منځ کښ خندا کوي
۷ اي دَ لښکرو الله مونږ را وګرزوه-او
خپل مخ روښانه کړه نو مونږ به نجات
بيامومو
۸ تا له مصر نه يو تاک را وويست
-او غير قومونه دِ خارج کړل هم هغه
دِ نهال که
۹ او دَ هغه دَ وړاندِ دِ ځاي تيار که
او دَ هغه ولي دِ په کښ مضبوطي کړي
بيا زمکه ئي ډکه کړه
۱۰ او دَ هغه په سوري غرونه پټ شول
او دَ هغه ښاخونه دَ الله دَ نښتر
په شان وُو
۱۱ هغه خپلي څانګي تر درياب پوري
وغوړولي-او ولي ئي تر سيند پوري
۱۲ بس تا دَ هغو شپلونه ولي ونړول
چه په لاري تيريدونکي ئي شوکوي
۱۳ دَ ځنګل سرکوزي ئي خرابوي-اودَ
صحرا وحشيان ئي خوري
۱۴ اي دَ لښکرو الله را وګرزه مونږ
تا ته زاري کوُو-له آسمانونو نه نګاه
وکړه او وګوره او دي تاک ته نظر
وکړه
۱۵ او هغه تنه چه ستا ښي لاس نهال
کړه-او هغه ښاخ چه دَخپل ځان
دَپارَ دِ مضبوط که
۱۶ هغه په اور سوَي دَي هغه پرېکړي
دَي-هغه ستا دَ څهري له دهښته
هلاکيږي
۱۷ ستا لاس دِ ستا دَ ښي لاس په
سړِي باندِ وِي-په بَني آدم باندِ چه
تا دَخپل ځان دَپارَ مضبوط کړي دَي
۱۸ مونږ به له تا نه ونه ګرزو-مونږ
ژوندي کړه او مونږ به ستا نُوم
ياد کړو
۱۹ اي يهوه دَ لښکرو الله مونږ بيرته
را وګرزوه-خپل مخ روښانه کړه چه
مونږ به نجات بيامومو

## ۸۱- مزمُور

۱ خمونږ دَ قوّت الله ته سرود وغږوئِ
دَ يعقوب الله ته ناري وکړئِ
۲ مدحه راواخلئِ او طَبَل وغږوئِ
-خوش آوازي دَ سِتار له سرِندي
سره
۳ او دَ نوي مياشتي تُوري وغږوئِ-
په پوره مياشت خمونږ دَ اختر په
ورځ باندِ

۴ ځکه چه دا دَ اسراءيل حکم دَي-
اودَ يعقوب دَ الله عدالت
۵ هم دغه يُ په يُوسف دَ ګواهئِ دَپارَ
مقرّر کړل- چه دَ مصر په زمکې
بهر ووت- هلته مِ ژبه واريدۀ چه
زه پرِ نه پوهيدلم
۶ ما دَ هغه اوږه له بارَ آزاده کړه
-لاسونه يُ له ټوکرئِ نه خلاص
شول
۷ تا په تنګدستئِ کښں فرياد وکه او
ما خلاص کړې- او له ګړيدلو له
پردی نه مِ ځواب درکه- دَ مريبا په
اوبو مِ ته وآزمايلې
۸ اي ځما خلقو واورئِ- اوزه به په
تاسو ګواهي ولم- اي اسرائيلو که چرِ
تاسو ځما اورئِ
۹ پردي خداي به په تا کښں نه وِي-
او پردي الله ته سجده مه کوئِ
۱۰ زه يهوه ستا الله يم- ته مِ دَ
مصر له زمکې بهر راويستلې- خپله
خله وازه کړه زه به يې ډکه کړم
۱۱ ليکن ځما خلقو ځما آواز وانه وريدۀ
او اسرائيل زه قبول نه کړم
۱۲ نو ما هم هغه دَ خپلو زړونو سختو
ته پرېښول - او دوي دِ په خپلو
مصلحتونو کښں لاړ شي
۱۳ کاشکې چه ځما خلقو ځما اوريدلي
وَي- او اسرائيل ځما په لارو تللي
وَي
۱۴ نو ما به زر دَدوي دُښمنان ذليل
کړي وُو- او دَدوي په غَليمانو به مِ
خپل لاس تير کړي وُو
۱۵ کينه لرونکي دَ يهوه به خپل ځان
تابعدار کړي- مګر دَ هغوي وقت
به تر ابده پوري وِي
۱۶ او دِير ښه غنم به مِ پرِ خوړول-
له ګټ نه به مِ په شاتو مړول

## ۱۶- ورځ
## دَ نمابنام نمونځ
### ۸۲- مزمور

۱ الله دَ الله په جماعت کښں ولاړ
دي- دَ خدايانو په منځ کښں الله
عدالت کوي
۲ تاسو به ترکومه پوري په بې‌انصافئِ
سره عدالت کوئِ- او دَ شريرانو
طرفداري به کوئِ
۳ دَ مسکينانو او دَ يتيمانو انصاف
کوئِ- دَ ضعيفانو او دَ حاجتمندانو
عدالت کوئِ
۴ کمزورو او حاجتمندو لره خلاص



کړئِ- دَ شريرانو له لاسونو يُ خلاص
کړئِ
۵ هغه نه پوهيږي او فهم نه کوي- او
په تياره کښں ګرځي- ټول بُنيادونه
دَ زمکې خوځيږي
۶ ماخو وو چه تاسو خدايان يئِ- او
تاسو ټول دَ حق تعالیٰ فرزندان يئِ
۷ ليکن دَ بني‌آدم په شان به مړه
شئِ- او په مثل دَ يوه دَ سردارانو
به پريوزئِ
۸ اي الله پورته شه دَ زمکې عدالت
کوه- ځکه چه ته به دَ ټولو غير
قومونو ميراث واخلې

### ۸۳- مزمور

۱ اي الله ته مه چپ کيږه- خاموشه
مه اوسه- او سکُوت مه کوه اي
الله
۲ ځکه ګوره چه دُښمنان ستا غوغا
پورته کوي- او هغه چه تا سره
کينه کوي سري پورته کړي دي
۳ ستا دَ خلقو په برخلاف مصلحت
سره کوي- او ستا دَ پټو شويو په
خلاف سره خبري کوي
۴ نو وئي ويل راشئِ هغه پرې کړو
چه قوم نه شي- بيا دَ اسرائيل نوم
په ذکر کښں رانه شي
۵ ځکه چه ټولو په زړه سره مصلحت
وکه- او ستا په برخلاف وعدي
جوړوي
۶ خيمه دَ ادُوم او اسمٰعيليانو- مُوآب
او هاجريانو
۷ جبال او عمُون او عماليق- فلسطِ
سره دَ اوسيدونکيو دَ صُور
۸ اسُور هم ورسره شامل دَي- دَ
لوط دَ اولاد مددګار شول
۹ ته ورسره وکړه لکه چه له مديانيانو
سره- لکه چه سيسرا سره لکه يابين
سره دَ قيشُون په درياب باندِ
۱۰ چه په عين دُور کښں هلاک شول-
او دَ زمکې دَپارَ سره شول
۱۱ دَ هغو سرداران وکړه په مثل دَ
عُوريب او ذئيب- بلکه دَ هغو ټول
سرداران دَ ذيبه او دَ ضلمنع
۱۲ چه وئي ويل چه راشئِ ځان په
وراثت ونيسو- دَ الله چراګاه
۱۳ اي ځما الله هغوي دَ بَربُوکَي دَ ګرد
په شان کړه- دَ بُوسو په شان
چه دَ باد دَ وړاندِ دي.
۱۴ لکه اور چه ځنګل سيځي- يا لکه لمبه
چه غرونه لمبه کوي

۱۵ هم هسې ته هغوي په خپلو سیلیو
سره وشړه - او په خپل طوفان
سره ئې وویروه
۱۶ دَ هغوي خُلې له رسوائۍ نه ډکې
کړه - تا چه هغوي اي یهوه ستا
دَ نُوم طالبان شي
۱۷ تر ابده پورې دِ شرمنده او پریشانه
شي - هغوي دِ رسوا او فنا شي
۱۸ ودِ پوهیږي چه نُوم ستا یهوه
دَی - فقط ته په ټوله زمکه باندې
حق تعالیٰ یې

## ۸۴- مزمور

۱ ستا مسکنونه څنګه دلکش دي -
اي دَ لښکرو یهوه
۲ ځان ځما دَ یهوه دَ بارګاهو مشتاق
بلکه بېخوده دَی - زړه او جسم ځما
اِلٰهُ الحَيّ ته ناري وهي
۳ چنړچنړي خپل کور ومونده - او ابابیل
هم جاله دَ خپل ځان دَپارَ چه په
هغو کښ خپل بچي اچوي - ستا
مذبحونه اي دَ لښکرو یهوه - ځما
بادشاه او ځما الله
۴ مبارک دي هغه سړي چه ستا
په کور کښ اوسي - هغوي به مدام
ستا حمد وائي
۵ مبارک دَي هغه سړي چه قوت
ئې په تا کښ دَي - په زړه کښ ئې
ستا لارې دي (صیحون ته)
۶ هغوي دَ ژړا په خوړ کښ تیریږي
او چینې ځاي جوړوي - هو باران
ئې پټوي په برکتونو سره
۷ هغوي له قوت تر قوت پورې ځي -
په صیحون کښ دَ الله په حِضُور کښ
حاضریږي
۸ اي یهوه دَ لښکرو الله دُعا ځما
واوره - اي دَ یعقوب الله وئې نغوږه
۹ اي الله څمونږ ډال ته نظر وکړه
- او دَ خپل مسیح مخ ته وګوره
۱۰ ځکه چه یوه ورځ ستا په بارګاهو
کښ تیره ښې - له زرګونو نه ښه ده
- دَ الله په کور کښ په دربان کیدلو
زه خوښوم - دَ شرارت دَ خیمو
له استوګنې نه
۱۱ ځکه چه یهوه الله نمر او ډال دَی
- یهوه به فضل او لوئي ورکړي -
له هغو نه به چه په راستۍ سره
ځي - هیڅ نیکي منعَ نه کړي
۱۲ اي یهوه دَ لښکرو - مبارک
هغه سړي دَي چه په تا تکیه
کوي



## ۸۵- مزمور

۱ اي یهوه ته په خپلې زمکې باندِ راضي
شوي یې - او تا دَ یعقوب قید راوګرزاوَ
۲ تا دَ خپلو خلقو ګناه عفوه کړه - ټوله
خطا دَ هغو دِ پټه کړه
۳ او تا ټول خپقان خپل لرې که -
دَ خپل قهر له جوش راوګرزیدلې
۴ اي څمونږ دَ نجات الله مونږ راوګرزوَه
- او خپل قهر له مونږ تمام کړه
۵ ته به مدام په مونږ باندِ غضبناک
یې څه ؟ - پُښت تر پُښت پورې به
خپل قهر راکاږې څه ؟
۶ مونږ به بیرته ژوندي نه کړې څه ؟
- دي دَپارَ چه ستا خلق له تا نه
خوښ وي
۷ اي یهوه مونږ ته خپله مهرباني
راوښیه - او خپل نجات مونږ ته
راکړه
۸ هرڅه چه یهوه الله وفرمائي زه
به ئې واورم - ځکه چه دَي به خپلو
خلقو او خپلو تقویٰ دارانو ته دَ
سلامتیا خبري وکړي - هغوي دِ بیا
دَ احمقۍ په لورې ونه ګرزي
۹ په یقین سره دَده نجات دَده
ویریدونکیو ته نزدې دَي - تا چه
څمونږ په زمکه کښ جلال واوسي
۱۰ مهرباني او راستي سره یوځاي شول
- صداقت او سلامتیا سره ښکل
کړل
۱۱ راستي له زمکې نه زرغونیږي - او
صداقت له آسمانه کوز نظر وکه
۱۲ هو یهوه هغه چه ښه دَي وبه بخښي
- او څمونږ زمکه به حاصل ورکړي
۱۳ دَده په حِضُور کښ به صداقت
روان وي - هغه به په خپلو قدمونو
لاره جوړه کړي

## ۱۷- ورځ
## دَ سحر لمونځ
## ۸۶- مزمور

۱ اي یهوه خپل غوږونه راته ونسه
او ځواب راکړه - ځکه چه زه غریب
او محتاج یم
۲ ځما ځان وساته ځکه چه زه ستا
تقویٰ دار یم - اي ځما الله خپل
بنده له نجات ورکړه چه په تا
تکیه کوي
۳ اي خداوندَ په ما فضل وکړه -
ځکه چه زه ټوله ورځ تا ته فریاد
کوم
۴ ته دَ خپل بنده ځان خوشحال کړه -

ځکه چه تا ته اي خداوندَ زه خپل
ځان پورته کوم
۵ دي دَپارَ چه ته اي خداوندَ نیک
يي او معاف کولو ته تیار يي-او په
هغو ټولو چه تا ته فریاد کوِي رحیم يي
۶ اي یهوه ما ته غوږ ونسه - او
څما دَ مناجات په آواز متوجّه شه
۷ زه به دَ تنګدستيِ په ورځ کښ تا
یاد کړم-ځکه چه ته به ځواب راکړي
۸ اي خداوندَ په معبودانو کښ هیڅوک
ستا په شان نشته-او ستا دَ
کارونو په شان هیڅ نشته
۹ اي خداوندَ ټول غیر قومونه چه تا
پیدا کړي دِي تا ته به راشي او ستا
په حِضور به سجده وکړي-او ستا
دَ نوم جلال به ووائي
۱۰ ځکه چه ته لوي يئ-او عجائب
کارونه کوي-ته واحد الله يي
۱۱ اي یهوه ما ته خپله لار راوښیه
-زه به ستا په راستيِ سره روان
شم-زړه مِ جمع کړه چه زه ستا
له نومه ووېرېږم
۱۲ اي خداوندَ څما الله زه به په خپل
ټول زړه سره ستا جلال وکړم-
او ستا دَ نوم لوئي به تر ابدَ پورې
وستایم
۱۳ ځکه چه ستا مهرباني په مونږ
باندِ لویه ده-او څمونږ ځان دِ له
هادِیزه خلاص که
۱۴ اي الله مغروران را باندِ راوختل
-او ټولَي دَ ظالمانو څما دَ ځان طلبګار
دَي-او ته ئي په خپل نظر کښ
رانه وړي
۱۵ مګر ته اي خداوندَ رحیم او کریم
الله يي-په قهر کښ سُست او له
مهربانئِ او له رښتنيِ نه ډک
۱۶ ما ته را وګرزه او په ما باندِ رحم وکړه
-او خپل قوّت خپل بنده ته ورکړه
۱۷ او څما دَ ښیګړي دَپارَ یوه نښه
راښکاره کړه-چه څما کینه کونکي
ئي ووېني-او شرمنده شي-ځکه
چه اي یهوه تا څما مدد وکه-او
ما له دِ تسلّي راکړه

## ۸۷- مزمُور

۱ دَده بُنیاد په مُقَدَّسو غرونو کښ
دَي
۲ یهوه دَ صیحون په دروازو باندِ مینه
کوِي-دَ یعقوب دَ ټولو مسکنونه
نه زیاته
۳ جلالي خبري ستا په حق وېلي کیږي



-اي دَ الله ښهرَ
۴ زه دَ راحاب او دَ بابلَ ذکر کوم
دَ خپلو اشنایانو په منځ کښ-
ګوره فلِسطِ او صُور له کُوشه سره
-دا هلته پیدا شوي وه
۵ هو دَ صیحون په باب کښ به ئي
وېلي وِي چه فلانَي او فلانَي په ده
کښ پیدا شوي وه-او حق تعالیٰ به
ئي په خپله ثابت کړي
۶ یهوه به په شمار کړي چه اُمتونه
لیکي-چه فلاني هلته پیدا شوي
وه
۷ هم به غزل ویونکي او هم به
ګډېدونکي وائي-څما ټولي چيني
په تا کښ دِي

## ۸۸- مزمُور

۱ اي یهوه څما دَ نجات الله- ما
شپه او ورځ ستا په حِضور کښ
فریاد وکه
۲ دُعا څما دِ ستا حِضور ته ورسي-
ته څما فریاد ته غوږ ونیسه
۳ ځکه چه څما ځان له غمونو ډک دَي
-او ژوند څما هادِیز ته نژدي شوي
دَي
۴ په هغو کښ چه ډوغل ته کوزیږي
شمارلي شوي یم-زه دَ هغه سړي
په شان شوي یم چه قوت نه لري
۵ زه دَ مړیو په مینځ کښ غورزولي
شوي یم-دَ وژلیو په شان چه
په قبَر کښ ملاست وِي-چه ته
ئي بیا نه یادوي-بلکه ستا له لاسَ
پرېکړي شوي دِي
۶ تا زه په کُوزَ کنده کښ کېښودم-
په تیاري کښ په ژوره کښ
۷ غضب ستا را باندِ سخت پرېوزي-
او زه په ټولو موجونو کښ وربړولم
۸ آشنایان دِ رانه لري کړل-دَ هغو
دَ نفرت سبب دِ کړلم-زه بندي دم
او راوتلي نه شولم
۹ سترګي مِ له غمه ضعیفي شوي-اي
یهوه ما هره ورځ تا ته فریاد وکه
-لاسونه مِ ستا په لوري پورته
کړه
۱۰ ته به عجائب کارونه دَ مړیو دَپارَ
وکړي څه ؟-یا به مړي پورته شي-
ستا شکر به وکړي څه ؟
۱۱ یا به مهرباني ستا په قبر کښ وېلي
شي څه ؟-یا ستا رښتني به په
هلاکت کښ
۱۲ ستا عجائبات به په تیاري کښ معلوم

نِتي څه ؟-او صداقت ستا به دَ
هيروالي په زمکه کښ
۱۳ مګر تا ته اي يهوه ما ناري وکړي-
او دُعا څما به صباح ستا حضور ته
ورسيږي
۱۴ اي يهوه ته ولي څما ځان ترک کوي؟
-او خپل مخ را نه پټوي
۱۵ زه له خپل هلکتوب خوار او په ځان
کندن يم-چه زه ستا هيبتونه زغمم
پريشان يم
۱۶ ستا قهر په ما تير شه - ستا
دَهشتونو هلاک کړم
۱۷ هغه ټوله ورځ دَ اوبو په شان
راباندِ چاپيره کيږي-او ټولو يوځاي
سره ګير کړم
۱۸ محبوب او دوست دِ رانه لري که-
او پيژندګلو ئې مِ په تياري کښ

## ۱۷- ورځ
## دَ نمابښام نمونځ
## ۸۹- مزمور

۱ زه به ترابده پوري دَ يهوه دَ مهربانيو
غزل غږوم-ټولو پيړيو ته به ستا
وفادارئ به خپلي خُلي سره بيان
کړم
۲ ځکه چه ما وِو مهربانئ به ترابده
پوري ثابتي وِي-او خپله وفاداري
په په آسمانونو کښ ټينګه کړي
۳ ما له خپله غوره کړي سره وعده
وکړه-له خپله بنده داؤد سره مِ
سوګند وکړ
۴ زه به ستا اولاد ترابده پوري قايم
کړم-او ستا تخت به پيړئ په پيړئ
پايدار کړم
۵ اي يهوه آسمانونه به ستا عجائب
کارونه وستائي-بلکه ستا رښتيني
به دَ مُقدسو خلق په ټولي کښ
۶ ځکه چه څوک به دَ يهوه په شان
په آسمانونو کښ وِي-څوک به دَ
خدايانو دَ ځامنو په منځ کښ دَ
يهوه په شان وِي
۷ الله دَ قُدّوسيانو په مجلس کښ هيبتناک
دَي-او په هغو ټولو چه دَده نه
چاپيره دِي سهمناک دَي
۸ اي يهوه دَ لښکرو الله- څوک
دَي زورآور لکه ته اي ياهْ - او
ستا رښتيني له تا نه چاپيره ده
۹ دَ درياب په مغرورئ حکم کوي-
چه موجونه پورته کيږي نو ته ئې
قلاروي
۱۰ تا راحاب ټوټې کړ لکه چه وژلي



شوي-دَ خپل بازو په زور دِ دُښمنان
خپل تار په تار کړه
۱۱ آسمانونه ستا دِي-زمکه هم ستا
ده-زمکه او دَ هغي آبادي تا بنا
کړله
۱۲ قُطب او سُهَيل تا پيدا کړل-تابور
او حرمون ستا په نوم خوښي کوي
۱۳ ستا بازو قوتناک دَي- ستا لاس
قوي او ښي لاس ستا اوچت دَي
۱۴ صداقت او عدالت ستا دَ تخت
بنياد دَي- مهرباني او رښتيني ستا
په مخ کښ ځي
۱۵ مبارک هغه قوم دَي چه خوش آواز
ئې پيژني هغه ځي اي يهوه ستا
دَ ديدار په نور کښ
۱۶ ستا په نوم به ټوله ورځ خوشحاليږي
-او ستا له صداقت به سرفراز
کيږي
۱۷ ځکه چه دَ هغو دَ قوت شوکت ته
ئې او څمونږ ښکر به ستا په مهر
اوچت کړي شي
۱۸ ځکه چه څمونږ ډال دَ يهوه دَي-
او دَ اسرائيل قدّوس څمونږ بادشاه
دَي
۱۹ تا په رويا کښ خپلو تقوي دارانو
ته خبري وکړي-او وئې وِچه ما
اتولي دَي کومک په زبردست باندِ
غوره شوي له خلقو نه مِ يو سرفراز
کړه
۲۰ ما خپل بنده داؤد پيدا موند-او
په خپلو پاکو تيلو سره مِ مسح که
۲۱ څما لاس به له ده سره محکم اوسي
-او څما بازو به ئې مضبوط کړي
۲۲ دُښمن به ظلم په ده باندِ ونه کړي-
او نه به دَ شرارت ځامن ضرر ور
رسولي شي
۲۳ او زه به دَده غليمان دَده په روبرو
وټکوم-او دَ هغه کينه کونکي به ودهم
۲۴ مګر څما وفاداري او څما مهرباني
به له ده سره وي-او ښکر دَده
به څما په نوم سره هسک شي
۲۵ لاس دَده به په درياب باندِ کيږدم
-او ښي لاس دَده به په سيندونو
۲۶ دي به ما ته ناري وکړي چه ته
څما پلار ئې-څما الله او څما دنجات
کټ
۲۷ زه به دي مشر ځوي کړم-دَ زمکي
له بادشاهانو نه زيات لوي
۲۸ ترابده پوري به خپله مهرباني
په ده قايمه کړم-او وعده څما به

له ده سره مضبوطه وِي
۲۹ اولاد دَده به تر ابده پورې هم پایدار
کړم- او تخت دَده به دَ آسمان دَ
ورځو په شان
۳۰ پس که چرې دَده ځامن ځما توریت
پرېږدي- او ځما په عدالتونو لاړ نه شِي
۳۱ که هغوي ځما دَ حکمونو نه وګرزي-
او ځما فرمان و نه ساتِي
۳۲ نو به په اَمسَا سره دَ هغو دَ ګناهونو
سزا ورکړم- او په کروړو سره به
دَ هغوي دَ بديو
۳۳ مګر خپله مهرباني به له هغو نه
پرې نه کړم- او ځما وفادارِي به کمه
نه شِي
۳۴ خپله وعده به ماته نه کړم- او هغه
خبره چه ځما له خولې نه وتلې ده بدله
به ئې نه کړم
۳۵ ما يو وار په خپلې قُدوسَيَ قسم
خوړلې دَي- چه زه به هرګز له داؤد
سره دروغ و نه کړم
۳۶ دَده اولاد به تر ابده پورې وِي-
او تخت دَده به ځما په حِضُور دَ
نمر په شان وِي
۳۷ تر ابده به دَ سپوږمۍ په شان
قايم کړې شِي- او په آسمان کښې
دَ امانتي ګواهيَ په شان
۳۸ مګر تا خو ترک که او سپک دِ وګڼه
- له خپله مسيحه بېزار شولې .
۳۹ هغه دَ خپل بنده وعده حقيره
کړه- دَ هغه تاج دِ په خاورو کښې
ناپاک که
۴۰ ټول ديوالونه دَ هغه دِ ونړول-
تا دَ هغه قلا ويراني کړې
۴۱ ټول په لارې تلونکي له هغه نه
لُوټ کوي- هغه په خپلو ګاونډيانو
کښې رسوا کيږي
۴۲ دَ هغه دَ دُښمنانو ښي لاس دِ
اوچت که- ټول دښمنان دَ هغه
دِ خوشحاله کړل
۴۳ دَ هغه دَ توري مخ دِ ګرزولې دَي
- او په جنګ کښې دِ ټينګ نه که
۴۴ تا دَ هغه روښنائي تمامه کړه- او
دَ هغه تخت دِ په خاورو کښې
وغورزاوه
۴۵ دَ هغه دَ ځوانيَ ورځې دِ کوتاه کړې
- او په شرمندګيَ سره دِ پټ که
۴۶ اي يهوه ترکومه به؟ آيا تر ابده
پورې به ځان پټ لرې خه؟- تر
کومه پورې به ستا غضب لنبې کوي
۴۷ دا به ياد کړه چه ځما عمر څومره لنډ



دَي- دَ کوم عبث دَپارَ تا بني آدم پيدا
کړې دَي ؟
۴۸ هغه سړې څوک دَي چه به ژوندې
وِي او مرګ به و نه وينې- چه خپل
ځان به دَ هاوِيَهٔ له قبضې نه
خلاص کړي
۴۹ اي خداوندَ هغه وړاندنيَ مهربانيَ
چرته دَه- چه داؤد سره دِ په خپل
امانت کښې قسم وکه
۵۰ اي خداوندَ دَ خپلو بندګانو رسوائي
ياده کړه- چه زه څرنګه په خپلې
غيږ کښې دَ ټولو لويو قومونو دَ
رسوائيَ برداشت کوم
۵۱ چه ستا دُښمنانو رسوائي وکړه
اي يهوه چه ستا دَ مسيح دَ قدمونو
رسوائيُ ئې کړې ده
۵۲ يهوه دِ تر ابدَ الاباد پورې مبارک
وِي آمين او آمين *

## ۱۸- ورځ
## دَ سحر نمونځ
## ۹۰- مزمُور

۱ اي خداوندَ ته څمونږ دَ استوګني
ځاي يې پښت په پُښت
۲ له هغه نه په خوا چه غرونه پيدا
کيدل- او تا زمکه او جهان جوړ کړل
له ازله تر ابده پورې ته الله يې
۳ ته انسان خاورې کوې- او وائي چه
بيرته وګرزئ اي بني آدمو
۴ ځکه چه زر کاله ستا په نظر کښې
داسې دِي لکه پرُون چه تير شه
- او لکه پهَرَ په شپه کښې
۵ او ته هغوي لکه سيلاب وړې هغوي
لکه خوب دِي- هغوي په صبحدم
کښې لکه وابښه چه زرغونيږي
۶ هغه په صبحدم کښې تازه کيږي او
لوئيږي- نماښام لَو کيږي او وچ
کيږي
۷ ځکه چه مونږ ستا په قهر کښې
فنا شوِي يُو- او ستا په غضب
کښې پريشان شوِي يُو
۸ تا څمونږ ګُناهونه په خپل نظر
کښې ايښې دِي- څمونږ پټ تقصيرونه
دِ دَ خپل حِضُور په روښنائيَ
کښې
۹ ځکه چه څمونږ ټولې ورځې ستا
په غضب کښې تيرې شوې- مونږ
خپل کلونه دَ خيال په شان تمام
کړل
۱۰ څمونږ دَ کلونو ورځې اَويا دِي-
يا که چرې دَ قوت په سبب تر اتيا

کالو پوري وي - نو دَ هغه فخر محنت
او رنځ دي - ځکه چه زر تیریږي
او مونږ الوزو
۱۱ څوک ستا دَ قهر قوت پیژني - او
ستا غضب ستا دَ ویري په شان
۱۲ مونږ ته ځمونږ دَ ورځو حساب
راوښیه - تا چه مونږ دَ زړه حکمت
حاصل کړو
۱۳ اي یهوه بیرته راشه - تر کومه
پوري ؟ - او په خپلو بندګانو باندِ
نرم شه
۱۴ په صبحدم کښ مونږ په خپلو
مهربانیو سره ماړه کړه - چه مونږ
ټولي ورځي خوښ او خورم اوسو
۱۵ مونږ خوشحال کړه موافق دَ ورځو
چه تا مونږ خپه کړي یو - او دَ
کالونو چه مونږ په کښ شر لیدلي
دي
۱۶ خپل کار دِ خپلو بندګانو ته ښکاره
کړه - او خپل شوکت دِ دَ هغه ځامنو
ته
۱۰ نعمت دَ یهوه ځمونږ دَ الله دِ په
مونږ باندِ وي - او ځمونږ دَ لاسونو
کار په مونږ قایم کړه - هو ته ځمونږ
دَ لاسونو کار ثابت کړه

## ۹۱ - مزمور

۱ هغه چه دَ حق تعالیٰ دَ پردي لاندِ
سکونت کوي - دَ قادرِ مطلق تر سوري
لاندِ به اوسي
۲ زه دَ یهوه په باب کښ وایم - چه
دي ځمونږ پناه او قلا دي - ځمونږ
الله چه په ده تکیه کوم
۳ هغه به تا دَ ښکار له جاله خلاص
کړي - او له هلاکونکي وبا نه
۴ دي به دِ تر خپلو پرو لاندِ پټ
کړي - او دَ هغه دَ وزرو لاندِ به
پناه ومومي - دَ هغه راستي به
دِ ډال او زغره وي
۵ نه به دَ شپي له ویري نه نه ویریږي -
نه له غشي نه چه دَ ورځي پرتاؤ
کیږي
۶ نه له هغي وبا نه چه په تیاري
کښ ځي - نه له هغه طاعونه چه
دَ غرمي په وقت ویراني کوي
۷ یو زر به ستا په لوري پریوزي -
او لس زره به ستا په ښي لاس
- لیکن تا ته به نزدي درتلي نه شي
۸ ته به فقط په خپلو سترګو نظر
وکړي - او دَ شریرانو جزا به ووینې
۹ ځکه چه ته اي یهوه ځما پناه یې -



تا حق تعالیٰ خپل مسکن اختیار کړي
دي
۱۰ په تا به هیڅ آفت نازل نه شي -
او هیڅ وبا به ستا خیمي ته نزدي
در نه شي
۱۱ ځکه چه دي به ستا په حق کښ
خپلو فرښتو ته حکم وکړي - چه تا
ستا په ټولو لارو کښ وساتي
۱۲ هغوي به تا په خپلو لاسونو کښ
ونیسي - هسي نه چه ستا پښي په
کاڼي باندِ ولګي
۱۳ ته به په زمري - او په منګور باندِ
پښي کیږدي - او دَ زمري بچي او
مار به تر پښو لاندِ پائمال کړي
۱۴ ځکه چه هغه له ما سره مینه
وکړه زه به ئي خلاص کړم - سربلند
به ئي کړم - ځکه چه هغه ځما نوم
وپیژانده
۱۵ هغه به ما ته ناري ووهي - ځواب
به ورکړم - زه به په تنګدستئ کښ
له ده سره یم - زه به هغه خلاص
کړم او عزت به ورکړم
۱۶ زه به هغه په دراز عمر موړ کړم
- او خپل نجات به ورښکاره کړم

## ۹۲ - مزمور

۱ دَ یهوه شکر کول ښه دي - او ستا
دَ نامه مزمور غږول اي حق تعالیٰ
۲ صبا ستا دَ مهربانئِ مذکور کول -
او په شپه کښ ستا دَ ریښتینئِ
۳ په لس تاري ساز او په رباب سره
- په ستار باندِ له خوش آوازئِ سره
۴ ځکه چه تا اي یهوه زه په خپل
کار سره خوشحاله کړم - ستا دَ لاسونو
په کارونو به ښادئِ وغږوم
۵ اي یهوه ستا کارونه څومره لوي دِي
- ستا فکرونه بیحده ژور دِي
۶ نادان سړي نه پوهیږي - او جاهل
ته نه معلومیږي
۷ هرکله چه شریران دَ واښو په شان
ټوکیږي - او چه ټول بدکاران کامیابه
کیږي - نو دا ځکه چه دوی به تر ابده
پوري فنا کړي شي
۸ مګر ته به اي یهوه تر ابدالآباد
پوري یې
۹ ځکه چه ګوره ستا دُښمنان اي
یهوه - ځکه چه ګوره ستا دُښمنان
به هلاک شي - ټول بدکاران به تار
په تار شي
۱۰ مګر ښکر ځما دَ ځنګلي غوایه دَ ښکر

په شان اوچت کړه - په تازه تیلو
به غوړ شم
۱۱ سترګه ځما به په دُښمنانو نظر کړي -
غوږونه به مې دَ هغو شریرانو خبري
چه ما ته پورته کیږي واورِي
۱۲ صادق به دَ کجورې دَ وُنې په شان
خور شِي - هغه به لوئیږِي لکه دَ
نښتر په شان په لُبنان کښ
۱۳ هغوي چه دَ یهوه په کور کښ لګولي
شوِي دِي - نو ځمونږ دَ الله په
دلبارونو کښ به خور شِي
۱۴ او هغه به په زوړوالي کښ هم
میوه راوړِي - او تر وتازه او سیراب
به وِي
۱۵ تا چه دا ظاهر کړي چه یهوه راست
دَي - هغه ځما کټ دَي او په ده
کښ ناراستِي نشته

## ۱۸- ورځ
## دَ نماښام نموځ
### ۹۳- مزمور

۱ یهوه بادشاهي کوِي هغه دَ شوکت
جامي آغوستِي دِي یهوه جامي آغوستي
دِي په توت سره ملا تړلي - جهان
ئې هم قایم کړي دَي چه خوځیدلې
نه شِي
۲ ستا تخت له قدیمه محکم دَي - ته
له ازله یې
۳ سیندونو پورته کړي دَي اي یهوه -
سیندونو خپل آواز پورته کړي دَي -
سیندونو چپي پورته کړي دِي
۴ دَ ډیرو اوبو له آوازونو نه پورته -
دَ دریاب له لویو موجونو نه - یهوه
لوي دَي په اوچتوالي کښ
۵ ستا وعدي بیحده یقیني دِي -
قُدُوسِي لایقه ده ستا دَ کور سره -
اي یهوه تر ابدُالاٰباد پورې

### ۹۴- مزمور

۱ اي یهوه بدل اخستونکې الله -
اي بدل اخستونکې الله روښانَ شه
۲ اي دَ جهان انصاف کونکې پورته
شه - مغرورو له بدل ورکړه
۳ اي یهوه شریران به ترڅو پورې -
هو شریران چه تر څو پورې
فتحمند کیږي
۴ واهیات وایِي دَ ګستاخئ خبري
کوِي - ټول بدکاران به لافي کوِي
۵ اي یهوه هغوي ستا اُمت ریزمریز
کوِي - او ستا میراث ربړوِي
۶ کونډي او بیګانه وژنِي - او یتیمان
قتلوِي



۷ او وائِي چه یاهْ به ئې و نه وینِي
نه دَ یعقوب الله پرې پوه شِي
۸ اي وحشیانو دَ خلقو وپوهیږِئ
- او اي جاهلانو کله به دانا شئ
۹ هغه چه غوږ ئې نهال کړه نه به
ئې آورِي څه ؟ - هغه چه سترګې
ئې جوړي کړي دِي نه به ئې وینِي
څه ؟
۱۰ هغه چه غیر قومونو ته تنبیه ورکوِي
سزا به ورنه‌کړِي څه ؟ - هو هغه
یهوه چه انسان ته علم ورکوِي
۱۱ یهوه دَ انسان خیالونه پیژنِي - چه
هغه باطل دِي
۱۲ مبارک هغه سړي دَي چه ته
تنبیه ورکوي - اي یاهْ - او له خپله
توریتَ تعلیم ورته کوي
۱۳ تا چه دَ غم په ورځو کښ آرام
ور وبخښي - تر هسي حده چه دَ
شریرانو دَپارَ کوهي وکنود شِي
۱۴ ځکه چه یهوه به خپل خلق ترک
نه کړِي - او خپل میراث به پرې نږدِي
۱۵ له دي سببَ چه عدالت به صداقت
ته را وګرزِي - او ټول راستدلان
به وریسي شِي
۱۶ څوک به ځما دَپارَ دَ شریرانو په
مقابلې پورته شِي - څوک به ځما دَپارَ
بدکارانو ته ودریږِي
۱۷ که چرې یهوه ځما مددګار نه وِي -
نو ځان ځما به زر به خاموشئ کښ
اوسیدلي وه
۱۸ چه مې ووِ چه پښې ځما ښوئیږِي -
نو اي یهوه مهربانئ ستا وساتلم
۱۹ دیر فکرونه ځما په منځ کښ دِي -
تسلئ ستا ځان ځما خوشحالَ کوِي
۲۰ دَ شرارت تخت به له تا سره
شراکت وکړِي څه ؟ - چه شرارت
په حکم سره مقرّر وِي
۲۱ هغه دَ صادقانو دَ ځان په مخالفت
جمع کیږِي - دَ بې تقصیره په وینو کښ
ثابتوِي
۲۲ لیکن یهوه ځما اوچت برج شوي
دَي - او الله ځما دَ پناه کټ دَي
۲۳ دَ هغو ناراستِي ئې هغو ته بیرته
ور وګرزوله - او هغوي به په خپل
شرارت کښ تباه کړِي - هو یهوه
ځمونږ الله به هغوي تباه کړِي

## ۱۹- ورځ
## دَ سحر نموځ
### ۹۵- مزمور

۱ راځئ چه دَ یهوه سرود وغږوو -

مونږ دَ خپل نجات ګټ ته ناري
ووهُو
۲ مونږ به په شکرګذارئ کولو سره
دَده حِضُور ته ورشُو- به مدحه
سرهٔبډه ته دَ خوشحالئ ناري ووهُو
۳ ځکه چه يهوه لوي الله دَي- او په
ټولو خدايانو باندِ لوي بَادشاه دَي
۴ چه دَ زمکي لوئ ژوري دَده په
لاس کښ دِي- او سُوکي دَ غرونو
هم دَده دِي
۵ درياب دَده دَي او ده پيدا که —
او لاسونؤ ئ خشکي پيدا کړي ده
۶ راځئِ چه مونږ سجده وکړُو او ټيت
شُو- په حِضُور دَ يهوه ځمونږ دَ
خالق زنګنونه ولګوُو
۷ ځکه چه دَي ځمونږ الله دَي- او
مونږ دَده دَ څراګاه اُمّت يُو او دَدهٔ
دَ لاس ګډي يُو- کاشکي که تاسو نن ورځ
دَ هغه آواز واورئ
۸ نو تاسو خپل زړونه داسي مه
سختوئ لکه چه په مريبا کښ —
لکه دَ مصّا په ورځ په بيابان کښ-
۹ هرکله چه زه ستاسو پلرونو وآزمايلم
- تجربه ځما ئ وکړه- او کار ځما ئ
وليد
۱۰ تر څلوينښتو کالو زه له هغه پيړئِ
نه ناراض شولم- او وم ويل چه
دا هغه قوم دَي چه په خپل زړه
کښ ګمراه دَي- او هغوي ځما لار
ونه پيژندله
۱۱ نو ما په خپل قهر سره سوګند وخوړ
- چه هغه به ځما په راحت کښ
داخل نه شِي

## ۹۶- مزمُور

۱ يهوه ته يو نوي غزل وغږوئ- اي
ټولي زمکي دَ يهوه غزل وغږوه
۲ يهوه ته غزل و غږوئ- دَده نوُم ته
مبارک ووايئِ- هره ورځ دَده نجات
وښيئِ
۳ دَ هغه جلال دَ غير قومونو په منځ
کښ ظاهر کړئِ- عجائب کارونه دَده
په ټولو خلقو کښ
۴ ځکه چه يهوه لوي دَي او نهايت
دَ ثنا لائق دَي- او په ټولو معبودانو
زيات هيبتناک دَي
۵ ځکه چه دَ ټولو خلقو معبودان بتان
دِي- ليکن يهوه آسمانونه جوړکړل
۶ عزّت او بزرګي دَده په حضُور کښ
دِي- قوّت او زينت دَده په مَقدِس
کښ دِي



۷ يهوه ته منسوب کړئ اي دَ خلقو
قبيلو- يهوه ته منسوب کړئِ جلال
او قوّت
۸ يهوه ته منسوب کړئِ چه دَ هغه
دَ نوُم لائق دَي- هديي راولئ او
دَده په دربار کښ داخل شئِ
۹ يهوه ته په پاک مَقدِس کښ
سجده وکړئ- اي ټوله جهانه دَده
له حِضُورَ وويريږئِ
۱۰ په غير قومونو کښ ووايئِ چه
يهوه بادشاهي کوي- جهان هم قايم
دَي چه وبه نه خوځيږي- په راستئ
سره به دَ خلقو عدالت وکړي
۱۱ آسمانونه دِ خوښي کړي- او زمکه
دِ خوشحاله شِي- درياب او دَ هغه
ډک والي دِ غږنبا وکړي
۱۲ کروندَه او هر هغه څه چه په
هغي کښ دِي خوښي دِ وکړي- نو
ټولي وُني دَ ځنګل به خوښي وکړي
۱۳ دَ يهوه په حِضُور ځکه چه دَي راځي
- په صداقت سره به دَ جهان عدالت
وکړي- او په خپلي راستئ سره به
دَ خلقو

## ۹۷- مزمُور

۱ يهوه بادشاهي کوي زمکه دِ
خوښي وکړي- ډيري جزيري دِ خوشحالي
کوي
۲ دَده په ګيرچاپير اوريځي او تياري
دِي- صداقت او عدالت دَده دَ تخت
بُنياد دِي
۳ دَده په مخ کښ اور ځي- او دُښمنان
ئ ګيرچاپير سيځي
۴ دَده بريښناوُ جهان روښانه که-
زمکي وليد او ولړزيدله
۵ دَ يهوه په حِضُور کښ غرونه دَ موم
په شان ويلي شول- دَ ټولي زمکي
دَ خداوند په حِضُور
۶ آسمان دَده صداقت بيانوِي- او
ټولو قومونو دَده جلال وليد
۷ هغه ټول چه دَ تراشلي بُت عبادت
کوِي شرمنده دِ شِي- چه په بُتانو
فخر کوِي- اي ټولو خدايانو تاسو
ده ته سجده وکړئِ
۸ صيون واوريدل او خوشحاله شه
- او لونړه دَ يهوُدا خوشحاله شوي
- اي يهوه ستا دَ عدالتونو له سببَ
۹ ځکه چه ته اي يهوه په ټوله زمکه
پورته ئ- او په ټولو خدايانو باندِ
ډير اوچت ئ
۱۰ اي دَ يهوه مينه کونکو له بدئ نه

نفرت وکړئ-ځکه چه دَي دَ خپلو
تقويٰ دارانو ځانونه ساتي-هم دَي
لِي دَ شريرانو له لاس خلاصوي
۱۱ دَ صادقانو دَپارَ نُور کرلَي شوي دَي
-او دَ راست ذلانو دَپارَ خوښي
۱۲ اي صادقانو تاسو له يهوه نه
خوښ شئِ-او دَده دَ قُدّوسيَ دَ
يادَولو شکر وکړئ

## ۱۹- ورځ

## دَ ماښام نمونځ

### ۹۸-مزمُور

۱ يهوه ته نوي غزل وغږوئِ-ځکه
چه ده عجائب کارونه کړي دِي-دَده
ښي لاس او دَده پاک بازو-ده ته
نجات و باخښه
۲ يهوه خپل نجات ظاهر که-خپل
صداقت ئي دَ غير قومونو دَ وړاندِ
مشهور که
۳ خپله مهرباني اوخپله وفاداريَ
ئي دَ اسرائيل دَ کور دَپارَ ياده کړه
-دَ زمکي ټولو حدونو خُمونږ دَ الله
نجات وليد
۴ اي ټولي زمکي دَ يهوه دَپارَ دَخوښيَ
ناره وکړه-لوي آواز وکړه اوخوشحالِي
وکړه هو مدحه وغږوه
۵ دَ يهوه دَپارَ په سِتار سره مدحه
وغږوئِ-په سِتار سره او دَ سرود
په آواز سره
۶ په تُوريو او دَ قرنا په آواز سره-
دَ يهوه بادشاه په حِضُور کښ خوښي
وکړئِ
۷ درياب اوَ هغه ډک والي دِغږيږي
-دُنيا او هر څه چه په هغي کښ
اوسِي
۸ سِيندونه دِ لاسونه ووهي-او
غرونه دِ سره خوش آوازي وکړي
۹ دَ يهوه په حِضُور ځکه چه دَي دَ
زمکي دَ عدالت کولو دَپارَ راځي-دَي
به په صداقت سره دَ جهان عدالت
وکړي-او په راستيَ سره به دَ قومونو

### ۹۹-مزمُور

۱ يهوه بادشاهي کوي- قومونه دِ
ولړزيږي- هغه دِ په کرّوبيانو
کښ اوسي زمکه دِ وخوځيږي
۲ يهوه په صيحون کښ لوي دَي-او
په ټولو قومونو باندِ اوچت دَي
۳ هغوي دِ ستا دَ لوي هيبتناک نوُم
ثنا وکړي-هغه قُدوس دَي
۴ دَ بادشاه قوت له عدالت سره مينه
کوي-تا راستي قايمه کړله-عدالت



او صداقت دِ په يعقوب کښ وکړل
۵ تاسو دَ يهوه خُمونږ دَ الله لويَ
وکړئ- او دَده دَ پښو ځوکيَ ته سجدَه
وکړئ- هغه قُدُوس دَي
۶ موسيٰ او هارُون دَده دَ کوهينانو
په مينځ کښ-او سموئيل دَده دَ نوُم
آخستونکيو په مينځ کښ- دوي يهوه
ته ناري وکړي- او هغه ځواب ورکه
۷ دَ اوريځي له ستني نه ئي له
دوي سره خبري وکړي-
هغو دَده شهادتونه و ساتل او
هغه حکم چه هغو له ئي ورکه
۸ اي يهوه خُمونږ الله تا هغو له
ځواب ورکه- ته دَ هغو معافونکيَ
الله وي- اګر که ته دَ هغو دَ بداعمالِي
بدله آخستونکيَ وي
۹ تاسو دَ يهوه خُمونږ الله لويي
وکړئ-او دَده په مُقدّس غره
کښ سجده وکړئ-ځکه چه يهوه
خُمونږ الله قُدُّوس دَي

### ۱۰۰-مزمُور

۱ اي ټولي زمکي-يهوه ته دَ خوښيَ
ناري وکړئ
۲ دَ يهوه په خوشحالِي سره عبادت
وکړئ- دَده په حِضُور له سندرو
سره راشئ
۳ تاسو پوهيږئ چه يهوه هغه الله
دَي چه مونږ ئي پيدا کړُو- او
مونږ دَ هغه يُو مونږ دَ هغه
اُمّت يُو او دَده دَ ورشو ګډي يُو
۴ دَ هغه په دروازو کښ په شکرګذاريَ
سره داخل شئِ او په مدحه سره دَ
هغه په غولي کښ-دَده شکر وکړئِ
او دَده نوُم ته مبارک ووايئِ
۵ ځکه چه يهوه نيک دَي- دَده مهرباني
تر ابده ده-او وفاداريَ ئي پُښت په
پښت دَه

### ۱۰۱-مزمُور

۱ زه به دَ مهربانيِ اودَ عدالت په باب
کښ غزل ووايم-اي يهوه زه به
تا ته مدح وغږووم
۲ په کامله لار به له دانائيِ سره لار
شم-ته به ما ته کله راشي-زه به
په خپل کور کښ په کامل زړه
سره وګرزم
۳ زه به په خپل مخ کښ دَ شيطان
کار کښي نږدم- دَ ګرزيدونکيو له
کار سره به کينه وکړم- هغه به له
ما سره پيوست نه شي
۴ کوږ زړي سړي به له ما نه لري

ټي- له شریر سره به پېژندګلي
و نه کړم
۵ هغه چه په پټه په خپل آشنا
باندِ عیب لګوي زه به ئې هلاک
کړم- دَ لوي نظرِي او دَ مغرور زړي
سړي زغم به و نه کړم
۶ خما سترګي دَ ملک په وفادارو باندِ
دِي چه هغوي له ما سره اوسي-
هغوي چه په کاملي لاري ځي خما خدمت
به وکاندِ
۷ هغه چه فریب کونکي دِي خما په
کور کښ به و نه اوسي- دروغژن
به خما تر نظر لاندِ پاتي نه شي
۸ زه به هر صبا ټول شریران دَ زمکي
ورک کړم- تا چه دَ یهوه له ښهره
ټول شریران پرېکړم

۲۰- ورځ
دَ سحر نمونځ
۱۰۲- مزمور

۱ اي یهوه خما دُعا واوره- او ناري
خما دِ تا ته ورسیږي
۲ او دَ تنګسټئ په ورځ کښ خپل
مخ را نه مه پټوه- ما ته غوږ ونیسه
- هغه ورځ چه زه دِ وبولم نو زر
ځواب راکړه

۳ ځکه چه ورځي خما دَ لوګي په شان
تیریږي- او هډوکي مِ دَ خشاک
په شان سوځي
۴ زړه مِ دَ واښه په شان وهلي او
وچ شوي دَي- ځکه چه زه دَ
ډوډئ خوراک هیروم
۵ خما دَ اسویلي له آواز سره-
هډوکي مِ په غوښه پوري ونښتل
۶ زه دَ بیاباني ماهيخور په شان
شولم- دویران ځاي دَ کونګي په شان شولم
۷ زه شوګیره کوم او دَ چنچڼي په
شان شولم- چه په کوټه باندِ یواځي
وِي
۸ دُښمنان مِ ټوله ورځ رسوایي
کوي- او هغه چه په ما باندي
قهرژن دِي ما ته ښکنځل کوي
۹ ځکه چه ما ایري دَ ډوډئ په ځاي
وخوړي او له خپلو څښلو سره مِ
اوښکي ګډي کړي
۱۰ ستا دَ قهر او دَ غضب له سببه- ځکه
چه زه دِ واخستلم بیا دِ وغورځولم
۱۱ ورځي خما دَ اوږد کړي شوي سوري په
شان دِي- او دَ واښه په شان وچ شولم
۱۲ لیکن اي یهوه ته به تر ابده پوري
ناست یي- او ذکر ستا به پښت په



پښت وِي
۱۳ ته به پورته شي او په صیحون به رحمت
وکړي- ځکه چه په هغه باندِ دَ
شفقت کولو وقت دَي هو دَ هغه
مُعَیَّن وقت رسیدلي دَي
۱۴ چه ستا بندګان دَ هغه کاڼي خوښوي
- او دَ هغه په خاورو باندِ شفقت
کوي
۱۵ غیر قومونه به دَ یهوه له نُومه وویریږي
- او ټول بادشاهان دَ زمکي به ستا
له جلاله
۱۶ ځکه چه یهوه صیحون جوړ کړي دَي-
په خپل جلال کښ ظاهر شوي دَي
۱۷ ئې دَ محتاج دُعا ته متوجه شوي
دَي- او دَ هغوي دُعا ئې سپکه و نه ګڼله
۱۸ دغه به دَ اخرني پیړئ دَپاره ولیکلي
شي- او هغه قوم چه پیدا کړي شي دَ
یاه حمد به ووایي
۱۹ ځکه چه ده دَ خپل اوچت مقدس
وکتل- یهوه له آسمانه په زمکه نظر
وکه
۲۰ تا چه دَ قیدي زګیروي واوري- دَ مرګ
ځامن خلاص کړي
۲۱ چه په صیحون کښ سړي دَ یهوه
نُوم بیان کړي- او مدحه ئې په

اورشلیم کښ
۲۲ کوم وقت چه قومونه جمع شول-
او بادشاهتونه دَ یهوه دَ عبادت دَپاره
۲۳ ده په لار کښ خما زور کم که- ورځي
خما ئې لنډي کړي
۲۴ ما ووِ اي خما الله خما دَ ورځو په
منځ کښ ما مه وړه- ستا کلونه
پښت په پښت دِي
۲۵ تا دَ زمکي بُنیاد له قدیمه کینښود-
او آسمانونه هم ستا دَ لاسونو کاریګري
دِي
۲۶ هغوي به نیست شي- مګر ته به
باقي یي- هو هغه ټول به دَ جامي
په شان زاړه شي- ته به ئې دَ جامي
په شان بدل کړي او هغه به بدل
کړي شي
۲۷ مګر ته هغه یي- او ستا کلونه نه
تماميږي
۲۸ ستا دَ بندګانو ځامن به اوسي-
او دَ هغو اولاد به ستا په حضور
کښ قایم کړي شي

۱۰۳- مزمور

۱ یهوه ته مبارک ووایه اي خما ځانه
- او ټول چه خما په منځ کښ دِي
دَده مُقَدَّس نُوم ته دِ مبارک ووایي

۲ یهوه ته مبارک ووایه ای ځما ځانه
-او دَده نعمتونه مه هیروه
۳ هغه چه ستا ټول ګناهونه بخښي-
چه ستا رنځونو ته شفا ورکوي
۴ چه ستا ځان له له هلاکت نه شُفعَ ورکوي
-چه تا په مهربانئ او په رحمتونو
تاجدار کوي
۵ چه ستا خوله په ښو ښو څیزونو
آسوده کوي- څو چه ستا ځواني تازه
کیږي لکه چه دَ عُقاب
۶ یهوه صداقتونه کوي- او عدالتونه دَ
ټولو مظلومانو دَپارَ
۷ هغه چه خپلي لاري ئې موسیٰ ته
وښیلي- خپل کارونه ئې بني اسرائیلو
ته
۸ یهوه رحیم او کریم دَي په سهیدلو کښې-
په قهر کښې سُست او ډیر مهربان دَي
۹ هغه به همیشه کینه نه کوي- او
غُصّه به تر ابده پوري نه ساتي
۱۰ هغه څمونږ له ګناهونو سره موافق
له مونږ سره سلوک ونه که- او
څمونږ له ګُناهونو بدله ئې را نه کړه
۱۱ بلکه څنګه چه آسمانونه په زمکه
باندِ اوچت دِي- دومره لویه دَ هغه
مهرباني ده په هغو باندِ چه ترینه
ویریږي
۱۲ لکه نمرخاته له نمرپریواته نه لري
دَي- هومره ئې له مونږ نه څمونږ
تقصیرونه لري کړل
۱۳ لکه چه پلار په خپلو ځامنو رحیم
دَي- هم هسي یهوه په خپلو ویریدونکو
رحم کوي
۱۴ ځکه چه دَي څمونږ په خلقت خبر
دَي- هغه دا یاد لري چه مونږ خاوري
یُو
۱۵ سړي چه دَي ورځي ئې دَ وانبو په
شان دِي- لکه ګُل دَ چمن چه تازه
کیږي
۱۶ ځکه چه باد پرِ والوزي او هغه
نه وِي- او هغه ځاي به بیا و نه
پیژنِي
۱۷ لیکن مهربانِي دَ یهوه په هغو
باندِ چه له ده ویریږي له ازلَ تر
ابده پوري دَه- او دَ هغه صداقت
دَ هغه دَ اولاد په اولاد باندِ دَي
۱۸ هغو له چه دَ هغه وعدي ساتي-
او هغو له چه دَ هغه حکمونه دَ
عمل کولو دَپارَ په یاد لري
۱۹ یهوه په آسمانونو کښې خپل تخت دَ ایښي
که- او بادشاهت دَده په ټولو تسلط



کوي
۲۰ یهوه ته مبارک ووائِيِ ای تاسو دَ هغو
فرښتو- ای تاسو زورآورو چه دَ هغه
خبري پوره کوئِ- او دَده دَ کلام
آواز واورئِ
۲۱ یهوه ته مبارک وائِ ای دَده ټولو
لښکرو ای دَده خدمتګارانو چه
دَده مرضِي کوئِ
۲۲ یهوه ته مبارک ووائِ ای دَ هغه
ټولو کارونو- دَ هغه بادشاهت په
ټولو ځایونو کښې- یهوه ته مبارک
ووایه ای ځما ځانه

## ۲۰- ورځ
## دَ نمابنام نمونځ
### ۱۰۴- مزمور

۱ یهوه ته مبارک وایه ای ځما ځانه
- ای یهوه ځما الله ته ډیر لوي یي
- تا ته عزّت او لويِي آغوستِي شوِي
۲ چه ته په نور سره ځان پټوي لکه
په جامي- چه آسمانونه دَ پردي په
شان غوړوِي
۳ چه دَ خپلي بالاخانِي شَهتیر په
اوبو باندِ ږدي- چه اوریځي خپل
ګاډِي جوړوِي- چه دَ باد په وزرو
باندِ ځي
۴ چه بادونه خپل استازِي جوړوِي-
خپل خدمتګاران دَ اور شُغلي
۵ چه ده دَ زمکي بُنیادونه جوړ کړل-
چه تر اَبَدَالاٰبادَ پوري به ونه خوځولي
شي
۶ ته ئې په ژوري لکه په جامي پټوي- اوبه
په غرونو باندِ ودریدلي
۷ دغه ستا دَ ترټلو نه وتښتیدلي-
ستا له ګرږیدلو له آوازه وتښتیدلي
۸ غرونو ته پورته وختلي په خوړونو کښې
کوزي شولي- هغه ځاي ته چه تا
دَ هغو دَپارَ جوړ که
۹ تا دَ هغو دَپارَ حد مقرّر که- چه له
هغه تیري نه شي- چه دَ زمکي دَ
پټولو دَپارَ بیرته رانه شي
۱۰ دَي چِني بَیَوِي په خوړونو کښې- دَ
غرونو په منځ کښې ځي
۱۱ دَي دَ بیابان هر یو حیوان ته څښل
ورکوِي- ګورخر خپله تنده په هغو
ورکه وِي
۱۲ په هغو باندِ دَ هوا مرغان استوګنه
کوِي- دَ ښاخونو په منځ کښې آوازونه
کوِي
۱۳ له خپلو بالاخانو غرونو ته اوبه ورکوِي
- ستا دَ کاریګریو له حاصلاتَ زمکه

آسوده دَه
۱۴ دَي دَ څارپایانو دَپارَ واښه زرغونوي
- دَ انسان دَ خدمت دَپارَ سبزي-
تا چه دوي له زمکي نه خوراک وباسي
۱۵ او شراب چه دَ انسان زړه خوشحاله
کوي- او تیل چه دَ څهري دَ ځلولو
دَپارَ دي- او ډوډيُ چه دَ سړي
زړه ته قوت ورکوي
۱۶ دَ یهوه ونې سیرابي دي- دَ لبنون
نښتر چه ده لګولي دي
۱۷ چه هلته مرغان جالي جوړوي -
ډینګ چه دي سروي دَ هغه کور دي
۱۸ اوچت غرونه دَ غرڅو دَپارَ دي -
ګټونه دَ ویرَو دَپارَ پناګاه دي
۱۹ سپوږمۍ ئي دَ موسمو دَپارَ مقرر کړله
- نمرَ خپل پریوتل پیژني
۲۰ ته تیاره جوړوي نو شپه شي- چه
ټول دَ ځنګل وحشیان په هغي
کښي په پسوني ګرزي
۲۱ دَ زمري بچي په ښکار پسي غرنیږي
- او له الله نه خپل خوراک غواړي
۲۲ نمر راخیژي- نو دوي سره راټولیږي
- او په خپلو غارونو کښي څملي
۲۳ انسان په خپل کار پسي ځي- او په
خپل خدمت پسي له نماښام پوري

۲۴ اي یهوه ستا کارونه څومره ډیر
دي- تا هغه ټول په حکمت سره
جوړ کړل- زمکه ستا له ماله ډکه ده
۲۵ هلته لوي او ارت دریاب دي -
چه په کښي بي شمار خوځیدونکي دي
- او ورکوټي او لوئي حیوانات
۲۶ هلتهَ بیړۍ ځي- هم دغه لویَتان
چه تا پیدا کړي دي تا چه په کښي
لوبي کوي
۲۷ دا ټول ستا طرف ته توَجُّهه کوي-
تا چه ته هغو ته په وقت سره خوراک
ورکوي
۲۸ او هغه چه ته ئي ورکوي- هغه
ئي راټوله وي- ته خپل لاس پرانزي
- هغه په ښو ښو څیزونو ماړه کیږي
۲۹ ته خپل مخ پټوي- نو هغوي حیران
شي- ته دَ هغو سا پسته اخلي
او هغوي مړه کیږي- او خپلو خاورو
ته بیرته ورګرزي
۳۰ ته خپل روح ورلستوي هغوي
پیدا کیږي- او ته مخ دَ زمکي تازه کوي
۳۱ دَ یهوه جلال دِ تر ابده وشي-
یهوه دِ له خپلو کارونو نه خوښ
شي
۳۲ چه په زمکه باندي نظر کوي نو لړزیږي



دَي غرونه مَسَه کوي نو لوګي کیږي
۳۳ تر هغه پوري چه زه ژوندي یم
دَ یهوه دَپارَ به غزل وایم- ترڅو
چه زه موجود یم دَ الله مدحه
به غږوم
۳۴ مراقبه مِ دِ دَ هغه دَپارَ شیرینَ
وي- زه به له یهوه نه خوښ اوسم
۳۵ خطاکاران دِ له زمکي نه ورک شي
او شریران دِ هیڅري باقي نه شي
یهوه ته مبارک وایه اي څما ځانه
اَلحَمدُ لِلّه

## ۲۱- ورځ
## دَ سحر لمونځ
## ۱۰۵- مزمور

۱ دَ یهوه شکر کوئ- دَ هغه نوم یادوئ
- دَ خلقو په منځ کښ دَده کارونه
بیان کړئ
۲ دَده غزل ووایئ دَده مدح وغږوئ
- دَده په ټولو کارونو کښ مُراقبه
شئ
۳ دَده دَ مقدّس نوم حمد ووایئ- دَ
یهوه دَ طالبانو زړه دِ خوشحالي کوي
۴ دَ یهوه او دَ هغه دَ قوّت طالبان
شئ- مدام دَده دَ دیدار طلبګار
اوسئ

۵ دَده عجائب کارونه چه کړي ئي دي یاد
کړه- دَده نښاني اوَ دَ هغه دَ خلې
عدالتونه چه ده فرمایلي دي
۶ اي ته اولادَ دَ ابراهامَ دَ هغه دَ بندَ
-اي دَ غوره کړي شوي یعقوب څامن
۷ هغه یهوه څمونږ الله دَي- په ټوله
زمکه دَ هغه عدالتونه دي
۸ ده تر ابده پوري خپله وعده یادَ
کړه- هغه خبره چه ده زرو پیړو ته
وفرمایله
۹ هغه عهد چه له ابراهامَ سره ئي
وکه- او دغه قسم چه ئي له اسحاق
سره وخوړ
۱۰ او هغه ئي دَ یعقوب دَپارَ یو حکم
مقرر که- دَ اسرائیل دَپارَ ئي یوه
ابدي وعده
۱۱ دا ئي وفرمائل- چه زه به دَ کنعان
زمکه تا له درکړم- ستا دَ میراث
ونډه دي
۱۲ هغه وقت چه دوي په شمار کښ
کم وُو- هو ډیر لږ وُو او په کښ
بیګانه وُو
۱۳ او قوم په قوم ګرزیدل- له یو بادشاهت
تر بله قومه پوري
۱۴ هیڅ سړي له ئي په دوي باندِ دَ ظلم

کولو طاقت. ورنه که-هو ده دَ دوي
دَ پارَ بادشاهان ملامتَ کړل
۱۵ وائي چه ځما مسحه کړي شویوته لاس
مه اچوئِ-او ځما نبیانو ته ضرر
مه رسوئِ
۱۶ ده هغي زمکي ته قحط وباله-هغه
دَ دوډئ ټول سوټي مات کړل
۱۷ ده دَ هغو مخ کښ سړي ولیږه-یوسف
دَ مریي توب دَپارَ خرڅ شوي وه
۱۸ دَده پښي ئي په ځولانو خوږ کړي-ځان
دَده په اوسپني کښ داخل شه
۱۹ تر هغه پوري چه کلام دَده پوره
شه-او دَ یهوه کلام دَي وآزمایه
۲۰ بادشاه څوک ور واستاوه اودَي ئي
خلاص که-یعني دَ قومونو حاکم او
آزاد ئي که
۲۱ هغه دَي دَ خپل کور مختار که-او
په خپل ټول مال ئي مُسَلَّط که
۲۲ تا چه دَ هغه سرداران په خپله خوښۍ
سره وتړي-او دَ هغه بزرګانو ته دانائي
وروښیي
۲۳ اسرائیل هم مصر ته راغي-او یعقوب
دَ حام په زمکه کښ ووسیدَ
۲۴ او ده خپل خلق ډیر زیات کړل-او
دوي ئي دَ خپلو دښمنانو نه زوراور
کړل
۲۵ ده دَ هغو زړونه بدل کړل چه دَده
له قومَ سره کینه وکړي-چه دَده له
بندګانو سره دغابازي وکاندِ
۲۶ نو ده خپل بنده موسیٰ ولیږه-او
هارون چه ئي غوره کړي وه
۲۷ دوي دَ هغو په منځ کښ خپلي نښي
ښکاره کړي-او عجائب کارونه دَ
حام په زمکه کښ
۲۸ ده تیاره ور واستوله-نو تیاره ئي کړه
-او هغوي دَده له کلامَ نا فرماني و
نه کړه
۲۹ او به دَدوي ئي په وینو بدلي کړي-
او کبان دَدوي ئي مړه کړل
۳۰ دَدوي په زمکه چینګښي ډیري زیاتي
شولي-دَ بادشاهانو په محلونو کښ
۳۱ ده حکم وکه او مچان زیات شول-
او کني دَ هغو په حدونو کښ
۳۲ دَ باران په ځاي ئي ږلئِ ورکړي-او
دَ اور لمبي دَ هغو په زمکي
۳۳ دَ هغوي تاکونه اودَ انځرو وني ئي
ووهلي-اودَ هغو دَ حدونو وني ئي
ماتي کړلي
۳۴ ده حکم وکه ملخ راغلل-او پشکئ
بېحسابه



۳۵ دَهغوي دَ زمکي ټولي زرغوني بوټي
وخوړلي-دَ هغو دَ زمکي ټول حاصل
ئي وخوړ
۳۶ په زمکه دَ هغوي ئي ټول ورښي
پیدا شوي مړه کړل-وړښي دَ
هغو دَ قوّت
۳۷ له سرو اوله سپینو زرو سره ئي را
ویستل- او دَدوي په فرقو کښ
یوَ هم ضعیف نه وه
۳۸ دَدوي په وتلو مصر خوشحاله شه
-ځکه چه دَدوي دَهشت په هغوي
باندِ پریوتي وه
۳۹ ده اوریځ دَ سوري دَپارَ وغوړوله
-او اور ئي دَ شپي دَ رڼبانه کولو
دَ پارَ
۴۰ دوي سوال وکه-او ده مرچي ور
ورَسولي-او په آسماني خوراک ئي
ماړه کړل
۴۱ ده کټ وخیره اوبه ئي ورِنه جاري
کړي-او دَ نالي په شان په وچه
وبهیدلي
۴۲ ځکه چه ده خپل مُقَدَّس کلام یاد
که-او ابراهام خپل بنده
۴۳ اوخپل خلق ئي له خوښۍ سره را
وویستل-او خپل غوره کړي ئي له
شادمانۍ سره
۴۴ او دَ غیر قومونو زمکي ئي دوي ته
ورکړي-او دَ قومونو حاصل ئي په میراث
واخست
۴۵ تا چه دوي دَده حکمونه یاد ولري-
او دَده توریت وساتي-اَلحَمدُ لِلّٰهِ

## ۲۱-ورځ
## دَ نماښام نمونځ
### ۱۰۶-مزمُور

۱ اَلحَمدُ لِلّٰهِ-دَ یهوه شکر کوئِ-ځکه
چه دي نیک دَي-مهرباني دَده تر
ابده دَه
۲ څوک دَ یهوه قدرتونه بیانولي شي-
او یا دَ هغه دَ ټولو صفتونُ حمد
خوولي شي
۳ مبارک هغوي دِي چه عدالت ئي ساتي-
او هغه چه مدام دَ صداقت کار کوي
۴ اي یهوه په هغه فضل سره چه
په خپل قوم ئي کوي ما هم یاد کړه-
په خپل نجات راته متوجّه شه
۵ تا چه زه ستا دَ غوره کړیو ښیګړه
ووینم-چه ستا دَ قوم په خوشحالئِ
سره خوشحاله شم-ستا په میراث
سره حمد کوم
۶ مونږ سره له خپلو پلرونو او نیکونو

خطا وکړه- مونږ گناه او شرارت
وکه
۷ ځمونږ پلرونو په مصر کښې ستا
قدرتونه و نه پیژندل- ستا ډیري
مهرباني ئې په یاد نکړي- بلکه په
دریاب باندې یعني په دریابِ قُلزم باندې
ئې سرکښي وکړه
۸ لیکن ده دَ خپل نُوم دَپارَ نجات
ورکه- چه خپل لوي قدرت وښيي
۹ دریابِ قلزم ئې هم وترټه نو هغه
وچ شه- او هغوي ئې دَ ژوري له
منځه لکه له بیابانه هدایت وکه
۱۰ او دَ کینه کونکیو له لاسه ئې نجات
ورکه- او دَ دُښمنانو له لاسه ئې شفع
کړل
۱۱ او دَ هغوي دُښمنان ئې داسي پټ
کړل- چه یو هم ورنه پاتي نه شه
۱۲ هغو دَده په خبرو باندې ایمان راوړ-
دَ هغه حمد ئې په غزل ووایه
۱۳ هغو زر دَده کارونه هیر کړل- دَده
دَ هدایت منتظر نه شول
۱۴ او په بیابان کښې ئې ډیره مستي
وکړه- او په صحرا کښې ئې الله وآزمایه
۱۵ هرڅه چه ئې وغوښت نو ورئې کړه
- مگر دَ هغوي په ځانونو ئې خواري
را ولیږله
۱۶ په اُرْدُو کښې ئې له موسیٰ سره کینه
وکړه- او له هارون سره مُقَدَّس
دَ الله
۱۷ زمکه وچاوده او داثان ئې ونغرد-
او دَ ابِرام ټولي ئې پټ که
۱۸ او دَ هغو په ټولي اور ولگیده- دَ
هغه لنبي شریران وسیځل
۱۹ هغو په حریب کښې سخي جوړ که-
ویلي شوي صورت ته ئې سجده وکړه
۲۰ دغه شان ئې خپل جلال بدل که
- دَ غوایه په مثال چه واښه خوري
۲۱ او هغو خپل نجات ورکونکي الله هیر
که- چه لوي کارونه ئې په مصر کښې
کړي وُو
۲۲ دَ حام په زمکه کښې عجائب کارونه-
او په بحرِ قُلزم کښې هیبتناک کارونه
۲۳ دَ هغو دَ هلاکولو دَپارَ ئې ووِ- موسیٰ
دَده غوره کړي شوي ئې په منځ کښې
ودریده- دَ هغه دَ غضب دَ راگرزولو
دَپارَ چه ئې هلاک نه کړي
۲۴ بلکه هغو هغه ښائسته زمکه سپکه
وگڼله- دَده په کلام ئې ایمان رانه وړ
۲۵ بلکه په خپلو تمبوانو کښې ئې گیله
وکړه- او دَ یهوه آواز ئې وانه وریده



۲۶ نو ده په هغو باندې خپل لاس پورته
که- چه په بیابان کښې ئې وپرزوي
۲۷ او دَ هغو اولاد په غیر قومونو کښې
پریباسي- او په زمکو کښې ئې تارپتار
کړي
۲۸ هغوي له بَعلِ فَغُورَه سره ملیا
شول- او دَ مړیو قرباني ئې خوړلي
۲۹ داسي ئې په خپلو عملونو سره ناراض
که- نو په دوي باندې طاعون راغي
۳۰ پس فینحاس ودریده عدالت ئې وکه
- نو طاعون بند شه
۳۱ او دا کار دَ هغه دَپارَ صداقت
وگڼلَي شه- پیړئ په پیړئ ترابده
پوري
۳۲ هغوي بیا دَي دَ مریبا په اوبو باندې
په غُصَّه که- څو چه موسیٰ ته له
دي سببَ زیان ورسیده
۳۳ ځکه چه هغو دَده روح په غضب
که- او شونډو ئې نا مناسب وویل
۳۴ هغه قومونه هلاک نه کړل- لکه
چه یهوه حکم وکه
۳۵ بلکه له غیر قومونو سره گډ شول
- او دَ هغو کارونه ئې زده کړل
۳۶ او دَ هغو دَ بُتانو عبادت ئې وکه
- چه دَدوي دَپارَ دام شه
۳۷ او خپل ځامن او لوڼه ئې دَ شیطانانو
دَپارَ قرباني کړل
۳۸ او دَ بي تقصیرو وینې ئې تُويِ کړي
هر دَ خپلو ځامنو او لوڼو وینې
- چه هغوي ئې دَ کنعان دَ بُتانو
دَ وړاندې ذبح کړل- او زمکه په وینو
پلیته شوه
۳۹ نو داسي په خپلو عملونو پلیت شول
- او په خپلو کارونو زناکاران شول
۴۰ نو غضب دَ یهوه په خپلو خلقو
باندې په جوش کښې راغي- او ده له
خپل میراث نه هم نفرت وکه
۴۱ او ده هغوي دَ غیر قومونو په لاسونو
کښې ورکړل- او هغوي چه له دوي
سره ئې کینه لرله ورباندې مُسَلَّط
شول
۴۲ او دَ هغو دُښمنانو په عذاب کړل
او دَ هغو تر لاسونو لاندي تابعدار
شول
۴۳ ده هغوي ډیر ځله خلاص کړل-
لیکن په خپلو مصلحتونو سرکښه
شول- او دَ خپلي گُناه په سبب
کُوز کړي شول
۴۴ نو هم دوي مصیبت ولید- چه دَ هغوي
ناري ئې واوریدلي

۴۵ او هغه خپله وعده دَ هغوي دَپارَ
یاده راوړه - او دَ خپلي مهربانۍ له
زیاتوالي له سببَ پښیمانه شه
۴۶ او ده هغوي له ورکه چه برکت
بیاموي - له هغه ټولو چه قیدیان
کړي ئي وُو
۴۷ اي یهوه خُموږ الله موږ له
نجات راکړه - او موږ له غیر قومونو
نه راټول کړه - ستا دَ نامه دَ شکر
کولو دَپارَ - او ستا په مدح کښ
دَ فتحمندۍ کولو دَپارَ
۴۸ مبارک دِ وِي یهوه دَ اسرائیل الله
له ازله تر ابده پوري - او ټول خلق
دِ وایي آمین - اَلحَمدُ لِلّٰهِ

## ۲۲- ورځ
## دَ سحر لمونځ
## ۱۰۷- مزمور

۱ دَ یهوه شکر کوئ ځکه چه دَي ښه
دَي - ځکه چه مهرباني ئي ابدي دَه
۲ دَ یهوه شُفعَ کړي شوِي دِ وایي -
چه دوي ئي دَ دُښمن له لاسَ شُفعَ
کړي دي
۳ او دَ زمکو له حدونو نه ئي راټول
کړل - له نمرخاته له نمر پریواته -
له قُطبَ او له سُهَیلَه
۴ په بیابان کښ دَ صحرا په لار کښ
وګرزیدل - دَ استوګني کولو ښهر ئي
نه موندہ
۵ وږي تږي - ځانونه ئي په کښ پریشانه
شول
۶ پس هغوي په خپلي تنګۍ کښ یهوه
ته فریاد وکه - او ده هغو ته له خپلو
تکلیفونو نه خلاصَي ورکه
۷ هغوي ئي په سمه لار روان کړل - تا
چه دَ استوګني ښهر ته لاړ شي
۸ کاشکي که هغوي یهوه ته دَ هغه
دَ مهربانۍ دَپارَ شکرګُذاري وکړي -
او دَ هغه دَ عجائباتو دَپارَ بنيآدم ته
۹ ځکه چه دَي مشتاق ځان مړَوِي
او وږي ځان له نیکۍ نه ډَکوَي
۱۰ هغوي چه په تیارۍ او دَ مرګ
په سورِي کښ ناست دِي - قید کړي
شوِي په غم او په اوسپني دِي
۱۱ ځکه چه دَ الله له کلامه ئي
نافرماني وکړه - او دَ الله تعالیٰ مصلحت
ئي سپک وګڼړه
۱۲ دي دَپارَ ده دَ هغو زړونه په مشقت
کولو ذلیل کړل - هغوي پریوتل او
هیڅوک ئي مددګار نه وه
۱۳ پس هغوي په خپلي تنګۍ کښ یهوه



ته فریاد وکه - او ده هغو ته له
تکلیفونو نه نجات ورکه
۱۴ او له تیارې او دَ مرګ له سورِي
نه ئي بهر راوویستل - او دَ هغو
بندونه ئي وشلول
۱۵ کاشکي که هغوي یهوه ته دَ هغه
دَ مهربانۍ دَپارَ شکرګُذاري وکړي
او دَ هغه دَ عجائباتو دَپارَ بنيآدم
ته
۱۶ ځکه چه ده دَ زیړو دروازي ماتي
کړي - او دَ اوسپني اَړَمُونه ئي پریکړل
۱۷ احمقان دَ خپلو بدو له سببَ - او
دَ خپلو ګناهونو له سببَ عذابیږي
۱۸ نفسونه دَ دوي له هر قسمَ خوراکَ
نفرت کوِي - او دَ مرګ دروازو ته نږدې
رسیدلي دِي
۱۹ پس هغوي په خپلي تنګۍ کښ یهوه
ته فریاد کوِي - او هغو له تکلیفونو
نه نجات ورکوِي
۲۰ دَي خپل کلام ورلیږي او هغوي
جوړوِي - او له هلاکتونو نه ئي خلاصَوِي
۲۱ کاشکي که هغوي یهوه ته دَ هغه
دَ مهربانۍ دَپارَ شکرګُذاري وکړي -
او دَ هغه دَ عجائباتو دَپارَ بنيآدم
ته
۲۲ دوي دِ دَ شکر ذبحي وکړي - په نارو
سره دِ دَده دَ کارونو بیان وکړي
۲۳ هغوي چه په جهازونو کښ دریاب
ته - او په ډیرو اوبو کښ کارونه
کوِي
۲۴ هغه هم دَ یهوه کارونه وِیني - او
دَده عجائبات په ژورو کښ
۲۵ ځکه چه دَي حکم کوِي او سخت باد
راوالوزَوِي - چه دَ هغه موجونه پورته
کوِي
۲۶ هغه دَ آسمان په لوړي پورته خیژي
- بیا په ژورو کښ کوزیږي - ځانونه
ئي له ډېره ویلي کیږي
۲۷ دَ نشيخور په شان بخوده ګرزي
او ښکیږي - او ټول حکمت ئي ورک
کیږي
۲۸ پس هغوي په خپلي تنګۍ کښ یهوه
ته فریاد کوِي - او دَي هغوي دَ خپلو
تکلیفونو نه بهر راوړي
۲۹ هغه طوفان په آرام کوِي - څو چه
موجونه ئي په قرار شي
۳۰ پس دوي خوشحاله شي چه آرام
بیاموِي - نو هغه دَ مقصود کودرُونو
ته وَرَسوِي
۳۱ کاشکي که هغوي یهوه ته دَ هغه

مهربانۍ دپاره شکرګذاري کوي-اودَ
هغه دَ عجائباتو دپاره بني آدم ته
۳۲ هغوي دِ دَ خلقو په ټولي کښ دَده
لوئي ووائي-او دَ بزرګانو په مجلس
کښ دِ دَده مدح وکړي
۳۳ دَي سیندونه په بیابان بدلوي-
او دَ اوبو چیني وچه زمکه
۳۴ میوه داره زمکه بنوره کوي-دَ هغو
دَ اوسیدونکیو په شرارت
۳۵ بیابان په ډنډ بدلوي-او وچه زمکه
په چینو
۳۶ او هلته وږي او سوي-تا چه دَ
اوسیدلو دپاره ښهر جوړ کړي
۳۷ او کروندي وکړي-او دَ انګورو دپاره
تاکونه ولګوي-چه میوه دَ حاصل تر
داخلي
۳۸ دَي هغو ته برکت هم ورکوي څو
چه هغوي ډیر زيات شول-دَ هغوي
څاروي به نه کموي
۳۹ او هغوي بیا کم شول او ذلیل شول
-او دَ ظلم او دَ آفت او دَ غم له سببه
۴۰ دَي په امیرانو ذلت نازل کوي-او په
ویرانۍ کښ بي لاري ګرزي
۴۱ دَي خواران له خوارۍ نه راپورته کوي
-دَ کنډک او دَ هغو اولاد به دَ
کنډک په شان ډیر شي
۴۲ راستان به دا ووینې او خوشحاله
به شي-او ټوله بدکاري به خپله
خُله بنده کړي
۴۳ هرڅوک چه هوښیار دي دا خبره
به حفظ کړي-او هغوي به دَ یهوه
په مهربانۍ باندِ غرور وکړي

## ۲۲-ورځ
## دَ ماښام نمونځ
## ۱۰۸-مزمور

۱ ځما زړه ټینګ دَی اي الله-زه به
غزل ووایم-هو زه به مدحه وغږوم
په خپل جلال سره
۲ ویښ شه اي ربابه او ستاره-
زه به سحر ویښ شم
۳ اي یهوه زه به دَ خلقو په منځ
کښ ستا مدح وکړم-زه به دَ قومونو
په منځ کښ ستا مدح ووایم
۴ څکه چه مهرباني ستا له آسمانونو
نه دپاسه پورته ده-او رښتیني ستا
تر اوریځو پوري
۵ اي الله ته په آسمانونو باندِ اوچت
شه-او ستا جلال دِ په ټوله زمکه
دپاسه شي
۶ چه ستا محبوب خلاص شي-په



خپل ښي لاس سره نجات راکړه
-او مونږ له ځواب راکړه
۷ الله په خپلي پاکۍ سره وفرمایل-
چه زه به خوشحال شم-او سکم به
ووېشم-او دَ سکات خوړ به ګچ کړم
۸ جلعاد ځما دَي-او منسه ځما دَي-
او افرائیم هم ځما دَ سر قوت دَي-
او یهوذا مِ دَ بادشاهۍ عصا ده
۹ موآب ځما دَ وینځلو لوښي دَي-
په آدوم به خپلي څپلۍ ور وغورځوم
-او په فلسطط به زه ناري کوم
۱۰ څوک به ما محکم ښهر ته راولي-
او چا زه آدوم ته بوتلم
۱۱ اي الله تا مونږ غورځولي نه یو څه؟
-او ته اي الله ځمونږ له لښکرو
سره نه وزي څه ؟
۱۲ نه دَ دښمن په مخالف مونږ له مدد
راکړه-څکه چه دَ انسان نجات
عبث دَي
۱۳ مونږ به دَ الله په مددګارۍ سره
بهادري وکړو-څکه چه هم دَي به
ځمونږ دښمنان پائمال کړي

## ۱۰۹-مزمور

۱ اي ځما دَ حمد الله مه چپ کیږه
۲ څکه چه دَ شرير خُله او دَ دغه باز
خُله ما ته وازه شوي ده-په دروغژنه
ژبه سره ئي په ما خبري وکړي
۳ او دَ کینې په خبرو سره ئي ګیر کړم
-او بي سببه ئي جنګ راسره وکه
۴ دَ محبت په بدله کښ مِ دښمنان
شول-لیکن زه په دُعا
۵ او دوي دَ نیکۍ په عوض کښ بدي
راسره کړي ده-او دښمني ځما دَ محبت
په بدل کښ
۶ ته په هغه باندِ یو شرير مقرر
کړه-او دَ هغه په ښي لاس دِ شیطان
ودریږي
۷ هرکله چه دَ هغه عدالت کیږي نو
مجرم دِ ووځي-او دَده دُعا دِ خطا
وګڼلي شي
۸ دَده ورځي دِ لږي شي-او عُهده
دَده دِ بل څوک واخلي
۹ ځامن دَ ده دِ یتیمان شي او ښځه ئي کُنډه
۱۰ اولاد دَده دِ دربدر وګرزي او دروزه
دِ وکړي-او له خپلو ویرانو ځایونو
نه دِ ډوډۍ وغواړي
۱۱ سودخور هرڅه چه دَده وي را و
دِ ئي نیسي-او بیګانه دِ دَده ګټلي
لوټ کاندِ
۱۲ هیڅوک دِ نه وي چه په ده مهرباني

وکړي- داسي دِ هم څوک نه وِي چه
دَده په يتيمانو باندِ ترس وخوري
۱۳ اولاد دَده دِ پرې کړې شي- په بله
پيړۍ کښ دِ نوم دَده محوه شي
۱۴ دَ هغه دَ پلرونو نيکونو گناه دِ دَ
يهوه په حضور کښ مذکور وي-
او دَده دَ مور خطا دِ محوه نه شي
۱۵ هغوي دِ مدام دَ يهوه په حضور
کښ وي- تا چه دي دَ هغه ياد له
زمکي نه ورک کړي
۱۶ ځکه چه ده مهرباني کول په ياد را
نه وړل- مگر په غريب او په خوار
سره ئي ظلم وکه- او په شکسته دل
ئي هم تا چه مړ ئي کړي
۱۷ هو هغه په لعنت مينه لرله نو
ور ورسيد- او برکت ئي غوره نه که
نو تري لري شه
۱۸ لکه چه ده لعنت دَ جامي په شان
واغوست- هغه په کلمو کښ دَ اوبو
په شان راغي- او دَ تيلو په شان
دَده په هډونو کښ
۱۹ هغه دِ دَ جامي په شان وي چه
ورسره ئي اغوندي- او لکه کمربند
چه مدام ئي تړلی تړي
۲۰ دغه اجر دَي څما دَ غليمانو دَ يهوه

له طرفه- او دَ هغو چه څما په ځان
باندِ بدي وائي
۲۱ مگر ته اي خداونده الله دَ خپل نوم
په دوي ما سره سلوک وکړه- ځکه
چه ستا مهرباني ښه ده نو ما خلاص
کړه
۲۲ ځکه چه خوار او محتاج يم- او زړه
مِ په کوگل کښ وچاؤد
۲۳ زه دَ سوري په شان يم چه
وړديږي- دَ ملخ په شان شړلي
شوي يم
۲۴ زنگنونه مِ له روژي له سببه سست
شوي دي- او غوښي مِ له څربښت
نه ووتي
۲۵ زه هغو ته رسوا شوي يم- هغوي
چه راته گوري- نو سرونه
خوځوي
۲۶ اي يهوه څما الله ما له کومک راکړه
- او دَ خپلي مهربانۍ په موافق نجات
راکړه
۲۷ تا چه هغوي وپوهيږي چه دغه ستا
لاس دَي- چه تا دغه اي يهوه
کړي دي
۲۸ هغوي به لعنت کوي مگر ته برکت
ورکوي- هرکله چه پورته شي نو



شرمنده به شي- مگر ستا بنده به
خوښي وکړي
۲۹ څما آزارونکيو ته دِ دَ شرمندگۍ جامي
واغوستولي شي- او هغوي دِ ځان
پټ کړي په خپلي شرمندگۍ لکه
چه په څادر
۳۰ زه به په خپلي خولي سره دَ يهوه
ثنا ووايم- هو زه به دَ ډيرو په منځ
کښ دَده حمد وکړم
۳۱ ځکه چه دَي به دَ مسکين په ښي
لاس ودريږي- تا چه هغه دَ هغو
له لاسه چه دَ هغه په ځان
باندِ حکم کوي نجات ورکوي

## ۲۳- ورځ
## دَ سحر نمونځ
### ۱۱۰- مزمور

۱ يهوه څما خداوند ته وفرمائيل چه
ته مِ په ښي لاس کښينه- تر
هغه پوري چه زه ستا دښمنان
تر پښو لاندِ کړم
۲ يهوه به ستا دَ قوّت امسا له صيونه
واستوي- ته دَ خپلو دښمنانو په
منځ کښ حکم کوه
۳ ستا قوم به ستا دَ قوّت په ورځ کښ
په خوشحالۍ سره ځان قربان کړي- دَ

پاکيزگۍ په خوبصورتۍ کښ دَ سحر
له رحمه- تا له دَ خپلي ځوانۍ شبنم دَي
۴ يهوه قسم وخوړ- او پښيمان به نه
شي- ته به تر ابده پوري کوهن يې
دَ ملک صدق په شان
۵ خداوند به ستا په ښي لاس- دَ
خپل قهر په ورځ کښ بادشاهان
ووهي
۶ دَ غير قومونو په منځ کښ به عدالت
وکړي- هغه به ځايونه له مړو نه
ډک کړي- هغه به په ډيرو وطنونو
کښ سرداران ووهي
۷ هغه به په لاري کښ دَ نالي نه وڅښي
- دَدي له سببه به خپل سر هسک
کاندِ

### ۱۱۱- مزمور

۱ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ- زه به په خپل ټول
زړه سره دَ يهوه شکرگذاري کوم
- دَ راستانو په مجلس کښ او په
جماعت کښ
۲ دَ يهوه کار بزرگ دَي- تلاش کړي
شوي له هغو ټولو نه په کښ خوشحالي
کوي
۳ دَده کار عزت او شوکت دَي- او
دَده صداقت تر ابده پوري قايم دَي

۴ هغه خپل عجائب کارونه دَ يادګارۍ
دَپاره جوړ کړل - يهوه کريم او رحيم
دَي
۵ ده هغو ته چه له ده نه ويرېږي
خوراک ورکه - خپله وعده به ترابده
پوري ياده لري
۶ ده خپلو خلقو ته دَ خپلو کارونو
زور ور ښکاره که - هغه له دَ غير
قومونو ميراث په ورکولو کښ
۷ دَ هغه دَ لاسونو کارونه حق او عدالت
دي - دَده ټول فرائض يقيني دي
۸ ترابده پوري باقي دي - په حق او په
راستۍ سره کړي شوي دي
۹ ده خپلو خلقو ته فديه ورواستوله
- ده خپله وعده ترابده پوري فرمايلي
ده - دَده نوم قدوس او مهيب دَي
۱۰ دُ يهوه ويره دَ حکمت شروع دَه -
دَ هغو ټولو عقل چه عمل پر کوي
ښه دَي - دَده مدح تر ابده پوري
قائمه دَه

## ۱۱۲- مزمور

۱ اَلحَمدُ لِلّٰهِ - مبارک هغه سړي
دَي - چه له يهوه نه ويرېږي - چه
دَده په حکمونو ډېره خوشحالي کوي
۲ دَ هغه اولاد به په زمکه کښ قوتناک
وي - دَ راستانو اولاد به مبارک
وي
۳ دَ هغو په کور کښ به مال او دولت
وي - او دَ هغه صداقت ترابده پوري
قايم دَي
۴ دَ راستانو دَپاره به په تياري کښ
نور راوخېژي - هغه کريم او رحيم
او صديق دَي
۵ نېک دَي هغه سړي چه کرم کوي
او قرض ورکوي - هغه به خپله
مقدمه په عدالت کښ پوره کوي
۶ ځکه چه هغه به هيچري ونه خوځېږي
- دَ صادقانو ذکر به مدام وي
۷ دَ بدو خبرونو نه به نه ويرېږي - دَ
هغه زړه ټينګ دَي په يهوه باندِ
به تکيه کوي
۸ دَ هغه زړه قرار دَي و به نه ويرېږي
څو چه هغه خپل مطلب ونه ويني
په خپلو دښمنانو باندِ
۹ هغه ښندلي دي - هغه غريبانو له
ورکړي دي - دَده صداقت ترابده
پوري دَي - ښکر دَده به په عزت
سره هسک کړي شي
۱۰ شرير به ووينِي او په غصه به
شي هغه به په خپلو غاښونو سره



وچيچي او ويلي به شي - خواهش دَ
شريرانو به باطل شي

## ۱۱۳- مزمور

۱ اَلحَمدُ لِلّٰهِ - حمد وکړئ اي دَ يهوه
بندګانو - دَ يهوه دَ نوم حمد وکړئ
۲ دَ يهوه نوم دِ مبارک وي - له دي
حاله تر ابده پوری
۳ له نمرخاته نه تر پرېواته پوري - دَ
يهوه نوم دِ ممدوح وي
۴ يهوه په ټولو غير قومونو پاس دَي
- او دَده لوېي په آسمانونو باندِ دَه
۵ څوک دَ يهوه څمونږ الله په شان
دَي - چه پورته کښېني
۶ ثان حليم کوي دَ ليدلو دَپاره - هر
څه چه په آسمانونو او په زمکه کښ
دي
۷ دَي مسکين له خاورو نه پورته کوي
- او غريب له ډېرانه را پاسوي
۸ تاچه هغه له اميرانو سره کښېنوي
- بلکه دَ خپلو خلقو له اميرانو
سره
۹ شنډه ښځه دَ کور ساتني دَپاره
اوسوي - چه دَ هلکانو خوشحاله
مور شي
اَلحَمدُ لِلّٰهِ

## ۲۳- ورځ
## دَ ماښام نمونځ

## ۱۱۴- مزمور

۱ چه اسرائيل له مصره ووت - دَ
يعقوب ټبر دَ بيګانه ژبي له خلقو
نه
۲ نو يهودا دَ هغه مقدس شه -
اسرائيل دَ هغه سلطنت
۳ درياب وليد او وتښتېده - اَردَن
پسته وشاړه شه
۴ غرونه دَ مږونو په شان وټوپ ليده
- او غونډئ دَ ګډورو په شان
۵ اي درياب په تا څه وشول چه
وتښتېدي ؟ - اي اَردَن چه ته
پسته لاړې
۶ اي غرونو ولي دَ مږونو په شان
وټوپ ليدئ - اي غونډيو دَ ګډورو
په شان
۷ اي زمکي دَ خداوند په حضور و
لړزېږه - دَ يعقوب دَ الله په حضور
۸ چه کاڼي ئې دَ اوبو په حوض بدل
که - ګټي ئې دَ اوبو په چيني

## ۱۱۵- مزمور

۱ نه مونږ ته اي يهوه نه مونږ ته -
بلکه خپل نوم ته جلال ورکړه - دَ

خپلي مِهربانۍ او دَ خپلي راستۍ په
سببَ
۲ ولي دِ غیر قومونه وايي-چه اوس
دَدوي الله چرته دَي ؟
۳ لیکن ځمونږ الله په آسمانونو کښ
دَي- ده هرڅه چه وغوښتل هغه
ئي وکړل
۴ دَ هغو بُتان دَ سپینو او دَ سرو
زرو دِي- دَ بني آدمو دَ لاسونو کاریګري
دِي
۵ دَ هغو خُلي شته دَي- مګر خبري
نه کوي- سترګي ئي شته دَي- مګر
نه وینِي
۶ غوږونه ئي شته دَي-مګر نه اوري
-پوزي ئي شته دَي-مګر نه بُویَوي
۷ لاسونه ئي شته دَي-مګر نه نِسي-
پښي ئي شته دَي-مګر نه ځي- له
خپله حلقه آواز بستلي نه شي
۸ هغه څوک چه هغه جوړوي دَ هغو
په شان دِي- هو هرڅوک چه پرِ باند
تکیه کوي
۹ اي اسرائیلَ په یهوه باندِ تکیه کوه
-هغه دَ هغوي مددګار او ډال دَي
۱۰ اي دَ هارون خاندانه په یهوه تکیه
وکړئ- هغه دَ هغوي مددګار او ډال
دَي
۱۱ اي له یهوه نه ویریدونکیو په یهوه
تکیه وکړئ- هغه دَ هغوي مددګار
او ډال دَي
۱۲ یهوه مونږ یاد کړو هغه به برکت
راکړي-دَي به دَ اسرائیل تبر ته برکت
ورکړي-دَ هارون تبر ته به برکت ورکړي
۱۳ یهوه هغو ته چه له ده نه ویریږي
برکت به ورکړي-هم وړو ته هم لویو ته
۱۴ یهوه دِ تاسو زیات کاندِ-تا او ستا اولاد
۱۵ تاسو دَ یهوه مبارک یئ-چه ده آسمان
او زمکه جوړ کړل
۱۶ آسمانونه دَ یهوه آسمانونه دِي-لیکن
زمکه ئي بني آدمو ته وبخښله
۱۷ مړه دَ یاه حمد نه کوي-او نه هغه
ټول چه خاموشۍ ته کوزیدونکي دِي
۱۸ لیکن مونږ به له دي وقت نه تر
ابده پوري- یاه ته مبارک وایُو-
اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ

## ۲۴-ورځ
## دَ سحر نمونځ
## ۱۱۶-مزمور

۱ زه له یهوه سره مینه لرم-ځکه
چه ده دَاوریده-ځما آواز او ځما
زاريِ



۲ له دي سبب ئي ما ته غوږ ونه کیښول
-زه به په خپل ټول عمر کښ ده ته
فریاد وکړم.
۳ دَ مرګ عذابونو ګیر کړم-او دَ هادِیز
سختیو ونیولم-زه په دَرد او غم کښ
ګرفتار شوم
۴ پس ما دَ یهوه نُوم واخست-چه
اي یهوه عرض لرم ځان ځما خلاص
کړه
۵ یهوه کریم او صدیق دَي- هو الله
ځمونږ رحیم دَي
۶ یهوه دَ مُخلِصانو ساتونکي دَي-چه
زه عاجز شوي وم-او ما له ئي
نجات راکه
۷ اي ځما خانه خپل آرام ته وګرزه-
چه یهوه په تا باندِ احسان کړي دَي
۸ تا له مرګه ځما ځان خلاص که -
سترګي مِ له اوښکو-او پښي مِ له
ښوئیدلو
۹ زه به دَ یهوه حضُور ته وګرزم- دَ
ژوندیو په زمکو کښ
۱۰ زه ایمان راوړم له دي سببَ زه
خبره کوم-زه په ډیري سختۍ کښ
وم
۱۱ ما په خپلي جلتۍ سره وویل-
چه ټول بني آدم دروغ ویونکي دِي
۱۲ زه به یهوه ته څه ورکړم-دَ هغو
ټولو په عوض کښ دَ ځان دَپارَ
۱۳ زه به دَ نجات پیاله واخلم-او دَ
یهوه نُوم به وبولم
۱۴ زه به دَ یهوه نذرونه اداکړم-هو
دَ هغو ټولو خلقو په مخ کښ
۱۵ دَ یهوه په نظر کښ ګران بها دَي-
دَده دَ تقویٰ دارانو مرګ
۱۶ اي یهوه حقیقتًا زه ستا بنده یم-
زه ستا بنده یم ستا دَ وینځي ځوي یم
تا ځما بندونه پرانتل
۱۷ زه به ستا حضُور ته دَ شکرګذارۍ
ذبحي ذبح کړم-او دَ یهوه نُوم به
وبولم
۱۸ زه به یهوه ته نذرونه اداکړم-هو
دَ هغو ټولو خلقو په مخ کښ
۱۹ دَ یهوه دَ کور په دربارونو کښ-
ستا په منځ کښ اي اورشلیمَ -
اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ

## ۱۱۷-مزمور

۱ اي ټولو قومونو دَ یهوه حمد کوئ
اي ټولو اُمّتونو دَده تعریف وکړئ
۲ ځکه چه مهرباني دَده په مونږ باندِ
ډیره دَه-او راستي دَ یهوه تر ابده پوري

ده- اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ

## ۱۱۸- مزمُور

۱ دَ يهوه شکر کوئ ځکه چه دَي نيک
دَي-او مِهرباني دَده تر ابَد پورې دَه
۲ اسرائيل دِ ووايِي-چه مهرباني دَده
تر ابَد پورې دَه
۳ دَ هارُون ټبر دِ ووايِي-چه مهرباني
دَده تر ابَد پورې دَه
۴ ټول ويريدونکي دَ يهوه دِ ووايِي-
چه مهرباني دَده تر ابده پورې دَه
۵ ما په تنګسيا کښ ياه وباله-ياه
ما له ځواب راکه په فراخ ځاي
کښ
۶ يهوه ځما په لورِي دَي-زه نه ويريږم
-انسان ځما څه کولَی شِي
۷ يهوه ځما په طرف په هغو کښ چه
ځما مددګار دِي-نو زه به هغه چه
کينه راسره کوِي وَوينم
۸ په يهوه توکّل کول ښه دِي-نه په
سړي
۹ په يهوه توکّل کول ښه دِي-له تکيه
کولو نه په اميرانو
۱۰ زه ټولو قومونو ګير کړم-زه به په نُوم
دَ يهوه ټول پرې کړم
۱۱ هغوي زه راګير کړم-هو هغوي راګير
کړم-زه به په نُوم دَ يهوه هغوي پرې کړم
۱۲ هغو دَ کبينه دَ مچو په شان ګير کړم
هغوي دَ اَغزيو دَ اور په شان بَل
شول-زه به دَ يهوه په نُوم هغوي
پرې کړم
۱۳ زه ئې په زور سره ټيل وهلم چه
پريوزم-ليکن يهوه ځما مدد وکه
۱۴ ياه ځما قوت او ځما غزل دَي-او
هغه ځما نجات شوي دَي
۱۵ دَ صادقانو په خيمه کښ دَ خوښئِ
او دَ نجات آوازدَي-ښي لاس دَ يهوه
دَ قوت کار دَي
۱۶ ښَي لاس دَ يهوه هَسک شوي دَي
-ښَي لاس دَ يهوه دَ قوت کار کوِي
۱۷ زه به مړ نه شم بلکه ژوندَي به اوسم
-او دَ يهوه کارونه به بيان کړم
۱۸ ياه ما ته ډيره تنبيه راکړه-ليکن
مرګ ته ئې و نه سپارلم
۱۹ دَ صداقت دروازي ځما دَ پارَ وازي
کړئِ-زه به هغو ته ننوزم-دَ ياه
ثنا به ووايم
۲۰ دَ يهوه دروازه دا دَه-صادقان به
ورننوزِي
۲۱ زه به تا ته شکر وکړم-ځکه چه تا
ما له ځواب راکړي دَي-او ته ځما



نجات شولې
۲۲ هغه کاڼي چه مِعمارانو رد که
-دَ ګُټ سر شوي دَي
۲۳ دا کار دَ يهوه دَي
څمونږ په سترګو کښ عجب دَي
۲۴ دا هغه ورځ ده چه يهوه پيدا کړي
ده-مونږ به په دې کښ ښادِي
کوو او خوشحاله به يو
۲۵ اي يهوه عرض لرو نجات راکړه
۲۶ مبارک دِ وِئ هغه چه دَ يهوه په
نُوم راځي-مونږ تاسو ته دَ يهوه
له کوره مبارکبادِي درکړي ده
۲۷ يهوه الله دَي او هغه په مونږ
بانډِ رڼا ځلَوِي-ذبيحه په پړيو په
ښکرو پورې دَ قربانګاه وتړئِ
۲۸ ځما الله ته يې او زه به ستا ثنا
وکړم-ته ځما الله يې زه به تا هَسک
کړم
۲۹ دَ يهوه شکرګذاري کوئ-ځکه چه
هغه نيک دَي-ځکه چه مهرباني
دَده تر ابده پورې ده

## ۲۴-ورځ
## دَ نمابنام نموځ
## ۱۱۹-مزمُور

الف-

۱ مبارک هغوي دِي چه په لاري کښ
کامل دِي-چه دَ يهوه په توريت
کښ تلونکي دِي
۲ مبارک هغه دِي چه دَده شاهدِي
ساتي-چه په ټول زړه سره ئې لټوِي
۳ هو هغوي بدِي نه کړِي-دَده په
لارو ځي
۴ تا حکم کړي دَي دَ خپلو مسئلو-
چه مونږ ئې بالکل ومنو
۵ اي کاشکي چه لاري ځما قائم شوي
-تا چه ستا فرمانو نه ومنُو
۶ پس زه به شرمنده نه شم-هرکله
چه زه ستا ټولو حکمونو ته نګاه
کوم
۷ تا ته به دَ زړه په راستئِ سره شکر
کوم-چه زه ستا صادق عدالتونه
زده کړم
۸ زه به ستا فرمانونه ومنم-ته مې
بالکل مه پرېږده

بيت

۹ ځوان به څرنګه خپلي لاري پاکي کړي؟
-ستا دَ کلام په موافق سره په ځاي
له راوړو نه
۱۰ ته مې په ټول زړه سره ولټولې-
زه ستا له حکمونو نه لاړ خطا نه
کړم

۱۱ ما ستا وعده په خپل زړه کښې
پټه ايښې ده-هسې نه چه ستا
خطا وکړم
۱۲ اي يهوه ته مبارک يې-خپل فرمانونه
ما ته رازده کړه
۱۳ ما په خپلو شونډو سره بيان
کړل-ستا دَ خولې ټول عدالتونه
۱۴ زه ستا دَ شاهديو په لاري کښې
راسي خوشحاله يم-لکه چه په ټول
دولت سره
۱۵ زه به ستا په مَسَلو کښې فکر وکړم
-او ستا په طريقو به نګاه وکړم
۱۶ ستا په فرمانونو کښې به خوښ اوسم
-او ستا کلام به هير نه کړم
ګيمل
۱۷ له خپل بنده سره احسان وکړه-
تا چه زه ژوندَي شم-نو زه به ستا
کلام وُمَنَم
۱۸ سترګي ځما پرانزه چه ووينم-عجائب
ستا له تورٰتَ
۱۹ زه په زمکه کښې مسافر يم-ته خپل
حکمونه له ما نه مه پټوه
۲۰ ځما ځان په شوق پړ کيږي-هر
وقت ستا دَ عدالتونو دَپارَ
۲۱ تا هغه مغروران چه ملعونان دي
ترټلي دي-چه ستا له حکمونو نه
ګمراه کيږي
۲۲ ته له ما نه ملامتيا او سپکاوي
دفعه کړه-ځکه چه ما ستا شاهدئ
ساتلي دي
۲۳ اميران هم سره کښيناستل او ځما
په خلاف ئي خبري وکړي-مګر ستا
بنده ستا په فرمانونو کښې فکر وکه
۲۴ ستا شاهدئ ځما خوښئ دي-او
ځما صلاح کونکي دي
دالث
۲۵ ځما ځان په خاورو پوري نښتي دَي
ته مِ په موافق دَ خپل کلام ژوندَي
کړه
۲۶ ما خپلي لاري ظاهري کړي او تا
ما ته ځواب راکړ-خپل فرمانونه
را زده کړه
۲۷ دَ خپلو مَسَلو په لار مِ پوه کړه
-او زه به ستا په عجائبو کارونو
باندِ فکر وکړم
۲۸ ځان ځما له غمَ ويلي کيږي-دَ خپل
کلام په موافق ما قايم کړه
۲۹ دَ دروغو لار له ما نه لري کړه-او په
مهربانئ سره خپل تورٰت ما ته وبخښه
۳۰ ما دَ وفادارئ لار خوښه کړه-ستا



عدالتونه مِ په خپل مخ کښې کيښول
۳۱ زه ستا په شاهديو پوري نښتي يم
-او اي يهوه ما مه شرمنده کوه
۳۲ زه به ستا دَ حکمونو په لاري ورغلم
-چه ته ځما زړه کُشاده کړي

## ۲۵-ورځ
## دَ سحر نمونځ

هي
۳۳ اي يهوه ما ته دَ خپلو فرمانونو لار
را وښيه-او زه به هغه ترابده
پوري وساتم
۳۴ ما ته فهم راکړه چه زه ستا تورٰت
وساتم-هو زه به هغه په خپل
ټول زړه سره ومنم
۳۵ ما دَ خپلو حکمونو په لاري روان
کړه-ځکه چه ځما خوښي په هغې
کښې ده
۳۶ ځما زړه دَ خپلو شاهديو په لوري
مايل کړه-او نه دَ طمعي په لوري
۳۷ ځما سترګي را وګرزوه چه په بطلان
نظر ونه کړي-او په خپلي لاري کښې
ما ژوندَي کړه
۳۸ خپله وعده دَ خپل بنده دَپارَ
قايمه لره-چه هغه له تا ويريږي
۳۹ هغه ملامتيا چه زه ورنه ويريږم
له ما نه لري وګرزوه-چه ستا
عدالتونه ښه دي
۴۰ ګوره ستا دَ مَسَلو مشتاق يم-
په خپل صداقت کښې ما ژوندَي کړه
واو
۴۱ ستا مِهربانئ دِ ما ته راشي اي يهوه
-نجات ستا دَ وعدي په موافق
۴۲ تا چه زه هغو ته چه ما ملامت
کوي ځواب ورکړم-ځکه چه زه ستا
په کلام تکيه کړم
۴۳ دَ رښتينئ کلام مِ له خولې نه بالکل
مه جدا کوه-ځکه چه ستا په عدالتونو
ځما اعتماد دَي
۴۴ نو زه به ستا تورٰت هر وقت منم-
تر اَبَدُالاٰباد پوري
۴۵ او زه به په اَزت ځاي ګرزم-ځکه
چه مَسَائل ستا مِ ولټول
۴۶ زه به دَ بادشاهانو په مخ کښې هم
ستا دَ شاهديو ذکر وکړم-او شرمنده
به نه شم
۴۷ ستا په حکمونو کښې به خوښي وکړم
-چه ما غوره کړه
۴۸ زه به ستا دَ حکمونو په لوري چه زه
له هغو سره مينه لرم لاس پورته کړم
او زه به ستا په فرمانونو کښې فکر وکړم

زَین

۴۹ یاد کړه هغه کلام خپل بنده ته-
چه زه دِ پرِ باندِ امیدوار کړم
۵۰ دغه ځما په غم کښ تسلي ده-ځکه
چه ستا وعدي ما ته ژوند راجښلي
دَي
۵۱ مغرورانو په ما پوري ډیري توقي
وکړي-مگر زه ستا له تورِت و نه
گرزیدم
۵۲ اي یهوه ما ستا پخواني عدالتونه
په یاد کړل-نو تسلي مِ وموندله
۵۳ حیرانِي نیولَي یم-دَ هغو شریرانو
په سبب چه ستا تورِیت ئي پرېښي
دَي
۵۴ ستا فرمانونه ځما غزلونه شوي دِي
-ځما دَ مسافريِ په کور کښ
۵۵ اي یهوه ما په شپه کښ ستا نوم
یاد که-او ستا تورِت مِ منلي دَي
۵۶ دومره ځما وُو-چه ما ستا مسائل
وساتل

خیث

۵۷ یهوه ځما بخره دَي-ما وویل چه
زه به ستا خبري منم
۵۸ ما په ټول زړه سره ستا دَ ځهري
مِهرباني وغوښتله-ته دَخپلي وعدي
په موافق رحم را باندِ وکړه
۵۹ ما په خپلو لارو غور وکه-او ستا
دَ شاهدیو په لوري مِ پښي را
وگرزولي
۶۰ ما جلدي وکړه او ډیل مِ و نه که
-او ستا دَ حکمونو دَ منلو دَپارَ
۶۱ دَ شریرانو پړي را نه چاپېره شول-
مگر ما ستا تورِت هیر نه که
۶۲ زه به نیمه شپه پورته شم ستا
دَ شکر کولو دَپارَ-ستا دَ صداقت
دَ عدالتونو په سبب
۶۳ زه دَ هغو ټولو ملگري یم چه له
تا نه ویرېږي-او دَ هغو چه ستا
مسائل مني
۶۴ اي یهوه زمکه ستا له مهربانۍ
نه آباده ده-ما ته خپل فرمانونه
رازده کړه

طیث

۶۵ له خپله بنده سره ښیگړه وکړه-
اي یهوه موافق دَخپل کلامه
۶۶ ما ته ښه خوند او معرفت رازده
کړه-ځکه چه ما ستا په حکمونو ایمان
راوړي دي
۶۷ دَ مصیبت له گرفتار کیدلو نه مِ لاره
خطا کړه-لیکن اوس به ستا وعده
ومنم
۶۸ ته نیک او نیکي کونکَي یي-ما ته خپل
فرمانونه رازده کړه
۶۹ مغرورانو په ما پوري دروغ تړلي
دِي-زه به په ټول زړه سره ستا
مسائل وساتم
۷۰ دَ هغو زړه دَ وازدو په شان څورب
شوي دَي-لیکن زه ستا په تورِت
خوښي کوم
۷۱ ځما دَپارَ ښه ده چه ربړیدلَي وَي-
چه ستا فرمانونه زده کړم
۷۲ ستا دَ خولي تورِت ما له ښه دَي
له زرگونو سرو او سپینو زرو نه

## ۲۵- ورځ
## دَ نمابنبام نمونځ

یُود

۷۳ ستا لاسونو زه پیدا کړم-او قائم
ئي کړم-ما ته فهم راکړه چه ستا
حکمونه زده کړم
۷۴ هغوي چه له تا نه ویرېږي ما به
ویني او خوشحاله به شي-ځکه چه
ستا کلام ته امیدوار یم
۷۵ اي یهوه زه پوهېږم چه عدالتونه
ستا صادق دِي-او په وفاداريِ کښ
دِ زه ذلیل کړم
۷۶ ستا مِهرباني دِ ځما دَ تسلي سبب
شي-موافق دَخپلي وعدي چه دَ
خپل بنده سره دِ کړي وه
۷۷ ستا رحمتونه دِ په ما باندِ راشي چه
ژوندَي شم-ځکه چه ستا تورِت
ځما خوښي ده
۷۸ مغرور دِ شرمنده شي-ځکه چه
په روغَ سره ئي ځما حق وهلي دَي
لیکن زه به ستا په مسائلو فکر وکړم
۷۹ ویریدونکي ستا دِ ځما په لوري را
وگرزي-او هغوي به ستا شاهدي
وپېژني
۸۰ ځما زړه دِ ستا په فرمانونو کښ
کامل وي-تاچه زه شرمنده نه شم

کاف

۸۱ ځان ځما ستا دَ نجات دَپارَ بي هوشَ
دَي-او ستا کلام ته امیدوار یم
۸۲ ستا دَ وعدي په انتظار کښ مِ
سترگي ړندي شوي-چه دا وایم
چه کله به مِ تسلي وکړي؟
۸۳ زه دَ ژِي په شان په لوگي کښ یم-
لیکن ستا فرمانونه مِ هیر نه کړل
۸۴ ستا دَ بنده ورځي څو دِي؟ ته به
کله دَ هغو عدالت وکړي چه ما
ربړوي

۸۵ مغرورانو زما دَپارَ دوغل وکنَوَدَ-
چه ستا دَ توریت موافق نه دِي
۸۶ ستا ټول حکمونه وفادار دِي- هغوي
په دروغه سره ما ربړوِي ته مِ مدد
وکړه
۸۷ هغو زه په زمکه کښې نزدې وخوړلم
- لیکن ما ستا مسائل ترک نه کړل
۸۸ دَخپلي مِهربانئِ په شان
ما ژوندي کړه- چه زه ستا دَخولي
شاهدِي وَمنم

لامِد

۸۹ تر ابده پوري اي یهوه- په آسمانونو
باندِ ستا کلام دَي
۹۰ وفادارِي ستا پُښت په پښت دَه-
تا زمکه قائمه کړه او هغه ودریدله
۹۱ او ستا دَ عدالتونو په موافق تر
ورځي پوري ودریږي- ځکه چه ټول
څیزونه ستا بندګان دِي
۹۲ که ستا توریت زما خوشحالِي شوَي
نه وَي- نو زه به په خپل مصیبت
کښې هلاک شوي وم
۹۳ زه به ستا مسائل تر ابده پوري
هیر نه کړم- ځکه چه په هغو سره
دِ زه ژوندي کړم
۹۴ زه ستا یم نو نجات راکړه- ځکه
چه ما ستا مسائل ولټول
۹۵ شریران زما دَ هلاکولو په انتظار
کښې دِي- لیکن زه ستا په شاهدیو
غور کوم
۹۶ ما دَ ټولَ کمالیت حد لیدلَي دَي-
لیکن حکم ستا ډیر کشاده دَي

مِیم

۹۷ زه ستا له توریت سره څومره مینه
لرم- ټوله ورځ مِ په هغه کښې
فکر دَي
۹۸ ستا حکمونو زه زیات هوښیار کړم
له خپلو دُښمنانو نه- ځکه چه
هغوي مدام له ما سره دِي
۹۹ زه له خپلو ټولو اُستاذانُ نه زیاته
پوهه لرم- ځکه چه ستا شاهدِي
زما فکر دَي
۱۰۰ زه له سپین‌ږیرو نه زیات پوهیږم
- ځکه چه ما ستا مسائل ساتلِي
دِي
۱۰۱ ما له هري بدي لاري نه خپل
قدمونه وساتل- دَدي دَپارَ چه زه
ستا کلام ومنم
۱۰۲ زه ستا دَ عدالتونو ګرزیدلي نه یم-
ځکه چه تا ما ته را وښیل
۱۰۳ ستا وعدي زما په تالو باندِ څنګه



خوږي لګیږي- بلکه له ګبینه هم زیاتي
زما په خولي کښې
۱۰۴ ستا دَ مسائلو په وسیلي زه پوه
شوم- له دي سببَ زه له هري بدي
طریقي سره کینه لرم

۲۶- ورځ

دَ سحر لمونځ

نُون

۱۰۵ ستا کلام زما دَ قدمونو دَپارَ
ډیوه دَي- او زما دَ لاري رڼا دَي
۱۰۶ ما قسم خوړلَي دَي او قایم مِ کړه-
چه زه به ستا دَ صداقت عدالتونه
ومنم
۱۰۷ زه ډیر ربړ کړي شوَي یم- اي یهوه
دَخپل کلام په موافق مِ ژوندَي
کړه
۱۰۸ دَ خولي دَ نفل قربانِي مِ قبوله کړه
اي یهوه- او خپل عدالتونه رازده
کړه
۱۰۹ زما ځان مدام زما په ورغوِي کښې
دَي- نو ستا توریت مِ هم هیر نه که
۱۱۰ شریرانو زما دَپارَ دام ایښَي دَي- لیکن
زه ستا له مسائلو نه ګمراه نه شوم
۱۱۱ زه ستا شاهدئِ ستا ابدِي میراث
ګنړم- زما دَ زړه دَپارَ خوښئِ دِي
۱۱۲ ما خپل زړه ستا دَ فرمانونو کولو
دَپارَ مائل که- تر ابده تر آخره پوري

سامِک

۱۱۳ دَ دوه‌دِلو سړیو سره کینه کوم- مګر
ستا له توریتَ مِینه لرم
۱۱۴ ته زما دَ پټیدلو ځاي او ډال یِي-
زه ستا کلام ته امید لرم
۱۱۵ اي بدکارانو له ما نه لري شئِ-
چه زه دَ خپل الله حکمونه ساتم
۱۱۶ دَ خپلي وعدي په موافق مِسنبال
کړه- چه ژوندَي اوسم- او له خپله
امیده شرمنده نه شم
۱۱۷ ما راپورته کړه چه نجات ومومم-
او زه به مُدام ستا دَ فرمانونو
آدب کوم
۱۱۸ تهَ هغه ټول سپک ګڼړي چه ستا
له فرمانونو نه ګمراه ګرزي- ځکه
چه دَ هغو حیله دروغ ده
۱۱۹ تا ټول شریران دَ زمکي دَ خیرِي
په شان لري کړل- نو له دي سببَ
زه ستا شاهدیو سره مینه لرم
۱۲۰ زما غوښه ستا له ویري نه لړزیږِي
زه ستا له عدالتونو نه ویریږم

عَین

۱۲۱ ما عدالت او صداقت کړي دَي-

ما هغو نه چه ظلم را باندِ کوِي مه
سپاره
١٢٢ دَ خپل بنده ضامِن شه دَ نیکئِ
دَپارَ- متکبران دِ په ما ظلم ونه کوِي
١٢٣ خما سترګي ستا دَ نجات دَپارَ ړندي
شوِي- او ستا دَ صادقي وعدي
دَپارَ
١٢٤ له خپل بنده سره په موافق دَ
خپلي مهربانئِ کاروکړه- او خپل
فرمانونه را زده کړه
١٢٥ زه ستا بنده یم ما ته فهم راکړه
- چه ستا شاهدئِ وپیژنم
١٢٦ اي یهوه دَ کارکولو وقت دَي- ځکه
چه تورَيت ستا ئي مات که
١٢٧ له دي سببَ زه ستا حکمونه عزیز
ګنړم- له سرو زرو هو له کړه
سرو زرو نه
١٢٨ له دي سببَ زه ستا ټول مسائل
له ټولو خبرو په باب کښې راست
ګنړم- او له هري دروغژنې طريقې
سره کینه لرم

في

١٢٩ ستا شاهدئِ عجائبي دِي- ځکه
چه خما ځان هغه ساتي
١٣٠ ستا دَ خبرو پرانتل رڼړا ورکوِي-
ساده دِلانو ته فهم ورکوِي
١٣١ ما خپله خُله وازه کړه اسويلَي مِ
وکه- ځکه چه زه ستا دَ حکمونو
مشتاق یمَ
١٣٢ په ما توجّه وکړه او په ما مِهرباني
وکړه- لکه چه حق دَي دَ هغو دَپارَ
چه ستا په نُومَ مینه کوِي
١٣٣ په خپلي وعدي سره قدمونه خما
سم کړه- او هیڅ بدي دِ په ما باندِ
غالب نه شِي
١٣٤ دَ بني آدمو له ظلمَ مِ فدیه ورکړه-
چه زه ستا مسائل ومنم
١٣٥ خپل مخ په خپل بنده باندِ رڼلوه
- او ما ته خپل فرمانونه رازده کړه
١٣٦ خما له سترګو دَ اوبو والي بهیږي-
ځکه چه خلق ستا تورَيت نه سِني
تصادي
١٣٧ اي یهوه ته صادق يي- او عدالتونه
ستا راست دِي
١٣٨ تا خپلي شاهدئِ په راستئِ کښې
فرمایلي دِي- او په ډيري وفادارئِ کښې
١٣٩ زه خپل غیرت نیولَي یمَ- ځکه
چه خما دُښمنانو ستا خبري هیري
کړي
١٤٠ ستا وعده ډیره کرَه ده- له دي سببَ



ستا بنده له هغو سره مینه لري
١٤١ زه ووړوکي او حَقیر یم- لیکن ستا
مَسائل نه هیروم
١٤٢ ستا صداقت ابدِي صداقت دَي- او
ستا تورَيت حق دَي
١٤٣ مصیبت او اُفت زه نیولَي یم-
لیکن ستا حکمونه خما خواهش دِي
١٤٤ ستا شاهدئِ تر ابده پوري صادقي
دِي- ما ته فهم راکړه چه زه
ژوندَي شم

## ٢٦-ورځ
## دَ نمابنام نمونځ
### قاف

١٤٥ ما په خپل ټول زړه سره ناري
ووهلي اي یهوه ما له ځواب راکړه
- زه ستا فرمانونه ساتم
١٤٦ ما تا ته ناري وکړي ته نجات راکړه
- نو زه به ستا شاهدئِ ومنم
١٤٧ ما له صحره وړاندِ فریاد وکه - ما
ستا په خبرو باندِ باور وکه
١٤٨ خما سترګي په پهرونو باندِ وړاندِ
شوي- تا چه زه ستا په وعدي
فکر وکړم
١٤٩ دَ خپلي مهربانئِ په موافق خما خبري
واوره- ما ژوندَي کړه اي یهوه دَ
خپلو عدالتونو په موافق
١٥٠ هغوي چه په شرارت پسي ځي را
نږدي شول- هغوي ستا له تورَيتَ
لري دِي
١٥١ اي یهوه ته نږدي يي- او ستا ټول
حکمونه رښتني دِي
١٥٢ ما له قدیمه ستا دَ شاهدیو په باب
معلوم کړل- چه تا دَ هغوي بُنیاد
تر ابده پوري لګولي
ريش
١٥٣ خما په مُصیبت باندِ نظر وکړه او
ما خلاص کړه- ځکه چه زه ستا
تورَيت هیر نه کړم
١٥٤ ته خما مُقدِمه وکړه او شُفعَ مِ
کړه- دَ خپلي وعدي په موافق مِ
ژوندَي کړه
١٥٥ له شریرانو نه نجات لري دَي- ځکه
چه ستا فرمانونه نه لټوِي
١٥٦ اي یهوه ستا رحمتونه ډیر دِي-
ما دَ خپلو عدالتونو په موافق ژوندَي
کړه
١٥٧ هغوي چه ما تنګوِي او خما دُښمنان
دِي ډیر دِي- لیکن زه ستا له
شاهدیو نه په ډډه نه شوم
١٥٨ ما فریبیان ولیدل او له هغو نه مِ

کړله وکړه - ځکه چه هغوي ستا
وعده نه ساتله
۱۵۹ ګوره چه زه ستا مسَله څنګه
محبوب ګڼم - اي یهوه دَ خپلي مهربانۍ
په موافق ما ژوندي کړه
۱۶۰ ستا دَ کلام مُدعا حَصَل رښتیني دَي
- او ستا ټول عدالتونه تر ابده
پوري صادق دِي

شین

۱۶۱ بي سببَ سردارانو په ما باندِ ظلم
وکه - مګر ځما زړه ستا له خبرو
نه په ویره کښ دَي
۱۶۲ زه ستا په وعده خوشحال یم - دَ
هغه په شان چه ډیر لُوټ بیامومي
۱۶۳ زه له دروغو سره کینه کوم او مکروه
ئي ګڼم - مګر ستا په تورِیت باندِ
مینه کوم
۱۶۴ اوه ځله په ورځ کښ ستا حمد
کوم - ستا دَ صادق عدالتونو په سببَ
۱۶۵ ستا دَ تورِیت په کونکیو ډیره سلامتي
دَه - هغوي دَ تیندک خوړلو باعث
نه دِي
۱۶۶ اي یهوه زه ستا دَ نجات امیدوار
یم - او ستا په حکمونو مِ عمل وکه
۱۶۷ ځما ځان ستا شاهدئِ وساتلي -
او زه په هغو باندِ بيحده مینه کوم
۱۶۸ ما ستا مسائل او ستا شاهدئ
وساتلي - ځکه چه ځما ټولي لاري
ستا دَ وړاندِ دِي

تاؤ

۱۶۹ اي یهوه ځما فریاد دِ ستا په حضور
کښ ورسي - دَ خپل کلام په موافق
ما ته فهم راکړه
۱۷۰ ځما زارئِ دِ ستا په حضور کښ
راشي - او دَ خپلي وعدي په موافق
ما له خلاصي راکړه
۱۷۱ چه ځما شونډي ستا حمد بیان
کړي - ځکه چه ته ما ته خپل
فرمانونه رازده کوي
۱۷۲ ځما ژبه دِ ستا دَ وعدي ذکر
وکړي - ځکه چه ستا ټول حکمونه
صادق دِي
۱۷۳ ستا لاس دِ ځما دَ کومک دَپارَ
تیار شي - ځکه چه ما ستا مسائل
اختیار کړي دِي
۱۷۴ اي یهوه زه ستا دَ نجات مشتاق
یم - او ستا تورِیت ځما خوښي دَه
۱۷۵ ځان ځما دِ ژوندي وي او ستا
حمد به کوي - او ستا عدالتونه
دِ ځما مدد وکړي



۱۷۶ زه دَ ورکي شوي ګډي په شان
ورک شولم - دَ خپل بنده تلاش
وکړه - ځکه چه زه ستا حکمونه هیر
نه کړم

## ۲۷ ورځ - دَ سحر
## ۱۲۰ - مزمور

۱ ما په خپلي تنګسیا کښ یهوه
ته ناره وکړه - او هغه ځواب راکه
۲ اي یهوه ځما ځان له دروغژنو شونډو
نه خلاص کړه - او له فریبي ژبي
نه
۳ تا ته به څه درکړي شي - او تا له
به څه وکړي شي - اي فریبي ژبي
۴ دَ پهلوان دَ تیره غشي - دَ رتم
دَ سکروټو سره
۵ هئ په ما چه په مِشک کښ ساوِي
کوم - او دَ قیدار په تمبوانو کښ اوسم
۶ ځما ځان تر ډیري مُدي پوري اوسیدلی
دَي - له هغه سره چه له صلحي
سره کینه لري
۷ زه صلحکار یم - مګر هغه وقت چه
زه خبري کوم نو هغوي دَ جنګ دَپارَ
دِي

## ۱۲۱ - مزمور

۱ زه خپلي سترګي دَ غرونو په لوري
پورته کوم - له کومه به ځما مدد راشي؟
۲ ځما مدد له یهوه نه دَي - چه
آسمان او زمکي ئي جوړ کړل
۳ هغه به ستا پښي ښوئیدلو ته
ور نه کړي - ستا حافظ به ویده نه
شي
۴ ګوره دَ بني اسرائیلو حافظ - نه به
څملي او نه به خوب وکړي
۵ یهوه ستا حافظ دَي - یهوه ستا
په ښي لاس ستا سوري دَي
۶ نمر به په ورځ کښ تا نه وهي -
او نه سپوږمۍ په شپه کښ
۷ یهوه به تا له هري بدئِ نه محفوظ
کړي - هغه به ستا ځان محفوظ
کړي
۸ یهوه به ستا وتل ننوتل محفوظ
کړي - له اوس تر ابدَ پوري

## ۱۲۲ - مزمور

۱ زه خوشحال وم چه هغوي را ته
وویل - چه راځئِ چه دَ یهوه کور ته
لاړ شو
۲ ځمونږ پښي ودریږي - ستا په دروازو
دننه اي اورشلیم
۳ اي اورشلیم ته جوړ شوي یې - دَ
ښهر په شان چه ټول پیوسته دَي
۴ چه هلته فرقي پورته ځیږي - هو

دَ یاه قومي-دَ اِسرائیل دَپارَ عَهَد-
دَ یهوه دَ نوم دَ شکرګذارئِ کولو
دَپارَ
۵ ځکه چه هلته دَ عدالت تختونه
ینبي دِي-دَداؤد دَ کور تختونه
۶ دَ اورشلیم دَ سلامتیٔ دَپارَ سوال
وکړئِ-هغوي چه له تا سره مینه
لرِي په امن دِ وِي
۷ ستا په ځلورو دیوالونو کښ دِ
سلامتیا وِي-او ستا په محلونو
کښ دِ امن اوخوښي وِي
۸ زه دَ خپلو وروڼو اودَ ملګرو
دَپارَ-اوس به ووایم په تا باندِ
اَلسَّلَامُ عَلَیکُم
۹ په سبب دَ کور دَ یهوه خُمونږ
الله-زه ستا خیریت غواړم

## ۱۲۳-مزمور

۱ زه خپلي سترګي ستا په لوري پورته
کوم-اي ته چه په آسمانونو کښ
کښیني
۲ ګوره لکه چه دَ مریونو سترګي دَ
خپل خاوند لاس ته ګوري-لکه چه
دَ وینځي سترګي دَ خپلي میرمني
لاس ته-هم هسي څما سترګي دَ یهوه
دَخپل الله په لوري دِي-تر هغه
پوري چه دَي په مونږ فضل وکړي
۳ په مونږ فضل وکړه اي یهوه په
مونږ فضل وکړه-ځکه چه دَ
ډیر سپکوالي نه ماړه شولو
۴ خُمونږ ځان زیات موړ شه - دَ
آسوده حالو له مسخرو کولو نه-او
دَ مغرورانو دَ سپکاوي نه

## ۱۲۴-مزمور

۱ که خُمونږ په لوري نه وَي-اسرائیل
دِ اوس ووایي
۲ که یهوه خُمونږ په لوري نه وَي-چه
خلق په مونږ پورته کیدل
۳ نو هغوي به مونږ نغړدلي وُو-هرکله
چه دَ هغو غضب خُمونږ په ضد
بل شوي وه
۴ نو هغه وقت چه مونږ اوبو غرق
کړي وُو-سیلاب به خُمونږ پر ځان
باندِ تیر شوي وُه
۵ هغه وقت به کبرجني اوبه خُمونږ
په ځان باندِ تیري شوي وِي
۶ مبارک دِ وِي یهوه-چه مونږ ئي
دَ هغو دَ غاښونو لُوټ ته ورنه کړو
۷ خُمونږ ځان دَ چڼچڼي په شان
دَ ښکاري له دامَ خلاص شه-
دام ړیکړي شه-او مونږ ترِ ووتلو



۸ خُمونږ مددګاري دَ یهوه په نوم ده-
چه آسمانونه او زمکي ئي پیدا
کړي دِي

## ۱۲۵-مزمور

۱ هغوي چه په یهوه ئي تکیه کړي
دَه-دَ صیحون دَ غره په شان دِي
چه نه خوځیږي او تر ابده پوري
اوسي
۲ لکه چه په اورشلیم غرونه چاپیره
شوي دِي-هم دغه شان یهوه دَ
خپل اُمت نه چاپیره دَي-له اوسه
تر ابده پوري
۳ دَ شرارت اَمضا به په قلاره پري
نږدي دَ صادقانو په برخه باندِ-
هسي نه وِي چه صادقان دَ بدکارئِ
په لوري لاسونه اوږده کړي
۴ اي یهوه دَ ښو سره ښیګړه وکړه-
او چه په خپلو زړونو کښ راست
دِي
۵ مګر هغه چه دَ خپلو کږو لارو په لوري
ځي-یهوه به هغوي له بدکارانو سره روان
کړي-په اسرائیل باندِ دِ سلام وِي

## ۲۷ورځ-دَ نمابنام نمونځ

## ۱۲۶-مزمور

۱ کوم وقت چه یهوه دَ صیحون قید
را وګرزاوه-مونږ دَ هغو په شان
وُو لکه چه خوب وینِي
۲ نو خُمونږ خولي له خندا نه ډکي شوي
-او ژبي مو دَ ښادیٔ له سرود نه
-پس غیر قومونو په خپل منځ کښ
سره وویل-چه یهوه دَدوي دَپارَ
لوي کارونه کړي دِي
۳ یهوه له مونږ سره لوي کارونه
کړي دِي-او مونږ خوشحاله یُو
۴ اي یهوه خُمونږ قید را وګرزوه-لکه دَ
وِلي په سُهیل
۵ هغوي چه په اوښکو سره ئي کرِي
-په خوښیٔ سره به ئي لو کړي
۶ اګرچه هغه په خپلي لاري ژړیدلي
ځي او تخم ئي واخست-هغه به
په خوښي سره راشي خپلي دلئ
ځان سره اخستي

## ۱۲۷-مزمور

۱ که چري یهوه کور جوړ نه کړي-نو
دَ جوړونکیو محنت بي فائدي دَي-
که یهوه دَ ښهر حفاظت و نه کړي
-دَ څوکیدار شوکیره عبث ده
۲ تاسو ته دَ سحرخیزیٔ هیڅ فائده نشته
او دومره ناوقته اوده کیږئِ-او
دَ محنت ړوډیٔ خورئِ-هم دغه شان

به خپل محبوب ته خوب ورکړي

۳ کوره ځامن دَ یهوه میراث دَي-
او دَ رَحِم میوه اجر دَي

۴ لکه دَ پهلوان په لاس کښې غشي
-داسي دِي دَ ځوانۍ ځامن

۵ مبارک هغه دَي چه خپل ترکش
ئې له هغو نه ډک دَي-هغوي به
شرمنده نه شِي-چه له دُښمنانو
سره په دروازه کښې خبري کوِي

## ۱۲۸-مزمُور

۱ مبارک دَي هر کس چه له یهوه
نه ویریږي-چه دَده په لارو ځي

۲ ځکه چه ته به دَ خپلو لاسونو کټه
خوري-ته به مبارک یې او تا سره
به ښه وشي

۳ ستا ښځه به دَ میوه‌دار تاک په
شان ښي-ستا دَ کور په دننه-
ستا ځامن به دَ ښوون دَ بوټي په
شان شِي-ستا دَ دسترخوان نه کیر
چاپیر

۴ کوره دغه شان هغه سړي به
مبارک وِي-چه له یهوه نه ویریږي

۵ یهوه به له صیحونَ تا ته برکت درکړي
-او ته به ټول عمر دَ اورشلیم نیکي
وینې

۶ هو ته به دَ خپلو ځامنو ځامن
و وینې-په اسرائیل باندِ دِ سلام
وِي

## ۱۲۹-مزمُور

۱ دَ هلکتوب له وقتَ هغو ډېر ځله
ربړولَي یم-اسرائیل دِ اوس ووایي

۲ دَ هلکتوب له وقتَ هغو ډېر ربړولَي
یم-مګر په ما باندِ ئې توان و نه شه

۳ قُلبه کونکیو ځما په ښا باندِ یوي
ووهلي-او خپل کِیلُونه ئې اوږده
کړل

۴ یهوه صادق دَي-ده دَ شریرانو
پړي پرېکړل

۵ هغه دِ شرمنده ښي-او بسته
دِ وګرزولي شِي-هغه ټول چه
دَ صیحون سره کینه لري

۶ او دَ کوټو دَ وانبو په شان دِ شي
-چه مخوا دَ وکښلو وچ ښي

۷ چه لوګري له هغو نه موټَي ډک
نه کړِي-نه هغه چه ګېډۍ تړي
خپله غیږ

۸ او نه تیري دونکي وایِي-چه دَ یهوه
برکت دِ په تاسو وِي-مونږ دَ
یهوه په نوم تاسو ته برکت
درکوو



## ۱۳۰-مزمُور

۱ ما له ژوري نه ناري وکړي تا ته اي
یهوه

۲ اي خداوندَ آواز ځما واوره-ستا
غوږونه دِ متوجه شِي-ځما دَ
زاریو په آواز

۳ اي یهوه که چرې ته دَ ګناهونو
حساب اخلي-نو څوک به اي یهوه
ودریدلَی شي

۴ مګر تا سره عفوه دَه-چه له تا
نه وویریدَي شي

۵ زه دَ یهوه په انتظار یم-ځما
ځان انتظار کوِي-او دَده په کلام
کښې ځما امید دَي

۶ ځما ځان دَ خداوند دَپارَ منتظر دَي
-له څوکیدارانو نه دَ صبا دَپارَ-
هو څوکیداران دَ صبا دَپارَ

۷ اي بني اسرائیلَ په یهوه باندِ امید
وکړه-ځکه چه له یهوه سره مِهرباني
ده-او ده سره فدیه ډېره ده

۸ او هغه به دَ اسرائیل فدیه ورکړي
له ټولو ګُناهونو خپلو نه

## ۱۳۱-مزمُور

۱ اي خداونده ځما زړه مغرور نه دَي
-او نه ځما نظر اوچت دَي-او زه په
لویو کارونو کښې دخل نه کوم-او
نه په لویو کارونو چه ځما دَپارَ عجاب
دِي

۲ په یقین سره مِ خپل ځان په قرار
او په آرام کړي دَي-دَ هغه هلک
په شان چه دَ مور له تي پریکړي
وِي-هو ځما زړه په ما باندِ لکه له
تي پریکړي هلک

۳ اي اسرائیلَ په یهوه امید وکړه-
له اوسَ تر ابده پوري

## ۲۸-ورځ
## دَ سحر نموځ

## ۱۳۲-مزمُور

۱ اي یهوه دَ داوُد دَپارَ یاد کړه-دَ هغه
ټولي سختيُ

۲ چه ده څنګه په یهوه قسم وکه-او
دَ یعقوب اَلقادِر ته ئې نذر ومانه

۳ زه به ضرور دَ خپلي استوګني په
تمبو کښې داخل نه شم-او نه به
په خپل کټ باندِ وخیژم

۴ نه به خوب خپلو سترګو ته راپرېږدم
-او نه به خوب خپلو بڼو ته

۵ تر هغه پوري چه مقام دَ یهوه بیا
نه مومم-او مسکن دَ یعقوب دَ
اَلقادِر دَپارَ

۶ کوره مونږ دَ هغه خبر په افراته
کښې واوریده- دَ بنږ په پټیو کښې مو
وموند.
۷ مونږ به دَ هغه مسکنونو ته ورشو
- مونږ به دَ هغه دَ قدمونو په کرسۍ
سجده وکړو
۸ پورته شه اي یهوه خپل آرامګاه
ته- ته او دَ خپل قوت صندوق
۹ ستا کوهنانو ته دِ صداقت واغوستلې
شي- او ستا تقویٰداران دِ له خوښۍ
نه ناري ووهي
۱۰ دَ خپل بنده داؤد دَپارَ- دَ خپل مسیح
نه مخ مه ګرزوه
۱۱ یهوه په راستۍ سره داؤد ته قسم وکه
- هغه به ترِ ونه ګرزي- زه به ستا
دَ تن له میوي نه ستا په تخت باندِ
کښینوم
۱۲ او که ستا ځامن ځما وعدي وساتي
- او ځما شاهدۍ چه زه ئې هغو ته
وښیم- نو دَ هغو ځامن به هم ستا
په تخت باندِ ترابده پوري ناست وي
۱۳ ځکه چه یهوه صیحون غوره که- خوښ
ئې که دَ خپلي استوګني دَپارَ
۱۴ دا ځما دَ آرام ابدي مکان دَي- په
ده کښې به اوسم ځکه چه ما خوښ
که
۱۵ ضرور زه به دَ هغه روزۍ ته برکت
ورکړم- دَ هغه مسکینان به په
ډوډۍ ماړه کړم
۱۶ دَ هغه کوهنانو ته به دَ نجات لباس
ور واغوندوم- او دَ هغه تقویٰداران
به له خوشحالۍ ناري ووهي
۱۷ هلته به زه دَ داؤد ښکر وټوکوم- ما
دَ خپل مسیح دَپارَ ډیوه تیاره ېښې دَه
۱۸ شرمندګي به دَ هغه دښمنانو ته
واغوندوم- لیکن په ده باندِ به دَده
تاج ځلیږي

## ۱۳۳- مزمور

۱ ګوره څه ښه او څه ښائسته دَه-
چه ورونړه یوځاي سره استوګنه
کوي
۲ دا دَ هغو ګرانبها تیلو په شان په
سر دي- چه په ږیره راتوي شول
- هو دَ هارون په ږیره- چه دَ
جامو په لمَنه ئې توي شول
۳ دَ حرمون دَ شبنم په شان- چه
دَ صیحون په غرونو باندِ اوري- ځکه
چه په هغه ځاي یهوه دا برکت
وفرمایه- زندګاني ترابدُ الاٰبادَ



## ۱۳۴- مزمور

۱ ګورئ یهوه ته مبارک ووایئ- اي
تاسو ټولو بندګانو دَ یهوه- چه دَ
یهوه په کور کښې په شپه ودریږئ
۲ مقدس ته خپل لاسونه پورته کړئ
- او یهوه ته مبارک ووایئ
۳ یهوه دِ له صیحونَ تا ته برکت درکړي
- هو هغه چه دَ آسمانونو او دَ
زمکي پیدا کوونکي دَي

## ۱۳۵- مزمور

۱ اَلحَمدُ لِلّٰهِ- دَ یهوه دَ نوم حمد کوئ
اي دَ یهوه بندګانو دَده حمد کوئ
۲ اي تاسو چه دَ یهوه په کور کښې
ودریږئ- ځمونږ دَ الله دَ کور په غولو
۳ اَلحَمدُ لِلّٰهِ ځکه چه یهوه نیک دَي-
دَده دَ نوم حمد وغږوئ ځکه چه
ښائسته دَي
۴ ځکه چه یاه یعقوب دَ خپل ځان
دَپارَ غوره که- او اسرائیل ئې دَ
خپلي خاصي خزانې دَپارَ
۵ ځکه چه زه پوهیږم چه یهوه لوي
دَي- او چه ځمونږ خداوند له ټولو
خدایانو نه اوچت دَي
۶ هرڅه چه یهوه وغوښتل هغه
ئې وکړل- په آسمانونو او په زمکو
په دریابونو او په ټولو ژوورو کښې
۷ دَي دَ زمکي له حدونو نه لړي را
پورته کوي- دَ باران دَپارَ بریښنا جوړوي
- باد له خپلو خزانو نه را وباسي
۸ چه دَ مصر ورومبي پیدا شوي هم
ووهل- هم دَ انسان هم دَ حیوان
۹ هغه نښي او عجائبات ستا په منځ
کښې ولیږل اي مصرَ- په فرعونِ او
په ټولو خدمتګارانو ئې
۱۰ ده ډیر قومونه مړه کړل- او زبردست
بادشاهان ئې قتل کړل
۱۱ سیحون بادشاه دَ اموریانو- او عوج
بادشاه دَ باشان- ټول بادشاهان
دَ کِنعان
۱۲ او دَ هغو زمکه ئې دَ میراث دَپارَ
ورکړه- میراث خپل قوم اسرائیل
ته
۱۳ اي یهوه ستا یادګاري په پښت
په پښت وي
۱۴ ځکه چه یهوه به دَ خپلو خلقو
انصاف وکړي- او دَ خپلو بندګانو
دَپارَ به پښیماني وکړي
۱۵ دَ غیر قومونو بُتونه دَ سپینو او دَ
سرو زرو دي- کار دَ لاسونو دَ
انسان

۱۶ دَ هغو خُولې شته مگر خبرې کولې
نه شي- دَ هغو سترگې شته مگر
ليدلَې نه شي
۱۷ دَ هغو غوږونه شته مگر اوريدلَې
نه شي- او په خولو کښ يُې سا نشته
۱۸ هغوي چه دَ هغو جوړونکي دي- هم
دَ هغو په شان دي- هو هر يو
چه په هغو تَوکّل کوي
۱۹ اې دَ اسرائيل ټبرَ يهوه ته مبارک
وايئِ- اې دَ هارون ټبرَ يهوه ته
مبارک وايئِ-
۲۰ اې دَ لاوِي ټبرَ تاسو يهوه ته
مبارک وايئِ- چه له يهوه نه ويرېږئ
يهوه ته مبارک ووايئِ
۲۱ يهوه دِ له صِيحونَ مبارک وِي- چه
په اورشليم کښ اوسي- اَلحَمدُ لِلّٰهِ

## ۲۸- ورځ
## دَ نمابنام نموځ
## ۱۳۶- مزمُور

۱ دَ يهوه شکر کوئِ ځکه چه دَي ښه
دَي- ځکه چه دَ هغه مِهرباني تر
ابدَ پورې دَه
۲ دَ خدايانو دَ الله شکر کوئِ- ځکه
چه دَ هغه مِهرباني تر ابده پورې
دَه
۳ دَ خداوندانو دَ خداوند شکر کوئِ
ځکه چه دَ هغه مِهرباني تر ابده
پورې دَه
۴ دَ هغه چه عجائب کارونه کوي-
ځکه چه دَ هغه مهرباني تر ابده
پورې دَه
۵ دَ هغه چه په دانائي سره يُې آسمانونه
جوړ کړل- ځکه چه دَ هغه مِهرباني
تر ابده پورې دَه
۶ دَ هغه چه زمکه يُې په اوبو باندِ
وغوړوله- ځکه چه دَ هغه مِهرباني
تر ابده پورې دَه
۷ دَ هغه چه لوي نُورونه يُې پيدا
کړل- ځکه چه دَ هغه مِهرباني تر
ابده پورې دَه
۸ نمر دَ ورځې دَ بادشاهئ کولو دَپارَ
- ځکه چه دَ هغه مهرباني تر ابده
پورې دَه
۹ سپوږمئِ او ستورې دَ شپې دَ
بادشاهئ کولو دَپارَ- ځکه چه دَ
هغه مِهرباني تر ابده پورې دَه
۱۰ دَ هغه چه دَ مِصر ورِنبي پيدا
شوې يُې ووهل- ځکه چه دَ هغه
مِهرباني تر ابدَ پورې دَه
۱۱ او اسرائيل يُې دَ هغو له منځ راوويست



- ځکه چه دَ هغه مِهرباني تر ابده
پورې دَه
۱۲ دَ قوي لاس او له هسکو متو سره
- ځکه چه دَ هغه مِهرباني تر ابده
پورې دَه
۱۳ دَ هغه چه بحرِ قُلزم يُې دوه ټکړې
که- ځکه چه دَ هغه مِهرباني تر
ابده پورې دَه
۱۴ او اسرائيل يُې دَده په منځ کښ
پوريستل- ځکه چه دَ هغه مِهرباني
تر ابده پورې دَه
۱۵ او فرعون يُې دَ هغه دَ لښکر سره
په بحرِ قُلزم کښ وغښاوه- ځکه
چه دَ هغه مهرباني تر ابده پورې
دَه
۱۶ دَ هغه چه په بيابان کښ يُې خپلو
خلقو ته لار وښيله- ځکه چه دَ
هغه مهرباني تر ابده پورې دَه
۱۷ دَ هغه چه لوي بادشاهان يُې قتل
کړل- ځکه چه دَ هغه مهرباني تر
تر ابده پورې دَه
۱۸ او نامدارَ بادشاهان يُې هلاک
کړل- ځکه چه دَ هغه مهرباني تر
ابده پورې دَه
۱۹ سيحون بادشاه دَ اُمورِيانو- ځکه
چه دَ هغه مِهرباني تر ابده پورې
دَه
۲۰ او عُوج بادشاه دَ باشانُ- ځکه
چه دَ هغه مِهرباني تر ابده پورې
دَه
۲۱ او دَ هغو زمکه يُې ميراث ورکړه-
ځکه چه دَ هغه مِهرباني تر ابده
پورې دَه
۲۲ هو ميراث اسرائيل خپل بنده له
- ځکه چه دَ هغه مِهرباني تر ابده
پورې دَه
۲۳ دَ هغه چه مونږ يُې په عاجزئ کښ
ياد کړو- ځکه چه دَ هغه مِهرباني
تر ابده پورې دَه
۲۴ او مونږ يُې له خپلو دُښمنانو
نه خلاص کړو- ځکه چه دَ هغه
مِهرباني تر ابده پورې دَه
۲۵ هغه ټول بشر ته روزي ورکوي
- ځکه چه دَ هغه مهرباني تر ابده
پورې دَه
۲۶ دَ آسمان دَ الله شکر کوئِ- ځکه
چه دَ هغه مِهرباني تر ابده پورې
دَه

## ۱۳۷- مزمُور

۱ دَ بابل دَ سِيندونو په غاړه- هلته

مونږ کښیناستو هو مونږ وژړل
- چه مونږ صیحون یاد که
۲ په ونودَولودَهغه په منځ کښ- خپل
ستارونه مو زوړند کړل
۳ ځکه چه هلته هغوي چه مونږ ئ
په بند نیولي وُو- دَ غزل خبري
وغوښتي- او هغوي چه ځمونږ خرابوَنکي
وُو له مونږ نه ئ خوښي وغوښتله
و ئ ویل- چه دَ صیحون له غزلو
نه ځمونږ دَپارَ یو غزل وغږوئ
۴ مونږ به څنګه دَ یَهوَهٔ سرود وغږوُو
- په پردئ زمکه کښ
۵ اي اورشلیمَ که زه تا هېر کړم - نو
ځما ښَي لاس دِ هنر هېر کړي
۶ ژبه مِ دِ دَ خولي په تالُو پوري ونښلي
- که زه تا یاد نه کړم - که زه اورشلیم
نه خوښَوم - له خپلي اَوَلي خوښئ نه
زیات
۷ اي یهوه بني‌آدوم له یاد کړه- ورځ
دَ اورشلیم - چه ویل ئ ونړوه ونړوه
دَ هغه دَ بنیادَ پوري
۸ اي دَ بابل لُوري تا چه خرابولي شي
- مبارک به هغه شي چه تا له
بدله درکړي - لکه چه تا له مونږ سره
وکړه

۹ مبارک به هغه وِي چه ستا هلکان
پورته کړي او وئ ولي - په کاڼو

## ۱۳۸- مزمُور

۱ په ټول زړه سره به زه ستا شکر
وکړم - دَ خدایانو په حِضُور به ستا
حمد و غږوم
۲ ستا دَ پاک هیکل په لوري به
سجده وکړم - ځکه چه تا خپل کلام
له خپله ټوله نُومه زیات که
۳ هغه ورځ چه ته مِ وبللي نو ما له
دِ خواب راکه - ځکه چه تا ځان ځما
په خپل قوّت سره دلاسه که
۴ اي یهوه ټول بادشاهان دَزمکي به
ستا شکر وکړي - ځکه چه دوي ستا
دَ خولي خبري اوریدلي دِي
۵ هو هغوي به دَ یهوه دَ لارو سرود
وغږوِي - ځکه چه دَ یهوه جلال
لوئ دَي
۶ او که یهوه لوي دَي - مګر به عاجزانو
باندِ نظر کوِي - مګر مغروران له لري
نه پیژني
۷ هر څو چه زه دَ آفتونو په منځ کښ
ګرزم - ته به مِ ژوندَي کړِي - ته به
مِ دَ خپلو دُښمنانو په قهر باندِ
لاس اوږد کړي - او به خپل ښي لاس



سره به نجات راکړي
۸ یهوه به ټول ځما دَپارَ پوره کاندِ
- اي یهوه ستا مِهرباني تر ابده پوري
دَه - دَ خپلو لاسونو کارونه مه
ترک کوه

## ۲۹- ورځ
## دَ سحر نموځ
## ۱۳۹- مزمُور

۱ اي یهوه تا زه ولټولم او و دِ پیژاندلم
۲ ته ځما ناسته او ولاړه پیژني -
- ته ځما
په اندیښنه له لري نه پوهیږي
۳ ته ځما تلل او ځملاستل څېړَهي -
او ته ځما په ټولو لارو خبر یې
۴ ځکه چه یوه خبره ځما په ژبه باندِ
نشته - ګوره ته اي یهوه په دي
بالکل پوهیږي
۵ ته وړاندِ او ورستو په ما وګرزېدلي
- او تا په ما باندِ لاس ایښي دَي
۶ داسي علم ځما دَپارَ ډېر عجب دَي
- اُوچَت دَي هغه ته رسیدلي نه
شم
۷ زه به ستا له روحَ چرته لاړ شم
- او ستا له مخَ به چرته وتښتم
۸ که آسمان ته وخیژم نو ته هلته

يې - که زه خپل کټ په هاوِیهٔ کښ
کیږدم نو ته هلته یې
۹ که دَ صبا وزر واخلم - او دَ دریاب
په آخر کښ اوسم
۱۰ نو هلته به هم ستا لاس ما ته
لار راوښيي - او ستا ښَي لاس به
مِ سنبال کړي
۱۱ که زه ووایم چه تیاره به مِ ضرور
پټ کړي - او روښنائي به ځما په
ګېرچاپېر شپه شي
۱۲ نو تیاره له تا نه نه پټوِي - مګر
شپه دَ ورځي په شان ځلیږي - تیاره
او رڼا ستا په نزد برابر دِي
۱۳ ځکه چه تا ځما لَرمُون جوړ که - تا
زه دَ مور په رَحِم کښ ودلي یم
۱۴ زه به ستا شکر وکړم - ځکه چه
زه دِ هیبتناک او په عجیبه طور
پیدا کړي یم - ستا کارونه عجائب دِي
- په هغه خبره ځان ځما ښه پوهیږي
۱۵ چه زه جوړېدم له تا نه پټ شوي
نه وم - چه زه په پټه کښ جوړ
شوي وم - او دَ زمکي په تلِي کښ
جوړېدلم
۱۶ ستا سترګو ځما بي ترتیبَ ماده ولیدله
- او ستا په کتاب کښ ټول اندامونه

خما ليکلي شوي دي- چه ورځ په
ورځ جوړيده- چه لا تر اوسه پورې
يو له دغو نه نه وه
۱۷ اي الله ستا انديښني خما په حق
کښ خومره کړه دي- او دَ هغو جمع
خومره ډيره دَه
۱۸ که زه ئي په شمار کړم نو له شګي
نه زياتي دي- چه زه بيدار شم نو
بيا هم له تا سره يم
۱۹ اي الله ته به په يقين سره شريران
قتل کړي- پس اي خونيانو له ما نه
لرې شئ
۲۰ څکه چه هغوي ستا په باب کښ
په شرارت سره خبري کوي- او ستا
دُښمنان عبث ستا په خلاف پورته
کيږي
۲۱ اي يهوه زه له هغو سره کينه
نه کوم- چه له تا سره کينه کوي څه؟
- او زه له هغو چه له تا سره په مخالفت
پورته کيږي غمګين نه يم څه ؟
۲۲ زه له هغو سره سخت کينه لرم-
زه هغوي په خپلو دُښمنانو کښ ګڼم
۲۳ اي الله ما ولټوه او خما زړه وپيژنه
- ما وآزمايه او خما انديښني وپيژنه
۲۴ او ګوره چه په ما کښ دَ شرارت
لار شته - او ما په ابدي لاري کښ
بوزه

## ۱۴۰- مزمور

۱ اي يهوه ما له شرير سړي نه خلاص
کړه- او له ظالم سړي نه مِ وساته
۲ چه په خپلو زړونو کښ بدي ګرزوي
- هره ورځ دَ جنګونو دَپارَ جمع کيږي
۳ خپلي ژبي دَ مارانو په شان تيري
کوي- تر ژبو لاندِ ئي دَ منګور زهر
دي
۴ اي يهوه دَ شرير له لاسَ مِ محفوظ
کړه- له ظالم سړي نه مِ وساته-
چه دوي خما دَ قدمونو دَ ټيل وهلو
په فکر کښ دي
۵ مغرورانو خما دَپارَ دام پټ کړي
دي او پړي- په لاري کښ ئي خما
دَپارَ جال ينبي دي- لومه ئي خما
دَپارَ ينبي دَه
۶ ما يهوه ته ووېل چه ته خما الله
يي- اي يهوه خما دَ مناجات آواز
واوره
۷ اي يهوه خداوندَ خما دَ نجات قوت-
تا دَ جنګ په ورځ کښ خما سر پټ
که
۸ اي يهوه دَ شرير خواهش مه پوره



کوه- هسي نه چه دَي سر پورته کړي
۹ سردَ هغو چه زه ئي راګير کړم- بدي
دَ خپلو شونډو ئي پټ کړي
۱۰ په هغو دِ سکروټي ولويږي- په اور
کښ دِ وغورزولي شي- په سيلابونو
کښ چه بيا پورته نه شي
۱۱ بد ويونکي سړي به په زمکه باندِ
قايم پاتي نه شي- شرارت به ظالم
سړي ښکار کړي دَ هغه دَ پرزولو
دَپارَ
۱۲ خما يقين دَي چه يهوه به دَ
مظلومانو انصاف وکړي- او دَ
حاجتمندانو حق
۱۳ په يقين سره به صادقان ستا دَ
نوم شکرګذاري وکړي- راستان به
ستا په حضور کښ سکونت وکړي

## ۱۴۱- مزمور

۱ اي يهوه ما تا ته ناري ووهلي خما
دَپارَ جلتي وکړه- هغه وقت چه
زه تا ته ناري وهم نو خما آواز واوره
۲ خما دُعا دِ ستا په حضور کښ دَ
خوشبوئي دَ بخور په شان قائمه شي
- پورته کيدل خما دَ لاسو دِ دَ ماښام
دَ قربانئ په شان شي
۳ اي يهوه خما په خولي باندِ څوکي
وډروه- خما دَ شونډو دروازي وساته
۴ خما زړه هيڅ بدي خبري ته مه
ګرزوه- چه دَ شرارت په کارونو کښ
مشغول شي- سړو سره چه بدي
کوي- او ما دَ هغو دَ مزه دارو خوړ
خوړو ته مه پريږده
۵ صادق مِ دِ ووهي هغه به مهرباني
وي- او هغه دِ تنبيه راکړي هغه
به په سر باندِ دَ تيلو په شان
وي- سر مِ دِ انکار نه کوي- څکه
چه دَ هغوي په شرارت کښ به
مِ دُعا برابر شي
۶ دَ هغو حاکمان دَ ګټ په کندو کښ
غورزولي دي- نو هغوي به خبري
واوري څکه چه خوږي دي
۷ لکه چه سړي يوي کوي او زمکه
څيري- دَ قبر په خولي کښ خمونږ
هډوکي پراګنده شول
۸ ليکن اي يهوه خداوندَ خما سترګي
ستا په لوري دي- خما توکل په تا
باندِ دَي- ته خما ځان مه شړه
۹ ما له هغه دامه چه هغوي خما
دَپارَ ينبي دَي محفوظ کړه- او دَ
مفسدانو له جالونو نه
۱۰ شريران دِ په خپلو دامونو کښ پريوزي

چه زه تیر شم

## ۲۹- ورځ
## دَ ماښام نمونځ

### ۱۴۲- مزمور

۱ زه په خپل آواز سره زارِي کوم
یهوه ته - په خپل آواز سره یهوه
ته منت کوم
۲ زه به خپل فریاد دَده په حضور
کښې وکړم - او دَده په وړاندِ به
خپل غم بیان کړم
۳ هغه وقت چه ځما روح خپه وه
نو تا ځما لار وپیژندله - په کومه
لار چه زه تیرېږم هغوي ځما
دَپارَ په پټه سره دام ایښي دَي
۴ ما په خپل ښي لاس وکتل او
گوره ځکه چه هیڅوک نشته چه
ما وپیژنيِ - پناه مِ باقي نه شوه
او هیڅوک ځما دَ ځان دَپارَ فکر
نه کوِي
۵ اي یهوه ما تا ته فریاد وکه - وِمِ
ویل چه ته ځما پناه یِي - ځما بخره
دَ ژوندانه په زمکه
۶ ځما فریاد واوره ځکه چه زه ډیر
ذلیل شوي یم - ما له هغو نه چه
رابسِي شوي دِي خلاص کړه -
ځکه چه هغه له ما نه زورآور دِي
۷ ځان ځما له بندیخانې نه خلاص
کړه - تا چه ستا دَ نُوم شکر وکړم
- صادقان به مِ گیر کړِي - ځکه چه
ته به په ما احسان وکړې

### ۱۴۳- مزمور

۱ اي یهوه ځما دُعا واوره - زارِي ځما
ونغوږه - په خپلې وفادارِيِ سره ځواب
راکړه او په خپل صداقت کښې
۲ او خپل بنده له ځان سره عدالت
ته مه راوله - ځکه چه ستا په
نظر کښې به هیڅ ژوندَي سړَي
صادق و نه گڼلې شي
۳ ځکه چه دُښمن ځما ځان وړپراوه
- ژوند ځما يې په خاورو کښې پایمال
کړي دَي - هغه زه ونیولم په تیاره
ځایونو کښې دَ هغو په شان چه
وړاندِ مړه شوي دِي
۴ ځکه روح ځما په ما کښې پریشان
شوي دَي - زړه مِ په کوگل کښې خراب
شوَي دَي
۵ زه وړومبِيُ ورځې یادَوم - زه ستا
په ټولو کارونو فکر کوم - او ستا
دَ لاسونو په کار غور کوم
۶ خپل لاسونه به ستا په لورِي هسک
کړم - ځان ځما دَ وچې زمکې په شان
تږَي دَي
۷ اي یهوه زر ځما واوره - ځکه چه
روح ځما تمامیږي - خپل مخ له ما
نه مه پټوه - هسې نه چه دَ هغو
په شان شم چه دوغل ته کوزېږي
۸ ما ته دَ صبا په وقت دَ خپلې مِهربانۍ
آواز واوره - ځکه چه ځما تکیه په
تا ده - هغه لار چه پرِ بانِدِ تلل
په کار دِي راوښیه - ځکه چه
زه خپل ځان ستا په لورِي پورته
کوم
۹ اي یهوه ما له خپلو دُښمنانو نه
خلاص کړه - زه تا ته درننیم چه
مِ پټ کوي
۱۰ ما ته خپل خواهش رازده کړه ځکه
چه ته ځما الله یِي - ستا نیک روح
مِ دِ دَ راستيِ زمکي له ورولي
۱۱ اي یهوه ما دَ خپل نُوم په روي
ژوندَي کړه - دَ خپل صداقت په
روي مِ له مُصیبتَ خلاص کړه
۱۲ او په خپلې مِهربانيِ سره ځما دُښمنان
فنا کړه - او هغه ټول چه ځما ځان
آزاروِي نابود کړه - ځکه چه زه ستا
بنده یم



## ۳۰- ورځ
## دَ سحر نمونځ

### ۱۴۴- مزمور

۱ مبارک دِ وِي یهوه ځما کلک - چه ځما
لاسونو ته قتل کول ښيِي - او ځما
گوتو ته جنگ کول
۲ ځما مِهربانِي او قلا - ځما اوچت برج
او ځما خلاصونکَي - ځما ډال - او هغه
چه زه توکل پرِ کوم - چه ځما قوم
ترِ ما لاندِ کوِي
۳ اي یهوه انسان څه دَي چه ته يُ
یاد کړي ؟ - یا بنِي آدم چه ته يُ په
خیال کښې راولې
۴ انسان خو عبث دَي - ورځې يُ دَ
سورِي په شان تیریږِي
۵ اي یهوه خپل آسمانونه راښکته
کړه - او راکوز شه - غرونو له لاسونه
وروړه چه لوگي ترِ پورته شِي
۶ برېښنا وبرېښوه او هغوي تار په تار
کړه - خپل غشې گُذار کړه او هغوي
پریشان کړه
۷ خپل لاس له پاسَ راوغزوه - بچ
مِ کړه - دَ بیگانه وُ له لاسَ
۸ ځکه چه دَ هغو خولې دروغ وايِي -
او ښي لاس دَ هغو دَ دروغو ښي لاس دَي

۹ اي الله زه به ستا دَپارَ يو نوي
غزل وغږوم- په لس تارِي رباب
به ستا مدح وغږوم
۱۰ هغه دَي چه بادشاهانو ته نجات
ورکوِي-چه خپل بنده داؤد له
زيان کاري توري نه خلاصَوِي
۱۱ بچ مِ کړه او خلاص مِ کړه دَ بيګانو
له لاسَ-چه خولي ئي عبث وايِي-
او ښي لاس ئي دَ دروغو ښي لاس
دَي
۱۲ تا چه ځمونږ ځامن دَ نهال په شان
ښِي چه لوي شوي دِي په خپلي ځوانئ
کښ-او ځمونږ لونړه دَ کټ دَ کانړو
په شان چه دَ محل په اندازه سره
ګنړولي شوي دِي
۱۳ او انبارونه ځمونږ ډک وِي-چه
رنګارنګ څيزونه په کښ پيدا کيږِي
-ځمونږ ګډي ځمونږ په ميره کښ
په زرګونو په لکونو لنګي ښي
۱۴ چه غوايان ځمونږ ښه بار کړي شوِي
-او نه مات کيدل او نه کوچ کول-
او نه ويړ ځمونږ په لارو کښ
۱۵ مبارک دَي هغه اُمّت چه په داسي
حال کښ وِي- هو مبارک هغه
اُمّت چه الله ئي يهوه دَي

## ۱۴۵-مزمُور

۱ اي ځما الله اي بادشاه زه به تا
له تعريف وکړم-او زه به تر ابدالاباد
پوري ستا نُوم ته مبارک ووايم
۲ زه به هره ورځ تا ته مبارک وايم-
او زه به تر ابدالاباد پوري ستا
دَ نُوم مدحه کوم
۳ يهوه لوي دَي-او نهايت دَحمد
لايق دَي-او دَ هغه لوئي له تحقيق
کولو نه بهر دَه
۴ يوه پيړئ به تر بلي پيړئ پوري ستا
دَ کارونو مدح کوِي-او ستا دَ
قدرتونو بيان به کوِي
۵ ستا دَ جلال دَ لوي دَبدَبي-او
ستا په عجائب کارونو به غور کوم
۶ او خلق به ستا دَ هيبتناک قدرت
خبري وکړِي-او زه به ستا دَ لوئي
بيان وکړم
۷ هغوي به ستا دَ لوي احسان
دَ يادګارئ ذکر وکړِي-او ستا دَ
صداقت سرود به ووايِي
۸ يهوه کريم او رحيم دَي- په
خفګئ کښ سُست او ډيرهٔ مهرباني
کوِي
۹ يهوه دَ ټولو دَپارَ ښه دَي-او دَده



رحمتونه دَده په ټولو کارونو باندِ
دِي
۱۰ اي يهوه ستا ټول کارونه بستا
شکر کوِي-او ستا تقوىٰ داران به
تا ته مبارک وايِي
۱۱ ستا بادشاهت به دَ جلال خبري
وکړِي-او ستا دَ قدرت بيان به
وکړِي
۱۲ تا چه په بني آدمو باندِ ستا
قدرتونه ظاهر کړِي-او دَده دَ
بادشاهئ دَ دَبدبي جلال
۱۳ ستا بادشاهت ابدِي بادشاهت دَي
-او ستا حکومت پُشت په پشت
۱۴ يهوه هغه ټول چه پريوزِي سنبالوِي
-او هغه ټول چه کاږه شوي دِي
پورته کوِي ئي
۱۵ دَ ټولو سترګي تا ته انتظار کوِي-
او ته په وقت هغو ته روزِي ورکوي
۱۶ ته خپل لاس پرانزي-او دَ هر يو
جاندار خواهش پوره کوي
۱۷ يهوه په خپلو ټولو لارو کښ صادق
دَي-او په خپلو ټولو کارونو کښ
مهربان دَي
۱۸ يهوه هغو ټولو ته چه ده ته ناري
وهي نژدي دَي- هغو ټولو ته چه
په رښتيئ سره ناري ورته وهي
۱۹ دَي دَ هغو ټولو مراد چه له ده نه
ويريږي پوره کوِي-دَي به هم دَ هغو
ټولو زارِي واورِي او نجات به ورکړِي
۲۰ يهوه هغه ټول چه له ده سره
مينه لرِي ساتِي-مګر ټول شريران
به نابود کاندي
۲۱ ځما خوله به دَ يهوه دَحمد خبري
وکړِي-او ټول بشر به دَده دَ پاک
نُوم تر اَبَدُالاٰبادَ شکر وکاندِ

## ۱۴۶- مزمُور

۱ اَلحَمدُ لِلّهِ- اي ځما ځانه دَ يهوه
حمد کوه
۲ تر هغه پوري چه زه ژوندي يم
دَ يهوه حمد به کوم- ترڅو چه ژوندي
يم الله ته به مدحه غږوم
۳ په اميرانو باندِ تکيه مه کوئِ-او
نه په بني آدم چه په کښ نجات نشته
۴ دَ هغه سا ځيږي او بيا خپلو خاورو
ته ورګرزِي
۵ مبارک هغه دَي چه دَ يعقوب الله
ئي مددګار دَي- چه توکّل ئي په
يهوه خپل الله دَي
۶ چه آسمانونه او زمکي ئي پيدا کړل-
درياب او هرڅه چه په هغه کښ دي

چه ربښتيني ئې تر ابدَ پورې ساتي
٧ چه دَ مظلومانو دپارَ عدالت کوي-
چه وږيو ته ډوډئ ورکوي-يهوه
قيديان خلاصوي
٨ يهوه دَ ړندو سترګې پرانزي-يهوه
هغه چه کابو شوي دي سم ودروي
-يهوه په صادقانو مينه کوي
٩ يهوه دَ مسافرانو حفاظت کوي-
هغه يتيمان او کونډې سنبالوي
ليکن دَ شريرانو لار لوړه ژوړه کوي
١٠ يهوه به ترابدَ پورې سلطنت کوي-ستا
الله اي صيحونَ پښت په پښت-اَلحَمدُ لِلّهِ

# ٣٠-ورځ
# دَ نمابښام نمونځ
## ١٤٧-مزمور

١ اَلحَمدُ لِلّهِ-ځکه چه ځمونږ دَ الله
مدحه غږول ښه دي-ځکه چه
ښائسته دي او حمد کول ئې ښه دي
٢ يهوه اورشليم جوړوي-او دَ اسرائيل
تار په تار شوي سره جمع کوي
٣ هغه شکسته دلانو ته شِفا ورکوي-
او دَ هغو زخمونه تړي
٤ هغه ستورې شماري-او هر يو
بيل بيل له نُوم ورکوي
٥ ځمونږ يهوه لوي دَي او په قوت
کښې بزرګ-دَده فهم بيحدَ دَي
٦ يهوه حليم ودروي.شريران په زمکه غورزوي
يهوه ته په شکرګذارۍ سره سرود ووايئ
٧ مځ وغږوئ په ستار ځمونږ اللّه ته
٨ چه آسمانونه په اوريځو پټوي-چه
دَ زمکي دپارَ باران تيارَوي-چه په
غرونو واښه زرغونوي
٩ څاروو ته روزي ورکوي-چه دَ
قاغو بچو ته چه ناري وهي
١٠ دَ آس په قوت نه خوښيږي - دَ
سړيو په پښو راضي نه دَي
١١ يهوه له هغو نه چه له ده نه ويريږي راضي
دَي-چه دَده مهربانۍ ته اميدوار دي
١٢ اي اورشليمَ دَ يهوه حمد کوه-اي
صيحونه دَ خپل الله حمد کوه
١٣ ځکه چه ده ستا دَ دروازو اَړمونه
مضبوط کړي دي-ستا ځامنو ته چه
په تا کښې دي برکت ورکړي دَي
١٤ او ستا حدونو ته امن ورکوي-
تا په ښو ښو غنمو مړوي
١٥ دَي خپل حکم په زمکه کښې ليږي-
دَده کلام نهايت ګړندي دَي
١٦ دَي واوره دَ وړئ په شان ورکوي
-ږلئ دَ ايرو په شان غوړوي
١٧ واوره دَ ټوټو په شان غورزوي-



ځوک دَده دَ يخنۍ دَ ورانۍ ودريدی
شي
١٨ دَي خپل کلام ليږي او هغوي ويلي
کوي-خپل باد الوزوي او اوبه بهيږي
١٩ دَي خپل کلام په يعقوب باندې ظاهروي
خپل فرمانونه او عدالتونه په اسرائيل
٢٠ ده دَ هيڅ قوم سره داسي سلوک
و نه که-دوي دَ هغه عدالتونه
و نه پيژندل-اَلحَمدُ لِلّهِ

## ١٤٨-مزمور

١ اَلحَمدُ لِلّهِ-دَ يهوه له آسمانونو نه
حمد کوئ-په اوچتو کښې دَده حمد کوئ
٢ اي تاسو دَده فرښتو دَده حمد کوئ-
اي ټولو دَده لښکرو دَده حمد کوئ
٣ اي نمره او اي سپوږمئ دَده حمد کوئ-
اي ټولو روښانو ستورو تاسو دَده حمد
کوئ
٤ اي دَ آسمانونو آسمانونو دَده حمد کوئ-
اي اوبو چه پورته په آسمانونو کښې يئ
٥ هغوي دِ دَ يهوه دَ نُوم حمد کوي-
ځکه چه ده حکم کړي دَي او هغه
پيدا شول
٦ هغوي ئې تر اَبدَالآبادَ پورې قايم کړل-
ده يو حکم مقرر که چه تېر به تر نه شي
٧ دَ يهوه حمد کوئ له زمکي نه-اي
نهنګانو او اي ټولو ژورو
٨ اي اوره او ږلئ واورې او لړې-
سخت باده چه دَده حکم په ځاي
راوړئ
٩ اي غرونو او ټولو غونډيو-ميوه دارو
ونو او ټول صنوبرو
١٠ اي وحشيانو او ټولو څارويو-خزندو
او پرندګانو
١١ اي بادشاهانو دَ زمکي او ټولو اقومونو
-اميرانو او ټولو منصفانو دَ زمکي
١٢ اي ځوانانو او جينکو-سپين ږيرو
او هلکانو
١٣ هغوي دِ دَ يهوه دَ نوم حمد کوي-
ځکه چه يواځي دَده نُوم لوي دَي-
لويي دَده پورته په زمکه او په
آسمانونو کښې دَه
١٤ او ده دَ خپلو خلقو ښکر اوچت
کړي دَي-حمد دَ خپلو ټولو تقوی دارا
-نو دَ بني اسرائيل قوم چه ده ته
نزدي دي-اَلحَمدُ لِلّهِ

## ١٤٩-مزمور

١ اَلحَمدُ لِلّهِ-يهوه ته دَ نوي غزل
سرود ووهئ-او دَده حمد دَ
تقوی دارانو په ټولي کښې
٢ اسرائيل دِ په هغه کښې چه پيدا ئې

له خوشحالي کوي
دَ صیحون ځامن دِ دَ خپل بادشاه
په سبب خوښي وکړي
۳ هغوي دِ دَده دَ نوم حمد په
ګډیدو سره وکړي - هغوي دِ په
طَنبَل او په ستار ده ته مدحه
وغږوي
۴ ځکه چه یهوه له خپلو خلقو
خوشحالیږي - عاجزانو ته په نجات
سره زینت ورکوي
۵ تقوی‌داران دِ په جلال سره
فخر وکړي - هغوي دِ په خپلو کټونو
باندِ دَ ښادئ غزل ووائي
۶ دَ الله صفتونه دِ دَ هغو په خولو
کښ وي - او دوه مخه توره دِ دَ
هغو په لاسونو کښ وي
۷ له غیر قومونو نه دَ بدل اخستلو
دَپارَ - چه خلقو ته سزا ورکوي
۸ دَ هغوي بادشاهان دَ زنځیرونو
دَ ترلو دَپارَ - دَ هغو امیران
دَ اوسپنو په ځولانو سره
۹ تا چه په هغو باندِ هغه عدالت
چه لیکلي شوي دَي دَ پوره کولو
دَپارَ - دَ ټولو تقوی‌دارانو دا عزت
دَي - اَلحَمدُ لِلّهِ

## ۱۵۰- مزمُور

۱ اَلحَمدُ لِلّهِ - دَ هغه په مقدس
کښ دَ الله حمد کوئِ - دَده
دَ قدرت په فضا کښ دده
حمد کوئِ
۲ دَده دَ لویو کارونو دَپارَ دَده
حمد کوئِ - دَده دَ لوئي دَ کثرت
په موافق دَده حمد کوئِ
۳ دَ قرنا په آواز سره دَده حمد
کوئِ - او په رباب او په ستار
سره دَده حمد کوئِ
۴ په طَنبَل او په ګډیدو سره دَده
حمد کوئِ - په تارونو او په شپیلي
سره دَده حمد کوئِ
۵ په لوی آوازي ژرنګووني سره دَده
حمد کوئِ - په ښه ژرنګووني
غږولو سره دَده حمد کوئِ
۶ هر یو ځیز چه سا لري دَ یهوه
حمد دِ کوي - اَلحَمدُ لِلّهِ



# مسئلي دَ دین

## دَ انګلستان دَ کلیسي دَ بعضي قانوني آئین دَ اختلاف دَ دفعه کولو او دَ اتّفاق دَ قایم کولو دَپارَ

چه په هغي باندِ دَ انګلستان دَ دوارو صوبو اُسقفانو او صدر اُسقفانو او امامانو په هغي مجلس کښ اتّفاق وکړ چه په سنه ۱۵۶۲ء په لندن کښ منعقد شوي وه او دا عقیدي دَ بادشاه په حکم سره دوباره چهاپه شوي او جاري شوي

### ۱- په مقدس تثلیث باندِ دَ ایمان په بیان کښ

یو الله حيّ او برحق دَي هغه ازلي او ابدي دَي بي‌جُثّي بي‌حضي او دَ هوا هوس پاک دَي دَ هغه قدرت او حکمت او خوبي بیحده ده - هغه دَ ټولو لیدونکو او نالیدونکو ځیزونو خالق او حافظ دَي - او دَدي الوهیت په یووالي کښ دري اقانیم یعني پلار او ځوی او روحُ القُدس دِي - چه یُ ذات او قُدرت او ازلیّت یو دَی

### ۲- دَ کلمي یعني دَ الله دَ ځوي په بیان کښ چه حقیقي انسان شه

ځوي چه دَ پلار کلمه دَه او له ازله لهَ پلاره مولود دَي - برحق او ازلي او ابدي خداي دَي دَ هغه او دَ پلار یو ذات دَي - هغه ذاتِ انسانيُ دَ مبارکي بیبي په رحم کښ دَ هغي له ذات نه قبول کړ چنانچه دوه پوره او کامل ذاتونه یعني الوهیت او انسانیت هم په یوَ تن کښ داسي یوځاي او متّصل شوي دِي چه بیا هیچري دواړه جُدا کیدي نه‌شي او له هغو دواړو نه یو مسیح شه چه حقیقي خداي او حقیقي انسان دَي هغه په رښتیا سره درد وزغمه - مصلوب شه - مړ شه - او ښخ شه - چه خپل پلار خوښ سره پخلا کړي نه صرفِ دَ سرو دَ موروثي عیب دَپارَ بلکه دَ خلقو دَ ټولو فعلي ګناهونو دَپارَ هم قربان شي

### ۳- په عالمِ برزخ کښ دَ مسیح دَ کوزیدو بیان

لکه چه مسیح خښونو دَپارَ مړ شه
او ښخ کړي شه په دي شان سره
دا هم ضلي شي چه هغه عالم برزخ
ته کوز شه

۴-دَ مسیح دَ قیامت په بیان کښ

مسیح له مرګ نه په رښتیا سره
ژوندي شه او خپل بدن ئي له غوښو
او له هډوکو او دَ کامل ذات دَ انسان
دَ ټولو متعلقاتو سره بیا واخست
او له هغي ټولو سره آسمان ته وخوت
او هلته به ناست اوسي ترڅو چه
په آخره ورځ کښ هغه دَ ټولو خلقو
دَ عدالت کولو دَپارَ بیا راشي

۵-دَ روح قدوس په بیان کښ

روح القدس له پلاره او له ځوی
وتونکي دَي او دَ پلار او دَ ځوي
سره ئي ذات او لويي او بزرګي یوه
دَه هغه برحق او ازلي او ابدي خدای
دَي

۶-دَ نجات دَپارَ دَ پاکو کتابونو دَ
کافي کیدو په بیان کښ

څومره خبري چه دَ نجات دَپارَ
ضرور دِي هغه ټولي په پاک کتاب
کښ درج دِي نو له چا نه دَ دي خبري
غوښتل بایده نه دِي چه څه خبره
چه په هغي کښ لوستلي نه شي یا
له هغي نه ثابتَ کیدلي نه شي مسئله
دَ ایمان دِ و نه منلي شي نه دِ دَ نجات
دَپارَ ضروري وګڼلي شي له پاک
کتاب نه خښونو مراد دَ زړي عهدنامي
او دَ نوي عهدنامي هغه قانوني کتابونه
دِي چه دَ هغي په سند کیدو کښ
دَ کلیسي هیچري شک نه دَي شوي

دَ قانوني کتابونو فهرست

پیدایښت
خروج
احبار
شمار
استثنا
یهوشع
قاضیان
رُوت
دَ سموئیل ورنبي کتاب
دَ سموئیل دویم کتاب
دَ بادشاهانو ورنبي کتاب
دَ بادشاهانو دویم کتاب
دَ تواریخ ورنبي کتاب
دَ تواریخ دویم کتاب
دَ عزرا ورنبي کتاب
دَ عزرا دویم کتاب



دَ آستر کتاب
دَ ایوب کتاب
زبور
امثال
واعظ
دَ سلیمان غزل الغزلات
څلور لوي نبیان
دولس واړه نبیان

او نور کتابونه (لکه چه هیرونیم
وائي) دَ خوي خصلت دَ نیکي نمونې او
دَ اخلاق دَ شایستګي دَپارَ ئي کلیسیا
لولي مګر دَ خاص تعلیم دَپارَ تر نه
سند نه اخلي
هغه کتابونه دا دِي

دَ عزرا دریم کتاب
دَ عزرا څلورم کتاب
دَ طوبیا کتاب
دَ یهودیت کتاب
دَ آستر دَ کتاب باقي حصه
دَ حکمت کتاب
یشوع دَ سیرخ دَ ځوی
بروخ نبي
دَ دریو ځوانانو سرود
دَ سوسنا قصه
دَ بیل او دَ اژدهي قصه
دَ منسي دُعا
دَ مکابیانو ورنبي کتاب
دَ مکابیانو دویم کتاب

دَ نوي عهدنامي ټول کتابونه چه
هغه عموماً تسلیم کیږي مونږه ئي هم
قانوني ګڼو او قبلووئ

۷-دَ زړي عهدنامي په بیان کښ

زړه عهدنامه دَ نوي عهدنامي
برخلاف نه ده ځکه چه نه صرف په
نوي عهدنامه کښ بلکه په زړه عهدنامه
کښ هم انسان ته دَ مسیح په وسیلي
سره ابدي ژوندون عطا کیږي چه
هغه الله او انسان دَي او دَ الله
او دَ انسان په مینځ کښ یواځي میانځګړی
دَي- نو هغه خلق دَ اعتبار لایق
نه دِي چه دا خلاف وائي چه دَ تیرې
شوي زماني اولیا صرف دَدي جهان
دَ برکتونو دَ حاصلو امیدوار وُو

اګرچه مسیحیان خلق دَ هغي
شرعي چه خدای دَ موسیٰ په وسیلي
سره ورکړي دَه دَ دستورونو او دَ رسمونو
پابند نه دِي او نه څه ضروري دِي چه
دَ هغي ملکي دستورونه څوک حاکم
دَ زماني جاري کړي تا هم څه حکمونه
چه اخلاقي ګڼلي شي دَ هغو دَ منلو

نه هېڅوک مسيحي آزاد نه دی

۸- دَ دريو عقايدنامو په بيان کښ

دريواړه عقايدنامې يعني دَ نکايه عقايدنامه او دَ انهناسيس عقايدنامه او هغه چه عمومًا دَ رسولانو عقايدنامه ورته ويلې شي ټولي دَ ايمان او دَ قبلولو لايقي دي ځکه چه هغه دَ پاک کتاب په محکمو دليلونو سره ثابتي کېدي شي

۹- دَ موروثي ګُناه په بيان کښ

دَ موروثي ګُناه نه دَ آدم پيروي مراد نه ده (لکه چه پلاجيان جک وهي) بلکه هغه دَ هر يو سړي دَ ذات چه په فطري طور سره دَ آدم له نسل پيدا کېږي نُقص او فساد دَي چه دَ هغي په سبب انسان له اصلي راستبازۍ نه ډېر لرې تلي دَي او په طبعًا بديۍ ته مائل دَي ځکه چه دَ نفس خواهش دَ روح له خواهش هميشه مخالف دَي او له دي سببَ په هر سړي کښ چه په دې دنيا کښ پيدا کېږي دَ الله دَ غضب او دَ عذاب سزاوار کېږي- او دَ انساني ذات دا خراب والي په هغو کښ هم وي چاچه دويم پيدايښت بياموندي دَي چنانچه هغه نفساني مزاج چه په يونانۍ کښ ورته فرونيما سارکس وايي (چه هغي ته بعضِ نفساني حکمت بعضِ نفساني هوس بعضِ دَ نفس ميلان بعضِ دَ نفس رغبت تړِ مراد اخلي) دَ خداي دَ شرع نه تابع کېږي- او هغو چه ايمان ئې راوړي دَي او بپتسمه ئې اخستي ده دَ هغوي دَپارَ دَ سزا هيڅ حکم نشته مګر بيا هم رسول اقرار کوي چه نفساني رغبت بالذّاته په ګُناه کښ داخل دَي

۱۰- دَ فعل مختارۍ په بيان کښ

دَ آدم دَ تباه کېدو نه پس دَ انسان داسي حال شوي دَي چه هغه په خپل ذاتي طاقت او په نيکو عملونو سره دَ دي قابل نه دَي چه دَ ايمان راوړلو او له خدايه دَ دُعا غوښتلو طرف ته رجوع وکړي او په هغي باندِ مستعد شي- ځمونږ هيڅ طاقت نشته چه دَ خداي په نظر کښ پسنديده او مقبول نيک عملونه وکړو بغير له دي نه چه دَ الله فضل دَ مسيح په وسيلي سره ځمونږ پيشروي وکړي دَ دي مطلب دَپارَ ځمونږ اراده نيکه شي- او هرکله چه ځمونږ اراده نيکه شي هغه ځمونږ په فعليت کښ شاملِ حال اوسي

۱۱- دَ انسان دَ راستباز کېدو په بيان کښ

مونږ دَ خداي په حضور دَ خپلو عملونو يا دَ ثوابونو په سبب نه بلکه صرفِ دَ خپل خداوند او نجات راکونکي يسوع مسيح دَ ثواب په سبب دَ ايمان په وسيلي سره راستباز کېږو نو چه مونږ دَ ايمان په وسيلي سره راستباز کېږو عمده او ډېر تسلي بخښونکې تعليم دَي لکه چه په هغي هميلي کښ چه دَ راستباز کېدو په باب کښ دَه مفصل بيان دَي

۱۲- دَ نيکو عملونو په بيان کښ

اګر چه نيک عملونه دَ ايمان ميوه دَه او دَ سړو دَ راستباز کېدو نه پس له هغو نه صادر کېږي نه ځمونږ ګُناهونه لرې کولي شي نه هغه دَ خداي دَ عدالت مقتضا پوره کولي شي تا هم هغه په مسيح کښ دَ خداي په حضور غوره او مقبول دِي او دَ رښتني او دَ ژوندي ايمان نتيجه دَه او له هغو نه ژوندَي ايمان داسي صاف پيژندلي شي لکه چه ونه له خپلي ميوي نه

۱۳- دَ هغي عملونو په بيان کښ چه دَ راستبازۍ نه پخوا کېدي شي

هغه عملونه چه دَ مسيح دَ فضل او دَ هغه دَ روح دَ الهامَ ورښيي کېږي په يسوع مسيح باندِ دَ ايمان راوړو نه نه صادرېږي دَدي دَپارَ هغه دَ خداي خوښ نه دِي او نه دومره قدري دِي چه (دَ بعضِ علماؤ او دَ حکماؤ دَ ويلو په موجب) دا دَ واجب کېدو په لاري سره په انسان کښ دَ خداي دَ فضل هيڅ لياقت پيدا کولي نه شي بلکه مونږ هيڅ شک نه کوو ځکه هغه دَ خداي دَ مرضي او دَ حکم په مطابق نشي کېدلي دي دَپارَ بالکل له ګُناه سره کړه دِي

۱۴- دَ نفلي عملونو په بيان کښ

دَ هغو تعليم له تکبره او له بې دينۍ نه خالي نه دَي- چه وايي چه دَ خداي دَ حکمونو نه علاوه بعضي نور هم اختياري کارونه دِي چه هغي ته نفلي وايي ځکه چه دَ هغو خلقو دا دعوی ده چه مونږ دَ خداي نه صرفِ حق ادا کوو بلکه چه په مونږ باندِ فرض او لازم دِي له هغي نه زيات هم دَ هغه دَپارَ کوو او حال دا دَي چه مسيح صاف صاف فرمائي چه- ټول څه چه دَ هغي حکم تاسو له درکړي شوي دَي- کړئ نو وايئ چه مونږ نالايق بندګان يُو

۱۵- په دي بيان کښ چه صرفِ مسيح بې ګُناه دَي

مسيح ځمونږ په حقيقتِ ذات کښ

بي له گناه په هر امر کښې ځمونږ په شان شه لیکن له گناه نه هغه په جسم او په روح دواړو سره بالکل پاک وه - هغه دَدي دَپارَ راغي چه هغه بيعيب بره شي او دَ خپل ځان په يوځل قربان کولو سره دَ جهان ګناهونه يوسي لکه چه مقدس يوحنا فرمايي چه په هغه کښې هيڅ ګناه نه وه لیکن مونږ ټولو اګرچه بپتسمه واخسته او په مسيح کښې دوباره پيدا شوي يو ولي بيا هم په ډېرو خبرو کښې خطا کُوو او که چرې ووايُو چه مونږ بيګناه يو نو خپل ځان غلوُو او رښتيا په مونږ کښې نشته

١٦- دَ هغي ګناه په بيان کښې چه له بپتسمي نه پس کيدَي شي

نه هره يوه هلاکونکي ګناه چه پس له بپتسمي نه قصدًا کيدي شي دَ روحُ القُدس په مخالف او ناممکنَ دَ عفوي ده - دي دَپارَ چه څوک دَ بپتسمي نه پس په ګناه کښې نخلي په هغو باندِ دَ توبي دروازه بنده ول بايدِ نه دي - دا خو ممکن ده چه مونږ دَ روح القدس دَ حاصلولو نه پس له هغي فضل نه چه بخښلي شوي وه کِناره وکړو لیکن دا هم ممکنَ دَه چه مونږ به دَخداي په فضل سره بيا ودريږو او خپل خوي خصلت به سم کړُو- نو دَ هغوي رايَ لايقَ دَ رد کولو دَه چه وايِي چه مونږه په آينده ټول عمر کښې دَ ګناه کولو قايل نه يو يا دا وايِي چه دَ توبه کونکو دَپارَ ځاي باقِي نشته

١٧- دَ تقدير او دَ برګزيده کيدو په بيان کښې

تقدير چه دَ ژوندون دَپارَ دَي له هغي نه دَ خداي هغه ازلِي مقصد مراد دَي چه هغه ئې دَ عالم له بنا نه وړنبيَ دَ خپل پټ مصلحت په موافق محکمه اراده کړي وه چه څوک ئې په مسيح کښې له بنيِ آدمو نه غوره کړي دِي چه هغو ئې له لعنتَ او له عذابَ بچ کړي او دَ مسيح په وسيلي ئې ابدِي ژوندانه ته ورسَوِي- په شان دَ لوښو چه دَ عزت دَپارَ جوړ شوي دِي- نو چه دَ خداي له طرفَ په داسي افضل نعمت سره بهره مند شوي دِي هغوي دَ خداي په روح سره چه په وقت په هغوي کښې تاثير کوِي دَ هغه دَ مقصود په موافق بللي کيږِي هغوي دَ فضل په وسيلي سره دا بلنه قبلوي



هغوي صفت راستباز کيږِي هغوي دَ خداي متبنّا کيږِي او دَ هغه دَ ابنِ وحيد يسوع مسيح همشکلي کيږِي او په دينداريُ سره نيک عملونه کوِي او آخرِ کار دَ خداي په رحمت سره ابدِي نيکبختيُ ته رسِي

هرڅوک چه ديندار دِي او په خپله تجربه سره معلومَ وِي چه دَ مسيح روح په هغو کښې تاثير کوِي او دَ نفس فعلونه او دَ هغو خاوِرين اندامونه مړه کوِي او دَ هغوي زړونه دَ آسمان دَ لويو مطلبونو طرف ته راکاږِي دَ تقدير په باب کښې پاک خيالات او په مسيح کښې ځمونږ برګزيدګي دِيندارو خلقو ته دَ شيرين او دَ خوشګوارِ او دَ بي بيانِ تسلي نه ډک دِي علاوه له دينه دَ هغوي ايمان دَدي ابدِي ژوندانه چه دَ مسيح په وسيلي حاصليدونکيَ دَي نهايت ثابت او محکم کيږِي- او دَ خداي محبت هم دَ هغوي په زړونو کښې ډير شُعله وهونکيَ دَي-ليکن بيا هم هغه خلق چه نکته‌چين او نفس‌پرست او دَ مسيح له روحَ بيحصي دِي دَ هغو دَپارَ دا دَ يو نهايت هولناک آفت باعث دي چه هغه دَ خداي دَ تقدير فتوىٰ هر وقت دَ خپل نظر دَ وړاندِ لري او دَ هغي په سبب سره شيطان هغوي دَ نااميديُ په لهَّه کښې غورزوِي يا ئې بيرَ ئې کوِي دَ خرابيِ او دَ پليتيِ دي حال ته ئې رسوِي چه له نااميديُ نه هيڅري خطرناک نه دَي

له دي نه علاوه بايده دِي چه مونږ دَ خداي وعدي په دي شان سره قبولي کړو لکه چه په پاک کتاب کښې عمومًا کړي شوي دِي او مونږ له په خپلو فعلونو کښې دَ خداي په هغي مرضيُ باندِ تلل بايده دِي چه دَ هغه په کلام کښې په مونږ باندِ صاف صاف ظاهره کړي شوي دَه

١٨- په دي بيان کښې چه ابدِي نجات صرف دَ مسيح په نامه حاصليږِي

هغه خلق دَ لعنت دَ فتوي قابل دِي چه دَدي خبري دَ ويلو زړورتيا کوِي چه هر سړي چه دَ کوم مذهب يا له فرقي سره تعلّق لرِي هم له هغي نه به هغه نجات بيامومِي په دي شرط سره که هغه کوشش وکړي او خپل خوي خصلت دَ هغي شرعي او دَ عقلي تميز په موافق درست کړي ځکه چه پاک کتاب صرف دَ يسوع مسيح نوم

موثوته ښيي چه صرف دَ هغه په وسيلي سره بنيآدم نجات بياموندي شي

۱۹- دَ کليسيي په بيان کښ

دَ مسيح دَ ظاهرِي کليسيي نه دَ مؤمنانو داسي جماعت مراد دَي چه په هغي کښ دَ خداي خالص کلام اورولي شي او سکرامنتونه موافق دَ ضابطي دَ مسيح په هغو ټولو ځيزونو کښ چه دَ هغي دَپارَ ضروره لازم دِي په درستئ سره ادا کيږي

څنګه چه دَ يروشليم او دَ سکندرِئ او دَ انطاکيي کليسيي غلطِي کړيده- همدغه شان دَ روم کليسيي غلطِي کړي دَه نه صرف په خوي خصلت او په دستورونو کښ بلکه دَ ايمان په مقدمو کښ يُ هم غلطِي کړي دَه

۲۰- دَ کليسيي دَ اختيار په بيان کښ

کليسيه دَ دستورونو دَ مقرر کولو قدرت او دَ ايمان دَ مقدمو دَ فيصل کولو اختيار لرِي مګر بيا هم دَ خداي دَ ليکلي شوِي کلام په برخلاف څه خبره مقرر کول هغي له روا نه دِيَ او نه دَ پاک کتاب دَ څه مقام داسي تفسير کول هغي له جائز دِي چه هغه دَ بل مقام ضد وِي- اګرچه کليسيا دَ پاکو صحيفو شاهده او ساتونکي دَه تا هم بايده نه دي چه دَ هغو په برخلاف څه فتوىٰ جارِي کړي په دي شان سره دا هم په هغي فرض دِي چه څه خبره مخالف له هغو نه دَ نجات دَ اعتقاد په شرطونو کښ جارِي نه کړي

۲۱- دَ کليسيي دَ مجمع عامِ دَ اختيار په بيان کښ

مجمع عام دِ بي له حکمَ او دَ رضا دَ بادشاهانو جمع نه شِي- او هرکله چه هغه دَ داسي سړو جرګه وِي چه په هغو کښ بعضي دَ خداي دَ روح او دَ کلام فرمان برداره نه وِي دي دَپارَ چه هغه جمع شِي نو داکيدي شِي چه په هغي خبرو کښ چه دَ الله سره تعلق لرِي هم هغه په غلطئ کښ پريوزِي او په بعضي وقتونو کښ پريوتلي هم دِي- نو څه خبري چه هغوي دَ نجات دَپارَ ضرورِي ګنړلي دِي بغير له هغوي چه په صافو دليلونو سره دا ظاهر کړَي شِي چه هغه دَ پاک کتاب له مضمونو نه وتلي دِي نه دَ هغوي څه قدر دَي او نه هغه څه س .کيدَي شِي

۲۲- پرګتوريم يعنِي دَ عالم تطهير په بيان ک،

رومِي تعليم دَ مَطْهَر او دَ مغفرت نامو او دَ بُتونو او دَ تبرکونو دَ تعظيم او دَ پرستش او له مقدسانو نه دَ آرزو کولو په باب کښ ورکوي باطل او بي اصل ايجاد دَي او دَ پاک کتاب په څه سند بانډي مبني نه دَي بلکه دَ کلام الٰهِي نه برخلاف دَي

۲۳- دَ کليسيي په جماعتونو کښ دَ خدمت کولو په بيان کښ

چا له روا نه دِي چه هغه دَ وعظ کولو او په کليسيي کښ دَ سکرامنتونو دَ تعميل دَپارَ دَ هغي نه وړنبي چه په موافق دَ شرع مقرر شِي او وليکلي شِي داکار دِ له خپله ځانه نه اختيار کړي- او مونږ له داسي بايده دِي چه صرفِ هغه موافق دَ شرعي مقرر شوي او ليکلي شوي وګڼو چه دَ هغي خلقو له طرفَ چه دَدي کار دَپارَ وانړولي شِي او مقرر شِي چا ته چه له کليسيي نه په ظاهره اختيار ورکړي شوي دي چه خادمان دَدين دَ خداوند انګورستان ته وبلي او وليږي

۲۴- دَدي خبري په بيان کښ چه په جماعت کښ داسي ژبه استعمال شي چه خلق پرِ پوهيږي

دا خبره دَ خداي دَ کلام او دَ اولي زماني دَ کليسيي دَ رواجه ظاهره برخلاف دَه چه په کليسيي کښ عامه دُعا يا دَ سکرامنت تعميل په داسي ژبه کښ وکړي شي چه خلق پرِ نه پوهيږي

۲۵- دَ سکرامنتونو په بيان کښ

دَ مسيح مقرر شوِي سکرامنتونه نه صرفِ دَ مسيحي دين دَ اقرار علامتونه يا نښي دِي بلکه خاص هغه دَ خداي دَ فضل دَ هغي دَ ارادي دَ خير چه هغه ځمونږ په نسبت لرِي څو يقيني شاهديِ اثرناکي نښي دِي چه دَ هغي په وسيلي سره خداي په مونږ کښ په پټه سره اثر کوِي او په هغه بانډي ځمونږ ايمان نه صرف پيدا کوِي بلکه هغه مضبوط او محکم کوِي يُ هم

په انجيل کښ ځمونږ خداوند مسيح دوه سکرامنتونه مقرر کړِي دِي يعني بپتسما او عشاي ربّاني

هغه پنځه دستورونه چه عمومًا سکرامنتونه ور ته وايِي يعني استحکام اعتراف او توبه- تقرر- نکاح- او اخرِي مسح هغه دَ انجيل سکرامنتونه ګنړل بايده نه دِي چونکه بعضي له هغو نه په غلط طور سره دَ رسولانو دَ پيروئ نه پيدا شوي دِي او بعضي دَ ژوندانه داسي حالتونه دِي چه پاکو کتابونو

اجازت خو ورکړي دَي لیکن دَ بپتسمي او دَ عشاي رباني په شان هغه دَ سکرامنټونو خاصه نه لري دي دَپارَ چه دَ خداي له طرفه دَ هغوي دَپارَ هیڅ ظاهري نښه یا دستور مقرر شوي نه دَي

مسیح سکرامنټونه دي دَپارَ نه دِي مقرر کړي چه خلق ئې دَ تماشي په شان وګوري او ورته ګوري یا ئې ګرځوي بلکه دَ دي دَپارَ چه موږ ئې په واجب طور سره استعمال کړو او دَ هغي سلامتي بخښونکي تاثیر صرف په هغوي کښ کیږي چه ئې په لایق طور سره اخلي مګر چه ئې په نالایق طور سره اخلي هغه دَ مقدس پولس دَ قول په موجب دَ ځان دَپارَ عذاب ګټي

۲۶- دَ دي خبري په بیان کښ چه دَ خادمانِ دین دَ نالایقۍ په سبب دَ سکرامنټونو په اثر کښ خلل نه راځي

اګرچه په ظاهر کلیسي کښ نیک او بد سره همیشه ګډ دِي کله کله بد سړي دَ کلام او دَ سکرامنټونو په خدمت بانډِ مختار کیږي او چونکه هغوي په خپل نوم کښ نه بلکه دَ مسیح په نوم سره کار کوي او هم دَ هغه په اجازت او په اختیار ئې خدمت په ځاي راوړي دي دَپارَ دا جائز دِي چه موږ دَ خداي دَ کلام په آوریدلو او دَ سکرامنټونو په اخستلو کښ دَ هغوي خدمت قبول کولي شو- دَ هغوي دَ بدي په سبب دَ مسیح دَ دستورونو اثر نه ځي او دَ الله دَ نعمتونو فضل دَ هغو دَپارَ چه په ایمان او په صحیح طور سره دَ هغو له لاسَ سکرامنټونه اخلي نه کیږي اګرچه بد سړي ئې په ځاي راوړي تاهم سکرامنټونه دَ مسیح دَ مقرر کیدو او دَ وعدي په سبب سره اثر لري

بیا هم دَ کلیسي دا ذمه دَه چه دَ بدخویو خادمانو دَ دین دَ حال تحقیقات وکړي شي او څوک خلق چه دَ هغوي له ګناه نه واقف وِي په هغوي دِ نالش وکړي او په آخر کښ چه هغه په حق فتوي سره مجرمان شي نو له خپلي عهدي نه دِ معزول کړي شي

۲۷- دَ بپتسمي په بیان کښ

بپتسمه نه صرفِ دَ دیني اقرار یوه نښه دَه او دَ فرق علامه ده چه له هغي نه دَ مسیحیانو او دَ نورو نه چه بپتسمه ئې آخستي نه وِي تمیز کیږي بلکه هغه دَ دویم پیدایښت نښه او ګویا که یوه وسیله دَه چه په هغي سره خلق په درستۍ بپتسمه اخلي او په کلیسي کښ پیوند کیږي- او هغه وعدي دَ ګناهونو له بخښني او دَ روحُ القُدس په وسیلي سره دَ الله دَ متبنّا کیدلو په هغو بانډِ ظاهره دستخط او مُهر کیږي ایمان هم مضبوط کیږي او له خدايَ دَ دُعا غوښتلو په سبب دَ فضل ترقي کیږي

دَ ورو بپتسمه دِ په کلیسي کښ ضرور په ځاي راوړي شي ځکه چه دا دَ مسیح دَ طریقي سره عین موافقت لري

۲۸- دَ عشاي ربانۍ په بیان کښ

عشاۍ رباني نه صرفِ دَ هغي محبت نښه دَه چه مسیحیانو له ئې یو تر بله لرل بایده دِي بلکه خصوصًا هغه دَ هغي خلاصي یو سکرامنټ دَي چه دَ مسیح په مرګ سره موږ ته حاصلیږي تر هغه پوري چه ئې خلق په شرعي او په لایق طور په ایمان سره ئې اخلي هغه دوړۍ چه موږ ئې ماتوُو دَ مسیح دَ بدن شراکت دَي او په دي شان سره پیاله دَ برکت دَ مسیح دَ وینو شراکت دَي

په عشاي ربانۍ کښ دَ دوړۍ او دَ شیري دَ خاصیت بدلیدل له پاکو صحیفو نه ثابت کیدي نه شي بلکه دا راي دَ پاک کتاب دَ صافو صافو کلمو عین ضد دَي او سکرامنټ اړه وِي او دَ ډیرو باطلو وهمونو بیخ دَي

دَ مسیح بدن په پاکه عشا کښ صرفِ آسماني او په روحاني طور سره ورکولي او اخستلي او خوړلَي شي- او په دي عشا کښ دَ مسیح دَ بدن اخستل او دَ خوړلو وسیله ایمان دَي

دَ عشاي رباني سکرامنټ ایښودل یا ئې ګرځول یا ئې پورته کول یا ورته سجده کول دَ مسیح دَ طریقي په موافق نه دِي

۲۹- په دي بیان کښ که بد سړي عشاۍ رباني اخلي نو هغه دَ مسیح بدن نه خوري

بد سړي او هغه خلق چه له ژوندي ایمان نه محروم دِي حال دا دَي (دَ مقدس اوګستین دَ قول په موجب)

فیصلي په موجب په ظاهر طور له کلیسي
سره هغه پَخلا نه شي

۳۴- دَ کلیسي دَدستورونو په بیان کښې

ضرور نه دي چه دستورونه او
رسمونه په هرځای کښې یو وي او په
هر صورت کښې یکسان وي ځکه چه
هغه په هره زمانه کښې مختلف شوي
دي او دَ مختلفو ملکونو اودَ وقتونو
او دَ خلقو دَ رواج په موافق دَ هغي
بدلول جائز دي په دي شرط سره چه
دَ خدای دَ کلام په برخلاف هیڅ خبره مقرّره
نه کړي شي- دَ کلیسي ټول رسمونه او
دستورونه چه دَ کلام الٰهي په برخلاف
نه وي او دَ صاحبي اختیارو په حکم او په
مرضئ سره مقرّر شوي وي هغه که
څوک په خپل عقل او په خاص اراده
سره دیده او دانسته په ظاهره مات
کړي نو دَ نورو خلقو دَ عبرت دَپارَ
هغه له په ظاهره تنبیهه ورکول باید
دي ځکه چه هغه دَ کلیسي په عام
انتظام کښې خلل اچوي او دَ حاکم حکومت
ته نقصان رسوي او دَ کمزورو وروڼو
زړونه زخمي کوي

هره کلیسیا خاص یا عامه اختیار
لري چه دَ کلیسي هغه دستورونه او رسمونه
مقرّر یا مبدل یا منسوخ کړي چه محض
دَ انسان په اختیار سره مقرّر شوي وي
څو چه ټولي خبري دَ تعلیم دَپارَ شي

۳۵- دَ همیلیانو په بیان کښې

دویم کتاب دَ همیلیانو چه
دَ هغي دَ جُدا جُدا مضمونونو فهرست لاندِ
لیکلي دي چه په هغي کښې ښه او صحت
بخښ تعلیم دي او دَ دي زماني دَپارَ
ضرور دي- لکه چه اوّل کتاب دَ
همیلیانو چه دَ شپږم ایډورډ په
زمانه کښې مروج شوي وه دي دَپارَ
مونږ دا تجویز کړي دي چه په کلیسیاوُ
کښې دِ هغه اِمامان کوشش کوي او
په خوش آوازئ سره دِ ئي لولي چه اهلِ جماعت
پرِ پوهیدي شي

دَ همیلیانو فهرست


۱- دَ کلیسي دَ صحیح استعمال په بیان کښې
۲- دَ بُت پرستئ دَ خطري په بیان کښې
۳- دَ کلیسیاوُ دَ مرمّت کولو او دَ هغي دَ صافو لرلو په بیان کښې
۴- دَ نیکو عملونو په بیان کښې چه له هغي نه اول دَ روژي بیان دَي
۵- دَ کیډور او دَ نشباز په بیان کښې
۶- دَ پوشاک دَ فضول خرچئ په بیان کښې




په جسماني او ظاهري طور سره دَ مسیح
دَ بدن او دَ وینو سکرامنټ په غابونو
سره جوئي بیا هم هغوي په هیڅ صورت
سره په مسیح کښې نه شریک کیږي بلکه
دَدي برعکس دَداسي غوره خبر نښه یا
دَ سکرامنټ خوړل څښل دَ عذاب باعث
کیږي

۳۰- په دوارو جنسونو کښې دَ شریک
کیدو په بیان کښې

اهلِ جماعتو له دَ خداوند نه پیالي نه
منع کول نه دي باید ځکه چه دَ مسیح دا
دستور او حکم دَي چه ټول مسیحیان
خلق دَ عشائ رباني په دوارو جزونو
کښې شریک شي.

۳۱- دَ مسیح دَ هغي یوي قربانئ په بیان
کښې چه په صلیب باندِ پوره شوه

دَ مسیح قرباني چه هم یو ځل وشوه
دَ تمام جهان دَ ټولو گناهونو که هغه
موروثي دي او که فعلي کامله فدیه او
کفّاره او تشفّي دَه او هم دَدي یوي
کفّاري نه سِوا دَ گناه دَپارَ بله نشته
دي دَپارَ څه خبره چه په رومي کلیسي کښې
مشهوره شوي دَه چه دَ مسیح دَ قربانو
ورکولو په وقت قسیس په خپله مسیح
دَ ژوندو او دَ مړو دَپارَ نذر کوي چه
هغه دَخپلي سزا او له گناه نه خلاص
شي محض دَ کفر قصّي او خطرناک
فریبو نه دي

۳۲- دَ قسیسانو دَ نکاح په بیان کښې

اُسقفانو او قسیسانو او ډیکنانو
له دَ خدای په شرع کښې دا حکم نشته
چه هغه دَ مجرّد اوسیدو اودَ نکاح
دَ نه کولو قول او وعده وکړي دي
دَپارَ دَ ټولو مسیحیانو په شان هغوی
له هم جائز دي چه دَخپل تمیز په
موافق نکاح وکړي په هغه حال چه
په خپل زړه کښې دا فیصله وکړي چه
نکاح به دَ دینداري دَپارَ مفید شي

۳۳- په دي بیان کښې چه څوک له
کلیسي نه خارج کړي شي له
هغونه څنگه پرهیز کول
باید دي

هغه سړي چه دَ کلیسي په ظاهري
فتوی سره په موافق دَ شرعي دَ کلیسي
له جماعت نه پریکړي شوي وي او دَ هغي
دَ شراکت نه خارج کړي شوي وي
نو ټولو مؤمنانو ته لازم دي چه هغه
په جاهلانو او په محصول آخستونکو
کښې دِ وشماري ترڅو چه هغه توبه
نه کړي او دَ صاحب اختیاري محکمي دَ

۷- دَدُعا په بيان کښې
۸- دَ نمانځه دَ مقام او دَ وقت په بيان
کښې
۹- په دې بيان کښې چه دَ دُعاي
عامه او دَ سکرامنتونو تعميل دِ په هغه
ژبه کښې وِي چه په هغه تول پوهيږي
۱۰- دَ خداي دَ کلام دَ حرمت کولو
په بيان کښې
۱۱- دَ خيرات په بيان کښې
۱۲- دَ مسيح دَ تولد په بيان کښې
۱۳- دَ مسيح دَدرد زغملو په بيان کښې
۱۴- دَ مسيح دَ قيامت په بيان کښې
۱۵- دَ مسيح دَ بدن او دَ وينو سکرامنتو
په لايق طور سره دَ اخستو په بيان کښې
۱۶- دَ روحُ القُدس دَ نعمتونو په
بيان کښې
۱۷- دَ مناجات دَ ورځو په بيان کښې
۱۸- دَ نکاح دَ حالت په بيان کښې
۱۹- دَ توبې په بيان کښې
۲۰- دَ سُستئ په خلاف
۲۱- دَ باغي توب په خلاف کښې
۳۶- دَ اُسقُفانو او دَ اِمامانو دَ تقدّس
په بيان کښې

دَ صدر اُسقفانو او دَ اُسقفانو دَ
تقدّس او دَ قسيسانو او دَ ډيکنانو
دَ تقرّر هغه کتاب چه دَ شپږم ايډورډ
په زمانه کښې جارِي شه او په هغه
زمانه کښې دَ پارليمنټ په سند سره
مقرّر شه په هغې کښې دَ تقدّس
او دَ تقرّر ټولې ضروري خبرې دِي
او په هغې کښې څه داسې خبره
نشته چه له هغې نه دَ وهمونو يا دَ
بې دينئ خبره خيژي - نو څمونږ دا
فتوه دَه چه څوصره سرِي دَ ايډورډ
ممدوح دَ جلوس له دويم کال نه تر
دې وقت پورې دَ دې کتاب دَ دستورونو
په موافق مقدّس يا مقرّر کړې شوي
دِي يا پس له دې دَ هغې دَستورونو
په مطابق مقدّس يا مقرّر کړې شي
دَ هغوي تقدّس يا تقرّر صحيح او
باقاعده او موافق دَ شرعي دِ وګڼلې
شي

۳۷- دَ مُلکي حاکمانو په بيان کښې

ملکي معظّمي ته په ملک دَ
انګلستان او په خپلو نورو ملکونو کښې
خاص اختيار حاصل دَي او دَدې
بادشاهت دَ ټولو درجو دَ خلقو که دِيني
وِي که دنيوِي وِي په ټولو مقدمو کښې
دَ هغې دَ حکم دَ لاندې دِي او نه دَ
دويم حاکم او نه ئې ماتخت کيدل



مناسب دِي
هرکله چه اوريدې شي چه بعضې
بدګمان خلق څمونږ په دې ويلو سره
ناراضه کيږي چه ملکي معظّمي ته
خاص اختيار ورکړې شوي دَي نو ټولو
ته دِ معلوم وِي چه مونږه خپلو
بادشاهانو ته نه دَ خداي دَ کلام اورولو
او نه دَ سکرامنتونو دَ اداکولو خدمت
په حواله کوو څکه چه دا خبره څمونږ
دَ ملکي معظّمي اليسباتي له فرمانه
صافه ثابتَ ده بلکه صرفِ هم هغه
اختيار ورکوو چه خداي تعالیٰ په خپله
ټولو دِينداړانو بادشاهانو له هميشه
ورکړي دَي لکه چه له پاک کتاب ظاهره
دَه يعني دا چه هغه عهده داران او
اهل مرتبه خداي هغوي له ورکړي
دِي که هغه ديني وِي او که دنيوِي
وِي له هغو نه هريو له دَ خپلې خپلې
مرتبې په احاطه کښې ولري او سرکښانو
او بدکارانو خلقو له دَ عدالت په لاري
او په توره سره منع کړي
دَ روم اُسقُف په دې مملکت دَ
انګلستان کښې هيڅ اختيار نه لري
روا دِي چه دَ مُلک دَ قوانينو په
موجب دَ لويو او دَ سختو قصورونو په عوض
مسيحيانو ته دِ دَ مرګ سزا ورکړي شي
په مسيحيانو لازم دِي چه دَ ملک
دَ حاکم په حکم سره وصله وتړي او
په جنګ کښې سپاهي ګيرت وکړي

۳۸- په دې بيان کښې چه دَ مسيحيانو
مال او اسباب شريک نه دَي

دَ مسيحيانو مال او اسباب دَ حق
او دَ قبضې په رُو سره مشترک نه دَي
لکه چه بعضې آنابپتستا خلق باطل
ګڼيږي- مګر بيا هم په هر سړي بانِدِ
فرض دِي چه له خپله ماله چه ئې
مقدور وِي په سخاوت سره دِ محتاجانو
له خيرات ورکړي

۳۹- دَ مسيحي دَ قسم خوړلو په بيان کښې

داخو مونږ منو چه څمونږ خداوند
يسوع مسيح او دَ هغه رسول يعقوب دَ
بې سببَ او دَ بې فکرئ له قسم خوړلو نه
مسيحيان منع کړي دِي بيا هم
څمونږ دا رأي دَه چه دَ څه دين يا
دَ محبّت په معامله کښې دَ حاکم
په حکم سره قسم خوړل په مسيحي
دين کښې منع نه دِي په دې شرط سره چه
دَ نبي دَ تعليم په موافق په عدل او په
انصاف او په رښتيا سره قسم وخوړلې
شي

## دَ پورته عقيدو منظوري

پورته عقيدي په رضامندئِ سره څمونږ دَ سلطاني خاتوني اليسابتي په فضل دَ الله ملکه دَ انګلستان دَ فرانس او دَ ايرلنډ حامي دَ دين و غيره منظوري شوي دِي- او په دي مُلک کښ دَ هغي دَ قبلولو او دَ جاري کيدلو اجازت وشه او دا عقيدي دَ کليسيي په صدرمجلس کښ ولوستي شوي او دَ هغي دَ لوئي مرتبي دَ اجلاس دَ صدر اُسقُفانو او دَ اسقُفانو او دَ ادنی درجي دَ اجلاس دَ تمامو خادمانو دَ دين په دستخط سره په سنه ١٥٧١ عيسوي کښ دوباره مستحکمي شوي

## دَ مسئلو فهرست


١ په مقدس تثليث باندِ دَ ايمان په بيان کښ
٢ دَ کلمي يعني دَ الله دَ زوي په بيان کښ چه حقيقي انسان شه
٣ په عالمِ برزخ کښ دَ مسيح دَ کوزيدو بيان
٤ دَ مسيح دَ قيامت په بيان کښ
٥ دَ روح قُدُوس په بيان کښ
٦ دَ نجات دپارَ دَ پاکو کتابونو دَ کافي کيدو په بيان کښ
٧ دَ زړي عهدنامي په بيان کښ
٨ دَ دريو عقايدنامو په بيان کښ
٩ دَ موروثي کُناه په بيان کښ
١٠ دَ فعل مختارئِ په بيان کښ
١١ دَ انسان دَ راستباز کيدو په بيان کښ
١٢ دَ نيکونو عملونو په بيان کښ
١٣ دَ هغي عملونو په بيان کښ چه دَ راستبازئِ نه پخوا کيدي شي
١٤ دَ نفلي عملونو په بيان کښ
١٥ په دي بيان کښ چه صرفِ مسيح بي کُناه دي
١٦ دَ هغي کُناه په بيان کښ چه له بپتسمي نه پس کيدي شي
١٧ دَ تقدير او دَ برګزيده کيدو په بيان کښ
١٨ په دي بيان کښ چه ابدي نجات صرف دَ مسيح په نامه حاصليږي
١٩ دَ کليسيي په بيان کښ
٢٠ دَ کليسيي دَ اختيار په بيان کښ
٢١ دَ کليسيي دَ مجمعِ عام دَ اختيار په بيان کښ
٢٢ پرګتوريم يعني دَ عالمِ تطهير په بيان کښ
٢٣ دَ کليسيي په جماعتونو کښ دَ خدمت کولو په بيان کښ
٢٤ دَ دي خبري په بيان کښ چه په جماعت کښ داسي ژبه استعمال شي چه خلق پرِ پوهيږي
٢٥ دَ سکرامنتونو په بيان کښ
٢٦ دَ دي خبري په بيان کښ چه دَ خادمانِ دين دَ نالايقئِ په سبب دَ سکرامنتونو په اثر کښ خلل نه راځي
٢٧ دَ بپتسمي په بيان کښ
٢٨ دَ عشاءِ ربانئِ په بيان کښ
٢٩ په دي بيان کښ که بد سړي عشاي رباني اخلي نو هغه دَ مسيح بدن نه خوري
٣٠ په دوارو جنسونو کښ دَ شريک کيدو په بيان کښ
٣١ دَ مسيح دَ هغي يوي قربانئِ په بيان کښ چه په صليب باندِ پوره شوه
٣٢ دَ قسيسانو دَ نکاح په بيان کښ
٣٣ په دي بيان کښ چه څوک له کليسيي نه خارج کړي شي له هغو نه ځنګه پرهيز کول بايده دي
٣٤ دَ کليسيي دَ دستورونو په بيان کښ
٣٥ دَ هميليانو په بيان کښ
٣٦ دَ اُسقُفانو او دَ امامانو دَ تقدس په بيان کښ
٣٧ دَ مُلکي حاکمانو په بيان کښ
٣٨ په دي بيان کښ چه دَ مسيحيانو مال او اسباب شريک نه دي
٣٩ دَ مسيحي دَ قسم خوړلو په بيان کښ

# نقشه

## دَ قرابت او دَ خپلوالي چه په موافق دَ کلام الله او دَ شرعِ ئي نکاح نه کیږي

| | سړي دَ دي ښځو سره نکاح نه شي کولی | | ښځه دَ دي سړو سره نکاح نه شي کولی |
|---|---|---|---|
| ۱ | نیا | ۱ | نیکه |
| ۲ | دَ نیکه ارتینه | ۲ | دَ نیا خښتن |
| ۳ | دَ ارتیني نیا | ۳ | دَ خښتن نیکه |
| ۴ | ترور- دَ پلار خور | ۴ | تره |
| ۵ | ترور دَ مور خور | ۵ | ماما |
| ۶ | ټندار | ۶ | دَ ترور یعني دَ پلار دَ خور خښتن |
| ۷ | مامي | ۷ | دَ ترور یعني دَ مور دَ خور خښتن |
| ۸ | دَ خسر خور | ۸ | دَ خسر ورور |
| ۹ | دَ خواښي خور | ۹ | دَ خواښي ورور |
| ۱۰ | مور | ۱۰ | پلار |
| ۱۱ | میره مور | ۱۱ | پلندر |
| ۱۲ | خواښي | ۱۲ | خسر |
| ۱۳ | لور | ۱۳ | زوي |
| ۱۴ | پرکتهي | ۱۴ | پرکتهي |
| ۱۵ | نګور | ۵ | زوم |
| ۱۶ | خور | ۱۶ | ورور |
| ۱۷ | ښسیني | ۱۷ | لیور |
| ۱۸ | ورندار | ۱۸ | اوښي |
| ۱۹ | دَ زوي لور | ۱۹ | نمسي یعني دَ زوي زوي |
| ۲۰ | دَ لور لور | ۲۰ | نمسي یعني دَ لور زوي |
| ۲۱ | دَ زوي دَ زوي ارتینه | ۲۱ | دَ زوي دَ لور خښتن |
| ۲۲ | دَ لور دَ زوي ارتینه | ۲۲ | دَ لور دَ لور خښتن |
| ۲۳ | دَ پرکتهي لور | ۲۳ | دَ پرکتهي زوي |
| ۲۴ | دَ پرکتهئ لور | ۲۴ | دَ پرکتهئ زوي |
| ۲۵ | وریره | ۲۵ | وراره |
| ۲۶ | خورزه | ۲۶ | خوریي |
| ۲۷ | دَ وراره ارتینه | ۲۷ | دَ وریري خښتن |
| ۲۸ | دَ خوریي ارتینه | ۲۸ | دَ خورځي خښتن |
| ۲۹ | دَ اوښي لور | ۲۹ | لیورزي |
| ۳۰ | دَ ښسیني لور | ۳۰ | ندرورزي |